# تقریظ

(داسلام اخلاقي نظام) دهغه درسي کتاب نوم دی چې محترم وروروپوهندوي سيد احمد(فاطمي) دپوهنوالۍ علمي رتبې ته دترفيع په منظورتاليف کړی او ماته دننګرهارپوهنتون دشرعياتوپوهنځي دمحترم رياست لخوادکتنې اوارزيابۍ لپاره رسمارالېږل شوی ؤ.مادغه کتاب سرترپايه ولوست،کمې لږې ملاحظې په کې موجودې وې دمحترم مؤلف په تفاهم سره حل اورفع شوې.

داکتاب په ګڼ شمېرڅپرکيوکې تنظيم شوی اوهرڅپرکی دغولاندې اړوندو لوستنوته شامل دی:په اسلامي شريعت کې داخلاقو او ادابو پېژندنه اودهغوي مقام ،داسلا مي معتقداتوسره اداب او اخلاق،داسلامي سپېڅلي شريعت له نظره ځيني مهم اخلاق(اخلاص،دژبې ساتنه،رحم
کول،دخپلول پا لل،دګاونډيوسره
سلوک،تقوا ،صبر،سخاوت،شـــجاعت،مېلمه پالنـــه،اجازه غوښتل،ســـلام اچول،دخوړلواوڅښلواداب،دصـــــــــــــنف اومجلــــــــــــــس اداب،دسفراداب،تواضع،عفو،حياءاوداسې نور)داسلامي شريعت له نظره ځيني ناوړه اخلاق(غيبت،دروغويل،نميمت،رياء،تکبر،تجسس،چاپلوسي اوداسې نور.

هرفصل ياڅپرکی په يوه لنډه مقدمه سره پېل اوبيااړونده درسونه پکې په تفصيل سره بيان شوي اودڅپرکي په پاي کې دڅپرکي داړندومطالبوخلاصه راوړل شوی وريسې تمرين،اودڅپرکي مربوط ماخذونه ليکل شوي دي.

دکتاب دمطالبودښې بډاينې په منظوردډېروښواومعتبرومراجعوڅخه ګټه اخستل شوېده.

داچه دغه کتاب ددرسي کتاب دتاليف دمعيارونواوکچوسره سم تاليف شوی،په هرڅپرکي کې مقدمه،اصلي مطالب،خلاصه،تمرين اوماخذونه شته،لږې معتبرمنابعوڅخه ګټې اخستل شوي دي،دکتاب اعتبار اوعلمي حېثيت

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library



زیاد کړی، په محتوا ، شکل، او ظاهري بڼه کې یې هم کومه ستونزه نه لیدل کېږي، د اسلامي ثقافت د یو سمستر لپاره پوره کافي بلل کېږي.
نوزه د پورتنیو نکتو په نظر کې نیولو سره دا کتاب یو معیاري درسي کتاب بولم، کوم چې د درسي کتاب د تالیف ټول معیارونه په ښه توګه پکې رعایت شوي دي، او هم یې د درسي کتاب په حېث د استفادې او چاپ وړ بولم.
په پای کې ګران ورور پوهندوي فاطمي صاحب ته د پاک الله له دربار څخه دلازیاتو کامیابیو او جزیل اجر غوښتونکي یم.

په درنښت

پوهاند محمد ابراهیم نورزایې

د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي استاد

# تقریظ

د شرعیاتو پوهنځي محترم ریاست ته

السلام علیکم ورحمة الله و برکاته

و بعد: د الله د حمد او ثنا څخه وروسته خوشحاله یم چې د محترم پوهندوی سید احمد "فاطمي " د تألیف په هکله خپل نظر څرګند کړم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- محترم پوهندوى سيد احمد "فاطمي" ( د اسلام اخلاقي نظام) تر عنوان لاندې خپله ليکنه بشپړه کړې اود اسلام اخلاقي نظام يې په څلورو فصلونو کې په ترتيب سره خلاصه کړې په لومړى فصل کې د اسلامي اخلاقو په ارزښت او دويم فصل کې د اسلامي معتقداتو په هکله اخلاقي چلند ، په دريېم فصل کې د يو لړ مهمو اخلاقي مواصفاتو يادونه او په څلورم فصل کې د ځينو ناوړه اخلاقو څخه د ځان ساتلو او د ډډه کولو په اړوند په زړه پورې څېړنه کړې.

۲- رښتيا چې د اسلام اخلاقي نظام په اسلامي او بشري ټولنو کې هم ځانګړې مقام لري، خو افسوس چې زمونږ خلک او ټولنې د اخلاقو او آدابو څخه په ډېره لرې فاصله کې قرار لري او شايد چې زمونږ د روانو بد مرغيو يو عامل د اخلاقو او آدابو نه رعايت کول وي.

هيله ده چې د محترم پوهندوى سيد احمد "فاطمي" دغه ليکنه زمونږ د ټولنې د اخلاقي کمزوريو يوه تشه ډکه کړي.

۳-نوموړي تاليف که د يوى خوا د يو درسي کتاب په حيث د محصلينو په ګټه دى د بلې خوا په معنوي ډګر کې طبيعي خبره دى چې لوستلو او يادولو سره يې کيداى شي د محصلينو په اخلاقي سويه کې يو مثبت بدلون راولي چې دا زمونږ د ټولو غوښتنه ده.

۴-ما نوموړي تاليف سر تر پايه ولوست او د اصلاح لپاره مې خپلې ملاحظې او نيوکې ور په ګوته کړې وى ، محترم "فاطمي" زما د ملاحظو په نظر کې نيولو سره خپل تاليف ته نوى بڼه ورکړه چې دادى په سليسه او روانه پښتو ژبه ستاسو په وړاندې پروت دى.

۵-په ليکنه او تاليف کې يې د معتبرو علمي منابعو او ماخذونو څخه په پوره امانت دارۍ سره استفاده کړى، د نصوصو پښتو ژباړه يې ډېره معياري او په زړه پورې ده.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲-که محترم پوهندوی سید احمد "فاطمي "د پوهنوالۍ علمي رتبې د ترفیع نور شرائط پوره کړي وي زه بې نوموړی تالیف د ترفیع لپاره کافي بولم او د پوهنوالۍ علمي رتبی ته يې د لوړيدو سپارښتنه کوم.

په درنښت

پوهنوال دکتور دل آقا "وقار "

د ننګرهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي استاد

## تقریظ

د شرعیاتو پوهنځی محترم ریاست ته !

د محترم پوهندوی سید احمد "فاطمي " درسي کتاب چې د عصري پوهنځیو دریمو ټولګیو لپاره يې د پوهندوی علمي رتبې څخه د پوهنوالۍ علمي رتبې ته د ترفیع لپاره (د اسلام اخلاقي نظام ) تر عنوان لاندې لیکلې دی، سرتر پایه

(c) ketabton.com: The Digital Library



مې ولوست او غوارم چې د نوموړي درسي کتاب په هکله خپل نظر په لاندې ټکو کې څرګند کړم:

ما د دغه کتاب ټوله محتوی له لومړي کرښې څخه نیولې بیا تر وروستۍ کرښې پورې، هره کرښه او کلمه په دقت سره ولوستله، په رښتیا چې محترم پوهندوی سید احمد "فاطمي" په دې لیکنه کې ډېر زیار ایستلی او نوې مفاهیم یې را برسېره کړي دي.

محترم لیکوال د لیکنې په دوران کې علامات الترقیم (لیک نښې) په پوره دقت سره مراعت کړي دي، چې لوستونکې سره د مفهوم په پوهاوي کې مرسته کوي.

د دوی دغه درسي کتاب یوه مقدمه، څلور فصلونه او په پای کې په معیاري توګه د مأخذونو فهرست راوړل شوې دی، په مقدمه کې یې د موضوع مطابق خبرې کړي دي او د لیکنې اړتیا ته یې اشاره کړېده.

په لومړي فصل کې یې د اخلاقو تعریف او د هغوې ځای او مقام په اسلام کې په مدللـه توګه د قرانکریم او احادیثو په رڼا کې څېړلي دي په دویم فصل کې یې د ځینو اسلامي معتقداتو آداب او اخلاق په مفصله توګه روښانه کړي دي چې استناد یې په اسلامي شریعت کړېدی او بیا په درېیم فصل کې یې د اسلامي شریعت له نظره ځینې ښه اخلاق څېړلې دی چې پېژندنه یې پر هر محصل لازم دی او په څلورم فصل کې د اسلامي شریعت له نظره ځیني ناوړه اخلاق په ګوته شویدي که څه هم په اسلامي فقه اوتعلیماتو کې دغسې ډول، ډول کتابونه لیکل شوي او څېړل شوي خو په داسې مشخصه بڼه چې د پوهنتونونو د عصري پوهنځیو لپاره لیکنه وي، چا دا کار نه دی کړی او که کړي یې هم وي چندان معیاري نه دي.

محترم پوهندوی سید احمد "فاطمي" خپل کتاب په روانه پښتو ژبه لیکلی دی جملې یې روانې او عام فهمې دي، تعقید لفظي او معنوي نه لري، نو په دې

(c) ketabton.com: The Digital Library



اساس که محترم پوهندوی سید احمد "فاطمي " د ترفیع نور شرایط بشپړ کړي وي، ددې اثر لیکلو سره د پوهنوالۍ علمي رتبې ته د جګېدو استحقاق لري، هیله ده لوړو مقاماتو ته پېشنهاد شي.

په درنښت

پوهنوال مسعود "نېکبخت"

د ننګرهار پوهنتون استاد

# د پېل خبرې

له هر څه وړاندې دکائناتو د خالق ډېر شکر اداء کوم چې مـــا کمزوري انســـان تـــه یـــي (د اسلام اخلا قي نظام ) تر عنوان لاندې د درسي کتاب د تألیفولو توفیق را په برخه کړ.

په دوهم قدم کې ټولو هغو ورونو ته د الله تعالی څخه د دینا او اخرت بریالیتوب غواړم چې ماسره یې د دی کتاب په لیکولو کې مرسته کړی په ځانګړي توګه د کابل پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي مشر استاد محترم پوهاند

(c) ketabton.com: The Digital Library



محمد ابرهیم "نورزی" صاحب او د ننگرهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي مشر استاد محترم پوهنوال دکتور قاري دل آقا "وقار" صاحب او د ننګرهار پوهنتون د ژبو او ادبیاتو پوهنځي د عربي څانګې مشر استاد محترم پوهنوال مسعود "نیکبخت" صاحب.

نوموړو درېو تنو د لوړو علمي رتبو لرونکو استاذانو چې دلوړو زده کړو وزارت د لوایحو مطابق ذکر شوی درسي کتاب ورته راجع شوی ؤ، د خپلو زیاتو عملي مصروفیتونو او مشغولیتونو سره، سره هر یوه په خپل وار خپل ډېر قیمتي وخت زما ددې کتاب په اصلاح کولو کې لګولی، د دې کتاب هر کرښه او هر جمله یې په ډېر غور سره لوستې او په هکله یې ما ته ډېرې قیمتي علمي مشورې او لارښوونې کړي دي بالاخره دا دی د درسي کتاب په بڼه ګرانو لوستونکو ته وړاندې شو.

بیا هم که زما په دې لیکنه کې کومه سهوه ، خطاء ، کمی ، زیاتی یا نمګړتیا موجوده وي درنو لوستونکو څخه په ډېر احترام غواړم چې د خپل اسلامي مئسولیت په اساس ما ورته متوجه کړي تر څو یې اصلاح کړم.

پوهنوال سید احمد (فاطمي

## دلومړي چاپ مقدمه

الحمد لله الکریم الرزاق، والصلاة والسلام علی من بعث لاتمام مکارم الاخلاق وعلی اله وصحبه ومن تبعهم باحسان الی یوم التلاق اما بعد :

دلوړو زده کړو محترم وزارت لخوا د دولتي او شخصي پوهنتونو نو ټولو عصري پوهنځیو کې د اسلامي ثقافت مضامین د ځوانانو سالمې اسلامي روزنې په منظور درسي کریکولم کې ځای په ځای شوي دي چې د دغه ثقافتي مضامینو له جملې څخه یو یې هم د ( داسلام اخلاقي نظام ) مضمون دي چې د پوهنتونونو د عصري پوهنځیو د درېیمو ټولګیو په لمړي سمستر کې اونۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې اوسمهال دیو درسي ساعت په توګه تدریسیږي دا چې په ننګرهار پوهنتون کې د نوموړې مضمون لپاره درسي کتاب وجود نه درلود او د یاد مضمون په اړه زمونږ هېواد کې ډېرې لږې لیکنې شوي چې هغه هم په هغو معیارونو برابرې نه دي چې د پوهنتون د درسي کتاب په توګه ومنل شي نو د ننګرهار پوهنتون د شرعیاتو پوهنځي داسلامي ثقافت څانګې ماته دنده وسپارله چې د پوهندوي علمي رتبې څخه د پوهنوالۍ علمي رتبې ته د ترفیع لپاره د(داسلام اخلاقي نظام ) مضمون لپاره درسي کتاب ولیکم د یاد درسي کتاب لپاره مفردات داړوندې څانګې لخوا وټاکل شول چې د پوهنځي د علمي شورا له تائید وروسته د لوړو زده کړو د محترم وزارت د اکاډمیکو چارو محترم ریاست ته دموافقې لپاره واستول شول چې دهغوی له تائید وروسته مې د نوموړي کتاب په لیکلو پېل وکړ.

البته د اسلامي اخلاقي نظام اهمیت او ارزښت په دې کې دی چې د ټولو انسانانو نیکمرغي او بدبختي ورپورې تړل شوی هغه په دې ترتیب چې په اسلامي اخلاقو عمل کول د اخروي ګټو ترڅنګ بېشمیره فردي او ټولنیزې دنیوي ګټې منځ ته راوړي او د اسلامي اخلاقو تر پښو لاندې کول د ګن شمېر اخروي بدبختیو بر سیره ډیر زیات فردي او ټولنیز دنیوي کړاونه زیږوي، نن سبا چې زمونږ ګران هېواد څه د پاسه درې لسیزې د جنګونو او کړاونو اور کې سوزي او د سیاسي، اقتصادي او اجتماعي ستونزو په سمندر کې لاهو دي اصلي لامل یې زمونږ د هېوادوالو په عملي ژوند کې د اسلامي اخلاقو نشتوالی دی کچېرې زمونږ هېوادوال خپل ژوند په اسلامي اخلاقو ودروي او د ژوند په ټولو برخو کې اسلامي اخلاق عملي کړي یقیناً زمونږ هېواد او ټولنه به د ټولې نړۍ د انسانانو لپاره د ژوند په ټولو اړخو نو کې د سوکالۍ، پرمختګ، ورورولۍ او خوښۍ ډېره ښه بېلګه وګرځي، په حقیقت کې نن ورځ ډیرو مسلمانانو اسلامي اخلاق هیر کړې دي هغه اخلاق چې انسانان د دنیوي

(c) ketabton.com: The Digital Library



او اخروي نیکمرغیو اوچتو درجو او مرتبو ته رسوي او دعزت ،شرف او وقار لوړ مقام ورته حاصلوي او ددی اخلاقو څخه سرغړونه او غفلت انسانان د بدبختۍ ژورې کندې ته غورځوي او د دنیوي او اخروي ذلتونو او کړاوونو بحر کې یې لاهو کوي.

د پوتنیو ټکو په پام کې نیولو سره زه دی ته وهڅیدم چې د خپلې ټولنې په وړاندې د خپل اسلامي مسؤلیت په اساس د اسلام اخلاقي نظام عنوان لاندې خپلو ګرانو محصلینو ته درسي کتاب ولیکم البته ددی درسي کتاب له لوستلو څخه مقصد دا ندی چې محصلین یواځې اسلامي اخلاق وپیژني الفاظ او معناګاني یې زده کړي بلکې اصلي هدف او مراد ور څخه دادی چې دوی خپل ټول ژوند په اسلامي اخلاقو ودروي چې په داسې کولو سره به ټولې نړۍ کې تر ټولو غوره انسانان همدوي وګرځي.

د ذکر شوي مضمون د درسي ساعتونو په نظر کې نیولو سره می ډیره هڅه کړی چې د کتاب حجم ډیر غټ نشي نو له همدی امله می اهم مسائل په لنډو ساده الفاظو شرحه کړي، هرې موضوع کې مې د ډیرو قراني آیتونو او حدیثونو له ذکر کولو ډډه کړی یو یا دوه قراني آیتونه او حدیثونه می د بیلګې په توګه بیان کړي دي همدارنګه هره موضوع کې مې د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابو کرامو داخلاقو ډیرې بیلګې نه دی ذکر کړي بلکې د موضوع د وضاحت لپاره می یو یا دوو مثالونو باندې بسنه کړې، د قراني آیتونو ژباړه مې په ډیر دقت سره د معتبرو پښتو تفسیرونو څخه را نقل کړی او د نبوي احادیثو په ترجمه کولو کې مې په پوره امانتدارۍ د ژباړی اصولو او مقرراتوته ځانګړی توجه کړی، موضوع پورې اړونده مسائل مې د مهمو معتمدو مصادرو او مراجعو څخه راټول کړي چې په دی اساس ویلی شم چې په دی کتاب کې مې چې د اخلاقو په اړه هره خبره کړی منشأ یې قراني آیتونه او نبوي احادیث دي، د کلماتو او جملو په ترکیب کې مې ساده او آسانه لاره خپله کړی ترڅو هر لوستونکي ورباندې په آسانۍ پوه شي بالاخره یاد درسي کتاب مې په څلورو فصلونو کې تیار کړ په لمړي فصل کې مې د اخلاقو او ادابو تعریف وکړ او داسلام له

(c) ketabton.com: The Digital Library



نظره د اخلاقو مقام او منزلت مې شرحه کړ ، په دوهم فصل کې مې ځینو اسلامي معتقداتو سره اخلاق او اداب په ګوته کړې دی په دریم فصل کې مې د اسلامي شریعت له نظره ځینې مهم ښه اخلاق بیان کړی دی او په څلورم فصل کې مې داسلام له نظره ځینې مهم ناوړه اخلاق شرحه کړې دی ، الله تعالي دی زما ټولې هغه هڅې چې ددی کتاب په لیکلو کې مې سرته رسولې د خپلې رضاء د حاصلولو لپاره وګرځوي او دغه کتاب دی دعصري پوهنځیو محصلینو او ټولو لوستونکو لپاره ګټور کړي.

پوهنوال سیداحمد(فاطمي)

دننګرهارپوهنتون ،شرعیاتوپوهنځي استاد

# ددوهم چاپ سریزه

دافغانستان د عام ولس اوپه ځانګړې توګه دبااحساسه ځوانو محصلینو ورونو او خوېندو ددین او دیني علومو سره مینه او لېوالتیاددې لامل شوه چې قدرمن استاذ (فاطمي صېب )یې دې ته اړېسته چې دکتاب په دوهم ځل چاپ کې ځینې مطالب ورزیات کړي ،البته داستاذ زیاتو علمي او اداري مصروفیتونو هغه ته ددې موقع نه ورکوله چې دغوښتونکو غوښتنو ته دعمل جامه ورواغوندي نو ما ته یې دنده وسپارله چې په دې مورد کې ورسره مرسته وکړم، نو ماهم دالهي رضا دطلب په موخه داستاد غوښتنه ومنله او محترم استاذ ته مې داسلام داخلاقي نظام دهغو مطالبوپه اړه چې په افغاني ټولنه کې ورته زیاته اړتیا لېدل کېده له مختلفو مراجعو څخه مواد اماده او په واک کې ورکړل، او ددې زیاتونې اصلي لامل دادی چې نن سبا ددیموکراسۍ داواز په اوربدو سره زموږ دګران اسلامي هېواد ځینو ځوانانو او پېغلو داسې ناوړه اخلاق خپل کړي دي چې نه یواځې داسلام دسپېڅلي دین د لارښوونو پر ضد دي، بلکې دافغاني دود اوکلتور سره هم سل په سلو کې ټکر لري ،که ددغو ځوانانو لپاره داخلاقو اړوند دیني درسونه او لارښوونې نه وي نولړې نه ده

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې دغه اسلامي هېواد په داسې يو هېواد بدل شي چې ديني معيارونه به پکې تر پښو لاندې او اسلامي اخلاقو څخه به په بشپړه معنا خالي شي ، غوره اخلاق دمسلمان له ځانګړتياؤ ګڼل کېږي،دمسلمان ښايست او لباس دی،نوځکه خو داسلام دښمنان په پوره زيرکۍ او پلانيزه توګه غواړي چې مسلمان څخه دغه لباس وباسي ، بې حيا شي او په نتيجه کې دايمان له سرمايې محروم شي، دغه کتاب چې ستاسې په لاس کې دی په روانه پښتو ژبه ليکل شوی دی قراني ايتونه او نبوي احاديث يې زور او زېر لري او ددې لپاره چې زموږ مسلمانان ورورنه او خوېندې يې دعربي الفاظوپه لوستلو دثواب مستحق شي په کتاب کې ليکل شوي دي ، خو بيا په پښتو ژبه ژباړل شوي دي او دژباړې لپاره يې ځانګړی فانټ کارول شوی دی، نودهر چا داستفادې وړ دی او هرچا ته چې په لاس ورځي هيله ده چې په خپلو کورونو، مساجدو،عامو مجالسو کې ولوستل شي ځکه که دمسلمان موجوده حالت وګورو نو نه يوازې داچې په اخلاقي لحاظ ډېرې کمۍ لري بلکې دژوندانه په هره برخه کې له دين څخه ناخبره دي ،او په دې ښه پوهېږي چې له دين څخه ناخبري دقيامت په ورځ دالله تعالی په دربارکې دسوال او جواب پر مهال دخلاصون عذر نه شي کېدی،نو ددغو اسلامي لارښوونو په اورېدو سره به کېداې شي الله تعالی دځينو مسلمانانو منفي حالت مثبت لوري ته وګرځوي او دالله تعالی درحمت مستحق به وګرځي ، څرنګه چې مخکې يادونه وشوه په موجوده نوي چاپ کې نوي درسي مطالب ورزيات شوي دي نو په دې وجه دکتاب په اخر کې يو فصل زيات شوی دی ،البته داچې دغه کتاب دافغانستان دلوړو زده کړو په درسي نصاب کې شامل او ديو سمستر لپاره ديو مضمون په توګه لوستل کېږي نو دزياتو مطالبو دځاي پر ځاي کولو ګنجايش پکې نشته.

ديادونې وړ ده چې دغه ليکنه يو انساني کوشش دی له کمۍ او خطا څخه به خالي نه وي نو له محترمو لوستونکو او په ځانګړي توګه له محترمو مدرسينو استاذانو څخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



په درنښت هیله ده چې دخطا په لیدو سره داصلاح په خاطر پر خپل وخت قدرمن استاذ (فاطمي صیب) ته خبر ورکړي.

په بشپړ احترام
پوهنمل شېرزاد(عزیزي)
دننګرهارپوهنتون شرعیاتوپوهنځي استاد

# لومړی فصل

## داخلاقو او ادابو تعریف اوحکمتونه

۱- داخلاقواوادابو تعریف
۲- دانسان په ژوند کې داخلاقو او ادابو ارزښت
۳- داسلام په سپېڅلي دین کې دښو اخلاقو مقام او منزلت
۴- د اسلام داخلاقي نظام ځانګړتیاوې
۵- دښو اخلاقو دخپلولو لارې چارې
۶- داسلام داساسي ارکانو سره داخلاقو تړاؤ حخ

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۱- داخلاقواوادابو تعریف:

### داخلاقولغوي تعریف:

اخلاق دخُلْق جمع ده ،عادت، خوي اوطبيعت ته ويل کېږي (۷۲۸:۱۷).

ابو راغب اصفهاني وايي :خَلق (دخا په زور) اوخُلق (دخا په پېښ سره) دواړه له يو اصل څخه دي البته خَلق دخا په زور سره دانسان ظاهري شکل اوصورت ته ويل کېږي چې په سترګو وليدل شي ،او خُلق دخا په پېښ سره دانسان خوي او عادت ته ويل کېږي چې په بصيرت او پوهې سره دهغې ادراک کېدی شي . (۱۲۴:۴۳)

### داخلاقو اصطلاحي تعریف:

علماؤ داخلاقو تعریف په بېلا بېلو الفاظو سره کړي چې د ټولو تعريفونو معنی يوه ده مونږ دلته دوه تعريفونه دبېلګې په توګه ذکر کوو.

دنړۍ نامتوعالم امام غزالي داخلاقو تعريف په دې الفاظو سره کړی دی : اخلاق دانسان په نفس کې ټینګ ځاي په ځاي شوي حالت ته وايې چې دهغې پوسيله فکر کولو ته له اړتيا پرته عملونه په اسانۍترسره کېږي. (۴۲:۱۳).

د نړۍ بل مشهور عالم دکتور عبدالکريم زيدان اخلاق په دې الفاظو سره تعريفوي ((اخلاق د انسان په نفس کې د ځاي په ځاي شوومعانيو او صفاتو مجموعه ده چې د هغې په رڼا کې يو فعل انسان ته ښه يا بد ښکاري چې په نتيجه کې نوموړی فعل سر ته رسوي او يا ور څخه منع کېږي)). ۷۹:۱۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دادابو لغوي تعريف:

اداب دادب جمع ده چې په لغت کې دبللو په معنا راځي. (۵:۹۳).

## دادابو اصطلاحي تعريف:

علماؤ د آدابو تعريف په بيلابيلو الفاظو سره کړی دی چې دټولو تعريفاتو معنايوه ده مونږدلته دوه تعريفونه دبېلګې په توګه ذکرکوو.

۱: ادب دداسې قول اوفعل ترسره کولو ته وايې چې شريعت کې ستايل شوي وي. (۱۴:۲۳).

۲: ښه اخلاق په عمل کې پلي کول ادب بلل کېږي. (۱۴:۲۳).

## اخلاق او اداب په يوه معنادي:

داخلاقو اوادابو دپورتنيو تعريفاتو څخه څرګنده شوه چې اداب ښو اخلاقو څخه راوتلو عملونو ته ويل کېږي له همدي لامله د مفسرينو، محدثينو او فقهاؤ له نظره ښه اخلاق اوادابيوشان الفاظ دي ددواړو ترمنځ کوم ځانګړی توپير نه تر سترګو کېږي ،يودبل په عوض استعمالېدلی شي همدا لامل دی چې د حديثو په معتبرو کتابونو کې د (کتاب الاداب) عنوان لاندې هغه مسائل ځای په ځای شوی چې اخلاقو پورې تړلی دی، له دې برسيره امام بخاري اسلامي اخلاقو کې ځانګړی کتاب ليکلی دی چې نوم يې پرې (الادب المفرد ) ايښی دی او د فقهی لويو کتابونو کې دی (کتاب آداب القاضی) په نوم يو کتاب موجود دی چې پکې هغه مسائل ځای پر ځای شوي دي چې د قاضي اخلاقو پورې ارتباط لري، لکه څرنګه چې ځينومفسرينو د ✍🖅➔🖬↗⌘ 🗐❼■✍🗠➔⬩⅋◉ 🗠🖮✵✡🙣◗◆❒)

⬉◆➔🙥⑩🏱🗄⮳🙥⮲ ) (۱:د القلم سورت،ايت ۴ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ایت شریف کې "خلق" د ادب په معنا سره ژباړي او د ذکرشوي ایت داسې ترجمه کوي :ای محمد !(علیه السلام) ! بیشکه چې ته دلوی ادب خاوندیې(۴:۵۱۷).

البته ښه اخلاق اواداب په اسلام کې ځانګړې حدود او اندازې لري که چېرې دخپلو مشخصو حدودوڅخه بهرشي بیاښه اخلاق او آداب په بدواخلاقو اوادابوبدلیږي دبېلګې په توګه دشریعت په چوکاټ کې دمال مصرفول سخاوت بلل کیږي چې ښه خلق اواداب دی خو که چېرې دمال مصرفول له شرعي حد څخه زیات شي بیا اسراف بلل کیږي چې بد خلق اواداب ګڼل کیږي، همدارنګه که چېرې دشرعي حدڅخه لږشي مصرفول بخل بلل کیږي چې داهم بد خلق اواداب دی .په همدې ترتیب تواضع او عاجزي دښو اخلاقو څخه بلل کیږي چې ځانته تاکلي شرعي حد لري که چېرې د خپل شرعي حد څخه زیات شي بیا سپکوالي او ذلت باندي بدلیږي چې بد خلق او ادب دی او که چېرې د خپل شرعي حد څخه لږشي بیا تکبر نومول کیږي چې ډیر بد خلق او ادب ګڼل شوی دی(۳:۵۱۹).

د پورتنیو څرګندونو څخه په ډاګه شوه چې ټول هغه کارونه چې اسلامي شریعت ورته ښه کارونه ویلې دي ښه اخلاق او اداب ګڼل کیږي او ټول هغه کارونه چې شریعت ورته بد کارونه ویلې دي بد اخلاق او اداب نومول کیږي، چې پدې اساس نن سبا چې زمونږ په ټولنه کې ځینې خلک داسې فکر کوي چې ښه اخلاق یواځې دیته ویل کیږي چې یو څوک چاسره نرم سلوک او په ورین تندي چلن وکړي او بد اخلاقه سړی هغه چاته ویل کیږي چې خلکو سره تنده رویه کوي په حقیقت کې دغه ډله خلک دښو او بدو اخلاقو په مفهوم ندي پوه شوي ځکه ځینې وختونه د ځینو اشخاصو سره نرم سلوک د ښو اخلاقو څخه نه شمیرل کیږي بلکې د بدو اخلاقو څخه ګڼل کیږي (۱۲:۱۳۶).

(c) ketabton.com: The Digital Library



همدا وجه ده چې کله اسامه بن زید رضي الله عنه نبي علیه السلام ته د بني مخزوم دقبیلې د هغه ښځې په رابطه سفارش وکړ چې د غلا په لامل یې لاس قطع کېده نبي علیه الصلاة والسلام ورباندې ډېر په قهر شو (۱۲:۲۴).
همدارنګه کله چې رسول الله صلی الله علیه وسلم دخپل کور دیوې خونې په پردو کې د ژوندیو موجوداتو تصویرونه ولیدل ډېر په غصه شو او ذکر شوې پردې یې وشلولې(۱۲:۲۰۰).

## دانسان په ژوند کې داخلاقو ارزښت:

د اخلاقو له تعریف څخه څرګنده شوه چې د انسان ښه او بد چلن د هغه د اخلاقو څخه سرچېنه اخلي په دې اساس ویلی شو چې د انسان ښه او بد سلوک د هغه په زړه کې د باطني صفاتو او معانیو څرګندونه کوي همدا وجه ده چې امام غزالي د اخلاقو ارزښت په اړه ویلې دي ( د انسان په زړه کې چې هر راز حالت یا صفت ظهور وکړي د هغې اغېزې ضرور د هغه په ظاهري اعمالو باندې برسېره کېږي تر دې چې د انسان د ظاهري اعضاؤ هیڅ حرکت د هغه دباطن یا زړه د موافقت څخه پرته صورت نه مومي )(۱۳:۴۲).
معنا داچې اخلاق دکارونو او ویناؤ په هکله داسې ژور فکر، تدبیر،او لارو چارو ته ویل کېږي چې دانسان په دماغ او زړه کې ځاي نیولی وي بیا دهمدې فکر او تدبیر پر اساس له انسان څخه عملونه صادرېږي نو که دانسان په زړه کې ښه فکر او تدبیر ځاي ونیسي ښه عملونه سرته رسوي او که بد فکر او تدبیر ځاي ونیسي بدو چارو او ویناؤ ته اقدام کوي نو ویلاي شو چې اخلاق دانسانانو دعملونو سرچینه ده، چې دانسانانو په زړونو او دماغونو کې ځاي لري داخلاقو او عملونومثال دانسان لپاره داسې دی لکه تخم او نبات ، لکه نبات چې له تخم څخه رازرغونېږي دغسې عملونه دانسانانو په زړه کې دموجوده اخلاقو څخه راپورته کېږي نو که زړه کې ښو اخلاقو ځاي نیولی وي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ښه عملونه به ورڅخه صادريږي او که بدو اخلاقو ځاي يولی وي بد عملونه به ورڅخه صادريږي(۷۹:۱۰)
نو داچې ښه عملونه په زړه کې دموجوده ښو اخلاقو څخه راوځي او بد عملونه له بدو اخلاقو سرچينه اخلي نو په دې اساس ښو عملونو ته ښه اخلاق او بدو عملونو ته بد اخلاق ويل کيږي.
نو څوک چې غواړي چي ټولنه له هر ډول فسادونو ، نا اراميو ، اختلافاتو ، جنګونو ، دښمنيو او کينو څخه پاکه کړي . نوبايد چي په اسلامي تربيه دنفوسو په اصلاح باندي ټينګار وکړي ،اسلام موږ ته واضحه کړې ده چي دانسان د ژوند ټول حالات له نېک بختۍ او بدبختۍ اسانتيا او سختۍ ، پراخۍ او تنګۍ ، له سکون او نا ارامۍ ، عزت او ذلت څخه نيولي او داسي نورو پوري ټول دنفوسو تر بدلون پوري تړلي دي الله(ج فرمايي ((إِنَّ اللَّهَ لَا يُغَيِّرُ مَا بِقَوْمٍ حَتَّى يُغَيِّرُوا مَا بِأَنفُسِهِمْ (الرعد۱۱) ) )
حقيقت دادي چي الله ديو قوم حالت نه بدلوي ترڅوچې هغوي دخپلو ځانونو په ګرويګنو کي بدلون رانه ولي.

نوځکه خو زموږ ستر لارښود اود الله تعالی استازي محمد مصطفی (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم) دانسانانو په اخلاقو خواري وکړه دهغوي اخلاق يې جوړ کړل نو عملونه خود په خپله جوړ شول،بيا نو دپوليسو تعقيب ته اړتيا نه وه کله به چې انساني خطا ترې صادره شوه نو په خپله به محمدي محکمې ته حاضرېدل او داخرت دورځې دحساب او پوښتني له وېرې به يې په دنيا کې دجزا غوښتنه کوله.
د رسول الله صلی الله عليه وسلم د ښو اخلاقو په نتيجه کې بې شمېره خلک په خپله خوښه له کفر څخه ووتل او د اسلام په سپېڅلي دين کې شامل شول ، د نبي عليه الصلاة والسلام د ښو اخلاقو له امله ګڼ شمېر خلک د بدبختيو له

(c) ketabton.com: The Digital Library



سمندره د سوکالۍ ساحل ته ورسېدل ، د رسول الله صلی الله علیه وسلم په لاس د روزل شویو صحابه کرامو د اسلامي اخلاقو ثمره وه چې اسلام د نړۍ شرق، غرب، شمال او جنوب ته ورسېدو ، په هر کلي کې د اسلام ډیوه بله او د کفرو جهالت تیاره ورکه شوه ، داسلامي اخلاقو په لباس د پوښل شوو تاجرانو د اسلامي اخلاقو برکت ؤ چې د نړۍ په ډېرو لرو برخو کې کافران په خپله خوښه لښکرې لښکرې د اسلام په دین کې شامل شول چې پدې اساس ویلې شو چې داسلام سپېڅلي دین ته د کافرانو د جلب او جذب ډېره اهمه اغیزمنه وسیله اسلامي اخلاق دی،نن سبا چې دنړۍ مسلمانان د ستونزو سمندر کې لاهو دي اصلي لامل يې د دوي په عملي ژوند کې داسلامي اخلاقو نشتوالي دي ،د اوسني وخت د مسلمانانو د غېر اسلامي اخلاقو له امله کافرانو د اسلام له نوم څخه کرکه راځي او ډلې ډلې مسلمانان د اسلام دین پرېږدي کافران کېږي چې په دې ترتیب ویلې شو چې د نړۍ د اوسیدونکو نیکبختي او بدبختي اسلامي اخلاقو پورې تړلي هغه داسې چې که مسلمانان په اسلامي اخلاقو ځانونه ملبس کړي د نړۍ ټول انسانان به سوکاله ا وارام ژوند وکړي خو که د مسلمانانو عملي ژوند د اسلامي اخلاقو څخه بې برخې وي د نړۍ انسانان به له کړاوونو څخه ډک ژوند ترسره کوي.

## په اسلام کې دښو اخلاقو مقام او منزلت:

داسلام په سپېڅلي دین کې اخلاق زیات ارزښت اوډېر لوړ مقام لري،د دین احکام اونصوص په دې ګواهي ورکوي چې داسلام دین پر غوره اخلاقي معیارونو ولاړ دی او مسلمانان يې په بېلابېلو طریقو د ښو اخلاقو خپلولو او بدو اخلاقو څخه ځان ژغورني ته په ټینګه رابللي دي، او دهغې ارزښت يې ورته بیان کړی دی،په لاندې توګه له هغو دلایلو څخه په لنډه ډول یادونه کوو چې په کې دښو اخلاقو ارزښت بیان شوی دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



(۱)درسول الله (صلی الله علیه واله وسلم) راتګ دښو اخلاقو دبشپړولو لپاره:

رسول الله (صلی الله علیه واله وسلم) پخپله فرمايي :((إِنَّمَا بُعِثْتُ لِأُتَمِّمَ صَالِحَ الْأَخْلَاقِ)).(۱۳۷:۳۲). په ځينونورو احاديثو کې صَالِحَ الْأَخْلَاقِ پر ځاي دمکارم الاخلاق الفاظ ذکر شوي دي.

يقينا زه ددې لپاره استول شوی يم ترڅو غوره اخلاق بشپړ کړم

(۲)ښه اخلاق دقيامت په ورځ دانسان د نېکيو پله درندوي:

رسول الله (صلی الله علیه واله وسلم) فرمايي:((مَا مِنْ شَيْءٍ أَثْقَلُ فِي الْمِيزَانِ مِنْ حُسْنِ الْخُلُقِ))۴۱۹:۲۵.

دنېکو اعمالو په تله کې له ښو اخلاقو پرته بل کوم شی درووند نشي کېدی.

۳- ښه اخلاق دايمان دکمال لامل دي:

رسول الله(صلی الله علیه واله وسلم)فرمايي:((أَكْمَلُ الْمُؤْمِنِينَ إِيمَانًا أَحْسَنُهُمْ خُلُقًا)).(۲۴، ۲۹۲).

دايمان په اعتبار تر ټولو کامل هغه خلک دي چې ښه اخلاق ولري.

۴- الله تعالی دغوره اخلاقو لرونکو سره محبت لري.

رسول الله (صلی الله علیه واله وسلم) فرمايلي دي:

((إِنَّ اللَّهَ يُحِبُّ مَعَالِيَ الْأَخْلَاقِ، وَيَكْرَهُ سَفْسَافَهَا)).۱۵۱:۲۹)

الله تعالی دښو اخلاقو څښتنان خوښوي او بد اخلاقه خلک بد ګڼي.

ربه زه دې په ډېر ښه شکل جوړ کړی يم اخلاق مې هم ښکلي کړې.

۵- ښه اخلاق دغوره ايمان نښه ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله (صلى الله عليه واله وسلم) فرمايي:

((إِنّ مِنَ الإِيمَانِ حُسْنُ الْخُلُقِ، وَأَفْضَلُكُمْ إِيمَانًا ))(٣٣، ٢٠٠).

غوره اخلاق دايمان برخه ده، او په تاسې کې دغوره اخلاقو درلودونکی دغوره ايمان درلودونکی دی.

## ۶- غوره اخلاق نيکي ده:

رسول الله (صلى الله عليه واله وسلم) فرمايي:

(( الْبِرُّ حُسْنُ الْخُلُقِ وَالْإِثْمُ مَا حَاكَ فِي صَدْرِكَ وَكَرِهْتَ أَنْ يَطّلِعَ عَلَيْهِ النّاسُ. (٢٣، ٤٠٣ ).

نيکي غوره اخلاق دي او ګناه هغه ده، چې زړه دې ترې کرکه کوي او دا بد ګڼې چې خلک پرې خبرشي.

## ۷- بداخلاقه انسان حقيقي مفلس دی:

رسول الله (صلى الله عليه واله وسلم) له صحابه کرامو پوښتنه کوي:

أَتَدْرُونَ مَا الْمُفْلِسُ؟ قَالُوا الْمُفْلِسُ فِينَا يَا رَسُولَ اللهِ مَنْ لَا دِرْهَمَ لَهُ وَلَا مَتَاعَ قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ الْمُفْلِسُ مِنْ أُمّتِي مَنْ يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلَاتِهِ وَصِيَامِهِ وَزَكَاتِهِ وَيَأْتِي قَدْ شَتَمَ هَذَا وَقَذَفَ هَذَا وَأَكَلَ مَالَ هَذَا وَسَفَكَ دَمَ هَذَا وَضَرَبَ هَذَا فَيَقْعُدُ فَيَقْتَصُّ هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ وَهَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْتَصّ مَا عَلَيْهِ مِنْ الْخَطَايَا أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَ عَلَيْهِ ثُمّ طُرِحَ فِي النّارِ ) (٢٣، ٤٥٩ ).

تاسې پوهېږئ چې مفلس څوک دی؟هغوي ځواب ورکړ،زموږ په منځ کې مفلس هغه څوک دی چې پېسې او مال ونه لري،رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) وفرمايل:زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



دامت (حقیقي) مفلس هغه څوک دی چې دقیامت په ورځ به له ډېرولمونځونو زکاتونواو روژو سره راشي، خو چا ته به یې ښکنځل کړي وي، په چا پورې به یې تهمت تړلی وي، دچا مال به یې خوړلی وي، دچا وینه به یې تویه کړې وي، څوک به یې (په ناحقه) وهلی وي، نو دهغه نېکۍ به یو بل ته دغچ په توګه ورکول شي، ، کله چې دهغه نېکۍ مخکې له دې چې دخلکو دغچ اخستنې لړۍ پای ته ورسېږي ختمې شي، نو دهغوي ګناهونه به راوخستل شي او پر ده به ورواچول شي، او بیا به دغه شخص اور ته وغورزول شي.

۸- یوه ښځه دبدو اخلاقو له کبله جهنم ته ځي:

## عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ: قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللّه إِنّ فُلَانَةَ يُذْكَرُ مِنْ كَثْرَةِ صَلَاتِهَا وَصِيَامِهَا وَصَدَقَتِهَا غَيْرَ أَنّهَا تُؤْذِي جِيرَانَهَا بِلِسَانِهَا قَالَ ((هِيَ فِي النّارِ)) قَالَ يَا رَسُولَ اللّه فَإِنّ فُلَانَةَ يُذْكَرُ مِنْ قِلّةِ صِيَامِهَا وَصَدَقَتِهَا وَصَلَاتِهَا وَإِنّهَا تَصَدّقُ بِالْأَثْوَارِ مِنْ الْأَقِطِ وَلَا تُؤْذِي جِيرَانَهَا بِلِسَانِهَا قَالَ ((هِيَ فِي الْجَنّةِ)) ۳۷، ۳۴۱).

ابوهرېره (رضي الله تعالی عنه) روایت کوي چې یو سړي وویل اي دالله تعالی رسوله (صلی الله علیه واله وسلم) هغه فلانۍ ښځه چې دلمانځه، روژې، او صدقو نوم لري، خو په ژبه ګاونډیانو ته ضرر رسوي، وې فرمایل: هغه په اور کې ده، بیا یې وویل چې فلانۍ دروژې اوصدقو او لمانځه یادونه یې کمه کېږي خو ګاونډیانو ته په ژبه ضرر نه رسوي، وې فرمایل: هغه په جنت کې ده.

دا او دې ته ورته نور بې شمېره نبوي احادیث په اسلام کې دښو اخلاقو په ارزښت دلالت کوي او مسلمانان دښو اخلاقو خپلولو ته سوقوي تشویقوي یې ترڅو دغوره اخلاقو په خپلولو سره ددنیا او اخرت کامیابۍ ترلاسه کړي.

## د اسلام داخلاقي نظام ځانګړتیاوې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې کې شک نشته چې دامتونو او دهغوي داخلاقو ترمنځ ژورې اړیکې وي ، ځکه خو پر دغو اخلاقو سره دیو امت تمدن له نور و څخه جلاکېږي، دمثال په ډول غربي تمدن باندې مادي جانب غالب دی او روحي جانب ته یې هیڅ توجه نشته ، په دغه ټولنه کې یو فرد په کامله معناله روحي فقر سره مخ دی ، او مثال یې هغه وږي اوتږي ته ورته دی چې دخوراک اوڅښاک په لټه کې وي ،تر څو خپله لوږه او تنده پرې رفع کړي ، له دې امله په دوي کې دعدم احساس مرض خپور شوی او دژوند هدف ورڅخه ورک شوی دی،دوي دانساني ژوند هدف یوائې په دنیاکې خوراک او څښاک ګڼي او له مرګ څخه وروسته ژوندون باندې ایمان نه لري.

اسلامي تمدن په بشپړه معنا له غربي تمدن سره توپیر لري ،په اسلامي تمدن کې مادي او روحي جانب دواړه څنګ په څنګ پرمخ وړل کېږي ،یو لوري ته پر بل ترجیح نه ورکوي ،دجسم مادي حقوق پېژني خو ترڅنګ یې روحي جانب هم له پامه نه غورزوي ،نو ګورو چې اسلامي اخلاق ژوندی شکل وي چې د انساني طبیعت په مختلفو ابعادو کې مجسم کېږي ،نو ویلاي شو چې اسلامي اخلاق دځینو داسې ځانګړتیاؤ څخه برخمند دی چې په نورو مذاهبو ادیانو ،فلسفو ،ټولنو اوفرهنګونو کې نه لیدل کېږي ،چې په لاندې توګه له ځینو ځانګړتیاؤ څخه په مختصره توګه یادونه کوو :

## ۱- اسلامي اخلاق له سلیم فطرت څخه سر چینه اخلي:

که موږ قران ته ژور نظر واچوو وبه وینو چې په زیات شمېر ایتونو کې په فطرت باندې تکیه شوې ده ، فطرت هغه ذاتي احساس دی چې دمختلفو سلوکو ترمنځ په تمیز کولو قادر دی،خېر له شر اوعدل له ظلم څخه بېلولای شي ،ځکه چې ددې دین اساس په عدل او احسان ولاړ دی چې له هر ډول فحشاء او منکر څخه انسانان منعه کوي ، الله تعالی فرمایي:

(( إِنَّ اللّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ..(النحل 90 )

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی په عدل او احسان کولو امر کوي.
اوبل ځاي فرمايي:((قُلْ إِنَّمَا حَرَّمَ رَبِّيَ الْفَوَاحِشَ مَا ظَهَرَ مِنْهَا وَمَا بَطَنَ (الأعراف33 )
ته ورته ووايه چې زما رب هر ډول بې حيا کارونه حرام کړي دي ښکاره وي او که پټ.
دا او دې ته ورته ايتونه مسلمان له خپل وجدانه مخاطب کوي، چې له اخلاقي ضمير څخه په کار اخستنې سره دخېر او شر ترمنځ تميز وکړي.
دقرانکريم همدغو لارښوونو په رڼا کې موږ وينو چې داخلاقو بنسټيزقواعد چې ټولوپيغمبرانو هغې لوري ته بلنه کړې يو دي لکه :عدل،امر بالمعروف،نهي عن المنکر،احسان ، صدق، امانتداري او داسې نور اخلاق چې سليم فطرت هغې لوري ته مېلان لري او دهغې دترسره کولو لپاره کار کوي ، الله تعالی انسان ته دغه فطرت ورکړ ترڅو هغه چارې پرې ترسره کړي چې مصالحو ته پرې ځان ورسوي ، او ضرر پر ي له ځانه دفع کړي ،په ځيني څرګندو او پټو اسبابو يې هغه سره مر سته کړېده لاره يې ورته وښوده،بيا يې استازي ورلېږل، کتابونه يې ورته رانازل کړل ترڅو مشکل احکام ورته واضح، او مجمل احکام ورته په تفصيل سره بيان کړي نو په دې ځاي کې دوه ستر عوامل دي چې يو بل تکميلوی ،يو دفطرت عامل او بل دشريعت عامل دی،لومړی عامل چې فطرت دی دزړه دروازې ددوهم عامل (شريعت) دقبلېدو لپاره پرانيزي، ځکه چې دغه دفطرت ذاتي غوښتنه ده.
الله تعالی خپل بنده ګان حق پېژندنې او خېرسره د محبت پر اساس پېدا کړي دي، ترټولو لومړی دالله تعالی معرفت اودهغه په ربوبيت باندې داقرار محبت دانسان په فطرت کې اچولی دی ، ځکه د الله تعالی معرفت دهر خېر او هر حق پېيل ګڼل کېږي ، رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) فرمايلي دي : ((مَا مِنْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَوْلُود إِلَّا يُولَدُ عَلَى الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانه أَوْ يُنَصِّرَانه أَوْ يُمَجِّسَانه كَمَا تُنْتَجُ الْبَهِيمَةُ بَهِيمَةً جَمْعَاءَ هَلْ تُحِسُّونَ فِيهَا مِنْ جَدْعَاءَ ) )١٩ ، ١٤٣ ).

((هرمولود چې تولد کېږي پر سپېڅلي فطرت تولد کېږي،(پرفطري ايمان سره تولد کېږي )موراو پلار يې،يا يهودي،يا نصراني،اويا مجوسي جوړوي،لکه يو ځاروی چې له مور څخه روغ جوړ تولد کېږي،چې هيڅ کمی پکې نه ليدل کېږي(وروسته بيا خلک دهغه غوږ يا لکۍ پرې کوي ).

که بيا وروسته فطرت دفساد لاره غوره کوي، او يا له حق څخه ګرځي او يادمعرفت لاره ورکوي دابه ديو خارجي عارض لامل وي لکه رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) چې ورته اشاره کړې ده،((فابواه يهودانه ... ) ).

يعنې مور او پلار دهغه دبې لارۍ لامل ګرځي،تربيه او روزنه هم دفطرت په تغي کې ستر لامل ګڼل کېږي.

په حديث قدسي کې رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) دغه موضوع داسې توضيح کوي،

الله تعالى فرمايي (( وَإِنِّي خَلَقْتُ عِبَادِي حُنَفَاءَ كُلَّهُمْ , وَإِنَّهُمْ أَتَتْهُمُ الشَّيَاطِينُ فَاجْتَالَتْهُمْ عَنْ دِينِهِمْ , وَحَرَّمَتْ عَلَيْهِمْ مَا أَحْلَلْتُ لَهُمْ , وَأَمَرَتْهُمْ أَنْ يُشْرِكُوا بِي مَا لَمْ أُنَزِّلْ بِهِ سُلْطَانًا )(٢٣،٢٤ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



((ما خپل ټول بنده ګان پر سپېڅلي فطرت پېدا کړي دي،شېطانان ورته راغي او له خپل دين څخه يې ګرځوي،کوم شيان چې ما ورته حلال کړي دي هغه پرې حراموي،او کوم شيان چې ما پرې حرام کړي دي هغه ورته حلال ګرځوي، هغوي ته امر کوي چې ماسره هغه څوک شريکان کړي چې ما پرې هيڅ دليل نه دی رالېږلی )).(۹۲-۲۰۰:۴۳)

## ۲- پر اخلاقي بنسټونو التزام داسلامي عقيدې غوښتنه ده:

ددې جملې مطلب دادی چې اخلاقي کمزوري دايماني کمزورئ نښه ده پردين کلکه عقيده ددې غوښتنه کوي چې مسلمان بايد دغښتلو ښو اخلاقو څښتن وي ، داسلام دمقدس دين له ځانګړتياؤ څخه داده چې مسلمان په غوره اخلاقو دالتزام لوري ته رابولي،او اخلاقي مبادي ددين له بنسټونواو اوامرو څخه ګڼي ،يعنې هغه څه چې اسلامي اخلاق له نورو جلا کوي يو هم اخلاقو سره ددين ټينګه او پياوړي اړيکه ده، همدا لامل دی چې دلغت پوهان په زياتره ځايونو کې اخلاق په دين سره تعبيروي او زيات شمېر مفسرين چې ددې ايت (وانک لعلی خلق عظيم ) معنا کوي،نو ليکي چې( انک لعلی دين عظيم)،رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) څخه چا ددين په هکله پوښتنه وکړه،هغه ورته په ځواب کې وويل: ((الإسلام حسن الخلق)).(۴۰، ۳۲۴). اسلام ښه اخلاق دي

(c) ketabton.com: The Digital Library



الهي او امر مسلمان پرغوره اخلاقو مکلفوي په اخرت کې دثواب لامل يې ګڼي داهمال او مخالفت په صورت کې دعذاب ور ، موږګورو چې دغوره اخلاقو ستر مبادي لکه (عدل،وفاء،صدق او امانت )او ورسره په څنګ کې د دغو مباديو تفرعات يو شرعي مکلفيت ګڼي چې مسلمان پرې ماموره شوی دی ،دغه معنا په دې حديث کې ښه څرګنده شوې ده چې فرمايي: (انما بعثت لاتمم مکارم الاخلاق)

يعنې: زما دبعثت اساسي موخه دغوره اخلاقو تکميلول دي.

دالله (جل جلاله) رسول پر غوره اخلاقو چلېدل دايمان دبشپړتيا يو لازمي شرط ګڼي او دغه غوښتنه موږ درسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) په زيات شمېر احاديثو کې وينو چې دبېلګې په توګه لاندې يو احاديث ذکر کوو:

۱- رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) فرمايلي دي: **عُدِلَتْ شَهَادَةُ الزُّورِ بِالْإِشْرَاکِ بِاللّه ثَلَاثَ مِرَارٍ)).۲۴،۴۹۸.**

ددرواغو ګواهي دشرک سره برابره ده،درې ځل يې وفرمايل.

**۲- مَنْ غَشّنَا فَلَيْسَ مِنّا )).۲۲، ۲۲۵.**

چاچې موږ سره خيانت وکړ له موږ څخه نه دی.

**۳- لَا يُؤْمِنُ أَحَدُکُمْ حَتّی يُحِبّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ ))۱، ۲۱.**

په تاسې کې يو هم کامل مؤمن نشي کېدی ترڅو چې کوم شی دځان لپاره خوښوي دبل لپاره يې خوښ نه کړي.

**۵- انّ رَسُولَ اللّه صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ وَاللّه لَا يُؤْمِنُ وَاللّهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللّهِ لَا يُؤْمِنُ قَالُوا وَمَا ذَاکَ يَا رَسُولَ اللّهِ قَالَ**

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْجَارُ لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَائِقَهُ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا بَوَائِقُهُ قَالَ شَرُّهُ ) ).(۸۰، ۳۴ ).

رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) وفرمايل :په الله تعالى مې دې قسم وي مسلمان نه دى ،بيا وفرمايل مسلمان نه دى، بيا يې وفرمايل : مسلمان نه دى ،صحابه كرامو وفرمايل:داڅوک دى يا رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) ، وې فرمايل: هغه ګاونډي چې بل ګاونډي دهغه له ضرر څخه په امن نه وي

۶- قَالَ النَّبِيُّ صلى الله عليه وسلم :(( الْحَيَاءُ وَالإِيمَانُ قُرِنَا جَمِيعًا ، فَإِذَا رُفِعَ أَحَدُهُمَا رُفِعَ الآخَرُ ) )(۲۹ ، ۴۷ ).

((ايمان او حياء دواړه يوبل سره تړلي دي كله چې يو له منځه ځي بل هم ورسره له منځه ځي ) ).

۷- لِكُلِّ دِينٍ خُلُقٌ وَخُلُقُ الإِسْلَامِ الْحَيَاءُ ) )(۳۱، ۳۸۸ ).

هر دين ځانګړى اخلاق لري او داسلام اخلاق حياء ده.

۸- مَا آمَنَ بِي مَنْ بَاتَ شَبْعَانًا وَجَارُهُ جَائِعٌ إِلَى جَنْبِهِ وَهُوَ يَعْلَمُ بِهِ ) ).(۳۱، ۳۱۴ ).

هغه څوک چې په خپله موړ ويده كېږي او دې ښه پوهيږي ترڅنګ يې ګاونډي وږې وي نو هغه په ما ايمان نه دى راوړى.

۹ - مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ جَارَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللَّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ ) ).( ۲۸، ۴۵۷ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



((څوک چې په الله تعالى او اخرت ورځ ایمان لري نو دخېر خبرې دي وکړي یا دې چپ کېني او څوک چې پر الله او اخرت ورځ ایمان لري دګاونډي اکرام دې وکړي او څوک چې په الله تعالى اواخرت ایمان لري هغه دې دمېلمه عزت وکړي.

دا او دې ته ورته بې شمېره احادیث ثابتوي چې غوره اخلاق دایمان برخه او د ایمان غوښتنه ده،یعنې غوره اخلاق خپلول په اسلام کوم نفلي عمل نه ،بلکې فرض او لازمي دي. ۴۳:۹۲-۲۰۰ )

## ۳- اسلام په عامه توګه ښو اخلاقو لورې ته بلنه ورکوي.

داسلام داخلاقي نظام له ځانګړتیاؤ یو هم عاموالی او تفصیل دی دعاموالي څخه هدف دادی چې اسلام دنېکو اخلاقو لورې ته عامه بلنه ورکوي او په عامه توګه له نواهیو او منکراتو څخه منعه کوي: لکه په لاندې ایتونو کې چې ورته اشاره شویده:

☎✂❑⬈♑◙❑➔☽♦③ ⑧♋⑩✍♦⌨♋➔♋♏♑◙ ✍➔🔔♦❒
❑♌◆☽ 🗐 ⬅♊✺❍⇧❍❑🕮 "❻♋♎ 🙰🙸☹⅄♑◙✍✂
⬀☠⬂♒♦☪⬃❹♦📪⬆⬂♦❾ॐ♦③⌘♊🕔⬩➲⬂⓿⊙⌖♑◙✍✂
☙♍🔔☒📭 ⌘♊🕔⬩➲⬂⓿⊙⌖♑◙✍✂ ❑♌◆☽ 🗐
✍✡☪❹◆⌨⑩✌ ✂☒❒⬅⑨♦⬉ ⮐♊🕔✺❍💧💣✳"♋♑◙
⮑◆▩ ۵۳، ایت سورت بني اسرائیل.

اى محمده (صَلّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) زما بندګانو ته ووایه چې تل ښه او غوره خبره وکړئ ، په رښتیا چې شیطان دهغوی په مینځ کې دښمنې اچوي ځکه چې شیطان دانسان ډانګ پیلې دښمن دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



إِنّ اللّهَ يَأْمُرُ بِالْعَدْلِ وَالإِحْسَانِ وَإِيتَاء ذِي الْقُرْبَى وَيَنْهَى عَنْ الْفَحْشَاء وَالْمُنكَرِ وَالْبَغْيِ يَعِظُكُمْ لَعَلّكُمْ تَذَكّرُونَ (النحل90)

الله تعالى دعدل ښېګڼې او خپلوی پالنې حکم کوي او له بدی،بې حیایې او زور ، ظلم ، څخه منع کوي هغه تاسې ته نصیحت کوي ترڅو تاسې درس واخلئ .

نبي كريم (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) هم په عامه توګه ښو اخلاقو لوري ته بلنه کوي او فرمايي: (اتّقِ اللّه حَيْثُمَا كُنْتَ وَأَتْبِعْ السّيِّئَةَ الْحَسَنَةَ تَمْحُهَا وَخَالِقِ النّاسَ بِخُلُقٍ حَسَنٍ ) )۲۲۲:۲۲.

يعنې : هر چېرته چې اوسي له الله تعالى څخه وویریږه ، له بدی څخه وروسته حتماً نیکې کوه ، ځکه نیکې بدي له منځه وړي او خلکو سره ښه سلوک کوه.

او دتفصیل مطلب دادی چې ښه اخلاق بشپړ تفصیل سره په اسلام کې بیان شوي دي، له فردي ژوند څخه نیولې،ترټولنیزواړیکو،اقتصادي چارو ،ترسیاسته اودنظام ترجوړونی پورې (دژوند په هره برخه کې ،اسلام دښو اخلاقو غوښتنه کوي )ترڅوخلک پوهـ شي چې ښه اخلاق کوم دي او بد کوم ؟ ښه اخلاق دژوندپه چارو کې عملي او له بدو اخلاقو څخه ځانونه وژغوری .۸۸:۴۱.

## ۴- اسلام دبدو اخلاقو مرتکبينو ته جزاء ټاکلې ده

داسلام داخلاقي نظام بله ځانګړتیاداده چي څوک دکومي بد اخلاقی مرتکب شي دهغه له پاره یي یا دنیایي او یا اخروي جزا ټاکلې ده،نو ځکه خو اسلام

(c) ketabton.com: The Digital Library



داخلاقوذکر دامر او نهي په صيغه ذکر کړی دی او له الهي اوامرو سرغړونه ،او دنواهيو ارتکاب يې دعذاب سبب ښودلی دی نو په حقيقت کې داديوقانون ښه غوره کوي نوبناء پر دې (داسلامي شريعت له اوامرو سرغړونه او دنواهيوارتکاب دجزا سبب ګرځي ).دمثال په ډول اسلامي شريعت دبل چا حق په ناجايزه توګه خوړل منع کړي دي نو که څوک په ناروا توګه دچا مال اخلي او ياغلا کوي دهغه لپاره يې جزا ټاکلی چې دهغه لاس بايد غوڅ شي ،لکه چې الله تعالی فرمايي:(( وَالسَّارِقُ وَالسَّارِقَةُ فَاقْطَعُوا أَيْدِيَهُمَا جَزَاءً بِمَا كَسَبَا نَكَالًا مِنْ اللَّهِ وَاللَّهُ عَزِيزٌ حَكِيمٌ ) ) (المائدة38 )

او غل که نر وي که ښځه ،ددواړولاسونه پرېکړئ،دهغو دخپلې کړنې بدله ده ،او دالله تعالی له لوري دعبرت وړ سزا دالله تعالی قدرت پر ټولو غالب دی او هغه دپوهې او حکمت څښتن دی.

همدا راز که څوک دبل چا پورې تور تړي نو اسلامي شريعت دهغه لپاره اتيا درې جزا ټاکلې ده په دې شرط چې کوم ګواه او شاهد ونه لري الله تعالی فرمايي: ◆♌❑⬉✌⬀❷◆③ ✖⇦♑♎⅄✏♐♓✃◆❒
⬄⚐⬧⧫⬄ ▪☠➔⚐ ♑●☼🕔❑✡❁🕔⬄⬧⬅☺⬂⧫⬄♐♓✃
♑❑⌧➔◆✍⬀❻❑🕯♒✍ ☎✃❑➔✍▫🕯◆③
⬄⚐➔♎❑⬅⑨♒🖬⇳♉♐♓♐♓⬧▫ ◆⬈✏✃⌧⑨❑♐➔✸
⬧⬧◆❒ ☪❑◆♐▫✃⌧♉ ◆✖✓♑☪🕔◆☹❒⚐
🕔❑⌧⑨🕔❑♐⌧✸ ⬀☠⬅●❍▬ ☎✃❑➔🖬◆🖮⬂◑⬧✍
⬉☠➔♎ ⌧🖮♐⯐✸🕔⬧⬄🕯❑⬆🕮◆❒ 🗐 ✃✡⑨◆✍❑🕮
سورت النور۴-ايت ⮰♐⮳◆♌❑➔◑⮲❍🕔⌧⧻⧺⬂⬄♐♓✃

هغه څوک چې پاک لمنو ، ښځو او نارينه و پورې دزنا تور تړي بيا څلور تنه شاهدان رانه ولي نو ووهئ ( دغه تور تړونکي ) اتيا درې او تر مرګه دهغوی ګواهي مه قبلوئ او دغه تور تړونکي فاسقان دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په همدې توګه څوک چې په ټولنه کې دزنا په وجه فساد خوروي او انساني نسل ته زیان رسوي ،جزاء یې داده چې (۱۰۰) درې ووهل شي الله(جل جلاله) په دی اړه داسې حکم کوي .
➔□◆⓪♑☼✂□❽♌◉♐♐✂
☎✂❒➔♐♑✂⇳♉♐♐⬧▫ ❼♑❄✂□❽♌◉♐♐✂◆❒
♐⌧☺⬋♑⬃❁♑♓✌ ⌨⑨♑■⏲◆❒ □✍⬈✍
✌♑♐☎♋◆⬧□⬧♉⌧✂▫♐♐◆□▭☎ • سورت النور.
هغه ښځه او هغه سړی چې دزنا دعمل مرتکب شي هر یو له دواړو(۱۰۰) سل درې ووهئ.
له همدې کبله اسلامي شریعت ټول مسلمانان مکلف کړي چې په ټولنه کې درزیله اخلاقو مخنیوې وکړي او په دی هکله باید جدي ګامونه پورته کړي ، دوبرې احساس ونه کړي او په دې اړه سستې غوره نه کړي.
که دوې ددغو بد اخلاقیو او فسادونو په مخنیوې کې چپ پاتې شي نو نه یوازې داچې په ټولنه کې به ناوړه او بد اخلاق خپاره شي بلکې دمفسدینو ترڅنګ به صالحان او نیکو کاران به هم ورسره په عذاب کې ککړ شي،الله تعالی فرمایې : ❒◆✂♐♐✍□◑➔❒✂☎ ▫♑☞⬀☪◆□☪ ⬧•
⬅⬧⬧■☺⬅❒✂☎ ✂♐♐✏⍓♎♑⇦✖◆ ✍➔◷⬂⓿▫◆✖□
✌♑✡▤⬈☠⬀❀⬧♎✏◷○□☪ ☎ سورة الانفال،۲۵ ایت
له هغې فتنې څخه ځان وژغورئ چې دهغې ناوړه اغېزه به په ځانګړې توګه په هغو خلکو پورې محدوده پاتې نه شي چې ګناه یې کړي وي.
البته داسلام دغه اقدامات ددې لپاره دي تر څویوه داسې صالحه ټولنه رامنځ ته شي چې دعدل پر بنسټونو ولاړه وي،یو فرد پر بل تجاوز ونه کړي، دظلم او اخلاقي جرایمو مخنیوی وشي.۹۲:۴۱

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دښو اخلاقو دخپلولو لارې چارې:

داسلام په دین کې دښو اخلاقودارزښت مقام او منزلت په اړه مو مخکې په تفصیل سره بحث وکړ،اوس دلته دا پوښتنه پیدا کېږي چې ښه اخلاق کسبي دي اوکه ذاتي صفات دی چې د هر مسلمان د پید ایښت سره سم پیدا شوي دي او د تغیر او تبدیل وړ نه دي؟ مونږ پورتنۍ پوښتنې ته په لاندې دوو ټکو کې ځوابوو.

١. په عمومی توګه خو انسان تغیر قبلوونکی دی کولی شي چې ښه اخلاق ځان کې پیدا کړي او له بدو اخلاقو څخه ځان وژغوري ځکه اسلام مسلمانان دخو اخلاقو په خپلولو مکلف کړي دي که چېرته دا کار نا ممکن ؤ بیا مسلمانان پرې نه مکلف کېدل الله تعالی فرمايي:(•• ③◥▥♦▪&ℰ✂✂← ✂⁄ℰℰ✏✦ ✡♦⊞⧅○✧ℰℰ ◑⦸•• ◻◥ⅇ⬄➔⊠♑⊠ℰℰ) (١: د البقرې سورت، آیت ٢٨٦).

د توان څخه پورته الله تعالی انسان پرېوکار نه مکلفوي.

٢. دالله تعالی دځانګړې پېرزوونې پراساس ځینی انسانان دتولد سره سم دښو اخلاقو سره پېداکړی وي لکه رسول الله صلی الله علیه وسلم چې د عبد القیس د قبیلې مشر ته وویل: " يَا أَشَجُّ، إِنّ فِيكَ خَصْلَتَيْنِ يُحِبُّهُمَا اللّهُ وَرَسُولُهُ: الْحِلْمَ وَالْأَنَاةَ " فَقَالَ: يَا رَسُولَ اللّه، أَنَا تَخَلّقْتُهُمَا ، أَوْ جَبَلَنِي اللّهُ عَلَيْهِمَا ؟ قَالَ: «بَلِ اللّهُ جَبَلَكَ عَلَيْهِمَا» . قَالَ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



## الْحَمْدُ لِلّهِ الّذِي جَبَلَنِي عَلَى خُلُقَيْنِ يُحِبُّهُمَا اللّهُ وَرَسُولُهُ. مسنداحمد ،(۳۷، ۴۹۰).

ای اشجه په تا کې دوه خصلتونه دي چې د الله تعا لی او د هغه د رسول ډېر خوښ دي ، یو حلم او بل اناة دی(حلم دې ویل کېږي چې یو انسان دغصې پرمهال خپل ځان کنترول کړي، کولای شي له مقابل لوري خپل غچ واخلي خوصبر وکړي ، له انتقام اخستنی لاس په سر شي ،او له عجلې څخه کار وانخلي .او (اناة )په چارو له غور او فکر کولو څخه عبارت دی ، هغه ځوک چې چارې په عجله نه ترسره کوي له بشپړې سنجیدګۍ څخه کار اخلي (اناة ) بلل کېږي ).هغه سړي وپوښتل:ای دالله تعالی رسوله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) نو موږو اخلاقو سره زه تولدشوی یم او که ما کسب کړي دي ؟نبی صلی الله علیه وسلم ورته وفرمایل:

الله تعالی نو موږي اخلاق ستادتولد سره سم ،تا کې پیدا کړي دي.

نوپر دې اساس ویلاي شو چې په عامه توګه غوره اخلاق کسبي دي او کېدی شي چې دځینو اسبابو او وسایلو په کارونې سره چې وروسته به ترې یادونه وشي یو انسان دښو اخلاقو څخه برخمن شي،اولږخلک داسې دي چې الله تعالی دخپلو پېرزونو پراساس،دښو اخلاقو سره تولد کړی وي ،نوانسان ته په کار دي چې هغه وسایل او اسباب وپېژني چې انسان پرې دښواخلاقو ښتن ګرځي چې ددغو وسایلو څخه ځینې په لاندې ډول ذکر کېږي:

### ۱- د ښو او بدو اخلاقو پېژندل:

مسلمان باید ښه او بد اخلاق و پېژني ځکه تر هغه پوری چې د ښو او بدو اخلاقو تو پیر ونه شي کولی په ښو اخلاقو موصوفیدل او د بدو اخلاقو څخه ځان ساتل ورته ګران دی.

### ۲- د ښو اخلاقو په ګټو او د بدو اخلاقو په زیانونو پوهېدل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



تر څو پو ري چې مسلمان ته د ښوا خلاقو ګټې او د بدو اخلاقو زيانونه څرګند نه وي په ښو اخلاقو سمبا لېدل او د بدو اخلاقو څخه ځان ساتل ورته سخت وي.

۳- د نېکو ملګرو ملګرتيا:ملګرتيا،( اړيکې او ارتباطات) دانسان پر اخلاقو مثبتې اومنفي اغېزې لري که انسان دايمان داره اودښو خلکو سره ارتباط ولري نوښه انسان به ورڅخه جوړشي او که بې ايمانه او بد اخلاقو خلکو سره ارتباط ولري نو بې ايمانه او بد اخلاقه انسان به ورڅخه جوړ شي، البته ملګرى يوا ځې انسان نه ، بلکې دزده کړې ځايونه،کتاب ، مجله ، اخبار ، راديو تلويزون ،تفريح ځايونه،او داسې نور هغه اسباب او وسايل چې انسان ورسره شپه او ورځ سرو کار لري دانسان په اخلاقو ښې او بدې اغېزې لري. نو ځکه رسول الله صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ خپل امت متوجه کوي او فرمايي :((الرّجُلُ عَلَى دِينِ خَلِيلِهِ فَلْيَنْظُرْ أَحَدُكُمْ مَنْ يُخَالِلُ) )(۲۳، ۴۵۹).

هر تن د خپل ملګري په دين وي نو خپل ملګري ته دې و ګوري چې په کوم دين دى.

انس بن مالک(رضي الله تعالى عنه) روايت کوي چې رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) فرمايې : ( إياک وقرين السوء فإنک به تعرف )(۴۰، ۲۳۵).

له بد ملګري نه ځان وساته ځکه ته دهمدې ملګري په وسيله پېژندل کېږي

ددې حديث مقصددادى چې له بدو دوستانو څخه ځان ساته او دهغوي مجالسو ته مه ورځه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) دنېک ملګري او بدملګري انظور په ډېرو ښوالفاظو سره بيان کړېدی رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) فرمايي:(( **مَثَلُ الْجَلِيسِ الصّالِحِ وَالْجَلِيسِ السّوْءِ كَمَثَلِ صَاحِبِ الْمِسْكِ وَكِيرِ الْحَدّادِ لَا يَعْدَمُكَ مِنْ صَاحِبِ الْمِسْكِ إِمَّا تَشْتَرِيهِ أَوْ تَجِدُ رِيحَهُ وَكِيرُ الْحَدّادِ يُحْرِقُ بَدَنَكَ أَوْ ثَوْبَكَ أَوْ تَجِدُ مِنْهُ رِيحًا خَبِيثَةً. (۱۸، ۲۸۷ ).**

دښه ملګري او بد ملګري مثال داسې دی لکه دمشکو څښتن او داهنګربنئ که دمشکو څښتن سره کښنی نودهغه څخه به حتمايوه ګټه دورورسيږي يا به مشک په پيسو ترې واخلې اوکه نه نو ښکلې بوې به ترې درشي،د پښت بنئ څخه به يا ستابدن وسوزي او ياجامې او يا به ترې خراب بوی درشي.

## ۴- فاسده ټولنه کې له ژوند کولو څخه ځان ساتل:

نېکو او فاسدو ټولنو کې سکونت کول مستقيماً د اشخاصو پر اخلاقو ژوري اغيزې لري په حديث شريف کې راغلي چې يو سړي سل تنه وژلي ؤ بالاخره يو عالم ته د تو بې کولو په نيت ورغلو عالم ورته وويل چې ستا توبه قبلېږي خو فلانئ سيمې کې هستوګنه غوره کړه او په خپله منطقه کې سکونت پرېږده ځکه ستا سې سيمه بده سيمه ده(۴۴:۱۲ ).

## ۵- د نېک سړي پرنصيحت عمل کول:

انسان خپل عيبونه نه ويني خو نورو اشخاصو ته يې عيبونه په ډاګه څرګندېږي که چېرې يو څوک تاته لړم په ګوته کړي چې ستا په جامو کې پټ دی د هغه ددې کار مننه او قدر داني کوې همدارنګه څوک چې تاته ستا بد اخلاق په ګوته کوي د هغه هم مننه وکړه دا ځکه چې د لړم چېچلو څخه د بدواخلاقو زيانونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



زيات دي همدا وجه ده چې عمر رضی الله عنه دهغه چاپه هکله چې عيوب يې ورته په ګوته کوي فرمايي ((رَحِمَ اللّٰهُ مَنْ أَهْدَی إِلَیّ عُيُوبِی.))(۹: ۲۳).

الله تعالی د په هغه شخص رحم وکړي چې زما عيبونه ما ته په ګوته کوي.

## ۲- پرښو اخلاقو دانسان روزنه:

په ښو اخلاقو دانسان روزنه له يو انسان نه دښو اخلاقو څښتن جوړوي ځکه چې ډېر کم انسانان فطرتاً دښو اخلاقو سره تولد شوي وي دپوره عقل څښتن وي دتعليم او تربي پرته عالم روزل شوي وی له تاديب ورکولو پرته دادب څښتن وي لکه عيسي عليه السلام ،محمدرسول الله (صلی الله عليه واله وسلم)او داسې نور انبياء عليهم الصلوة والسلام.

يعنې عادي انسان دخېر او شر دقبلونې قابليت او استعداد لري که چېرې په کورنۍ ،ټولنه ، مکتب ، پوهنتون ، او نورو تربيت ځايونو کې په ښو اخلاقو وروزل شي ، دښو او نېکو خلکو پسې روان شي په نېکو مجالسو کې برخه واخلي نود ښو اخلاقو او نېکو خويونو څښتن کېږي او که دبدو خويونو تربيت ورکړل شي او له هر لورې پرې دبداخلاقيو جالونه خپاره شوي وي په کور ،مکتب ، دلوبو په ميدانونو دزده کړی په ځايونو ، تفريح ګاو او نورو کې دبداخلاقو خلکو سره په تماس کې وي طبعي ده چې بداخلاق کسبوي اود بدو خويونو څښتن ګرځي.

رسول الله (صَلّی اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) دې موضوع ته په اشاره کولو سره فرمايي:

((مَا مِنْ مَوْلُودٍ إِلّا يُولَدُ عَلَی الْفِطْرَةِ فَأَبَوَاهُ يُهَوِّدَانِهِ أَوْ يُنَصِّرَانِهِ أَوْ يُمَجِّسَانِهِ)) (۱۹، ۱۴۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library



هرطفل او ماشوم په پاک او سپېڅلې فطرت تولد کېږې يقيناً مور اوپلار دې چې له هغه نه يهودي ، نصراني او يا مجوسي جوړوي.

نو کوچنی له کوچنيوالي له هغه چا څخه تاثير اخلي چې ورسره اوسېږي ، لکه مور اوپلار ورونه او خوېندې اود کورنې نور غړي که يوه کورنې کاملاً دښو اخلاقو او دنېکې تربيې څخه برخورداره وي ، نو کوچني ته مستقيماً دهغوي اخلاق او خويونه انتقالېږي ، او کوچنې په ښو اخلاقو روزل کېږي او که يوه کورنۍ فاسده او بداخلاقه وي ، د ادب او نيکو خويونو درلودونکي نه وي ، نو کوچنې په هماغه اندازه بدخويه او بداخلاقه رالوېږي البته ډېر ځله يو کوچنې په يوه نېکه کورنې کې رالوی شوي خو په مکتب ،لېسه ، او پوهنتون کې دمفسدينو ، بداخلاقو خلکوسره ملګری شي له سمې لارې يې واړوي اود هغوی په څېر يو مفسد او بداخلاقه انسان ترې جوړ شي او دغسې ګمراه شي لکه دوي چې ګمراهان دي.

## ۷- نېک اعمال او عبادات ترسره کول:

علم له عمل پرته هېڅ ګټه نه لري همدارنګه ښه اخلاق پېژندل ترهغې يو انسان ته فايده نه شي رسولاي ترڅو چې په عملي ډګرکې دهغه په کړو وړو کې راڅرګند نه شي الله(جل جلاله) فرمايي ((قدافلح من زکاها )) (يقيناً هغه څوک کامياب دی چې دنفس تزکيه يې وکړه )

نو د الله تعالی عبادت او بندګي کول انسان دښو اخلاقو لوري ته سوقوي، څومره اندازه چې انسان دالله تعالی عبادت کوي دهغه ذکرکوي په هماغه اندازه دانسان اخلاق سپېڅلي کېږي، دلمانځه،زکات، روژې او حج په هکله به وروسته په تفصيل سره يادونه وشي چې دانسان پر اخلاقو مستقيما اغېز لري، او له بدو چارو يې منعه کوي

## ۸- ښه اخلاق خپل عادت جوړول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



که څوک غواړي چي دښو اخلاقو څښتن شي نوپه کار دي چي دښو اخلاقو سره ځان عادت اوبیابیا یې عملي کړي ترڅودده په طبیعت کي پاخه شي لکه په یوحدیث کي ورته اشاره شوېده ((انما العلم بالتعلم والحلم بالتحلم )) (۳۲، ۴۷).

یعنې علم په زده کړه اونرمي په نرمي کولو زده کېږي.

## ۹ - دخپل ژوندلپاره دنېکو اشخاصو ژوند دنمونې په توګه ټاکل

درسول الله (صَلّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) ژوند دمؤمن مسلمان لپاره تر ټولو ښه نمونه ده چې دهغه داخلاقو پسې روان شي او پخپل ژوند کې عملي جامه ور واغوندي ځکه رسول الله (صَلّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) دپوره او کاملو اخلاقو څښتن ؤ، الله (جل جلاله) دهغه په صفت کې فرمايي :(,,,,,,,,,,, ,,,,,,,, ,,,,,,, ,,,,,,,, ,,,–القلم۴ ، ايت

یعنې بې شکه ته دلوړو اخلاقو مرتبه لري.

رسول الله (صَلّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) هغه هستي ده چې الله (جل جلاله) خپلو بنده ګانو ته دهغه پسې داقتداء کولو لارښوونه کوي او فرمايي: (,,,,,,,,, ,,,,, ,,,,,, و ,,,,,,, ,,,,,, ,,,,,,,,,, ,,,,,,,,, ,,,,,, ,,,,, ,,,,,,,,,, ,,,,,, ,,,,,,,,,,,,,, ,,,,,,,,,, ,,,,,,,,, ,,,,,, ,,,,,,,, ,,,, ) الاحزاب–۲۱

یقینا ستاسې لپاره درسول الله (صَلّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) په ژوند کې غوره نمونه اونیکه اقتداده په ځانګړي توګه دهغه چالپاره چي الله (جل جلاله)یادوي.

دمسلمان بنده لپاره درسول الله (جل جلاله) ژوند تر ټولو ښه نمونه او قدوه ده درسول الله (جل جلاله) ژوند دهغه په سیرت کې ډېر په تفصیل او وضاحت

(c) ketabton.com: The Digital Library



سره رانقل شوی نود رسول الله (جل جلاله) د سیرت مطالعه ، دهغه شخصیت په ذهن کې راوستل ، دمسلمان په ژوند کې دهغه دښو اخلاقو دکسبولو لپاره تر ټولو مهمه لاره ده همداراز دصحابه کرامو سیرت او ژوند تاریخ دنېکو او ښو اخلاقو نه ډک دی نودهغوي دژوند مطالعه هم دانسان داخلاقو په تغیر کې خاص تاثیر لري اود ښو اخلاقو ځښتن کېدای شي.

## ۱۰- د هر ښه کار اونېک خوي په ترسره کولو حرص درلودل:

هر نېک عمل که څه هم ډېر کم وي باید سپک ونه ګڼل شي ابوذر(رضي الله تعالی عنه) فرمايي:ماته رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) وفرمايل:

(( لَا تَحْقِرَنّ مِنْ الْمَعْرُوفِ شَيْئًا وَلَوْ أَنْ تَلْقَى أَخَاكَ بِوَجْهٍ طَلْقٍ ))(۲۳، ۶۹).

(( هیڅ یو نېک عمل سپک مه ګڼه دا هم نېکي ده چې دخپل مسلمان ورور سره په پراخه تندې مخامخ شي.

ځکه ډېر وړوکې عمل چې اخلاص په کې وي انسان لوړو پوړونو ته رسوي.

## داسلام داساسي ارکانو سره داخلاقو تړاؤ:

داسلام له اساسي ارکانو څخه هدف هغه عبادات دي دالله تعالی لخوا پرمسلمانانو فرض شوي دي اود اسلام ددین دبناؤ په نامه يادېږي ،دغه عبادات بې مفهومه او وچ حرکات نه دي چې يوازې دانسان رابطه دهغه پټو او

(c) ketabton.com: The Digital Library



غيبي شيانو سره وتړي چې په سترګو نه لیدل کیږي ، او نه اسلام انسانان په بې مفهومه او عبثو کارونو ګماري ، بلکې ټول هغه فرایض چې اسلام په خپلو پیروانو لازم کړيدي په حقیقت کې هغه تمرینونه دي چې انسان ته دنورو انسانانو په وړاندې دښه اخلاقو او نیک برخود ارزښتونه ورپېژني داسې تربیت او روزنه ورکوي چې دژوند په مختلفو شرایطو او ظروفو کې همدغه اخلاقي ارزښتونو ته پابند واوسي په عملي ژوند کې ددې مثال داسې دی لکه یو څوک چې دبدني تمرینونو په اداء کولو سره جسمي سلامتیا ساتي دغسې به مسلمان بنده ددغو فرایضو او عباداتو په ترسره کولو سره خپله معنوي او اخلاقي سلامتیا ساتي.

## ۱- لمونځ او اخلاق:

الله (جل جلاله) چې خپلو بنده ګانو دلمانځه امر کوي ورسره په خوا کې هغو حکمتونو او اثراتو ته هم اشاره کوي چې دلمانځه داداء کولو په ترڅ کې رامنځته کیږي الله (جل جلاله) فرمايي:

·♍︎♐︎◗ ☎ ■❑▤❑■◘○◷♑︎♒︎♓︎♑︎ ✐⚐♋︎♎︎❑🕮◆❑
⇫⇗◆⇖ ▤❻⬧⬥⬀☪⬧✍ ■❑▤❑■◘○◷♑︎♒︎♓︎♑︎
⌧❷⬧▤☪⇦☺⬂♑︎♒︎♓︎♑︎◆❑ ♎︎⬈✎♓︎◆⌖⬄⬧⮽▤◫⬂♑︎♒︎♓︎♑︎
▤

او لمونځګ قايم کۀه په باوري أول لمونځګ له فحشاء او ناوۀو چاروڅګخه منع کوي له بدو اخلاقو څخه ځان ساتنه اود نېکو اخلاقو څښتن کېدل دلمانځه داثراتو نتیجه ده ،. که څوک یوازې دلمانځه ظاهري حرکات ترسره کړي خو په عملي ژوند کې له هیڅ ډول بد اخلاقیو څخه مخ نه ګرځوي دپاکو او سپېڅلو خویونو خاوند نه شي نو ددغسې بې مفهومه حرکاتو هیڅ فایده نشته، اونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



دالله (جل جلاله) وړاندې دقبلېدو وړ ګڼل کېږي رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم) دغه مطلب په يو حديث قدسي کې په ډېرو واضحه توګه بيان کړيدی چې الله (جل جلاله) فرمايي:.

يقول الله تعالى:(( **إنما أتقبل الصلاة ممن تواضع لعظمتي، ولم يتكبر على خلقي، وقطع نهاره بذكري ولم يبت مصرا على خطيئته، يطعم الجائع، ويؤوي الغريب، ويرحم الصغير، ويوقر الكبير** ))(**٣٩، ٣٦٤**).

يقينا دهغه چا لمونځ قبلوم چې زما دلويوالي په وړاندې تواضع او عاجزي وکړي ، زما مخلوق ته دضرر رسوني او ظلم لاس اوږد نه کړي ، ورځ زما په ياد او ذکر کې تېره کړي ،په خپله خطاء باندې دوام نه کوي ،وږي ته خوراک ورکوي، مسافر ته پناورکوي ،پر کوچنيانو مهربان،اودمشرانو احترام کونکې وي.

## ٢-زکات او اخلاق:

په همدې درجه کې زکات هم قرار لري ځکه زکات يوازې او يوازې ټکس او مالي ورکړه نه ده ، چې يوه اندازه دمالدارو له جېبونو څخه راووځي اودفقيرانو جېبونو ته لاړ شي ، بلکې اسلام غواړي چې په دې ذريعه ښه اخلاق عاطفه ، مهرباني او همدردي دټولني په افرادو کې را پيدا کړي.

الله تعالی دې موضوع ته په اشاره کولو سره فرمايي:

☪⋆◻⧫♎⌂⑨❁⏲ ⬀☠♑●♐⌨⏲◆❑⬂✌❒🕮 ⇳♊♑✌ ⬉⓿➔❀ ☠✗✐❸♑✍✉⧫❽➔✍◆❑ ⬀☠➔♎⬉❷♐♎♍⧫➲➔✍ ☎ ⬀☠♐♑⬂⓿■⧫⬃ ⬀♏✍❁⏲◆❑ ✐❑✐✗✐

التوبة(١٠٣)ايت.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ای پېغمبره ! ته دهغوی له مالونو څخه دصدقې په اخېستلو سره هغوی پاک کړه ( اود نیکۍ په لاره کې ) هغوی وهڅوه اود هغوی په حق کې درحمت دعا وکړه.

په دې اساس اسلام غواړي چې دزکات په ذریعه له یوې خوا انساني نفس څخه دمال پرستۍ او حرص مادې له منځه یوسي او له بلې خوا کینه بغض او دښمني ختمه کړي او په نتیجه کې په ټولنه کې اخلاقي او معنوي مستوا لوړو پوړو ته ورسوي ، چې دغه دزکات له اساسي اهدافوڅخه دي،له همدې کبله زموږ سترلارښود محمدمصطفی دصدقې مفهوم چې یو مسلمان یې په ادا کولو مکلف کړی داسې بیان کړیدی.

((تَبَسُّمُکَ فِي وَجْهِ أَخِيکَ لَکَ صَدَقَةٌ وَأَمْرُکَ بِالْمَعْرُوفِ وَنَهْيُکَ عَنْ الْمُنْکَرِ صَدَقَةٌ وَإِرْشَادُکَ الرَّجُلَ فِي أَرْضِ الضَّلَالِ لَکَ صَدَقَةٌ وَبَصَرُکَ لِلرَّجُلِ الرَّدِيءِ الْبَصَرِ لَکَ صَدَقَةٌ وَإِمَاطَتُکَ الْحَجَرَ وَالشَّوْکَةَ وَالْعَظْمَ عَنْ الطَّرِيقِ لَکَ صَدَقَةٌ وَإِفْرَاغُکَ مِنْ دَلْوِکَ فِي دَلْوِ أَخِيکَ لَکَ صَدَقَةٌ))(۲۱۳،۲۶).

په ورین تندي دمسلمان ورور سره ستا مخامخ کېدل ستا لپاره صدقه ده ،په نیکیو امر او له بدیو منع کول ستالپاره صدقه ده ،لار ورکو ته لارښوونه ستا لپاره صدقه ده ،ړندو ته لارښودنه ،صدقه ده ،له لارې څخه دضرري شیانو لکه اغزي او هډوکي .... لرې کول ستا لپاره صدقه ده، له خپل لوښي نه دبل په لوښي کې یو څه اچول ستا لپاره صدقه ده.

## ۳- روژه او اخلاق:

(c) ketabton.com: The Digital Library



همداراز روژه ددې لپاره نه ده فرض شوې چې انسان له خوراک او څښاک څخه منع کړي، بلکې روژه په انسان باندې دصبر ، استقامت ، ثبات ، همدردئ دزړه سوې او له شهوت څخه دخلاصولو په خاطر فرض ګرځول شوېده ترڅو انسان له ګناهونو څخه ځان وساتي دالله (جل جلاله) په اطاعت ، سختیو ، کړاونو ، لوږې ، تندې باندې په صبر کولو وروزي له هوا پرستې ، نفس پرستې ، دروغو ، خیانت ، غیبت او هرډول بداخلاقیو څخه دځان ساتنې درس ورکړي ، رسول الله دې موضوع ته خپل امت داسې متوجه کوي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ قَالَ

قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ لَمْ يَدَعْ قَوْلَ الزُّورِ وَالْعَمَلَ بِهِ فَلَيْسَ لِلَّهِ حَاجَةٌ فِي أَنْ يَدَعَ طَعَامَهُ وَشَرَابَهُ)) (۲۰، ۴۷۲).

له ابوهریره (رضي الله تعالی عنه) څخه روایت دی چې رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم) فرمايلي دي:کوم روژه دار چې دروغ ویل او پرې عمل کول پرینږدي نو الله تعالی ددغه (روژه دار ) یوائې خوراک او څښاک پرېښودو ته اړتیا نه لري .

په بل حدیث کې په دې اړه رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم) داسې لارښوونه کوي:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ ، قَالَ : قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صلى الله عليه وسلم : لَيْسَ الصِّيَامُ مِنَ الأَكْلِ وَالشُّرْبِ إِنَّمَا الصِّيَامُ مِنَ اللَّغْوِ وَالرَّفَثِ ، فَإِنْ سَابَّكَ أَحَدٌ ، وَجَهِلَ عَلَيْكَ فَقُلْ : إِنِّي صَائِمٌ))(۳۰، ۴۷۲).

(c) ketabton.com: The Digital Library



روژه يوازې له خوراک او څښاک څخه له بندېدو عبارت نه ده ،بلکې په حقيقت کې روژه له بې هوده خبرو او بې حياکارونو څخه دځان ژغورنې عبارت ده ،نو که تاته څوک ښکنځلې وکړي او يا دجهالت په وجه پرتا کوم تجاوز وکړي نو ته ورته ووايه چې زه روژه يم.(دغچ اخېستو هڅه مه کوه )

## ۴- حج او اخلاق:

دحج په رابطه بايد داسې ګمان ونه شي چې دا ګويا دمقدسو ځايونو په لورې يو سفر دی او په عملي ژوندانه کې کومه فايده نه لري اونه داخلاقو په تزکيه کې کوم خاص رول لري ، دا ډول برداشت دحج په رابطه لويه خطا ده اود حج ددې عظيم الشانه فريضې سره هيڅ ډول توافق نه لري.

حج په حقيقت کې دزياتو ښو اخلاقو توليدوونکی دی په انسان کې بشپړ تغير راولي له منکراتو څخه انسان منعه کوي په دې اړه الله تعالی داسې فرمايي: الْحَجُّ أَشْهُرٌ مَعْلُومَاتٌ فَمَنْ فَرَضَ فِيهِنَّ الْحَجَّ فَلَا رَفَثَ وَلَا فُسُوقَ وَلَا جِدَالَ فِي الْحَجِّ وَمَا تَفْعَلُوا مِنْ خَيْرٍ يَعْلَمْهُ اللَّهُ وَتَزَوَّدُوا فَإِنَّ خَيْرَ الزَّادِ التَّقْوَى وَاتَّقُونِي يَاأُولِي الْأَلْبَابِ (البقرة197 )

دحج مياشتې ټولو ته څرګندې دي څوک چې په دې ټاکلو مياشتو کې دحج نيت وکړي هغه بايد په دې خبراوسې چې دحج په دوران کې له هغه څخه شهواني عمل څه ناوړه فعل څه جنګ جګړه صادره نه شي ، او تاسې چې څه نيک عمل کوي الله (جل جلاله) پرې پوهيږي دحج دسفر لپاره دلارې توښه درسره واخلې او تر هر څه ښه دلارې توښه پرهيزګاري ده ای هوښيارانو زما له نافرمانۍ څخه ډډه وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که پورتنیو ایاتونو او مبارکو احادیثو ته نظر وکړو نو په ډېر صراحت او وضاحت سره ترې دا درس اخېستل کېږي چې داسلام دغه اساسي ارکان کوم بې فایدې کارونه نه دي چې اسلام پرې انسانان مکلف دي بلکې په ضمن کې دداسې فایدو اثراتو ګټو درلودونکي دي چې نه یوازې داچې انسانانو ته یې دافرادو په لحاظ فایده رسیږي بلکې ټولنې ته دزیات شمېر ګټو درلودونکي دي.

ځکه دغه عبادات داخلاقي ارزښتونو سره ټینګه رابطه لري او اخلاق دانسان څخه هغه مطلوب عمل دي چې دژوند ټولې چارې ورپورې تړلي دي.(۴۲،۱-۴ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دلومړي فصل دمراجعو فهرست


۱-قرآنکريم
۲-ابن حبان: محمد بن حبان بن احمد ابو حاتم، کال ۱۹۰۲م، صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان،لومړی ټوک،طبعه: مؤسسة الرساله.
۳-ابن القيم : شمس الدين ابي عبدالله، کال: ۱۴۳۰ هـ - ۲۰۰۹ م، المجموع القيم من کلام ابن القيم ،لومړی ټوک، طبعه: دارطيب للنشر والتوزيع –الرياض- السعودية.
۴-ابن کثير: اسمعيل بن عمر، تفسير القرآن العظيم،څلورم ټوک، طبعه: دارالسلام - الرياض - السعوديه.
۵-ابن منظور: محمد بن مکرم، لسان العرب،لومړی ټوک،طبعه: داراحياء التراث العربي – بيروت –لبنان.
۶-الباني: محمد ناصرالدين بن نوح، صحيح الادب المفرد ،طبعه: دارالصدق.
۷-البيهقی : ابو بکر . السنن الکبری، کال ۱۴۲۲هـ ق ،دولسم ټوک. طبعه مکتبه الرشد للنشر والتوزيع- الرياض –السعوديه.
۸-الترمذي : محمد بن عيسی، جامع الترمذي،دويم ټوک طبعه: مکتبة حقانية پېښور- پاکستان.
۹-الدارمي: ابو محمدعبدالله بن عبدالرحمن، سنن الدارمي، دويم ټوک، طبعه: وزارة الاوقاف المصريه.
۱۰-زيدان:عبدالکريم، کال: ۱۹۷۵ م، اصول الدعوة،طبعه:مؤسسه الرساله.
۱۱-سمرقندي: ابو الليث نصربن محمدبن ابراهيم، بستان العارفين طبعه: مکتبة الکتاب والسنة.
۱۲-العبيد: عبدالرحمن بن عبدالکريم، کال: ۱۴۰۵ هـ- ۱۹۸۴م، اصول المنهج الاسلامي،طبعه: مطابع الفرزدق التجاريه –الرياض– السعوديه.
۱۳-الغزالي: محمد بن محمد بن احمد ، احياء علوم الدين،طبعه: دارالفکر- بيروت –لبنان.
۱۴-ملا علی قاري،مرقاة المفاتيح شرح مشکاة المصابيح،اتم ټوک طبعه: مکتبه رشيديه – بلوچستان –پاکستان.
۱۵-النووي: يحيی بن شرف، شرح الاربعين للنووي،طبعه: دارالکتاب العربي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۶-النيسابوري : مسلم بن حجاج ابوالحسين، كال: ۱۳۴۹هـ ش ،الجامع الصحيح،دويم ټوک طبعه:خيبر ګروپ اف کمپنيز پيښور، پاکستان.
۱۷-وجدي:محمد فريد ،دائرة معارف القرن العشرين،دريم ټوک طبعه: دارالفكر – بيروت – لبنان.
۱۸- البخاري ، محمد بن اسماعيل صحيح البخارى بن مغيره،۱ټوک ،طبعه بيروت دار بن كثير اليمامة
۱۹ - البخاري ، محمد بن اسماعيل صحيح البخارى بن مغيره،۵ټوک ،طبعه بيروت دار بن كثير اليمامة
۲۰- البخاري ، محمد بن اسماعيل صحيح البخارى بن مغيره،۲ټوک ،طبعه بيروت دار بن كثير اليمامة
۲۱- البخاري ، محمد بن اسماعيل صحيح البخارى بن مغيره،۷ټوک ،طبعه بيروت دار بن كثير اليمامة
۲۲- النيسابوري ، أبو الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري ، صحيح مسلم ،۱ټوک، دار الجيل بيروت
۲۳- النيسابوري ، أبو الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري ، صحيح مسلم ،۱۲ټوک، دار الجيل بيروت
۲۴- السجستاني ، سليمان بن الأشعث أبو داود الأزدي، سنن أبي داود ،۹ټوک ،طبعه،دار الفكر
۲۵- السجستاني ، سليمان بن الأشعث أبو داود الأزدي، سنن أبي داود ،۱۳ټوک ،طبعه،دار الفكر
۲۶- الترمذي : محمد بن عيسى، سنن الترمذي ،۷ ټوک ،طبعه،بيروت :داراحياء التراث العربي
۲۷- البيهقي،ابوبكر، سنن الكبرى ،۱۰ټوک ،مكتبة الرشدللنشر والتوزيع، الرياض السعودية
۲۸- الاصبحي، مالک بن انس بن مالک بن عامر المدني ،موطا الامام مالک،۵ټوک،مصر داراحياءالتراث العربي.
۲۹- النيسابوري محمد بن عبد الله ابو عبدالله الحاكم ،المستدرک على الصحيحين ،۱ج،بيروت دارالكتب العلمية

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰- النيسابوري ، أبو عبد الله الحاكم محمد بن عبد الله بن محمد بن حمدويه بن نُعيم بن الحكم ،المستدرک علی الصحيحين ،۲ټوک، دار الكتب العلمية - بيروت
۳۱- الطبراني ،ابوالقاسم سليمان بن احمد بن ايوب ،المعجم الكبير،۱ټوک ،طبعه القاهرة دارالحرمين.
۳۲- الطبراني ،ابوالقاسم سليمان بن احمد بن ايوب ،المعجم الكبير،۳ټوک طبعه القاهرة دارالحرمين.
۳۳- الطبراني ،ابوالقاسم سليمان بن احمد بن ايوب ،المعجم الكبير،۷ټوک طبعه القاهرة دارالحرمين.
۳۴- الشيباني، ابو عبدالله احمد بن محمد بن حنبل ،مسنداحمدبن حنبل ،۱۲ ټوک ،طبعه بيروت
۳۵- الشيباني، ابو عبدالله احمد بن محمد بن حنبل ،مسنداحمدبن حنبل ،۱۸ ټوک ،طبعه بيروت
۳۶- الشيباني، ابو عبدالله احمد بن محمد بن حنبل ،مسنداحمدبن حنبل ،۱۹ ټوک ،طبعه بيروت
۳۷- الشيباني، ابو عبدالله احمد بن محمد بن حنبل ،مسنداحمدبن حنبل ،۳۹ ټوک ،طبعه بيروت
۳۸- ابن حبان: محمد بن حبان بن احمد ابو حاتم، كال ۱۹۰۲م ،صحيح ابن حبان بترتيب ابن بلبان،۴ ټوک ،طبعه: مؤسسة الرساله.
۳۹- القادري، علاء الدين علي بن حسام الدين ابن قاضي خان، كنز العمال في سنن الأقوال والأفعال،۱ټوک طبعه: مؤسسة الرسالة
۴۰- القادري، علاء الدين علي بن حسام الدين ابن قاضي خان، كنز العمال في سنن الأقوال والأفعال،۲ټوک طبعه: مؤسسة الرسالة
۴۱- زيدان ،دکتور عبد الكريم ، اصول الدعوة، چاپ مؤسسة الرسالة.
۴۲- الغزالی،محمد ، خلق المسلم ،دارنهضة مصر
۴۳- الجليل، دکتورمحمد السيد ،خصائص الاخلاق فی الاسلام،رؤيةمقارنة مع الفلسفات الوضعية.
۴۴- الأصفهانی: الراغب،المفردات فی غريب القرآن ، طبعه، المكتبة التوفيقية بيروت

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دوهم فصل

## داسلامي معتقداتو په وړاندې آداب او اخلاق

۱- دالله تعالی په وړاندې آداب او اخلاق
۲- دقرانکريم په وړاندې اداب او اخلاق
۳- دمحمد رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) په وړاندې اداب او اخلاق
۴- صحابه کرامو په وړاندې اداب او اخلاق
۵- دعلماء کرامو په وړاندې آداب او اخلاق
۶- داستاذانو په وړاندې اداب او اخلاق

### ۱- داسلامی معتقداتو په وړاندې آداب او اخلاق:

(c) ketabton.com: The Digital Library



په تېرفصل کې موداسلام په دین کې داخلاقوله ارزښت ، حکمتونواو ځانګړتیاؤ څخه په تفصیل سره یادونه وکړه په دې فصل کې به داسلامي معتقداتو ،( الله تعالی ، قرانکریم، محمدرسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) ،صحابه کرامو ، علماؤاو په اخر کې داستاذانو په وړاندې ادابواو اخلاقو څخه بحث کېږي.

## ۱- الله تعالی په وړاندې آداب او اخلاق:

د الله تعالی سره ځینې مهم آداب او اخلاق په لاندې ډول بیانوو:

### ۱- د الله تعالی پرنعمتونو شکر کول:

الله تعا لی انسان ته د خپلو ورکړل شوو نعمتونو په هکله داسې فرمایلي دي(❐◆✋♦✍ ☠↗▤✌✉ ♊✌♓✋ ☼❑✌➔✍☺⍓❐■🖮 ▫•☺✌♊⌘ ✂✍✎★ )(۱: د النحل سورت، آیت ۵۳ ).

تاسی سره چې هر نعمت دی هغه الله تعالی در کړې دی.

او بل ځای فرمایي:❐◆☽✌♌ ✍•➔↖⑨⑥❑✂☎ ☼✌➔⍓☺⍓❁☼ ✂✍✎★ •• ✋↑♦⍓⌚⍝❑♎⍓✍✎ ...
⍓✍⊠✋ ) (۱: د ابراهیم سورت، آیت ۳۴ ). که چېرې د الله تعالی نعمتونه وشمېرئ نو شمېرلې به یې نشئ.

کله چې یو انسان د الله تعالی بې شمېره نعمتونو ته ځیر شي چې څومره پېرزوینې یې پرې کړې دي ، نو د سالم عقل غوښتنه داده چې په خوله او عمل د الله تعالی شکر اداء کړي ځکه څوک چې د نعمت ورکونکي د نعمتونو مننه او قدرداني نه کوي یقیناً دا انسان د ادب او اخلاقو څخه بې برخې دی.

### ۲- الله تعا لی څخه حیاء کول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعالی فرمايي (❒◆✁✍✦ ③◆➔⇗◪■⚐❶ ✌♦✍
✍➔❍⇘❷❾❒♏♒ ❒◆✌♦✍ ✍➔➔⇗◪✍☾↖❒♏♒ )(۱:د
النحل سورت۱۹).

الله تعالی پوهېږي په هر هغه څه چې تاسې يې پټوئ يا يې ښکاره کوئ.

هر مسلمان بايددا عقيده او باور ولري چې الله تعالی په هر حالت کې هغه ګوري او د هغه د ټولو ښکاره او پټو کارونو څخه خبر لري نو کله چې ګناه مخې ته ورځې بايد د الله تعا لی څخه حياء وکړي او د ګناه مرتکب نشي ځکه سالم عقل دا تقاِ ضا کوي چې بايد غلام د خپل بادار مخکې هغه کار ونکړي چې بادار يې دنهَ کولو امر کړی دی او د هغه کار په سرته رسولو خفه کېږي.

## ۳-دژوند په ټولو چارو کې الله تعالی ته پناوړل:

الله تعالی په قرآنکريم کې د خپل پيغمبر خبره چې امت ته يې کړې په دې الفاظو سره ذکر کړي:

(▫♦⊞✍❷❾❒⊞✁☎ ◑✍🖫■❼ ✁✍✒★ ☎ ◑✍❄❒✍❼
⍝♦≣➚✉ ✌♓✍☾⇗❍🡐 ☼♦⓿✍③❷⌧ ✌❿⌨✍✓✗⊲ ) (۱:
الذاريات سورت،آيت۵۰).

ژباړه: تاسې الله تعا لی طرف ته مخه کړئ زه تاسې ته د الله تعالی له طرفه ښکاره ويرونکی يم.

هر مسلمان بايد دا عقيده و لري چې د الله تعالی عذابونو څخه د تېښتې بله لاره نشته يوائنیې لاره داده چې د الله تعالی دين ته پناه يوړل شي او خپلې ټولې چارې دهغه په قانون فېصله کړي ،ځکه دا کمال بې ادبي ده چې څوک د هغه چا څخه تښتي چې ور څخه تښتيدلی نشي.

## ۴- د الله تعا لـی له عذاب څخه وېرېدل:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله تعا لی فرمايلي دي: (❑◆✂✎✏✦ ⬉♦⑩✍③⑧⌧ ❶ ➔❑
✂✍☼☛⚘◐♦✍✂✈✌ ) (۱:ال عمران سورت،آيت ۴).

ژباړه: الله تعالی زورور او انتقام اخستلو څښتن دی.

د هر مسلمان باید دا عقیده وي چې الله تعالی د خپل بنده سره دذرې ذرې حساب کوي او د الله تعالی نیونه او انتقام ډېر سخت دی نو له دې وېرې د الله تعالی اطاعت ته مخه کوي او د معصیت څخه یې ځان ساتي ځکه دا ادب نه دی چې یو څوک د یوه قوي او قادر او انتقام اخستونکی ذات مخامخ د هغه له اوامرو څخه سرغړونه کوي.

۵- له ټولو هغو چارو څخه به مؤمن ځان ساتي چې دالله تعالی دشان په وړاندې ټوکې او مسخرې ګڼل کېږي، په هغو مجالسو کې به نه کیني چې په کې دالله تعالی دشان او دین سپکاوی کېږي.

۶- دالله تعالی نوم باید په احترام واخستل شي ،بیا بیا سوګند پرې یاد نه شي،په هر ځاي کې ونه لیکل شي ، دزینتي شیانو لپاره لکه ګلوبند ،کیلي بند ،وغېره لپاره استعمال نه شي.

۷- دالله تعالی په دین باندې له ټوکو اومسخرو څخه باید مسلمان ځان وساتي ځکه دالله تعالی په نوم ، دین اوعباداتو باندې ټوکې او مسخرې کول ډېر ځل دانسان دکافر کېدو باعث کېږي.

## ۲- د قرآنکریم په وړاندې آداب او اخلاق:

د قرآنکریم سره ځېنې آداب او اخلاق په لاندې ډول ذکر کوو:

### ۱- پر قرانکریم ایمان او پر لارښوونو یې عمل کول:

د قرآنکریم سره ستر ادب دادی چې هر مسلمان په دې بشپړ باور ولري چې د هر انسان لپاره د دنیا او آخرت د ټولو بدمرغیو څخه د خلاصون او د دنیا او آخرت د ټولو نیکمرغیو د حاصلولو یوائنۍ لاره په قرآنکریم باندې عمل کول

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي په دی اړه الله تعالی داسې فرمايي: کړې:(🖹⮫✌♦🕓🖬⬉
🕮❐☼❽♦🕮⍼☆❐🕓❍🡐 ♋♎•⓿⬂🖮⮹
ꝏ⮌✌🡐②⬃❷⌧●⮹ ✂🕮☪❐✂🕮“ ♉♊⮮♎
✂🕮ꝏ🡒🖬☺⮹🕓✱💣ꝏ ♎♋🖫■❼ ✂🕮☆☹❐❻✂...
⮸⮳⮴ ) (١:ابراهيم سورت، آيت١).

ای رسوله ! ما تا باندې قرانکريم ددی په خاطر نازل کړی دی چې خلک د تيارو څخه رڼا ته و باسې.

## ۲-قرانکريم په اودا سه مسحه کول:

د قرآن لاس کې اخستلو په وخت مسلمان بايد اودس ولري ځکه چې الله تعالی فرمايي:(♦• ③♦☺⌧○❹○🡐🕛🗊 ♎♋•♦

✂🕮⍼☺🡐⮊•♑●❷⬉❐♌♦ ⮴⮳⮵⮸ )(١:د الواقعه سورت، آيت ٧٩).

قران دی لاس کې نه اخلي مګر اودس لرونکي خلک.

## ۳-دثواب په نيت دقرانکريم تلاوت:

مسلمان بايد قرآن د ثواب په خاطر تلاوت کړي ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايلي دي: ((**مَنْ قَرَأَ حَرْفًا مِنْ كِتَابِ اللَّهِ فَلَهُ بِهِ حَسَنَةٌ وَالْحَسَنَةُ بِعَشْرِ أَمْثَالِهَا لَا أَقُولُ الم حَرْفٌ وَلَكِنْ أَلِفٌ حَرْفٌ وَلَامٌ حَرْفٌ وَمِيمٌ حَرْفٌ**))(**۵:۱۱۹**).

ژباړه: څوک چې د قرانکريم يو حرف تلاوت کړي هغه يوه نيکي وګټله او هره نېکي په اخرت کې لس چنده اجر لري زه دا نه وايم چې (الم) يو حرف دی بلکې الف يو حرف دی لام بل حرف دی او ميم بل حرف دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۴- قرآني تعلیمات خپرول:

د قرآن سره دمهمو ادابو له جملې څخه یو ادب دادی چې هر مسلمان د قرآنی تعلیماتو په نشرولو کې برخه ولري په دی هکله الله تعالی داسې مهربانی کړې ده ([illegible]) (۱: المائده سورت، آیت ۶۷).

ای رسوله ! کوم احکام چې تاته ستا د رب لخوا نازل شوي دي نورو خلکو ته یې ورسوه که چېرې تا دا کار و نکړ نو د الله تعالی لخوا درسپارل شوې دنده د نه ده تر سره کړې.

## ۵- د قرانکریم په ایتونو کې سوچ او فکر کول

د قرآن سره د ادابو له جملې څخه یو ادب دادی چې هر مسلمان په قرآنکریم کې فکر او تدبر وکړي او عبرت ورڅخه واخلي په دی هکله الله تعالی مهرباني کړې ([illegible]) (۱: د ص سورت ۲۹ ایت).

دغه قران مې نازل کړی تاته برکتناک دی د پاره ددی چې خلک فکر وکړي په ایتونو دده کښې او پند واخلی پری خاوندان د عقلونو.

د الله تعالی د پورتني قول پر اساس نامتو صحابي ابن مسعود رضی الله عنه قرانکریم په اړه د صحابو کرامو طریقه داسې بیان کړی: کله به چې مونږ لس آیتونه تلاوت کړل تر هغه پورې به مو نور تلاوت نه کولو تر څو چې د تلاوت

(c) ketabton.com: The Digital Library



شوو ایتونو په مفهوم او معنی به ښه پوه شوي نه ؤ، په دریم قدم کښې به مو پری عمل کاوه(۸:۱۹۷).

همدا وجه ده چې د دریو ورځو څخه په کمه موده کښې د قرآنکریم ختمول غوره کار نه دی.

پدی هکله رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې مهرباني کړې:

((مَنْ قَرَأَ الْقُرْآنَ فِي أَقَلّ مِنْ ثَلَاث لَمْ يَفْقَهْهُ) )(۵:۱۲۳).

څوک چې قرانکریم د درې ورځو څخه په کم وخت کښې ختم کړی د قرانکریم په مفهوم نه پوهیږي.

نبي صلی الله علیه و سلم عبد الله بن عمر رض ته امر کړی چې قرآنکریم باید اوو ورځو کښې ختم کړي،د عبد الله بن مسعود ،عثمان بن عفان او زید بن ثابت رضی الله عنه څخه روایت شوی چې هغوي قرآنکریم په اوو ورځو کښې ختموه.(متفق علیه)

۶- قرآن باید په ترتیل او تجوید سره قرائت شي او په لوستلو کښې یې بیړه و نه شي ځکه چې الله تعالی فرمایي:

(❒◆❻◆✍❒✍⬀ ✁✍✍◐➔➋⬀⬈◆✁♌◆

✍♦➋⬀✍✍⓿☒⏲ ⬀✍✍ )(۱:د المزمل سورت ، آیت۴).

ژباړه: او واضح لوله قرآنکریم په واضح لوستلو سره.

۷- د قرآن تلاوت وخت کښې باید تلاوت کوونکی الله تعالی ته ډېره عاجزي وکړي او د الله تعالی څخه ډیر و ویریږي همدا لامل دی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي: ((إِنّ هَذَا الْقُرْآنَ نَزَلَ بِحُزْنٍ فَإِذَا قَرَأْتُمُوهُ فَابْكُوا فَإِنْ لَمْ تَبْكُوا فَتَبَاكَوْا وَتَغَنّوْا بِهِ فَمَنْ لَمْ يَتَغَنّ بِهِ فَلَيْسَ مِنّا ) ) (۹:۴۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library



داقران په غمجن حالت کې رانازل شوی دی کله چې لولې نو ژاړئ که چېرې نه ژاړئ نو ځان ژړغونې کړئ،او دقران په تلاوت کې خوش اوازي کوئ،ځوک چې په ښکلي اواز قران نه لولي زموږ څخه نه دی.

## ۸- په ښکلي اواز دقرانکريم تلاوت:

رسول الله صلی الله علیه و سلم په دې اړه فرمايلي دي: ((زَيِّنُوا الْقُرْآنَ بِأَصْوَاتِكُمْ )(۹:۴۳).

قران په خپلو اوازونو سره ښايسته کړئ.

## ۹- دتلاوت پرمهال دنورو مزاحمت نه کول:

که چېرې دقرآن په لوړ اواز تلاوت سره ريا شهرت يا د بل چا مزاحمت کېده ښه داده چې تلاوت ټيټ آواز سره وشي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم مهرباني کړې:(( الْجَاهِرُ بِالْقُرْآنِ كَالْجَاهِرِ بِالصَّدَقَةِ وَالْمُسِرُّ بِالْقُرْآنِ كَالْمُسِرِّ بِالصَّدَقَةِ) (۷۸:۳).

په لوړ اواز تلاوت کول داسې دی لکه چې ځوک زکات ښکاره ورکوي، اوکه ځوک يې پټ تلاوت کوي لکه پټه صدقه چې ورکوي ، (که چېرې په ښکاره زکات ورکولو کښې د ريا او تظاهر ويره نه وي د خلکو زکات ورکولو ته د هڅونې په خاطر ښکاره زکات ورکول جواز لري).

۱۰- تلاوت کوونکی بايد د تلاوت وخت کښې قبلې ته مخامخ په ډېر وقار او ادب کښېني) (۲:۱۰۹).

۱۱- قرانکريم بايد په پاک اومحفوظ ځاي کې کېښودل شي.

۱۲- دقرانکريم له ادابو داهم ده چې په پاکه ټوټه کې وپوښل شي ،ترڅو له ګردونواو نورو ناوړه شيانو له لګېدو محفوظ پاتې شي ، نن سبا په مساجدو کې ګورو چې په هره المارئ کې قران ټوټه ټوټه پروت وي او کوچنيان يې په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېره بې احترامۍ په لاسونو کې اړوي رااړوي، دقرانکريم داستاذانو مسئوليت دی چې خپلو زده کوونکو ته دقرانکريم دحفاظت لارې چارې روښانه کړي.

## ۳- دمحمد (صلی الله عليه واله وسلم) په وړاندې اخلاق او اداب:

په ټولو پيغمبرانو ايمان درلودل اوهغوي ته احترام کول دايمان له غوښتنو څخه شمېرل کېږي

د انبياؤ په وسيله الله تعالی انسانانو ته هدايت کړې دی د هغوي په ذريعه يې د تيارو څخه رڼا ګانو ته ويستي دي او د هغوي پوسيله يې د دنيا او آخرت د نيکمرغيو دروازی انسانانو ته پرانستي دي ، دپيغمبرامو په لړۍ کې زموږ ستر لارښود محمد رسول الله صلی الله عليه و سلم ترټولو اخري پيغمبر دی چې دالله تعالی له لوري دانسانانو دلارښوونې لپاره رالېږل شوی دی، دهغه له دين او شريعت پرته انسانان هيڅ ارزښت او قيمت نلري همدا وجه ده چې الله تعالی په انسانانو ددی ستر احسان يادونه په قرآنکريم کې په دی الفاظو سره کړې

(⇕⑨♦☽♦♑◉ ♉♦♊● ✂♎♐✎✦ ⇖♦✍■❼
✂♎♐◉♑⇘☺←♦⬂♉♊☪♊✓×♦ ☽♍❶⇘ ✉♦➔⊠☸⊠
▫♊❸♏♋☠⬀ ❻♦♌←❑♦☪ ♉♓♊♊⇕
🕮❑☼▦➔○⬁♑♍*● ⇕ ③♦✌⬂◘❑➔❑✂☎
⇘♦◘■❸⬀♏♋☠⬀ ⇗♦✂③♦⌚✌♊○♊⌚
❑♦③⇖❽♦▤♏⬁❸♏♋☠⬀
✂♎♐◉♑⇘▤⬁✌♦⌚◘❁ ❑♦③⇖➔⊠◘♏♊☺←♑←☠⇖
❑♦✂♎♐▭⇘♦♊⌛⇩☺⊠❑◘♦ ☽♍♌♌ ✍⊠⊠☼←❑✂☎
♉♊♊ ♎♦⌛⬀✍⇖ ◉♑♦✂⬁❼ ➬❁◘■⌚✍◉♑ ♉❿⌨♍✓×✌
⬂♊♋➬⬅ ) (۱:د آل عمران سورت ، ۱۲۴ آيت ).

بيشکه چې الله تعالی پر مؤمنانو احسان کړې دی چې د دوی له جنسه يې دوی لپاره پيغمبر راليږلې دی چې دوی ته د الله تعالی آيتونه لولي دوی له بديو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثخه پاک کوي او ورښی دوی ته قران او شرعي احکام بیشکه چې ؤ دوی له دی نه وړاندې په ګمراهۍ ښکاره کې.

په دې اساس د نبی صلی الله علیه و سلم سره باید د هغه امت ځانګړی آداب او اخلاق مراعات کړی چې ځینې یې په لاندې ډول ذکر کوو (۲:۱۰-۱۵).

## ۱- محمد صلی الله علیه و سلم د پیغمبر په توګه منل:

د محمد صلی الله علیه و سلم سره د مهمو آدابو او اخلاقو له جملې ثخه یو دا دی چې هر انسان د هغه په پیغمبری ایمان ولري، ثوک چې ټولو پیغمبرانو باندې ایمان لري خو محمد صلی الله علیه و سلم د پیغمبر په توګه نه مني دا سړی کافر دی دی موضوع ته په قرآنکریم کې داسې اشاره شوی:

( ... )(۱:د الحجرات سورت،۱۵آیت).

بیشکه چې مؤمنان هغه کسان دي چې الله تعالی باندې ایمان لري او محمد صلی الله علیه و سلم باندې ایمان لري.

او په دې اړه رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) داسې فرمايي:(( وَالّذي نَفْسُ مُحَمّد بِيَدِه لَا يَسْمَعُ بِي أَحَدٌ مِنْ هَذِه الْأُمّة يَهُودِيٌّ أَوْ نَصْرَانِيٌّ ثُمّ يَمُوتُ وَلَا يُؤْمِنُ بِالّذِي أُرْسِلْتُ بِهِ إِلّا كَانَ مِنْ أَصْحَابِ النّارِ ) ) (۱۱:۴۸).

قسم د زما په هغه الله تعالی وي چې زما ساه د هغه لاس کې ده چې د دی امت هر تن چې زما نوم اوریدلې وي یهودي وي او که نصراني ما باندې ایمان را نه وړي او مړ شي دا سړی دوزخي دی.

۲- په محمدي شریعت خپلې پریکړې کول:

ګڼ شمېر شرعي نصوص د مسلمانانو څخه په ډېر ټېنګار غوښتنه کوي چې باید خپلې ټولې ستونزې په اسلامي شریعت حل او فصل کړي الله تعالی فرمايي : ([illegible]) (۱:د النساء سورت ،آیت ۶۵).

پس قسم دی په رب ستا چې خلک تر هغه پورې مؤمنان کیدای نشي تر څو د دوی ترمنځ پیښنو شوو شخړو کې تا فیصله کوونکې و نه ټاکي بیا د زړه له کومې ستا په پریکړو راضي نشي او ستا پریکړو ته په تمامه معنا غاړه کښېنږدي.

۳-د رسول الله (صلی الله علیه و سلم) سره مینه او محبت درلودل:

مسلمان باید نبی صلی الله علیه و سلم سره له هر چا زیاته مینه ولري په دی اړه محمد صلی الله علیه و سلم داسې فرمايي : (( لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتَّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْهِ مِنْ وَالِدِهِ وَوَلَدِهِ وَالنَّاسِ أَجْمَعِينَ ))(۱۸،۲۴ ).

ستاسې يو تن تر هغه پورې پوره مؤمن کیدلای نشي تر څو زه ورته د خپل ځوی، پلار او د ټولو خلکو ډېر زیات ګران نه شم.

په دې اساس هر مسلمان ته باید له الله تعالی پرته محمد صلی الله علیه و سلم له هر چا ډیر محبوب وي آن تر دی چې باید هر مسلمان د خپل ځان څخه زیات د محمد صلی الله علیه و سلم سره مینه ولري لکه چې په حدیث شریف کې راغلی دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عن عَبْدَ اللهِ بْنَ هِشَامٍ قَالَ كُنّا مَعَ النّبِيِّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ وَهُوَ آخِذٌ بِيَدِ عُمَرَ بْنِ الْخَطّابِ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ يَا رَسُولَ اللهِ لَأَنْتَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ كُلِّ شَيْءٍ إِلّا مِنْ نَفْسِي فَقَالَ النّبِيُّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ لَا وَالّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ حَتّى أَكُونَ أَحَبَّ إِلَيْكَ مِنْ نَفْسِكَ فَقَالَ لَهُ عُمَرُ فَإِنّهُ الْآنَ وَاللّهِ لَأَنْتَ أَحَبُّ إِلَيَّ مِنْ نَفْسِي فَقَالَ النّبِيُّ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ الْآنَ يَا عُمَرُ)(۴،۳۱۴).

عبدالله بن هشام (رضي الله تعالی عنه) روایت کوي چې موږ رسول الله (صَلّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) سره یو ځاي وو هغه دعمر (رضي الله تعالی عنه) لاس نیولی ؤ، عمر رضی الله عنه رسول الله صلی الله علیه و سلم ته عرض وکړ چې ای د الله تعالی رسوله ! له خپل ځان پرته له هر شي څخه ماته ډیر ګران یې نو رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته و فرمایل: نه داسې نه ده قسم په هغه الله تعالی چې زما ساه د هغه لاس کې ده تر هغه پورې ته مؤمن کیدای نشې ترڅو چې خپل ځان څخه هم درته ګران شم ، دغه وخت کې حضرت عمر رضی الله عنه بیا عرض وکړه چې ای د الله تعالی رسوله ! اوس ماته د خپل ځان څخه هم زیات ګران شوی نو رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته وفرمایل: (اوس ته مؤمن یې ای عمره !۳۵:۴).

د صفوان بن سلیم رحمة الله علیه مجلس کې به چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم یادونه وشوه ، تر هغه به یې ژړل چې خلک به ورڅخه پاڅېدل او دا به له ژړا کولو ستړې شو(۱۳:۱۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۴- د رسول الله صلی الله علیه و سلم له شخصیت او شریعت څخه هراړخیزه معقوله دفاع کول:**

د نبی کریم صلی الله علیه و سلم سره د مهمو آدابو او اخلاقو له جملې څخه د محمد صلی الله علیه و سلم د شخصیت او شریعت څخه دفاع کول دي چې البته د رسول الله صلی الله علیه و سلم په ژوند کې د هغه صحابو کرامو خپل ځانونه د رسول الله صلی الله علیه و سلم له شخصیت او شریعت څخه د دفاع لپاره په تمامه معنا نذرانه کړل چې د قربانیو له بیلګو څخه یې په زرګونو کتابونه لیکل کیږي ، په وروستیو وختونو کې د اسلام دښمنانو ډېرې زیاتې هلې ځلې په کار اچولي چې د محمد صلی الله علیه و سلم شخصیت په اړه ستری بدګمانۍ رامنځته کړي چې ښه بیلګه یې څه وخت وړاندې د غربي نړۍ اهمو مطبوعاتو کې د اسلام د ستر پیغمبر کاریکاتورونو خپریدل دي چې په دولسو بدو نومونو یې نومولې دی ، له دی برسیره د حدودو ، حجاب، د نارینوو او ښځو د حقوقو او نورو شرعی مسائلو په اړه چې کفري نړۍ کې په اسلامي شریعت کومې بی شرمانه ملنډې وهل کیږي ورسره هراړخیزه معقوله مقابله کول د هر مسلمان اهمه وجیبه ګڼل کیږي.

**۵- د رسول الله صلی الله علیه و سلم دعوت خپرولو کې مهمه ونډه ولري:**

د نبی صلی الله علیه و سلم سره بل مهم ادب دهغه د دعوت نشرولو کې برخه اخستل دي ځکه چې الله تعالی په قرآنکریم کې محمد صلی الله علیه و سلم ته داسې مهرباني کړی:- (🔔➔✍⇗ ♎☐🕔⓿☜■✎🕒 ☾🙊🖫■❼ 📖☐⓾⬃⬉⬉☐☑✂☎ ☒⌛🙊⓾✍✎❼☑ ✂☙☙✎★ 🗐⬉♦✍■❼ 🗐 ☞♦🕑⬗❷❸♦☐☢ 📖☐☼♦☙⚐ … ☐♦✌♦♊✂☙☙✍☐⌛♦➔☒♉✎✎ ⬀⭛☜⬂⬅ ) (د:۱ یوسف سورت، ۱۰۸آیت).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: ته ووايه چې دا زما لاره ده چې زه او زما لاروی د پوهې سره خلک د الله تعالی دین ته رابولو.

۶- د رسول الله صلی الله علیه و سلم دنوم په اورېدو پر هغه درود ويل:

الله تعالی مسلمانانو ته امر کړی دی چې کله د محمد صلی الله علیه و سلم يادښت کېږي تاسې ورباندی درود ووايې په دی اړه يې داسې فرمايلي دي:-

⌚🡐❍⧫✌☒⌛✎◈✸🕒■🖬⧫✍◆❒ ⅄✎♐✁ ❑♌⧅☽)

🗐 ➭♍✎✐🖫❑☪✎♐✁ ❼■✍⧫⬉ ⧫♌❑☛🖬✽🕒⬉③

♌▫⇦♋🔔⅄✎♐✁ ♐❑&♌⑨❑🕯✸🕒⧫③

♋❍⬂⓿■🖬⧫⬉ ☎✁❑☛🖬✽🕒 ☎✁❑⬉☪⧫✍✁◆⬈

⭼♎♋➮ ♐🕑☺⑩♎🖬⬄❍■✍ ☎✁❑🡐☺♋&🖬⌂♌◆❑

) (۱:د الاحزاب سورت، آيت۵۶ ).

بیشکه چې الله تعالی او ملائکې رسول الله صلی الله علیه و سلم باندې درود او سلام وايې نو ای مسلمانانو ! تاسې هم په نبی صلی الله علیه و سلم باندې درود او سلام ووايې.

۷- د رسول الله صلی الله علیه و سلم دوستانو سره دوستي او دښمنانو سره يې دښمني کول:

د نبی صلی الله علیه و سلم سره د مهمو آدابو او اخلاقوله جملې څخه يو دادی چې هر مسلمان بايد د رسول الله صلی الله علیه و سلم د دوستانو سره دوستي وکړي او د هغه له دښمنانو سره دښمني وکړي ،پدی اړه ګڼ د لائل موجود دي چې د ببلګې په توګه راتلونکي قرآني آيت ذکر کوم (⬥✍❑♑⮋⑨🡐

★✎♐♐♎✉ ♌♍❑⬉☪♋✍⬃⬥⬉③ ♐✡✍⬀❑⬥🔔

⌘❷⮋⌘☞⌂♐✁ ♋✈⬀❑◆⓿⬂✎♐✁◆❑

⅄✎♐✁ ❑⑩✎♐⌂❍ ⇳♊⧫✍ ♌♍❑♋⑩✎✁◆❑⬉③

☎✁☑❑🡐☼🔔•🗎 ⬀❑⬥✎◆❑ ⌚⬉🕮⬥✎❑🡐♋◆❻◆❑

⬃❑❑🕮 ⬀☠➔♎◆⬈✎♐⧫✉✁◆⬈

⬃❑❑🕮 ⬀☠➔♎◆⬈✎♐❑✡⬀✉❑🕮

⬃❑❑🕮 ⬄⚐🡐♑⧫☼🕒◆❑⬃⌘♎☽

(c) ketabton.com: The Digital Library



⬉♦⌖♋❷❸◆☜⬧♓&⬋☠⬀ 🗐.... ⬀♋♋⬅ ) (۱: د المجادله سورت، آیت ۲۲ ).

او نه به مومې داسې قوم چې په الله تعالی او د اخرت په ورځ ایمان ولري بیا دوی دوستي وکړي د هغه چا سره چې د الله تعالی او د هغه د رسول سره دښمني کوي اګر که د الله تعالی او دهغه د رسول سره دښمني کوونکې د دوی پلرونه یا زامن وي یا ورونه یا نور خپلوان وي.

۸- د ژوند په ټولو برخو کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم پیروي کول:

په رسول الله صلی الله علیه و سلم باندې واقعي ایمان لرل او دهغه سره حقیقي محبت لرل د ژوند په ټول برخو کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم پیروی کې برسیره کیږي ځوک چې دا دعوی کوي چې محمد صلی الله علیه و سلم د الله تعالی استازې دی او د هغه سره مینه او محبت خپله دیني وجیبه ګڼي بیا د نبی صلی الله علیه و سلم اوامرو باندې عمل نه کوي او د نواهیو څخه یې ځان نه ساتي دا سړی په خپلې ذکر شوی دعوی کې رښتونې نه ښکاري ځکه چې په ګڼو قرآني آیتونو کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د پیروی له مخالفت څخه مسلمانان منع کړل شوی دي چې د هغوی له جملې څخه راتلونکې قرآني آیتونه د بیلګې په توګه ذکر کوو:

♦✗⇦♋♎⅄✐♎✁ ⬀❻☒⓿⬄⬧◆⑩▫◘⬧▫...)

▤⌚⬀■⬀❺⬀✌❒🕮 ⇧♊♦⬉ ♦♌❑➔▤♋♑♏⬧③⬈⑥
⬃❑❑🕮 ⬊❑◆☪⬃☞♋▫ ⬀☠⬋&⌘🖳⑩⬁⌚➔✍ ♌❑🕮
⬋⚐⑩♋♑❑🕮 ⬉☸✁☒⓿♦⬉ ⬀☠⬋&⌘🖳❹⬁⌚⬉③
⬀♋⬅ ) (۱: دالنور سورت، آیت ۶۳ ).

او و دې ویریږي هغه کسان چې د رسول الله د حکم مخالفت کوي چې دنیا کې به ورته افت ورسیږي یا اخرت کې په دردوونکې عذاب باندې اخته شي

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹- هغو کړنو، وېناؤ، اعمالو او مجالسو څخه باید ځانونه وژغورو چې رسول الله (صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) ته په کې ضرر رسیږي دهغه بې احترامي او سپکاوی پکې کېږي.

## ۴-صحابه کرامو په وړاندې اداب او اخلاق

د دین د خپرولو په لاره کې د رسول الله د صحابو کرامو د هلو ځلو او قربانیو په نتیجه کې الله تعالی دین په ټولې نړۍ کې خپور کړ، کچېرې صحابو کرامو د اسلامي شریعت په نشرولو کې غفلت او تنبلي کړې وای او په دی لاره کې یې تکلیفونه نه وه ګاللي نن به مسلمانان د اسلامي شریعت له لوی نعمت څخه بې برخې وو او د کفر او جهالت په تورو تیارو کې به شپه او ورځ سرګردانه او لا لهانده ګرځېدل نو دا چې صحابه کرام الله تعالی د نورو مسلمانانو لپاره د هدایت وسیله ګرځولي باید هر مسلمان صحابو کرامو سره لاندیني آداب او اخلاق مراعات کړي:

۱-هر مسلمان باید د ټو لو صحابو کرامو سره مینه او محبت ولري او کوم اختلافات چې د صحابو کرامو تر مینځ پیښ شوي دي د هغو په هکله باید سکوت وکړي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي

((اللّٰهَ اللّٰهَ فِي أَصْحَابِي اللّٰهَ اللّٰهَ فِي أَصْحَابِي لَا تَتَّخِذُوهُمْ غَرَضًا بَعْدِي فَمَنْ أَحَبَّهُمْ فَبِحُبِّي أَحَبَّهُمْ وَمَنْ أَبْغَضَهُمْ فَبِبُغْضِي أَبْغَضَهُمْ وَمَنْ آذَاهُمْ فَقَدْ آذَانِي وَمَنْ آذَانِي فَقَدْ آذَى اللّٰهَ وَمَنْ آذَى اللّٰهَ يُوشِكُ أَنْ يَأْخُذَهُ)). (۲۲۵:۵

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما د صحابو په هکله د الله تعالی څخه وویرېږئ د الله تعالی څخه وویرېږی زما څخه وروسته دوې د خپلو بدو خبرو هدف مه ګرځوئ څوک چې زما صحابه کرامو سره محبت لري دا په حقیقت کې زما سره محبت لري ځکه زما صحابو سره محبت لري او څوک چې زما صحابه کرامو سره بغض لري دا په حقیقت کې زما سره بغض لري ځکه زما صحابو سره بغض لري څوک چې زما صحابو ته تکلیف رسوي په حقیقت کښې هغه ما ته تکلیف رسوي او څوک چې ما ته تکلیف رسوي په حقیقت کې هغه الله تعالی ته تکلیف رسوي او څوک چې الله تعالی ته تکلیف رسوي دا یقیني ده چې الله تعالی به دا سې سړی نیسي.

۲- هر مسلمان باید دا عقیده ولري چې صحابه کرام د نورو مسلمانانو نه غوره دي چې البته ګڼ شمیر شرعي دلائل په دی باندي دلالت کوي چې د هغو له جملی څخه د نبی صلی الله علیه وسلم دا قول دی چې فرمایې:( لَا تَسُبُّوا أَصْحَابِي فَلَوْ أَنَّ أَحَدَكُمْ أَنْفَقَ مِثْلَ أُحُدٍ ذَهَبًا مَا بَلَغَ مُدَّ أَحَدِهِمْ وَلَا نَصِيفَهُ) (۲۹۲:۲).

تاسی زما صحابوو ته بد مه وایئ بیشکه که چیرې ستاسی څخه یو تن د اُحُد غره په اندازه مال د الله تعالی لاره کښی مصرف کړي د صحابو د یوي یا نیمی لپی مال د مصرفولو اجر او ثواب ته نه شي رسیدلای.

۳- هر مسلمان باید په دی عقیده وي چې په ټولو صحابو کرامو کې تر ټولو غوره ابو بکر بیا عمر بیا عثمان او بیا علی رضي الله عنهم دي(۵۱۸:۴).

په دی هکله ګڼ شمیر شرعي نصوص مو جود دی چې ځینی د بیلګی په تو ګه په لاندی ډول ذکر کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



علی رضی الله عنه مهربانی کړې: ((خَيْرُ هَذِهِ الْأُمَّةِ بَعْدَ نَبِيِّهَا أَبُو بَكْرٍ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وَخَيْرُهَا بَعْدَ أَبِي بَكْرٍ عُمَرُ رَضِيَ اللَّهُ عَنْهُ وَلَوْ شِئْتُ سَمَّيْتُ الثَّالِثَ ))(۵۱۸:۴).

د دې امت له پیغمبر وروسته تر ټولو غوره ابوبکر بیا عمر دی که چېرې ته غواړې نو دریم تن به هم درونښایم یعنی عثمان.

۴. هر مسلمان باید دا عقیده ولري چې صحابه کرام دفضیلت په اړه خپلو مینځونو کې یو له بله سره تو پیر لري چې په دی هکله ځینی شرعی دلایل په لاندی ډول ذکر کیږي.

یوه ورځ رسول الله صلی الله علیه و سلم د ابوبکر عمر او عثمان رضی الله عنهم سره د احد د غره د پاسه تشریف درلوده پدي وخت کې د احد غر و خوځېده نبی علیه السلام د احد غره ته مهربانی وکړه : اثْبُتْ أُحُدُ فَإِنَّمَا عَلَيْكَ نَبِيٌّ وَصِدِّيقٌ وَشَهِيدَانِ ) (۵۱۹:۴).

ژباړه: و دریږه د احد غره ! بیشکه چې ستا د پاسه د الله تعالی رسول، صدیق (ابوبکر) او دوه شهیدان (عمر او عثمان ) و لاړ دي.

د فاطمی رضی الله عنها په هکله نبی صلی الله علیه و سلم مهربانی کوي (فَاطِمَةُ سَيِّدَةُ نِسَاءِ أَهْلِ الْجَنَّةِ) (۵۱۹:۴).

فاطمه رضی الله عنها د جنتیانو ښځو سرداره ده.

د زبیر بن عوام په اړه رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي: إِنَّ لِكُلِّ نَبِيٍّ حَوَارِيًّا وَإِنَّ حَوَارِيَّ الزُّبَيْرُ بْنُ الْعَوَّامِ ) (۵۲۷:۴).

هر نبی ځانته مرستندوی لري زما مرستندوی زبیر بن العوام دی.

د زید بن حارثه په هکله یې مهرباني کړي((أَنْتَ أَخُونَا وَمَوْلَانَا ))

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته زمونږ وروراو باداريې.

دعلي (رضي الله تعالی عنه) په هکله فرمايي:((أَنْتَ مِنِّي وَأَنَا مِنْکَ)) (۵۲۸:۴).

ته له ما او زه له تا څخه يم.

جعفر بن ابی طالب رضی الله عنه ته يې و فرمايل:( أَشْبَهْتَ خَلْقِي وَخُلُقِي )(۵۲۶:۴).

ته زما صورت او سيرت سره مشابهت لرې.

کله چې سعد بن معاذ رضی الله عنه وفات شو نبی صلی الله عليه و سلم وفرمايل: (اهْتَزَّ عَرْشُ الرَّحْمَنِ لِمَوْتِ سَعْدِ بْنِ مُعَاذٍ ) (۵۳۷:۴).

د سعد بن معاذ د مرګ په لامل عرش و خوځيده.

يو ځل رسول الله صلی الله عليه و سلم ابی بن کعب ته وفرمايل: إِنَّ اللَّهَ أَمَرَنِي أَنْ أَقْرَأَ عَلَيْکَ الْقُرْآنَ قَالَ أُبَيٌّ أَاللَّهُ سَمَّانِي لَکَ قَالَ اللَّهُ سَمَّاکَ لِي فَجَعَلَ أُبَيٌّ يَبْکِي قَالَ قَتَادَةُ فَأُنْبِئْتُ أَنَّهُ قَرَأَ عَلَيْهِ

{ لَمْ يَکُنْ الَّذِينَ کَفَرُوا مِنْ أَهْلِ الْکِتَابِ} )(۵۳۷:۴).

الله تعالی ماته امر کړی چې تاته قران ولولم ابی بن کعب عرض وکړه چې ايا الله تعالی زما نوم تاته واخست ؟ نبی عليه السلام وفرمايل: هو ! نو ابی بن کعب په ژړا شو.قتاده (رضي الله تعالی عنه) فرمايي زه پوه شوم چې ( لم يکن الذين کفروا ) سورت يې ولوسته.

او د ابو عبيدة بن الجراح په هکله يې فرمايلي دی:

(c) ketabton.com: The Digital Library



لِكُلِّ أُمَّةٍ أَمِينٌ وَأَمِينُ هَذِهِ الْأُمَّةِ أَبُو عُبَيْدَةَ بْنُ الْجَرَّاحِ )(۴:۵۳۰).

د هر امت لپاره يو تن امين وى اى امته ! زمونږ امين ابو عبيده بن الجراح دى.

**۵**- دنورو صحابه کرامو ترڅنګ مسلمان بايد دامهات المؤمنين (درسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم) مېرمنى ) په بشپړه توګه قدردانى اواحترام وکړي، الله تعالى په دې هکله مؤمنانو ته داسې حکم کوي: النَّبِيُّ أَوْلَى بِالْمُؤْمِنِينَ مِنْ أَنفُسِهِمْ وَأَزْوَاجُهُ أُمَّهَاتُهُمْ وَأُوْلُو الأَرْحَامِ بَعْضُهُمْ أَوْلَى بِبَعْضٍ فِي كِتَابِ اللَّهِ مِنَ الْمُؤْمِنِينَ وَالْمُهَاجِرِينَ إِلاَّ أَن تَفْعَلُوا إِلَى أَوْلِيَائِكُم مَّعْرُوفًا كَانَ ذَلِكَ فِي الْكِتَابِ مَسْطُورًا.الاحزاب۶ايت

پيغمبر خو دمومنانو لپاره دهغوله خپله ځانه ګران دى او دپيغمبر بيبيانې د هغو ميندې دي ، خو دالله د کتاب له مخې دعامو مومنانو او مهاجرينو په پرتله خپلوان يوله بله زيات حقدار دي ، البته که له خپلو ملګرو سره تاسې ښه رواښېګړه( کول غواړئ نو ) کولای شئ. دغه حکم په الهي کتاب کښې ليکل شوى دى.

## **۵**- دعلماء کرامو په وړاندې آداب او اخلاق:

ګڼ شمېر شرعي دلائل هر مسلمان دې ته هڅوي چې د علماو سره ښه رويه نېک اداب او اخلاق مراعات کړي چې د هغوی څخه ځينې د بېلګې په توګه ذکر کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- دمفسیرینو او محدثینو په اړه باید هر مسلمان عقیده ولري چې د هغوی د خدمتونو په نتیجه کې الله تعالی قرانکریم او نبوي احادیث له تحریف او تغیر څخه ساتلی او د هغوي د بېشمېره اهمو د تفسیر کتابونو او د نبوي حدیثونو د شرحو له کتابونو څخه د اوس لپاره مسلمانان ستره ګټه وچتوي او تالیفات یې د ټولې نړۍ د مسلمانانو لپاره له ویاړه ډکه لویه سرمایه ده.

د څلورو فقهي امامانو هر یو امام ابو حنیفه امام مالک امام شافعي او امام احمدرحمهم الله په هکله باید هر مسلمان په دې باور وي چې د دین اوفقهې مسائلو په اړه هغوی کومې خبرې کړې ذکر شوي خبرې هغوی د قرآنکریم او نبوي احادیثو څخه استخراج او استنباط کړي دي، د دین کوم مسائل چې ذکر شوو علماؤ تدوین کړی شرعاً جواز لري او دهغوی په فتواګانو عمل کول په اسلامي شریعت عمل کول دي مګر که چېرې دهغوی کومه فتوی د قرآنکریم او احادیثو سره ټکر درلوده نو فتوی ته ځکه اعتبار نه ورکول کېږي، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: (وَمَنْ عَمِلَ عَمَلًا لَيْسَ عَلَيْهِ أَمْرُنَا فَهُوَ رَدٌّ) (۱۱:۳۳).

څوک چې داسې عمل وکړي چې زما د عمل مخالف وي ذکر شوی عمل مردود او نا منظور دی.

۲- هر مسلمان باید دا باور ولري چې ذکر شوي فقهاء انسانان دي کله صحیح فتوی ورکوي او کله په فتوی کې خطاء کېږي خو که فتوی کې خطاء شوی وي قصداً هغوی غلطی فتواوې نه دي ورکړي بلکې د سهوې، هېرېدنې یا غفلت له امله ور څخه غلطي فتوی صادر شوی د دین په فرعي مسائلو کې چې د ذکر شوو فقهاؤ ترمنځ کوم اختلافات منځ ته راغلي باید هر مسلمان هغوی معذور وګڼي او دا عقیده باید ولري چې دهغوی ترمنځ اختلافات دهغوی د تعصب او ناپوهې له امله نه ؤ رامنځ ته شوی بلکه دا اختلافاتو اصلي سرچېنه دا وه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو فقيه ته به په يوه مسئله كې يو حديث ورسېدلې او بل ته به نهٔ رسېدلای يا به ور رسېدلی ؤ خو د هغه په نظر منسوخ ؤ ياكوم حديث چې ور رسېدلای د بل حديث په نسبت ورته ضعيف ښکاره شوی دی،چې پدې اساس هر مسلمان بايد د تفسير، حديث او فقهې امامانو سره مينه ولري هغوی ته دعاګانې وکړي او د هغوی په فضيلت او غوره والي قانع اووسي داسې خبره ونه کړي او نه داسې نظر بايد ځرګندکړي چې د هغوی په هکله د ګستاخۍ بوی ور څخه راځي.

۳- د اوسنيو علماؤ په اړه بايد هر مسلمان په دې پوه شي چې د هغه شرعي دنده ده چې د علماؤ سره دهغوی شرعي مسؤليت سرته رسولو په خاطر مناسبه مرسته وکړي دهغوی اکرام او احترام خپله وجيبه وبولي او په هغو ويناؤ ئې عمل وکړي چې دشريعت سره ټکر نه لري دعلماؤ لپاره دا دعاء کول پکار دي چې نيکان پاتې شي او دشر او خطاء څخه محفوظ وي ځکه چې که علماء اصلاح وي ور سره امت اصلاح کېږي او که علماء بېلارې شول نو ور سره امت بېلارې کيږي لکه څنګه چې نبي صلى الله عليه وسلم مهرباني کړې ده:(صنفان من امتي اذا صلحا صلحت الامة واذافسدافسدت الامة الفقهاء والامراء) (۱۴:۷).

زما د امت دوه ډلې دي که دوی نيکان وي ټول امت نيکان کېږي او که بدان وي ټول امت بدان کېږي يو علماء او بل اميران.

## داستاذانو په وړاندې اداب او اخلاق:

(c) ketabton.com: The Digital Library



استاذان دټولنې رهبران او لارښوونکي دي، دالله تعالی رسول (صَلّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) خپل ځان دمعلم په توګه معرفي کړی لکه چې فرمایي:(( إِنّ اللّٰهَ بَعَثَنِي مُعَلِّمًا مُیَسّرًا )) صحیح مسلم ۷ج، ۴۳۹ص.

الله تعالی زه اَساني کوونکی معلم لېږلی یم.

نو ځکه خو اسلام په عامه توګه خپلو پېروانو ته امر کوي چې دخپلو استاذانو او معلمانو اداب وساتي او ورسره ښه سلوک او اخلاق څخه کار واخلي، ترڅو په دې عمل سره له یوې خوا دالله تعالی رضا لاس ته راوړي اوله بلې خوا دعلم ګټو او فایدو څخه مستفید شي، ځکه هر هغه څوک چې داستاذ اداب نه ساتي دعلم له خېر څخه ګټه نه شي حاصلولای.

په لاندې توګه داسلام دمقدس دین دلارښوونو په رڼا کې ځیني هغه اداب ذکر کېږي چې هر زده کوونکی پرې مکلف دی.

۱- زده کوونکی باید دخپل استاذ بشپړادب اوکامل احترام وساتي، ځکه ښه ادب دپاخه عقل ترجماني کوي، الله تعالی په قران کې دهغو خلکو چې دخپل لارښود او استاد ادب او احترام کوي په داسې الفاظو ستاینه کړی:((إِنّ الّذِینَ یَغُضّونَ أَصْوَاتَهُمْ عِندَ رَسُولِ اللّٰه أُوْلَئِکَ الّذِینَ امْتَحَنَ اللّٰهُ قُلُوبَهُمْ لِلتّقْوَی لَهُم مّغْفِرَةٌ وَأَجْرٌ عَظِیمٌ 3

کوم کسان چې دخدای درسول په وړاندیګ دغږیدلوپه وخت کشګیګ خپل غږونه تګیتګوي هغوی په حقیقت کشګیګ همغه کسان دي چیګ الله دهغوی زړونه دتقوی لپاره ازمویلي دي ، دهغو لپاره بشګنه ده او لوی اجر.

۲-زده کوونکی باید دخپل استاذ د رایې احترام وکړي باید په دې پوه شي چې دخپل استاد په وړاندې دذلت احساس دعزت سبب ګرځي، دهغه په وړاندې عاجزي دفخر سبب دی،دهغه په وړاندې تواضع دلوړوالی سبب ګرځي،موږ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګورو چې عبدالله بن عباس (رضي الله تعالی عنه) سره ددې چې دلوړې مرتبې ،دبشپړعلميت څښتن دی ،او درسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) دتره ځوی دی ،دخپل استاذ زېد بن ثابت انصاري(رضي الله تعالی عنه) ،داس قبضه نيسي، اومخکې ترې روان دی،خدمت يې کوي او وايي:(**هکذا امرنا ان نفعل بعلماءنا**). موږ ماموره شوي يو چې دخپلو استاذانو سره دغسې تعامل وکړو.

پدې هکله ابوهرېرة (رضي الله تعالی عنه) درسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) دا وېنا رانقلوي چې فرمايي:

**عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ، قَالَ: قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: "تَعَلّمُوا الْعِلْمَ، وَتَعَلّمُوا لِلْعِلْمِ السّكِينَةَ وَالْوَقَارَ، وَتَوَاضَعُوا لِمَنْ تَعْلَمُونَ مِنْهُ)) صحيح مسلم ۷ج، ۴۳۹ص.**

علم زده کړئ،خو دوقار او عزت لپاره،له چا نه چې علم زده کوئ دهغه په وړاندې تواضع کوئ.

با عمله علم الله تعالی هغه چا ته ورپه برخه کوي چې تواضع پکې وي،دخپلو استاذانو په وړاندې احترام ولري،خبره يې مني او خپل استاد ته غوږ نيسي.

۳- زده کوونکی به خپل استاذ ته په نامه اواز نه کوي، اونه به دهغه په غياب کې دهغه نوم اخلي بلکې کله چې دهغه نوم يادوي په تعظيم سره به يې يادوي داستاذ يا بل داحترام څخه ډکه کلمه به ورسره مل کوي او ووايې به چې فلاني استاد يا صاحب او.... داسې ويلي دي، داځکه چې استاذ ته په نامه اواز دهغه په وړاندې بې ادبي ده،الله تعالی درسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) ملګري په دې خبره ورتېل کله چې دهغه کور ته يې له شانه دمحمد په نامه اوازونه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کول((إِنَّ الَّذِينَ يُنَادُونَكَ مِن وَرَاء الْحُجُرَاتِ أَكْثَرُهُمْ لاَ يَعْقِلُونَ .۴ ،ایت ، الحجرات سورت.

ای پیغمبراه ! کوم کسان چیگ تاته له حجرونه دباندیگ ناریگ وهي له هغونه زیاتره ناپوهان دي

۴- داستاذ په حق به اعتراف کوي او دهغه احسان به نه هېروي ،ځکه درسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) لارښوونه ده (( چا چې یوبنده ته دقران یو توری وښوده هغه یې بادار او مولا شو ،امامة باهلي دیو مرفوع حدیث په ترڅ کې درسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) حدیث رانقلوي چې فرمايي: "مَنْ عَلَّمَ عَبْدًا آيَةً مِنْ كِتَابِ اللَّهِ، فَهُوَ مَوْلاهُ لا يَنْبَغِي لَهُ أَنْ يَخْذُلَهُ، وَلا يَسْتَأْثِرَ عَلَيْهِ ".المعجم الكبير للطبراني،۷ج، ۱۱۹ ص.

چاچې یو بنده ته دکتاب الله یو ایت وښوده هغه یې بادار شو ، ورته مناسب نه ده چې خجل یې کړي،اویا بل څوک په ده باندې غوره وګڼي.

ددې تر څنګ به دهغه غیبت ردوي،ورځخه به دفاع کوي،که دا کار یې په وس کې نه ؤ نوهغه مجلس به پرېږدي چې داستاذ غیبت یې پکې کېږي.

۴- دژوند په اوږدو کې به هغه ته دعاګانې کوي،له مرګ څخه وروسته به دهغه دخپلوانو پالنه او روزنه کوي، پوښتنه به یې کوي، دقبر زیارت ته به ورځي، دهغه لپاره به د الله تعالی په دربار کې بخښنه غواړي،صدقه به کوي،ځکه چې زده کوونکی داستاذ لپاره صدقه جاریه ده ،هغه ته یې دخېر لار ښودلې دي.

۵- که استاد څخه کومه اشتباه وشي، یا ورځخه کوم بد رویه صادر ه شي،دهغه صحبت به نه پرېږدي،خطاء او اشتباه به یې په ښه توګه تاویلوي،غصه به یې زغمي، پخوانیو نېکانو خلکو به ویل چې څوک دتعلیم ذلت پر ځان ونه مني تر عمره به له جاهلیت له لومو راونه وځي،او که څوک په

(c) ketabton.com: The Digital Library



دي ذلت او خوارۍ او تکليف باندې صبر وکړي ، ددنيا او اخرت عزت به يې په برخه شي.

۲- که استاذ په يو مجلس کې ناست وي له اجازې پرته به نه ورځي، که اجازه يې ور نه کړه بيا بيا به داجازه غوښتنه نه کوي ، که کور ته ورځي نو دروازه به دنوکانو په سر په ورو ورو ټکوي، که په دې سره خبر نه شي نو په ګوتو سره به يې وټکوي، او که ځاي يې لرې ؤ نو په داسې طريقې سره به يې ټکوي چې اواز واوري خو دهغه دمزاحمت باعث نه شي ، په همدې توګه که زده کوونکی نا وخته صنف ته راشي په کار داده چې داستاذ مزاحمت ونه کړي

که استاذ تدريس ته ذهنا تيار نه وي بايد دزده کوونکی له خوا په تدريس مجبوره نه شي،ځکه ډېر ځله دغه عمل داستاذ دخجالت کېدو سبب ګرځي،داستاذ خجالتول په حقيقت کې دهغه په وړاندې بې ادبي ده. زده کوونکی بايد داستاذ په وړاندې چپ او په ادب سره کېني،خبرې به يې په غور سره اوري،ترڅو دخبرو بيا تکرار ته اړتيا پېدا نه شي،د درس پر مهال به اخوا دېخوا نه ګوري که مبايل ورسره وي بايد بند يې کړي،تر څو ددرس مزاحمت ونه شي،ددرس پر مهال به استاذ ته ګوري په نورو کارونو به خپل ځان نه مصروفوي.

داستاذ په مخکې به زياتې خبرې نه کوي،او نه به داسې خبره له خولې را اوباسي چې استاذ پرې خفه کيږي،يا دهغه په وړاندې بې ادبي ګڼل کېږي،زده کوونکی به داستاذ دوخت خيال ساتي،بې ضرورته به دهغه سره مجلس نه اوږدوي،وخت به يې نه ضايع کوي ، دا او دې ته ورته ناوړه چارې داستاذ په وړاندې بې ادبي ګڼل کېږي دتکليف باعث يې ګرځي ، داستاذ بې ادبي کول او هغه ته تکليف رسول شرعا جايز نه دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- زده کوونکی به دادب په خاطر استاذ ته داسې نه وايي چې دا نه منم دا چا ويلي دي؟که ديوې موضوع په اړه وضاحت غواړي،نو بيا دې په بل مجلس کې دهغې په اړه معلومات تر لاسه کړي.

۸- که زده کوونکی له استاذ څخه يوه داسې موضوع اوري چې مخکې يې اورېدلې وي او يا له پخوا يې زده وي، نو بې اعتنايي به نه کوي،اوداسې متوجه به کيني لکه دغه موضوع يې چې ببخي اورېدلې نه وي،عطاء(رح)فرمايي:زه چې له هرچانه يوه تکراري خبره اورم ،په داسې توجه سره يې اورم لکه چې ببخي مې اورېدلي نه وي.

۹- زده کوونکی به هغه پوښتنه چې له استاذ څخه شوي وي،پخپله نه ځوابوي او نه به دهغې په اړه تشريح ورکوي مګر داچې استاذ يې ورڅخه وغواړي،کېدې شي چې غلطه يې ځواب کړي،اوبله داچې داستاذ زړه ته په دې عمل سره خفګان رسېږي.

۱۰- زده کوونکی به داستاد خبره نه قطع کوي،او نه به پرې مخکې کېږي،صبر به کوي تر څو استاذ له خبرو فارغ شي ،هنده بنت ابي هاله لومړی درسول الله (صلی الله عليه واله وسلم) اخلاق بيانوي او بيا ورپسې ،دزده کوونکو په توګه دصحابه کرامو حالت درسول الله (صَلّی اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) سره ذکر کوي:

((كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ دَائِمَ الْبِشْرِ سَهْلَ الْخَلْقِ لَيِّنَ الْجَانِبِ لَيْسَ بِفَظٍّ وَلاَ غَلِيظٍ وَلاَ صَخَّابٍ وَلاَ فَحَّاشٍ وَلاَ غَيَّابٍ وَلاَ مَدَّاحٍ يَتَغَافَلُ عَمَّا لا يَشْتَهِي وَلاَ يُؤَيِّسُ مِنْهُ وَلاَ يَخِيبُ فِيهِ قَدْ تَرَكَ نَفْسَهُ مِنْ ثَلاثٍ الْمِرَاءِ وَالإِكْثَارِ وَمِمَّا لا يَعْنِيهِ وَتَرَكَ نَفْسَهُ مِنْ ثَلاثٍ كَانَ لا يَذُمُّ أَحَدًا وَلاَ يُعَيِّرُهُ وَلاَ يَطْلُبُ عَوْرَتَهُ وَلاَ يَتَكَلَّمُ إِلا فِيمَا رَجَا

(c) ketabton.com: The Digital Library



ثَوَابَهُ إِذَا تَكَلَّمَ أَطْرَقَ جُلَسَاؤُهُ كَأَنَّمَا عَلَى رُءُوسِهِمُ الطَّيْرُ، وَإِذَا سَكَتَ تَكَلَّمُوا وَلَا يَتَنَازَعُونَ عِنْدَهُ مَنْ تَكَلَّمَ أَنْصَتُوا لَهُ حَتَّى يَفْرُغَ حَدِيثُهُمْ عِنْدَهُ حَدِيثُ أَوَّلِيَّتُهُمْ )).(۱۸، ۱۵۴).

رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم) تَل خوشحال طبعه، اساني كوونكى، نرمي كوونكى ؤ، بدخويه، سختي كوونكى نه ؤ، چغې به يې نه وهلې، بې حياء نه غږېده، دچا غيبت يې نه كاوه، بې ځايه يې دچا صفت نه كاوه، له نامطلوبو چاروبه يې ځان ناګاره كاوه، نه به ترې څوك مايوسه كېده او نه به ترې څوك نامراده تلې شو، له درې كارونو څخه يې ځان ساته، ۱- له دعوواودنګلو(بې ځايه بحثونو)۲- زياتو خبرو، ۳- او بې فايدې كارونو څخه، دچا بدي يې نه بيانوله، چاته يې پېغور نه وركاوه، او نه يې دچاپټ رازونه راسپړل، هغه كار يې كاوه چې ثواب يې پكې ليده، كله به يې چې خبرې كولې نوملګري (صحابه كرام) به يې دغسې غلي ناست ؤ لكه په سرونو چې يې مرغۍ ناستې وي، ترهغې به نه غږېدل تر څو به چې دالله تعالى رسول خبرې كولې كله به چې هغه چپ شو نو دوي به خبرې پېل كړې، دهغه (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم) په مخكې يې جګړې نه كولې هريو به چې خبرې كولې نور به ورته چپ ناست ؤ، (يو دبل خبرې به يې په غور سره اورېدې).

۱۱- زده كوونكى چې په لاره داستاد سره ځي نو دشپې به ور څخه مخكې او دورځې به ورڅخه وروسته ځي، ځكه چې داستاذ داحترام په خاطر كه دشپې كوم خطر پېښېږي نو زده كوونكى به ورڅخه دفاع كوي ، داچې دورځې خطر كم وي نو احتراما به له استاد څخه وروسته ځي.

۱۲- خپله رايه او نظر به پر استاذ غوره نه ګڼي، او نه به خپله رايه پرهغه په زوره مني، ځكه كه استاذ هر څومره ناپوه او زده كوونكى پوه وي خو دالله تعالى درضا دحاصلولو اوداستاذ داحترام په خاطر به له خپلې رايې څخه تېرېږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳- که کوم شی ورکوي یا یې ورڅخه اخلي نو ښي لاس به استعمالوي.
۱۴- زده کوونکی به هېڅ وخت داستاذ له شرعي خدمت څخه انکار نه کوي، ځکه شریف خلک له څلور کارونو څخه مخ نه ګرځوي که څه هم په خپله مشر او امیر وي:
الف- د پلار د ادب په خاطر له خپل ځایه پورته کېدل.
ب- د عالم او استاذ خدمت چې زده کړه ورڅخه کوي.
ج- د هغه څه په اړه پوښتنه کول چې پرې نه پوهېږي.
د- د مېلمه عزت او قدرداني کول.
۱۵- که زده کوونکی استاذ سره مخ کېږي نو اول به پر هغه سلام کوی.
۱۶- که زده کوونکی د استاذ رایه او نظر خطاء ګڼي، نو داسې به نه ورته وایي چې ته نه پوهېږي ،بلکې هڅه به کوي چې خطاء یې ښه تعبیر او په ښو الفاظو اصلاح کړي ، مثلاً که داسې الفظ استعمال کړي چې(( ماته مصلحت په دې کې ښکاري ) )داسې به نه وایی چې زما رایه درسته ده او استاذ اشتباه کړې ده.
۱۷-که یو استاذ څخه دیوې موضوع په اړه یوه رایه واوري او بل استاذ څخه بل نظر ددواړو ترمنځ دې دتوافق هڅه وکړی او ددواړو ترمنځ دې داختلاف سبب نه ګرځي.(۱۹:۲۲-۲۸ )

## ددوهم فصل د مراجعو فهرست:

۱-قرآنکریم
۲-ابو داود: سلیمان بن اشعث، کال: ۱۳۱۲هـ ق، سنن ابی داود ،دویم ټوک طبعه: خیبر ګروپ آف کمپنیز- پېښور-پاکستان.
۳-الباني: محمد ناصرالدین بن نوح، صحیح ابی داود ،پنځم ټوک، طبعه: دارالفکر-بیروت- لبنان.
۴-البخاري: محمد بن اسمعیل، صحیح البخاري،دویم ټوک،طبعه: نعماني کتب خانه.پېښور- پاکستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۵-الترمذي : محمد بن عيسى، جامع الترمذي،دويم ټوک طبعه: مکتبة حقانية پېښور- پاکستان.
۶-الجزائري: ابو بکر جابر، کال: ۱۴۱۰هـ ق- ۱۹۹۰م، منهاج المسلم،طبعه: دارالشروق للنشر و التوزيع والطباعة- جده- السعوديه.
۷-الطبراني: ابو القاسم سليمان بن احمد ، کال ۱۴۱۵ق،المعجم الاوسط، دريم ټوک طبعه: دارالحرمين – قاهره.
۸-العبيد: عبدالرحمن بن عبدالکريم ، کال : ۱۴۰۵ هـ- ۱۹۸۴م، اصول المنهج الاسلامي، طبعه: مطابع الفرزدق التجاريه – الرياض – السعوديه.
۹-القزويني: ابن ماجه محمد بن يزيد ،سنن ابن ماجه،دويم ټوک، مطبعه: مکتبة العلميه-بيروت-لبنان.
۱۰-المزيد احمد.من حقوق المصطفى على امته،طبعه: مدارالوطن للنشر – السعوديه.
۱۱-النيساپوري : مسلم بن حجاج ابوالحسين، کال: ۱۳۴۹هـ ش، الجامع الصحيح،دويم ټوک طبعه:خيبر ګروپ اف کمپنيز پېښور پاکستان.

۱۲- البخاري ، محمد بن اسماعيل صحيح البخارى بن مغيره،۲۰ټوک ،طبعه بيروت دار بن کثير اليمامة.
۱۳- البخاري ، محمد بن اسماعيل صحيح البخارى بن مغيره، ۲۳ټوک ،طبعه بيروت دار بن کثير اليمامة.
۱۴- النيسابوري ،مسلم بن حجاج ابو الحسين القشيري ، صحيح مسلم ،۱ټوک،
۱۵- النيسابوري ،مسلم بن حجاج ابو الحسين القشيري ، صحيح مسلم ،۷ټوک

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۶- النيسابوري ،مسلم بن حجاج ابو الحسين القشيري ، صحيح مسلم ،۱۲ټوک،
۱۷- الطبراني ،ابوالقاسم سليمان بن احمد بن ايوب ،المعجم الكبير،۷ټوک ،طبعه القاهرة دارالحرمين.
۱۸- الطبراني ،ابوالقاسم سليمان بن احمد بن ايوب ،المعجم الكبير،۱۵ټوک طبعه ،القاهرة دارالحرمين.
۱۹- اليمني ،الحسين ابن المنصور ، آداب العلماء والمتعلمين:

# دریيم فصل

# داسلام د سپېڅلي دين په رڼاکې

# دغوره اخلاقو ځيني بېلګې:

## ۱- فردي اخلاق

۱- اخلاص
۲- صدق
۳- امانتداري

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- پر وعدو وفا کول

۵- تقوا

۶- حیاء

۷- د ژبې ساتنه

۸- تواضع

۹- صبر

۱۰- عفوه او بخښنه

۱۱- سخاوت

۱۲- شجاعت

## ۲- ټولنیز اخلاق:

۱- خپل منځي مرسته او همکاري.- دمور او پلار حقوق پرځاي کول

۳- خپلولي پالل- شفقت او ترحم.- د ګاونډیو سره ښه سلوک کول- دمسلمان دعزت او ابرو ساتنه.- مېلمه پالنه

## ۱- اخلاص ((د هر کار لپاره ښه نېت ))

### د نېت تعریف:

نېت په لغت کې قصد او ارادې ته وایي.(۳۸۲:۳۲ ).

په اصطلاح کې (ښه نېت دی ته وایې چې یو څوک یوازې او یوازې د الله تعالی د رضا په خاطر یو کار ترسره کړی او د هیڅ مخلوق رضا په کې هدف ونه ګرځوي په دې ترتیب چې د ښه کار په سرته رسولو او د بد کار په پریښودلو کې تنها د الله تعالی رضا خپل هدف وګرځوی د الله تعالی له رضا سره د بل چا رضا شریکه نه کړی. ۱۸۴:۲۳ )

(c) ketabton.com: The Digital Library



که یو څوک یو کار دالله تعالی درضا لپاره نه ترسره کوي او یا دالله تعالی درضا سره دبل چا رضا هم شامله کړي نو الله تعالی له دغسې عمل څخه بېزاره دی، نه یې قبلوي او نه پرې اجر او ثواب ورکوي که څه هميو ديني کار وي.
په یو اوږد حدیث کې رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) ددرې تنو حالت دقيامت په ورځ دداډول بیانوي:
دقيامت په ورځ به ترټولو لومړی دشهيد سره حساب اوکتاب پېل شي،هغه به راوستل شي،دنعمتونوپه اړه به ورته یادونه وشي،هغه به پرې اعتراف وکړي،بیابه ورڅخه وپوښتل شي،چې تاددغو نعمتونوپه مقابل کې څه کړي دي؟هغه به په ځواب کې ووايي:چې ای الله تعالی ستاپه لاره کې ترهغې جنګېدم،ترڅوچې شهيدشوم،الله تعالی به ورته ووايي:درواغ دې وويل:ته ددې لپاره جنګېدې چې خلک درته زړه وراوشجاع ووايي،اوهغه درته ويل شو ي دي،بیابه امروشي چې پرمخې یې دوزخ ته ورواچوئ،بیابه دوزخ ته وروغورځول شي.
په دوېم قدم کې به عالم دحساب لپاره راوغوښتل شي، هغه عالم چې دعلم دترلاسه کولووروسته يې ،نوروته هم ښودلې وي،په قران به هم پوهېږي ،لومړی به دهغونعمتونو په اړه چې په دنیاکې پرې شوي پوښتنه وشي،په هغې به اعتراف وکړي،بیابه ترې وپوښتل شي چې ددغونعمتونوپه مقابل کې يې څه کړي دي ؟ هغه به په ځواب کې ووايي چې ستادرضالپاره مې علم ترلاسه کړ،اونوروته مې و ښوده،قران مې ستالپاره و لوسته،اونورته مې هم وښود ،ورته به وويل شي: درواغ دې وويل:داټول دې ددې لپاره ترسره کړي وو ،چې خلک ستا صفت وکړي قاري اوعالم درته ووايي ،نوپه دنیاکې درته ويل شوي دي ،امربه وشي چې پرمخې یې دوزخ ته وغورځوئ،بیابه دوزخ کې واچول شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په درييم قدم کې به هغه شتمن شخص دحساب لپاره راوغوښتل شي چې په دنياکې به يې په هرنېک کارکې لګښت کاوه، لومړی به له هغه څخه د هغو نعمتونو په اړه پوښتنه وشي چې په دنياکې ورکړل شوي وو،هغه به يې ومني اواقراربه پرې وکړي،بيابه ترې وپوښتل شي چې ددغو نعمتونوپه مقابل کې يې څه کړي دي؟هغه به ووايي چې هيڅ دخيرداسې کارنه وو چې په هغې کې لګښت کول ستادرضالامل ګرځېده،مګرماپه هغې کې لګښت کړی دی،ورته به وويل شي درواغ دې وويل ،دغه ټول کارونه تاددې لپاره ترسره کول چې خلک درته سخي ووايي،ا وپه دنياکې درته ويل شوي دي او د لګښت بدله درته رسېدلې ده امربه وشي چې پرمخې يې دوزخ ته واچوئ،بيابه دوزخ ته واچول شي.

يعنې الله تعالی ديوبنده عمل په دې شرط قبلوي ،چې اخلاص پکې وي( له ريا اوځان ښودنې څخه پاک وي) ،يواځې دالله تعالی درضا لپاره ترسره شي،(داعمالوزياتوالی اوډېروالی دالله تعالی په نزد چې اخلاص پکې نه وي هيڅ اعتبارنه لري). -(۴۲:۱۵۱۳).

په يو بل حديث کې رسول الله صلی الله عليه وسلم فرمايي:

دشرک اصغر په اړه زه پرتاسې زيات ويرېږم ،صحابه کرامورضي الله عنهم پوښتنه وکړه،چې شرک اصغر څه شي دی يارسول الله صلی الله عليه وسلم؟هغه صلی الله عليه وسلم وفرمايل:رياکاري اوځان ښودنه،دقيامت په ورځ چې کله الله تعالی بنده ګانوته دخپل عملونوبدله ورکوي نورياکارانوته به وويل شي لاړشئ له هغوخلکوڅخه خپل اجرونه وغواړئ چې تاسې دهغولپاره چارې ترسره کولې اوځانونه مووورته ښودل،اياواوس دهغوی سره څه شته؟ (۵۲:۱۲۳).

## په اسلامي شريعت کې د نيت ارزښت:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي شريعت د انسانانو د اعمالو ترمينځ د توپير تله نېت ګرځولی هغه داسې چې د نېت پوسيله عبادات د عاداتو څخه بېلوي ځېنې عبادات د ځېنو نورو سره توپير مومي د بېلګې په توګه د لمانځه لپاره نېت ځکه ضرور دی چې د نفلي او فرضي لمونځ توپير وشي، د خيرات لپاره نېت ځکه حتمي دی چې د زکات، نذر، کفاری او نورو ترمنځ فرق رامينځته شي، مسجد کې ناسته که د اعتکاف، ذکر او فکر په خاطر وي عبادت ګڼل کېږي او که د دمې او استراحت په نېت وي عادت بلل کېږي. ځان مينځل که د ثواب او اجر په نېت وي عبادت دی خو که د نظافت په منظور وي عادت ګڼل کېږي همدا لامل دی چې رسول الله صلی الله عليه وسلم د نېت په اړه خپل امت ته داسې اصل او قاعده ايښی ده: (إِنَّمَا الْأَعْمَالُ بِالنِّيَّاتِ وَإِنَّمَا لِكُلِّ امْرِئٍ مَا نَوَى) (۱:۱۱).

بېشکه چې د عملونو اجر او ثواب نېت پورې تړلې دی او هر سړي ته به د نېت مطابق اجر ورکول کېږي.

په اسلام کې د نېت د ارزښت له امله سلفوصالحينو د هر کار د پېل څخه وړاندی خپلو نېتونو ته ځانګړی توجو کوله او خپل نېتونه به يې سمول، کله به چې د دوی يو تن ته د يو کار د سرته رسولو خبره وشوه نو هغه به ويل: (اصبر حتی احدث له نية) (۱۲:۳۴).

صبر وکړه چې زه خپل نېت سم کړم.

## د يو کار لپاره د ښه نېت وختونه:

اسلامي شريعت په مسلمانانو لازمي کړی چې د هر کار لپاره په لاندينيو حالاتو کې بايد ښه نېت ولري.

۱- د يو کار له پېله وړاندې نېت سمول:

مسلمان بايد د کار له اجراء کولو څخه مخکې خپل هدف يوازې او يوازې د الله تعالی رضا وګرځوي د نوموړي کار په ترسره کولو کې د الله د خوښۍ ترڅنګ د

(c) ketabton.com: The Digital Library



بل چا خوښي خپل هدف ونه ګرځوي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : (إِنّ اللّهَ لَا يَقْبَلُ مِنْ الْعَمَلِ إِلَّا مَا كَانَ لَهُ خَالِصًا وَابْتُغِيَ بِهِ وَجْهُهُ ) (۲۳:۳۰ ).

الله تعالی جل جلاله یوازې او یوازې په هغه عمل باندې اجر او ثواب ورکوي چې خالص او تنها د الله تعالی د رضا په خاطر ترسره شوی وي.

په بل حدیث شریف کې رسول صلی الله علیه وسلم داسې فرمایي : چې الله تعالی فرمایلي دي: ((فَمَنْ عَمِلَ عَمَلًا فَأَشْرَكَ فِيهِ غَيْرِي فَأَنَا بَرِيءٌ مِنْهُ وَهُوَ لِلّذِي أَشْرَكَ ) ) (۲۷:۳۱ ).

چا چې د یوه عمل سرته رسولو پر مهال زما رضا او د بل شخص رضا هدف وګرځوه زه د نورو عمل څخه بیزاره یم دا عمل په حقیقت کې د هغه چا لپاره ترسره شوی چې زما رضا سره د هغه رضا شریکه کړای شوې ده.

۲- دکار په جریان کې ښه نېت درلودل:

رسول صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي : (مَنْ صَلّى يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ وَمَنْ صَامَ يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ وَمَنْ تَصَدّقَ يُرَائِي فَقَدْ أَشْرَكَ ).(۱۲۵:۳ )

څوک چې په لمانځه کې ریا کاري کوي دی تن په حقیقت کې شرک وکړ چا چې دروژې نیولو پرمهال ریا کاري وکړه ، دی تن په حقیقت کې شرک وکړ او چا چې صدقه د ریاکارۍ په نیت ورکړه دی تن په حقیقت کې شرک وکړ.

۳- د کار په پای کې ښه نېت درلودل:

دکار په پای کې دښه نېت درلودلو هدف دادی چې د نورو کار احسان په الله جل جلاله ونکړي د لیل یې دادی چې نبی صلی الله علیه وسلم ته د بني اسد د قبیلې مشران راغلل اوورباندې احسان باراوه چې مونږ په داسې حال کې

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسې باندې ایمان راوړی ؤ چې نورو قومونو تا سره جنګ کولو.....، نو رسول الله صلی الله علیه وسلم د دوي په هکله وفرمایل: ( فِقْهُهُمْ قَلِيْلٌ وَاِنّ الشّيْطَانَ يَنْطِقُ عَلَى اَلْسِنَتِهِمْ ) (۲:۲۸۰)

د دغو خلکو دیني پوهه لږه ده او شیطان د دوی په ژبو خبری کوي.

په دی وخت کې دا قرآني آیت را نازل شو: (③♦☺←✡ᘓ❑♌♦⌧ ↖♦◘■⓿↘⌨⌧ 🕮❑♌⬃ 🕮❑ᘓ⇔◘■☺←❑✂☎ ☎ 🔔➔✍ ✍⬩ ☺←✡ᘓ❑✂☎ ↖♦✍■❼◎ ◑♐ᘓ⇔◘■🕔☺⌧▤↗🖃 ③♦☺←♊❺ ↘♦◘■⓿↘▤↗🖃⬁ ☎ 🖃♦✍⬀ ✂✍✎✦ ▤↗🖃⬀ ♎⌧⑨⌧🗁▤↗🖃⬀ ♍⛓♒”*💣③☺⌧🕔♊⬁ ◑♐♌ ✍↗☪☞⬅⚐⇔ 🕒✽🕔⑨♒🔔♒✓×♦ ⬀♐♓⬁ ) (۱: د الحجرات سورت، آیت۱۷).

دغه خلک تا باندې احسان کوي چې له نورو خلکو یې رومبی اسلام راوړی دی ته دوی ته ووایه چې ما باندې د اسلام راوړلو احسان مه کوئ بلکې الله تعالی تاسې باندې احسان کوي چې د ایمان راوړلو توفیق یې تاسې ته درکړی دی.

نوموړی ایت کریمه او حدیث شریف موږ ته دا لارښوونه هم کوي چې دیو چا سره دا احسان کولو او صدقې ورکولو وروسته مسلمان باید په چا احسان بار نه کړي ځکه چې الله تعالی فرمایلي دي:(③♦🕔✵🕯❑③❿♍⌧✍ ✂✍✎⬆🔔♒⇦×♦ ↗◆✂✌♦☪↖❑✂☎ ⬩⬩ ✍➔⌨⬀⊃♒◘➔❑✂☎ 🕒✽⑨⌧🔔⬩🕔✌♒▤↗☠ 🖃♐✍✍♌↘☺⌧♊♎⬁ ❑◆✂✍✍🏵☞❶⬩❽▤ ⬀♐♒⌘⬁ )(۱:د البقرې سورت، آیت ۲۶۴).

ای مؤمنانو ! تاسې خپل خیراتونه په احسان کولو او خلکو ته په ضرر رسولو سره مه باطلوئ.

## ۲-صدق (رینښتیا ویل):

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمان باید صادقه (رښتیاویونکی) وي، تل باید دحق وېنا وکړي ولو که دهغه په تاوان هم وي، دالله ددین په حق کې د ملامت کوونکو له ملامتیا ونه وېرېږي، درواغ ویل تر ټولو بد خوي او خصلت دی ، دشېطان لپاره دانسان په نفس کې دداخلېدو چانس ورکوي ،مسلمان باید درښتیا ویلو سره خپل ځان عادت کړي ، تل رښتیا ووایي دحق ګواهي ورکړي که څه هم دده او یا دده دخپلوانو په زیان وي ، ځکه چې درواغ ویل دانسان لپاره ترټولو بد خوي اوخصلت دی، دزیات شمېر شیطاني چارو اوګناهونو دارتکاب سبب ګرځي ، درواغ ویل دانسان حېثیت ته سخته صدمه رسوي،ذلیلوي یې،شرموي یې، په ټولنه کې اعتبار له لاسه ورکوي ، نو ځکه خو اسلام درواغ ویل حرام ګرځولي دي.

لاندې احادیث دغه موضوع ښه روښانه کوي:

١- قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ: "أَرْبَعٌ إِذَا كُنَّ فِيكَ فَلَا يَضُرُّكَ مَا فَاتَكَ مِنَ الدُّنْيَا: صِدْقُ حَدِيثٍ، وَحِفْظُ أَمَانَةٍ، وَحُسْنُ خَلِيقَةٍ، وَعِفَّةُ طُعْمَةٍ (٥١، ٤٠٣).

رسول الله (صَلّى اَللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم) فرمایلي دي:که څلور صفات په تاکې وي نو دهیڅ دنیاوي شي دفوت کېدو ارمان مه کوه:رښتیا وېنا ،امانت ساتل،ښه اخلاق،اودخوراک پاکوالی.

٢- قَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَلَيْكُمْ بِالصِّدْقِ فَإِنَّ الصِّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرِّ وَإِنَّ الْبِرَّ يَهْدِي إِلَى الْجَنَّةِ وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَصْدُقُ وَيَتَحَرَّى الصِّدْقَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللَّهِ صِدِّيقًا وَإِيَّاكُمْ وَالْكَذِبَ فَإِنَّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ وَإِنَّ الْفُجُورَ

(c) ketabton.com: The Digital Library



يَهْدِي إِلَى النَّارِ وَمَا يَزَالُ الرَّجُلُ يَكْذِبُ وَيَتَحَرَّى الْكَذِبَ حَتَّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللّٰه كَذَّابًا.صحيح مسلم، ۱۳ج، ۱۲ص.

رسول الله (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم) فرمايلي دي:رښتيا ويل خپل عادت وګرځوئ،ځکه چې رښتياويل نېکيو لوري لارښوونه کوي،اونيکي جنت ته لارښوونه کوي،يوسړی چې تل رښتيا وايي،درښتياؤ فکر کوي،تر دې چې دالله تعالى په نزد رېښتونی وليکل شي، له درواغو ځانونه ساتئ،ځکه چې درواغ انسان ګناه لوري ته راکاږي،ګناه اور ته لوري ته لارښوونه کوي،يوسړی چې درواغ وايي ددرواغو فکر کوي تر دې چې دالله تعالى په نزد درواغجن وليکل شي.

۳- أَنَّ النَّبِيَّ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ اضْمَنُوا لِي سِتًّا مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَضْمَنْ لَكُمْ الْجَنَّةَ اصْدُقُوا إِذَا حَدَّثْتُمْ وَأَوْفُوا إِذَا وَعَدْتُمْ وَأَدُّوا إِذَا اؤْتُمِنْتُمْ وَاحْفَظُوا فُرُوجَكُمْ وَغُضُّوا أَبْصَارَكُمْ وَكُفُّوا أَيْدِيَكُمْ.(۵۲، ۲۴۱).

نبي كريم (صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم) فرمايلي دي:ماته دخپل طرفه دشپږوکارونوضمانت وکړئ،زه درته دجنت ضمانت کوم،۱-کله چې خبرې کوئ رښتيا ووايا ست،۲-کله چې وعده کوئ وفا پرې کوئ،۳- امانت اداء کوئ،۴- دخپلو فرجونو حفاظت کوئ،۵- خپل نظرونه له حراموشيانو بندوئ۶- دضرر نه خپل لاسونه وساتئ

## ۳- امانت داري:

امانت داري يو لوړ او عزتمند صفت دی چې ديو انسان په ايماني پياوړتيا ديني قوت او بشپړ باور دلالت کوي، الله تعالى امانت ته لوړ مقام ورپه برخه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړی او دایمان له نښو څخه يې ګرځولی دی، په قرانکريم کې الله تعالی دامر په صيغه خپل بنده ګان مخاطب کړي او فرمايي ::( إِنَّ اللَّهَ يَأْمُرُكُمْ أَنْ تُؤَدُّوا الْأَمَانَاتِ إِلَى أَهْلِهَا... ) (النساء58 )

الله تعالی تاسې ته امرکوي چې امانتونه خپل اهل ته وسپارئ.

الله تعالی دمؤمنانو په صفت کې فرمايي:

وَالَّذِينَ هُمْ لِأَمَانَاتِهِمْ وَعَهْدِهِمْ رَاعُونَ (المؤمنون8 )

مومنان هغه خلک دي چې دخپلو امانتونو او دخپلو ژمنو او تړونونو لحاظ ساتي.

رسول الله (صلی الله علیه واله وسلم) امانتداري دايمان له نښو څخه ښودلې ده،لکه چې فرمايي:«لَا إِيمَانَ لِمَنْ لَا أَمَانَةَ لَهُ، وَلَا دِينَ لِمَنْ لَا عَهْدَ لَهُ» (۴۸۱:۵۴ ).

څوک چې دامانتدارۍ لحاظ نه ساتي ايمان يې نشته ، او څوک چې دوعدو پابند نه وي دين نه لري.

رسول الله په داسې حال کې چې په امين سره يې شهرت درلود او له کوچنيوالي څخه په امين پېژندل کېده،بيا هم له الله تعالی څخه دامانتدارۍ ساتلو دعا کوي:

«اللَّهُمَّ إِنِّي أَسْأَلُكَ الصِّحَّةَ، وَالْعِفَّةَ، وَالْأَمَانَةَ، وَحُسْنَ الْخُلُقِ، وَالرِّضَا بِالْقَدَرِ»شعب الايمان للبيهقي،۱ج،۲۱۷ص.

ای ربه له تانه دصحت ،پاک لمنئ،امانت ساتنې،ښواخلاقو، او په قدر باندې دخوښۍ سوال کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په امانت کې خیانت نه یوائې داچې دانسان داخروي ناکامۍ باعث ګرځي بلکې دنیاوي زیانونه هم ورسره ملګري وي لکه په لاندې حدیث کې چې ورته اشاره شوې ده:

عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالِكٍ، قَالَ: «إِذَا كَانَتْ فِي الْبَيْتِ خِيَانَةٌ ذَهَبَتْ مِنْهُ الْبَرَكَةُ»

انس بن مالک (رضي الله تعالی عنه) فرمايي: کله چې په یو کور کې خیانت وي برکت ورڅخه پورته کېږي.

## په اسلام کې دامانت دارۍ ارزښت:

اسلام دنورو اخلاقو ترڅنګ امانتدارۍ ته دزیات ارزښت قایل دی تر دې چې دایمان سره تړلی عمل یې بولي او هغه څوک چې امانت کې خیانت کوي داسلام له دایرې څخه یې خارجوي منافق یې بولي او اسلام ترې خپله بې زاري اعلانوي، په دې اړه درسول الله لاندې وینا موږ ته داسې لارښوونه کوي:

" ثَلَاثٌ مَنْ كُنَّ فِيهِ فَهُوَ مُنَافِقٌ، وَمَنْ كَانَتْ فِيهِ خَصْلَةٌ مِنْهَا فَفِيهِ خَصْلَةٌ مِنَ النِّفَاقِ: إِذَا حَدَّثَ كَذَبَ، وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ "

درې خویونه چې په چا کې وي هغه منافق دی، او که په چا کې له هغې څخه یو وي په هغه کې یو خوي دمنافق وي ،کله چې خبر کوي درواغ وایي ، اوکله چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



امانتدار وګڼل شي نو خیانت کوي،او کله چې وعده وکړي نو خلاف ورزي کوي.

## دخیانت ناوړه پایلې:

رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) موږ دخیانت له ناوړه پایلو خبروي او فرمایي:

" أوّلُ مَا تَفْقدُونَ منْ دينكُمُ الْأمَانَةُ، وَآخرُهُ الصّلَاةُ قَالَ ثَابتٌ عنْدَ ذَلکَ: قَدْ يَكُونُ الرّجُلُ يَصُومُ وَيُصَلّي، وَإِنِ اؤْتُمنَ عَلَى أَمَانَة لَمْ يُؤَدّهَا (۴۲، ۳۳۷).

ترټولو لومړی چې تاسې یې په خپل دین کې له لاسه ورکوی امانتداري ده،او اخري شی لمونځ دی.ثابت (رضي الله تعالی عنه) په دغه وخت کې وویل: یو سړی به روژه نیسي،لمونځ به هم کوي خو که امانت ورته وسپارل شي هغه به نه اداء کوي.

په همدې توګه رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) موږ ته خبرداری راکوي چې دقیامت دراتلو یو سبب به داوي چې خاین به امین او امین به خاین وګڼل شي، په دې اړه رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) فرمایي:

« وَلَا تَقُومُ السّاعَةُ حَتّى يَظْهَرَ الْفُحْشُ وَالتّفَاحُشُ وَقَطِيعَةُ الرّحِمِ وَسُوءُ الْمُجَاوَرَةِ وَحَتّى يُؤْتَمَنَ الْخَائِنُ وَيُخَوّنَ الْأَمِينُ »(۵۱، ۲۶۴).

قیامت به ترهغې قایم نه شي ترڅو چې بې حیایي خرګنده شوي وي ، یو بل ته فحش ویل پیل شي، خپلولي غوڅه شي، بد همسایګي پیل شي،او ترڅو چې خاین امین او امین خاین وګڼل شي.

## په اسلام کې امانتداري عامه ده:

(c) ketabton.com: The Digital Library



زموږ دعامو مسلمانانو ترمنځ خو امانت داري يو اځې دمادي امانتونو دساتنې څخه عبارت ده، خو بايد هېر نه کړو چې دا مفهوم دامانت دارۍ په برخه تر ټولو اخرنی مفهوم دی دالله تعالی په دين کې امانت داري زيات پراخه مفهوم لري، له منصب او حکومتي چوکۍ څخه نيولی درازونوتر ساتنې رسېږي، مطلب داچې اسلام موږ ته امر کوي حکومتي منصب يو ستر امانت دی بايږ داسې چا ته يې وسپارئ چې داداء کولو توان يې ولري رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) موږ متوجه کړي يو چې امارت او مشري يو امانت او ستر مسئوليت دی، ګورئ که ددغه امانت په صحيح توګه دترسره کولو توان نه لرئ نو دتر لاسه کولو حرص يې مه کوئ، رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) په اړه فرمايي:

(( إِنَّكُمْ سَتَحْرِصُونَ عَلَى الْإِمَارَةِ وَسَتَكُونُ نَدَامَةً يَوْمَ الْقِيَامَةِ فَنِعْمَ الْمُرْضِعَةُ وَبِئْسَتْ الْفَاطِمَةُ ))(۴۰ ، ۵۹ ).

تاسې خو دمشرۍ شوق لرۍ، خو ياد ساتئ چې بيا به دقيامت په ورځ پښېمانه ياست ،نوشېدې رودونکې ډېره ښه ده له شېدو ورکووني نه.

البته که څوک ددغه امانت داداء کولو توان او استعداد لري ورته روا دي چې غوښتنه يې وکړي او بيا يې حق اداء کړي، ابو ذر غفاري (رضي الله تعالی عنه) ته دالله تعالی رسول (صلی الله عليه واله وسلم) په دې اړه داسې فرمايي: عَنْ أَبِي ذَرٍّ قَالَ قُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّهِ أَلَا تَسْتَعْمِلُنِي قَالَ فَضَرَبَ بِيَدِهِ عَلَى مَنْكِبِي ثُمَّ قَالَ يَا أَبَا ذَرٍّ إِنَّكَ ضَعِيفٌ وَإِنَّهَا أَمَانَةٌ وَإِنَّهَا يَوْمَ الْقِيَامَةِ خِزْيٌ وَنَدَامَةٌ إِلَّا مَنْ أَخَذَهَا بِحَقِّهَا وَأَدَّى الَّذِي عَلَيْهِ فِيهَا ))(۳۴۷ ، ۴۳ ).

ابوذر(رضي الله تعالی عنه) روايت کوي چې ما رسول الله(صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) ته وويل: ايا ما په يو ځاي کې نه مقرروې ؟ لاس يې زما په اوږه کېښوده

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې فرمایل :(( ابوذره ته کمزوری یې او دا یو امانت دی،دقیامت په ورځ شرمندګي او ندامت دی، مګر هغه چا ته نه دی چې په حقه واخلي او حق یې اداء کړي.

نو هغه څوک باید یوې عهدې ته اوږې ورته کړي چې دغه امانت په سمه اداءکولای شي، له دې حدیث څخه داهم معلومېږي چې مشر باید یوه عهده هغه چاته وسپاري چې په هغه کې ددغې عهدې داداء کولو استعداد وګوري دیو سړي یواځې تقوا پرهېزګارئ اوښه سړي توب ته ونه ګوري ځکه رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) ته خو دابو ذرتقوا او پرهېز ګاري معلومه وه، ولې یې هغه ته عهده ونه سپارله پو هېده چې ابوذر دغه عهده په سمه توګه نه شي تر سره کولی.

## راز ساتل ستر امانت دی:

کله یو چاته دراز خبره وشي نو په کار داده چې هغه ځان سره وساتي دراز خبره داده کله چې تاته یو څوک له نورو خلکو جلا اوپټ ځاي کې یوه خبره وکړي په دې پوه شه چې دا د راز خبره ده، رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) په دې اړه موږ ته داسې لارښوونه کوي:

((إِذَا حَدّثَ الرّجُلُ بِالْحَدِيث ثُمّ الْتَفَتَ فَهِيَ أَمَانَةٌ))(۴۲، ۹).

کله چې یو سړی بل سره خبرې کوي او بیاهغه اخوا دېخوا وګوري نو دې دې په دې پوه شي چې دا دامانت خبره ده.

البته دهغو مجالسو راز ساتل په کار دي چې داسلامي احکامو سره په ټکر کې نه وي،رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) په دې اړه موږ ته داسې لارښوونه کوي:

((الْمَجَالِسُ بِالْأَمَانَةِ إِلّا ثَلَاثَةَ مَجَالِسَ سَفْكُ دَمٍ حَرَامٍ أَوْ فَرْجٌ حَرَامٌ أَوْ اقْتِطَاعُ مَالٍ بِغَيْرِ حَقٍّ))۴۲:۱۰)

(c) ketabton.com: The Digital Library



دتڼولو مجالسو رازونه امانت دي،مګردريو مجالسو رازونه امانت نه دي،۱- هغه مجلس چې په کې دحراموونو تويلودسيسه جوړېږي،۲- يا پکې دزناپروګرام برابريږي،۳-او يا پکې پردي مال دلوټلوتوطيه مطرح کېږي.
دمېړه او ښځې ترمنځ خپل منځي روابط داسلام له نظره داحترام وړ دي،نو دمېړه او ښځې ترمنځ ازدواجي رازونه بايد له نورو خلکو پټ وساتل شي تر دې چې خپلو نږدې خپلوانو او دوستانو ته هم بيان نه شي، دغه عمل له يوې خوا بې حيايي ده او له بلې خوا ستر خيانت او جنايت دی،رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) په دې اړه داسې لارښوونه کوي:(( إِنّ أَعْظَمَ الْأَمَانَة عِنْدَ اللّه يَوْمَ الْقِيَامَة الرّجُلُ يُفْضِي إِلی امْرَأَتِه وَتُفْضِي إِلَيْهِ ثُمّ يَنْشُرُ سِرّهَا ) )(۴۲،۱۱).
دقيامت په ورځ به په امانت کې (ترټولو سترخيانت)دا وي چې يو سړی خپلې مېرمنې ته نږدې شي، او ښځه خپل خاوندته او بيا دهغې راز خلکوته ښکاره کوي.

ترټولو لوی خيانت:

ترټولو لوی او ستر خيانت خو دادی چې يو څوک په چا ښه باور لري او هغه امين ګڼي او هغه ورته درواغ وايي،په دې اړه رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) داسې فرمايي: ((كَبُرَتْ خِيَانَةً أَنْ تُحَدّثَ أَخَاكَ حَدِيثًا هُوَ لَكَ بِهِ مُصَدّقٌ وَأَنْتَ لَهُ بِهِ كَاذِبٌ ) )(۴۲ ، ۱۴۶ )
لوی خيانت دادی چې ته خپل مسلمان ورور ته داسې خبره کوې چې هغه تا پکې رېښتونی ګڼي او ته ورته درواغ وايي

## ۴- پر وعدو وفا کول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



پر وعده وفا کول د ایمانو داروصفت دی،الله تعالی له مؤمنانو څخه غواړي چې په خپلو وعدو بانديٍ وفا وکړي او فرمايلي دي : وَأَوْفُوا بِالْعَهْدِ إِنَّ الْعَهْدَ كَانَ مَسْئُولًا (الإسراء۳۴)

د ژمنیگ پابنداوسئ ، دا یقیني ده چیگ د ژمنیگ په باب به تاسیگ پوشگتیگدوني یاست.

یعنې لکه چې مسلمان پرسوګند باندې پر وفا کولو مکلف دی دغسې په وعده باندې وفاکول هم له مسلمان مطلوب عمل دی
البته باید په یاد ولروچې پر هغه وعده او قسم باندې وفا کول په کار دي چې دخېر کاروي او داسلامي احکامو سره په ټکر کې نه وي رسول الله (صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) په دې اړه موږ ته داسې لارښوونه کوي:
(( مَنْ حَلَفَ بِيَمِينٍ فَرَأَى غَيْرَهَا خَيْرًا مِنْهَا فَلْيُكَفِّرْ عَنْ يَمِينِهِ وَلْيَفْعَلْ الَّذِي هُوَ خَيْرٌ ) ).(۵۰، ۴۰۵).
چاچې پر یو شي سوګند یاد کړ وې لیدل چې یو بل کار له دې غوره دی نو د قسم کفاره دې ورکړي او هماغه کار دې وکړي چې غوره وي.
په بل مورد کې په دې اړه داسې فرمايي: وَاللَّهِ لَأَنْ يَلِجَّ أَحَدُكُمْ بِيَمِينِهِ فِي أَهْلِهِ آثَمُ لَهُ عِنْدَ اللَّهِ مِنْ أَنْ يُعْطِيَ كَفَّارَتَهُ الَّتِي افْتَرَضَ اللَّهُ عَلَيْهِ ) ).صحيح البخاري،۲۰ج،۳۰۵ص.
دالله تعالی په ذات مې دې سوګند وي،که ستاسې یو تن دخپل ټبر په اړه پر یو قسم وفا وکړي (چې نه به ورځي)او بیا ورنشي ، ډېر ګنهګار دی نسبت هغه چا ته چې (د قسم دماتولو په وجه ) (ښځې ته ورشي )فرض شوی کفاره اداء کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



له ذکر شوو احادیثو څخه په ډاګه څرګندېږي چې له نېکواو غوره مواردو پرته هیڅ عهداو پیمان ملزم نه دی، البته که یو شخص په نېکو مواردو کې چا سره وعده وکړي باید چې وفا پرې وکړی،اوکه یې ونه کړي دالله تعالی په نزد ګنهګار ګڼل کېږي،دغسې شخص څخه اسلام خپله بېزاري اعلانوي او دمنافقانو په زمره کې حسابوي، رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) په دې هکله داسې فرمايي : " آيَةُ الْمُنَافِقِ ثَلَاثٌ إِذَا حَدّثَ كَذَبَ وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ وَإِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ "صحيح البخاري،۱ج،۵۸ص.

دمنافق درې نښې دي،۱- کله چې خبرې کوي نو درواغ وايي ،۲- کله چې وعده وکړي نوخلاف ورزي کوي ۳- اوکله چې امين وګڼل شي نو خيانت کوي

په لږ څه زيادت سره بل حديث کې داسې راغلي دي:

" ثَلَاثٌ مَنْ كُنّ فِيهِ فَهُوَ مُنَافِقٌ، وَإِنْ صَامَ وَصَلّى، وَقَالَ إِنّي مُسْلِمٌ: الّذي إِذَا اؤْتُمِنَ خَانَ، وَإِذَا حَدّثَ كَذَبَ، وَإِذَا وَعَدَ أَخْلَفَ ) ) (۴۲، ۱۹۲).

درې کارونه چې په چا کې وي هغه منافق دی،که څه هم روژه نيسي، لمونځ کوي اوځان مسلمان ګڼي ، هغه څوک کله چې امين وګڼل شي نو خيانت کوي ، کله چې خبرې کوي نو درواغ وايي،چې کله چې وعده وکړي نوخلاف ورزي کوي.

رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْه وَسَلّم) دامر په صيغه موږ ته لارښوونه کوي:

((اضْمَنُوا لِي سِتًّا مِنْ أَنْفُسِكُمْ أَضْمَنْ لَكُمْ الْجَنّةَ اصْدُقُوا إِذَا حَدّثْتُمْ وَأَوْفُوا إِذَا وَعَدْتُمْ وَأَدّوا إِذَا اؤْتُمِنْتُمْ وَاحْفَظُوا فُرُوجَكُمْ وَغُضّوا أَبْصَارَكُمْ وَكُفّوا أَيْدِيَكُمْ ) ).(۵۲، ۲۴۱ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته دخپل طرفه دشپږو کارونوضمانت وکړئ،زه درته دجنت ضمانت کوم،۱- کله چې خبرې کوئ رښتیا وو ایاست،۲-کله چې وعده کوئ وفا پرې وکړئ، ۳- امانت اداء کړئ،۴- دخپلو فرجونو حفاظت وکړئ،۵- خپل نظرونه له حراموشیانو بند کړئ۶- اونوروته له ضرر رسولو خپل لاسونه وساتئ

## ۵- تقوا:

د ډېرو اهمو ښو اخلاقو له جملې څخه تقوا ده، چې مهم مسایل یې په لاندې ډول ذکر کېږي:

### د تقوی لغوي تعریف:

تقوی په لغت کې خپل نفس له داسې ضرر رسونکو شیانو څخه ژغورلو ته وایې چې ورڅخه وېره احساسوي چې په دې اساس تقوی وېره او وېره تقوی بلل کېږي (۵۳۰:۸ ).

### د تقوی اصطلاحي تعریف:

امام راغب اصفهاني د تقوی اصطلاحي تعریف داسې ذکر کړی دی: (د خپل هوس د لمنځه وړلو په وسیله د الله تعالی له قهر څخه ځان ساتلو ته تقوا وایې. )(۷۰:۹ ).

د پورتني تعریف په اساس متقي هغه چا ته وایې، چې د الله تعالی له وېرې د هغه له اوامرو سرغړونه نه کوي (۲۰۸:۱۲ ).

### د تقوی ارزښت:

په ګڼو قرآني آیتونو او نبوي احادیثو کې د هر مسلمان څخه په ټینګه غوښتنه شوې ده چې باید د تقوی په لباس پوښل شوی اودهر مسلمان لپاره ډېر اهم صفت بولي. مونږ دلته د ذکر شوو نصوصو څخه ځینې د بېلګې په توګه په لاندې ډول ذکر کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- الله تعالی فرمایلي دي: ( ③◆🕔✵🕯❑⑨🙤&❑🙠
✁🙠✎⅄🔔🙬⇦✖◆ ➚◆✁✌◆✡⇖❑✁☎
✁🙠✍✸☽→❑✁☎ ✁🙠✎⅄ ◯⌧📪❑
✍→☽⬧🙠✍🙬◯🙬... ) (۱:د آل عمران سورت، آیت۱۰۲).

ژباړه: ای مومنانو ! د الله څخه په حقي ویرې سره وویریږئ.

الله تعالی فرمایلي دي:(...❑◆🙤⬧☽⬧⑨⇳ ❑◆🕒◯⑩⬂☪◆🙠
✁🙠✎⅄🔔🙬⇦✖◆ 🕮⬆❑✍→❑✁☎
✁🙠🙤⬂▤🖘☝◆🕔⬛✸ ✌🙬♊ 🔔⬧⌛⬀⬛🙭⌛→☠⬀
❑◆☽🙭③✸🙠🖅➚☠⬀ 🕮❑♌⬀ ✁🙠✍✸☽→❑✁☎
✁🙠✎⅄..... ⬀⬂⌘⬂⬁ ) (۱: د النساء سورت، آیت۱۳۱).

بیشکه مونږ وصیت کړې ؤ هغوی خلکو ته چې ستاسو څخه وړاندي اسماني کتاب ورکړل شوی ؤ او تاسو ته هم وصیت کوو چې د الله تعالی څخه وویریږئ.

۲- الله تعالی مهرباني کړېده:(③◆🕔✵🕯❑⑨🙤&❑🙠
✁🙠✎⅄🔔🙬⇦✖◆ ➚◆✁✌◆☪⇖❑✁☎
✁🙠✍✸☽→❑✁☎ ✁🙠✎⅄ ❑◆🔔→❑🙤➚❑✁☎
🔔⬧❑⬀⬧☪🙥⌧⑨🙬③⑨✡✁ ⬀⬃🙬⬁ )(۱: د الاحزاب سورت، آیت۷۰).

ای مؤمنانو ! د الله څخه وویریږي او سمه وینا کوئ.

۳- رسول الله صلی الله علیه وسلم د خپل اخرني حج (حجة الوداع) په خطبه کې مسلمانانو ته د خپلې خطبې په یوې برخې کې داسې وفرمایل: (اوصیکم بتقوی الله) (۴۷:۱۳).

زه تاسې ته د الله تعالی څخه د وېرېدلو وصیت کوم.

۴- کله چې نبي صلی الله علیه وسلم معاذ رضي الله عنه یمن ته لېږه دارنګه نصیحت یې ورته وکړ:(اتق الله حیثما کنت )(۴۷:۱۳).

د الله تعالی څخه په هر ځای او هر حالت کې وویریږه.

د تقوا ګټې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تقوا په لامل مسلمانانو ته بې شمېره دنيوي او اخروي ګټې حاصلېږي چې ځينو ته يې په لاندې ډول ځغلنده نظر اچوو:

۱- الله تعالی د متقيانو د رزق د پراخيدلو او د هغوی څخه د ستونزو د لری کولو ذمه واري کړې ده چې په دې اړه يې داسې ويلي دي:

(❒◆✌◆③ ♊✱✌♦③ ✱☝♦✎ ⇮ ✂☞✍⅄ ⑥♦♑⬂➔◻✍ ✍✍⅄ ↖🕮↖🕛

✌☒③⇘❷♦♊☯♁ ✐✖✐ ❒◆③♦❷⬀ℛ↖♁⇘○➔ ✌♉♊⇳

○◻❶⇘✵➔ •• ⑥♦♦⇘☞♦○⇘🖬➲ ... ✐✖✐ ) (۱: د الطلاق سورت، آيت ۲-۳).

او څوک چې د الله تعالی څخه وډار شي نو له هرې ستونزې څخه به ورته د وتلو لاره برابره کړي او له داسې ځايه به ورته روزي ورکړي چې د ده په ګومان کې به نه وي.

۲- د تقوی په وسيله الله تعالی د مسلمان عملونه سموي او ګناهونه يې بخښي په دې هکله الله تعالی داسې فرمايلي دي : (③♦🕛✵🕯◻⑨☙& ◻☞✍

✂✍☞⅄♁✐⇦✖♦ ↗◆✂✌♦☪↖◻✂☎

✂☞✍✍✵☽➔◻✂☎ ✂✍☞✍⅄ ◻◆♁➔◻◉ↄ↗◻✂☎

♁♦◻⬀♦☪ ☊⑨◻✐⑨③⑨✡✂ ✍☞✐☸ ③↖🕛⇔🖬✐☒⇳

◉ↄ♦≣↗☠⬀ 🕮◻↖⇳☺◻🕛🖬■≣↗✉⬀ ◻◆③♦⇔⇘⊞✐❷⬀

◉ↄ♦≣↗☠⬀ ❶➔☼➔◻✉♦≣↗☠⬀

(۱: د الاحزاب سورت، آيت ۷۰-۷۱).

ای مؤمنانو ! تاسې د الله تعالی څخه وويرېږئ او سمه خبره کوئ. الله تعالی به ستاسې عملونه ښه کړي او ستاسې ګناهونه به معاف کړي.

۳- د تقوا خاوندانو سره الله تعالی مينه او محبت لري. په دې اړه الله تعالی فرمايلي دي:(☽✐♌◻ ✂☞✍⅄ ⑥↗♦✐🖬❹

✂☞✍ↄ◉⇘☺➔☝✵☽☞✓✖♦ ✐✍✐ ). (۱: د التوبه سورت، آيت ۴).

الله تعالی متقيان خوښوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- په مسلمانانو کې تر ټولو عزتمند مسلمان هغه مسلمان ګڼل شوې، چې تر ټولو زیات د تقوی خاوند وي. په دې هکله قرآنکریم کې الله تعالی داسې هدایت کړی دی:(♌♑◑ 🕮❒🗎⇩❷♦✍♦▤➚✉⬀ ⬁◕✡♑⓽⍓ ✂✍✒★🕮❒✍⬂◑•⍟♑▤➚☠⬀ ).(۱: د الحجرات سورت، آیت۱۳ ).

ای مسلمانانو په تاسې کې ډېر غوره د الله تعالی په وړاندې هغه څوک دي چې تر ټولو زیاته تقوا لري.

۵- که د يوې ټولنې وګړو کې تقوا موجوده وه د ټولو دنیوي ښېګڼو څخه په بشپړه توګه برخمن ګرځي په دې هکله الله تعالی داسې فرمايي:(❒♦•♑⍟◆❒⬀ 🕮❒♌❒ 🕮❒⚖⬀✍• ✂✍♑⍟⬂◑→❷♦❽✂ ➚◆✂✍✂♦☪☾⬉❒✂☎ ❒◆✂✍✍❒◑•❒⬀✂☎ ♑⍟•⊞☒✌♦•⬄☾◆✍ ⬉♦▣■❸⬀✍✍☠ ✉◆❷♦✍✉☼💣▬ ✍♓♊♑⌘ ✂✍⍟○○☺⍓✍✒➚♑ ❒◆✂✍✍❀☞❻⬀∀⮊ ).(۱:دالاعراف سورت، آیت۹۶ ).

که چېرې د کليو اوسېدونکو ايمان راوړی وای او د تقوی خاوندان ګرځېدلي وای نو هرو مرو به مونږ دوی ته د اسمانونو او ځمکې د برکتونو دروازې پرانستي وای.

۶- په اسلامـي شریعت کې د تقوی د ډېر زیات اهمیت له امله دی چې نبي علیه السلام سره له دې چې د متقیانو امام دی وقتاً فوقتاً د الله تعالی څخه د ځان لپاره د تقوی سوال کوي او فرمايي: (اللهم ات نفسي تقواها ) (۳۱:۷۳ ).

ای الله تعالی ! ماته تقوی را په برخه کړې.

په بل حدیث شریف کې نبي علیه السلام د تقوی سوال په دې الفاظو سره کوي.

## (اللهم انی اسألک الهدی والتقی والعفاف والغنی) (۳۱:۷۳ ).

ای الله تعالی !ما ته هدایت، تقوی، پاک لمني او مړښت را په برخه کړې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- دا چې د تقوی موجودیت د هر مسلمان لپاره بې اندازې زیات ضرور دی رسول الله صلی الله علیه وسلم به صحابو کرامو ته د تقوی د حاصلولو امر کاوه د بېلګې په توګه ابوذر رضي الله عنه وايې، چې: نبي علیه السلام ما ته مهرباني وکړله: (اتق الله حیثما کنت) (۷۳:۳۱).

ژباړه: چېرته چې اوسې د الله تعالی څخه وویرېږه.

همدارنګه یو صحابي نبي علیه السلام ته عرض وکړ، چې یا رسول الله زه سفر ته روان یم ما ته نصیحت وکړه، نبي علیه السلام ورته وفرمایل: (علیک بتقوی الله والتکبیر علی کل شرف)(۲۷:۱۳).

ژباړه: تقوی ځان باندې لازمې کړه او د سفر په لاره کې چې هر لوړ ځای باندې پورته کېږې الله اکبر وایه.

کله چې نبي علیه السلام عباده بن صامت رضي الله عنه د عشر او زکات ټولو لپاره لېږه نو داسې نصیحت یې ورته وکړ (یا آبا الولید اتق الله) (۵۲۳:۲۸).

ای ابو لیده ! د الله تعالی څخه وویرېږه.

## صحابو کرامو د تقوی ځېنې بېلګې:

د رسول الله صلی الله علیه وسلم صحابه کرام د تقوی په لباس پوښل شوي وو د هغوی ټول ژوند تقوا تقوا ؤ، چې د هغوی د تقوا ځېنې بېلګې په لاندې ډول ذکر کوو: (۷۴:۳۴).

عمر رضی الله عنه به د الله تعالی له وېرې به یو خس له ځمکې پورته کړاو ویل به یې کاشکې زه دا خس وای کاشکې زه پیدا شوی نه وای.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يوه ورځ ابو عبيدة بن الجراح رضي الله عنه يو پسه ګوري او وايې چې کاشکې زه دا پسه واى، چې د الله تعالى حساب و کتاب راسره نه کېدلى.
ابو هريره رضى الله عنه د مرګ په مرض کې ژاړي صحابه کرام ورځخه پوښتنه کوي ولى ژاړې؟ هغه په ځواب کې وايې:
(ابکي لقلة زادى و بعد سفرى).
ژباړه: ځکه ژاړم چې سفر مې اوږد او توښه مې لږه ده.

## ۲- حياء

### د حياءتعريف:

حياء په لغت کې ژوند کولو ته ويل کېږي او په اصطلاح کې (د ملامتيا له وېرې ديو شي ځخه ځان ساتلو او د نوموړي شي پرېښودلو ته حياء وايې (۱۷۳:۲۳)
پدې اساس که چېرې څوک يو کار پدې خاطر سرته نه رسوي چې الله تعالى ته ملامت نشي يا خلکو ته ملامت نشي حياء ګڼل کېږي.
حياء دهغو ښو اخلاقو له جملې ځخه ده چې اسلام پرې مسلمانان مکلف کړي دي او دمسلمان له ځانګړتياؤ ځخه حسابېږي ، خو متاسفانه نن سبا په ډېرو لږو مسلمانانو کې موندل کېږي دحياء ځانګړتيا داه چې انسانان د بي لارى ځخه خوندي ساتي او دبدى لورې ته يې نه پرېږدي، په ځانګړې توګه حياء دښځو لپاره لويه سرمايه ده د ښځو وقار او عزت حياء کې ده ،حياء ښځه د بداخلاقه خلکو له مزاحمت ځخه ژغوري کومه ښځه چې دحياء ځخه بې برخې وي دښځينه حيوان په څېرځان دنارينه حيواناتو مخې ته ويني چې هرې خواته يې ځغلوي په اوسني وخت کې چې مسلمانان دکومو ستونزو سره لاس او

(c) ketabton.com: The Digital Library



ګريوان دي ډير يې په مسلمانانو کې دحياء له نشتوالي سرچينه اخلي(۱۷۳:۲۳ ).

## دحياء او بې زړه توب ترمنځ توپير:

ځينې مسلمانان داسې دي چې د حياء او بې زړه توب ترمنځ توپير نشي کولي د بېلګې په توګه په يو چا کې شرعا نيمګړتيا ګوري او ددې قدرت لري چې هغه ورته متوجه کړي خو هغه خپلي نيمګړتيا ته نه متوجي کوي او وايې چې زما ورڅخه حياء راځي داسې کول حياء نده بلکې بې زړه توب دی چې شرعا دبدو اخلاقو څخه ګڼل کېږي همدا وجه ده چې د نړۍ نامتو عالم ابوعمرو ابن صلاح وايي:((که حياء د خير مانع ګرځيدله هغه حياء نده بلکې کمزورتيا ده )) (۲۵:۲۲ ).

ګڼ شمېر نبوي حديثونه موجود دي چې مسلمانانو باندي دا لازمي ګرځوي چې بايد دحياء په لباس پوښل شوي وي  چې ځينو ته يې په لاندې ډول اشاره کوو:

**۱- قَالَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ((لِكُلِّ دِينٍ خُلُقٌ وَخُلُقُ الْإِسْلَامِ الْحَيَاءُ.(۴۹، ۳۸۸ ).**

رسول الله صلى الله عليه وسلم ويلي دي، هر دين ځانګړي اخلاق لري او د اسلام اخلاق حياء ده.

**۲- عن عِمْرَانَ بْنَ حُصَيْنٍ قَالَ قَالَ النَّبِيُّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ ((الْحَيَاءُ لَا يَأْتِي إِلَّا بِخَيْرٍ.(۳۸، ۸۲ ).**

له عمران بن حصين نه روايت دی، نبي صلی الله عليه وسلم فرمايي: حيا بې له ښېګڼو بله پايله نه لري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۳- عَنْ أَنَسٍ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ((مَا كَانَ الْفُحْشُ فِي شَيْءٍ إِلّا شَانَهُ وَمَا كَانَ الْحَيَاءُ فِي شَيْءٍ إِلّا زَانَهُ)).(۴۷، ۲۴۲)**

له انس نه روایت دی، چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي، په هر څه کې چې بې باکې خبرې پیدا شي، هغه بد رنګه کوي او په هر څه کې چې حیا راشي، هغه ښایسته کوي.

۴- عن ابْنُ عُمَرَ ، أن النبي صلی الله علیه وسلم قال:(( إنّ الْحَيَاءَ وَالإِيمَانَ قُرِنَا جَمِيعًا ، فَإِذَا رُفِعَ أَحَدُهُمَا رُفِعَ الآخَرُ.))(۲۵، ۲۱۷).

له ابن عمر نه روایت دی، چې نبي صلی الله علیه وسلم ویلي دي: حیا او ایمان دواړه سره تړلي او غبرګ دي، کله چې یو یې له منځه لاړ شي، بل یې هم له منځه ځي.

**۵- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَسُولُ اللّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ ((الْحَيَاءُ مِنْ الْإِيمَانِ وَالْإِيمَانُ فِي الْجَنّةِ وَالْبَذَاءُ مِنْ الْجَفَاءِ وَالْجَفَاءُ فِي النّارِ)).(۱۳، ۲۹۴).**

له ابي هریره نه روایت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: حیا د ایمان یوه برخه ده او ایمان په جنت کې دی، بد رد ویل له بې دینۍ نه سرچینه اخلي او بې دیني په اور کې ده.

**۶- عَنْ ابْنِ عُمَرَ أَنّ النّبِيّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ إِنّ اللّهَ عَزّ وَجَلّ إِذَا أَرَادَ أَنْ يُهْلِكَ عَبْدًا نَزَعَ مِنْهُ الْحَيَاءَ.... ))(۲۸، ۲۵).**

له ابن عمر نه روایت دی، رسول الله صلی الله علیه وسلم ویلي دي: کله چې الله(ج) وغواړي یو کس هلاک کړي، حیا په کې له منځه وړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



عمر رضي الله عنه فرمايلي دي ( **من قل حياءه قل ورعه ومن قل ورعه مات قلبه** ) (۱۲:۲۲).

د چا چې حياء لږه شي تقوي يې کميږي او د چا چې تقوي کمه شي زړه يې مري.

د عمر رضي الله عنه له پورتني قول څخه دا په ډاګه شوه چې د حياء د نشتوالي په لامل زړه مري کله چې د انسان زړه مړ شي بيا نو د حرامو او حلالو فرق نشي کولای، ښه او بد نه پيژني ښه ورته بد او بد ورته ښه ښکاري بالاخره انسان د انسانيت څخه وځي او د حيوانيت چوکاټ ته داخليږي پدي هکله د نړۍ نامتو عالم دکتور مصطفي سباعي په خپل کتاب ( هکذا علمتني الحياة ) کې داسې ليکلي دي: (کله چې دي زړه ګناه کول وغواړي نو الله تعالی وريادکړه که چېرې د الله تعالی ياد د ذکر شوي ګناه څخه منع نکړې بيا خلک وريادکړه که چېرې د خلکو ياد هم د ذکر شوي ګناه څخه منع نکړ ې بيا پدي پوه شه چې ته د انسانيت څخه وتلی او خر ګرځيدلی يې. ۱۵۲:۳۴).

د رسول الله عليه الصلاة والسلام او صحابو کرامو د حياء ځينې بيلګې:

د رسول الله عليه الصلاة والسلام او صحابو کرامو د حياء ځينې بيلګې په لاندې ډول ذکر کوو:

۱: ابو سعيد خدري رضي الله عنه ويلې دي ( **کان الرسول عليه الصلاة والسلام اشد حياء من العذراء في خدرها** ) (**متفق عليه**).

ژباړه: د رسول الله عليه الصلاة والسلام حياء تر هغې حياناکې پېغلې څخه هم ډيره زياته وه چې د خپل کور په پرده کې ناسته وي(خدر هغه ځانګړي ځای ته ويل کيږي چې پخوانيو عربانو کې به حياناکو پېغلو د خپل کور په يوه کناره برخې کې د ځان لپاره جوړوه او هلته به خلکو څخه خوندي پټه په ډېرې حياء سره کيناستله).

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲: سلمان فارسي رضي الله عنه ويلې دي: (لان اموت ثم احيى ثم اموت ثم احيى ثلاثاً احب من ان انظر الي عورة احد او ينظر احد الى عورتي )(۱۲: ۲۵۸).
که دري ځلې ژوندې او بيرته مړ شم دا مې ډير خوښ دی له دی څخه چې څوک زما عورت ته وګوري يا زه د چا عورت ته وګورم

## ۷- له بدو وېناؤد ژبې ساتنه:

مسلمان بايد خپله ژبه له بدو ، ناوړه او بې فايدې خبرو لکه فحش خبرې، چټيات ويل ،لغوخبرې، غيبت،نمامت،اوداسې نورو څخه وساتي ، ،امام نووي (رح)فرمايي: مسلمان بايد له زياتوخبرو ځان وساتي،مګر هغه خبرې چې مصلحت پکې وي ، که په خبرو کولو اونه کولو دواړو کې مصلحت وي ، نو ښه خبره داده چې له خبرو ځان وساتي،ځکه کله کله مباح خبرې دحرامو او مکروه حالت ته رسېږي، رسول الله (صَلّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) په دې اړه داسې لاښوونه کوي :((مَنْ كَثُرَ كَلامُهُ كَثُرَ سَقَطُهُ ، وَمَنْ كَثُرَ سَقَطُهُ كَثُرَتْ ذُنُوبُهُ ، وَمَنْ كَثُرَتْ ذُنُوبُهُ كَانَت النّارُ أَوْلَى بِهِ ، فَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ)) المعجم الكبير للطبراني،۱۱ج،۲۳۵ص.

دچاچې خبرې زياتې شي غلطئ يې ډېرې شي دچا چې غلطئ زياتې شي ګناهونه يې ډېر شي دچاچې ګناهونه ډېر شي، اور دهغه لپاره ښه مناسب دی،څوک په الله تعالی او دقيامت په ورځ ايمان لري نو يا دې دخېر خبری کوي او يا دې چپ کېني.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په انسانانو باندی د الله تعالی له لویو نعمتونو څخه یوه هم ژبه ده چې ددی پوسیله یې انسانان د نورو مخلوقاتو څخه جلا کړیدي د ژبې په ذریعه انسانان د خپل فکر او احساس څرګندونه کولی شي او دخپل زړه راز برسیره کوي، الله تعالی په قرآنکریم کې ددی ستر نعمت یادونه داسې کړې ده:

(❀◻■■✡ ✂ ✌☜ ☞◯⬤☸❀✂ ⌘Ⅱ🕔◯◆⬜ ⬅◯◻☺❋◆↖) )(۱: د الرحمن سورت، آیت ۳-۴).

الله تعالی انسان پیدا کړ او هغه ته یې د خبرو کولو زده کړه ورکړله.

نو داچې ژبه الهی ستر نعمت دی باید قدرداني یې وشي او د ناشکری څخه یې ځان وژغورل شي یعنی ژبه باید په هغه طریقه وچلېږي چې اسلامي شریعت یې غوښتنه کوي.

هر مسلمان باید خپله ژبه له دوستانو او دښمنانو سره ښه وچلوی چې په دی سره یې د دوستانو سره دوستي لا ټینګېږي او د دښمنانو شیطاني دسیسې بې اثره ګرځي په دی هکله الله تعالی موږ ته داسې لارښوونه کوي:(❐◆➔🔔✍

☎✂❐↗❐→◆③ ⑧⑩◆⌨➔ ❐♌ ← Ⅱ✽◯⇳◯❐📖 ⑥♎ ☹ ✂ ↑◆⑨ॐ◆③ ⌘Ⅱ🕔➲⓿⊙ ✂ ⌘Ⅱ🕔➲⓿⊙ ✂ ❐♌ ☠♒◆☪④◆ ✂☒❐←⑨◆↖ ⌘Ⅱ🕔✽◯ ♍🔔☒ ✌⑩⌨☪④✡ )(۱: د الاسراء سورت، آیت۵۳).

زما بنده ګانو ته ووایه چې په ښه طریقې یو د بل سره خبری وکړئ ځکه چې شیطان غواړي (د خبرو پوسیله ) د دوی ترمنځ بی اتفاقي واچوي بیشکه چې شیطان د انسان ښکاره دښمن دی.

الله تعالی په قرآنکریم کې مسلمانانو ته امر کړې چې د کفارو سره مجادلو او مناقشو کې هم باید د ښو خبرو څخه کار واخلئ ، لکه چې فرمایې: (❐◆•• •✍♎❐📖 ☎✂☑❐↗⑨🕔❐♑↑✌

[illegible] ) (۱: د العنکبوت سورت، آیت ۴۶).

تاسې د اهل کتابو سره په هغه طریقه خبرې او مجادله وکړئ چې ډیره ښه طریقه وي.

په دې اساس ویلی شو چې که ژبه ښه وچلېږي خلکو ته ګټه رسوي خو که په بده روانه شوه د لویو ضررونو سرچینه ګرځي.

دژبې دغوره استعمال په اړه درسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) هدایات په لاندې څو احادیثو کې په غور لولو:

۱- نبی کریم صلی الله علیه و سلم داسې فرمایلي دي (إِنّ الصّدْقَ يَهْدِي إِلَى الْبِرّ وَإِنّ الْبِرّ يَهْدِي إِلَى الْجَنّة وَإِنّ الرّجُلَ لَيَصْدُقُ حَتّى يَكُونَ صِدّيقًا وَإِنّ الْكَذِبَ يَهْدِي إِلَى الْفُجُورِ وَإِنّ الْفُجُورَ يَهْدِي إِلَى النّارِ وَإِنّ الرّجُلَ لَيَكْذِبُ حَتّى يُكْتَبَ عِنْدَ اللّهِ كَذّابًا) (۱۸:۱۳)

رښتیا او حقه خبره سړی نیکیو لوري ته بیایې او نیکي سړی جنت ته داخلوی کله چې سړی رښتیا خبری کوی نو د الله تعالی سره ددی سړی په هکله لیکل کیږي چې دا سړی رښتونې دی او درواغ سړی بدو کارونو ته بیایې او بد کارونه سړی دوزخ ته داخلوی کله چې یو سړی درواغ وایې د الله تعالی سره د نوموړی سړی په اړه لیکل کیږي چې دا سړی درواغجن دی.

یعنې د ژبی ښه او بد استعمال مستقیماً د انسانانو په عملونو اثر پرېباسي هغه په دی معنی چې که ښه استعماله شي خپل خاوند نېک عمله ګرځوي او که بده وچلېږي د خپل خاوند د بدعملۍ لامل ګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلی دي: (مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰه وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلَا يُؤْذِ جَارَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰه وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّٰهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ) (۳۱:۸۰).

څوک چې الله تعالی باندی او د اخرت په ورځ ایمان لري نو د خپل ګاونډي عزت د وکړي او د خپل مېلمه قدر دې وکړي او کله چې خبره کوي ښه خبره د وکړي که نه چپ دې کېني.

۳- قَالَ رَسُولِ اللّٰه صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِهِ وَيَدِهِ وَالْمُهَاجِرُ مَنْ هَجَرَ مَا نَهَى اللّٰهُ عَنْهُ) )(۳۴، ۱۵).

رسول الله فرمايلي دي :((مسلمان هغه څوک دی چې نورمسلمانان يې دژبې او لاس له ضرر څخه په امن وي، او مهاجر هغه دی چې له کوم شي نه الله تعالی منعه کړی وي له هغه نه منعه شي.

۴- قَالَ رَسُولِ اللّٰه صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ يَضْمَنْ لِي مَا بَيْنَ لَحْيَيْهِ وَمَا بَيْنَ رِجْلَيْهِ أَضْمَنْ لَهُ الْجَنَّةَ.(۳۸، ۱۱۵)

رسول الله (صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) فرمايلي دي :څوک چې ماته دژبې او اندام مخصوصه (فرج) دښه استعمال ضمانت وکړي هغه ته زه دجنت ضامن يم.

مسلمان وړاندی له دې چې چا سره کومه خبره وکړي باید له ځان څخه پوښتنه وکړي چې ایا دغه وخت کې ددی خبری ضرورت شته او که نه؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې وروسته له فکر کولو څخه دی نتیجې ته ورسېده چې ددې خبرې کولو ضرورت دی نو خبره د په ښه طریقه وکړی خو که خبرې کولو ته اړتیا نه وه بیا چپه خوله ناسته لوی عبادت دی ځکه چې

عبد الله بن مسعود رضی الله عنه ویلی دي: ( قسم په هغه الله تعالی چې له هغه پرته هېڅوک د عبادت وړتیا نلري چې د ژبی څخه زیات هېڅ شی د زیاتی مودې لپاره د زنداني کېدلو مستحق نه دی ) (۲۳:۱۹).

همدا لامل دی چې ابو بکر رضی الله عنه به ځینې وخت خپلی مبارکې خولی کې کاڼي اچول تر څو په دې ترتیب ځان د بې ځایه خبرو څخه وژغوري. (۱۱۲:۱۲).

لقمان صاحب ویلی دي:

(( الصمت حکمة و قلیل فاعله )) (۲۳:۱۸).

چپتیا حکمت دی خو ددی حکمت لرونکي خلک لږ دی.

سفیان الثوري ویلې دي:

( لان ارمي رجلاً بسهم احب الی من ان ارمیه بلسانی لان رمی اللسان لا یخطی و رمی السهم قد یخطئ ) (۱۱۷:۱۲).

بیشکه که چېرې زه یو تن په غشی وولم دا زما ډیر خوښ دی ددی په نسبت چې په خبرو یې وولم دا ځکه چې ویشتل د خبرو نه خطأ کیږي خو ویشتل د غشو کله کله خطأ کیږي.

ربیع بن خیثم چې د نړۍ نامتو عابد ؤ د ورځې به یې چې څه ویل هغه به یې لیکل بیا به یې د شپې د خپلو لیکل شوو خبرو محاسبه د ځان سره کوله (۲۲:۳۴).

نو دژبی د ډیر زیات اهمیت له امله دی چې کله رسول الله صلی الله علیه و سلم معاذ رضی الله عنه یمن ته لیږه عرض یې وکړو چې ای د الله تعالی رسوله !

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته نصيحت وکړه رسول الله صلى الله عليه و سلم ژبې ته اشاره وکړله چې خپله ژبه ښه استعمال کړه معاذ رضی الله عنه ته ژبی ښه چلول ساده کار معلوم شو بيا يې عرض وکړ چې ای د الله تعالی رسوله ! ماته نصيحت وکړه نو نبی صلى الله عليه و سلم ورته وفرمايل (قَالَ ثَكِلَتْكَ أُمُّكَ يَا مُعَاذُ وَهَلْ يُكِبُّ النَّاسَ عَلَى وُجُوهِهِمْ فِي النَّارِ إِلَّا حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ) (۸۹:۱۴).

ای معاذه ! مور دی درباندې بوره شي (خوش طبيی يې ورسره وکړله) خلک خو دژبو دبد استعمال له امله په دوزخ کې پرمخی دوزخ کې اچول کيږي

## ۷- تواضع :

دهغو صفاتو او اخلاقو له جملې څخه چې مسلمان يې بايد ولري تواضع هم ده، ددې لپاره چې تواضع وپېژنو له فضايلو څخه يې ځان خبر کړو، په ګڼو يې پوه شولاندې موضوعات لولو:

### د تواضع تعريف:

تواضع په لغت کې عاجزی، خاکساری او سادګی ته وايي(۲۲:۹۰۵).

او په اصطلاح کې علماؤ د تواضع تعريف داسې کړی دی:

خلکو سره سلوک کې نرمښت ، د ټنډې پراخوالي، د خپل ځان صفت نه کول او خپل ځان د نورو خلکو څخه غوره نه ګڼل تواضع بلل کيږي )(۲۳:۱۳۷).

### په اسلامي شريعت کې د تواضع مقام:

په ګڼو قرآني ايتونو او نبوي احاديثو کې د هر مسلمان څخه په ټينګه د تواضع غوښتنه شوې ده او دغه غوښتنه په اسلامي شريعت کې دتواضع پر ارزښت

(c) ketabton.com: The Digital Library



مقام او منزلت دلالت کوي مونږ دلته ځېنې داسې قرآني ایتونه او نبوي احادیث ذکر کوو چې مسلمانان په بیلابیلو طریقو تواضع کولو ته هڅوي.

۱- الله تعالی قرآنکریم کې د لقمان صاحب نصیحت خپل زوی ته داسې بیانوي: (❒◆⬧ ✍➔🕔✽➔♓🙰❷⬀ ❀⬧⑨●②🙤
🙜🕲❒☾❒🙵❒⬂ ❒◆⬧⬧ ✍⬧☺⇧🕔⬂ ✗🕲❼
✃🙵❀☞❻⬀⬃⬁ ✌⧫❷⧫❍🕔🙵 ☎ ◗🕲ℌ❒ ✃🙵✎⅄ ⬧⬧
⑥⬈⧫🕲🖪❹ 🖅⬈🙦❒ ⬂➔③⬂☞⧫🙵✌🖫 ▫⬧②⬉❒❻🙜
⬀🕲➾⬁ ) (۱: د لقمان سورت، آیت ۱۸).

او خپل سر چاته مه ټیټوه په ځمکه کې په ناز او تکبر سره مه ګرځه بېشکه الله تعالی هر کبرجن او فخر کوونکی نه خوښوي

۲- الله تعالی په قرآنکریم کې رسول علیه السلام ته داسې حکم کوي: (❒◆✃🙵⌘⬃⊞🕲⮙⇧ ♉⌺☾◆🙵■⌺⌨⌺ 🙜🕲☺⌺♊⬁
✃🙵✍❒⌨◆➔⌺⌺ ✌🕲♊⌘
✃🙵🙜⬂☺←◆⬃✌🕲☾🕲✓▫🙤 ⬀➾🕲➾⬄⬁ )(۱: د الشعراء سورت، آیت ۲۱۵).

او ښکته کړه اوږې خپلې هغه چاته چې متابعت یې کړی ستا د مؤمنانو څخه.

په احادیثو کې رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) خپل امتیان تواضع لوري ته تشویقوي او لامل یې دابیانوی چې تواضع ستاسې په منځ کې دمحبت وسیله ګرځي، برخلاف کبر او لویي ستاسې ترمنځ دبغض او کینو باعث ګرځي ځکه خو رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) خپل امت دې خبرې ته متوجه کوي چې تواضع دالله تعالی امر دی، له دې حکم څخه خلاف ورزي دالله تعالی دقهر او غصې لامل ګرځي

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله (ص( په دې هکله داسې فرمايي: (وَإِنّ اللّهَ أَوْحَى إِلَيّ أَنْ تَوَاضَعُوا حَتّى لَا يَفْخَرَ أَحَدٌ عَلَى أَحَدٍ وَلَا يَبْغِ أَحَدٌ عَلَى أَحَد )(۴۵، ۲۴ ).

بېشګه چې الله تعالی ماته وحی کړې ده چې تاسې تواضع وکړئ يو پر بل باندې ځان لوړ مه ګڼئ او مه يو پر بل تجاوز کوئ.

د تواضع ګټې:

۱- الله تعالی په تواضع سره انسان ته عزت ورکوي:

رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) فرمايلي دي (مَا تَوَاضَعَ أَحَدٌ لِلّهِ إِلّا رَفَعَهُ اللّهُ )(۱۳:۲۲ ).

هر چا چې د الله تعالی د رضا په منظور تواضع اختيار کړی الله تعالی عزتمن کړی دی.

۲- تواضع دانسانانو ترمنځ د محبوبيت سبب ګرځي:

رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) فرمايلي دي :(( إِنّ أَحَبّكُمْ إِلَيّ أَحَاسِنُكُمْ أَخْلاقًا، الْمُوَطّئُونَ أَكْنَافًا، الّذِينَ يَأْلَفُونَ وَيُؤْلَفُونَ.. ) )(۲۱،۸۰ ).

يقيناپه تاسې کې ماته تر ټولو محبوب په تاسې کې د ښو اخلاقو څښتنان دي،تواضع کوونکي وي،دوي خلکو سره محبت کوي،او خلک دوي محبت کوي.

۳- رسول الله (صَ)تواضع کوونکي ته د کاميابۍ زېری ورکوي:

((طُوبَى لِمَنْ تَوَاضَعَ مِنْ غَيْرِ مَنْقَصَةٍ ، وذَلّ فِي نَفْسِهِ مِنْ غَيْرِ

(c) ketabton.com: The Digital Library



مَسْكَنَة. ) ) **۵۹ ، ۴۶۳** ).

کامیابي ده دهغو خلکو لپاره چې تواضع کوي خو نه دذلت تر بریده ،او عاجزي کوي خو نه دحقارت تر بریده.

**۴- تواضع جنت ته دتلو ذریعه ده:**

رسول الله (صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) فرمایلي دي: ((**مَنْ مَاتَ وَهُوَ بَرِيءٌ مِنْ ثَلَاثٍ الْكِبْرِ وَالْغُلُولِ وَالدَّيْنِ دَخَلَ الْجَنَّةَ** ) ).(**۴۸ ، ۸۴** ).

چا ته چې په داسې حالت کې مرګ راشي چې له دریو (کبر،خیانت ، او پور )څخه پاک وي جنت ته به داخل شي.

**د رسول الله صلی الله علیه وسلم د تواضع ځینې بېلګې:**

د نبي صلی الله علیه وسلم د تواضع ځینې بېلګې په لاندې ډول دي:

۱- عائشه رضی الله عنها ویلې دي: (رسول الله صلی الله علیه وسلم خپلې شلیدلې څپلۍ ته خپله پیوند اچوه، خپلې جامې یې په خپله ګنډلې، خپلې جامې یې په خپله مینځلې او خپله میږه به یې لوشله )(**۴۵:۳** ).

۲-ابو سعید (رضی الله عنه ) ویلې دي: ( رسول الله صلی الله علیه وسلم به خپل کور کې خپلو څارویو ته وابنه اچول، اوښان به یې تړل، میږه به یې لوشله خپل خادم سره یې یوځاي خواړه خوړل، کله به یې چې خادم ستړی ؤ اوړه به یې کول، د بازار څخه به یې سودا اخستله هغه به یې لاس کې وه او یا به یې څادر پورې تړلې وه او کور ته به روان ؤ. که کبیر یا صغیر، تور یا سپین، ازاد یا غلام به ورسره مخامخ شو نو ړومبی به رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته سلام اچولو )(**۵۶:۲۵** ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالک رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ أَنّهُ مَرّ عَلَى صِبْيَانٍ فَسَلّمَ عَلَيْهِمْ وَقَالَ كَانَ النّبِيُّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَفْعَلُهُ)١٩:٣٨).

انس بن مالک (رضي الله تعالى عنه) روايت كوي چې رسول الله (صلى الله عليه واله وسلم) به كله په كوچنيانو تېرېده نوپر هغوي به يې سلام كاوه.

عن أَنَسُ بْنُ مَالک قَالَ إِنْ كَانَتْ الْأَمَةُ مِنْ إِمَاء أَهْلِ الْمَدِينَة لَتَأْخُذُ بِيَدِ رَسُولِ اللّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فَتَنْطَلِقُ بِهِ حَيْثُ شَاءَتْ))(٣٨، ١٢).

انس بن مالک (رضي الله تعالى عنه) روايت كوي چې كه يوې وينځې به په مدينه منوره كې رسول الله (صلى الله عليه واله وسلم) له لاسه ونيوه كوم ځاي ته به يې چې خوښه هلته به يې بېوه.

## د صحابو كرامو د تواضع ځېنې بېلگې:

د رسول الله صلى الله عليه وسلم د صحابو كرامو د تواضع ځېنې بېلگې په لاندې ډول ذكر كوو:

١- د مروان د خلافت په دوره كې ابوهريره رضى الله عنه د مدينې منورى والي و. يوه ورځ يې د مدينې منورې ښار كې لرگي په شا كړي ؤ خپل كور ته يې وړل، دا چې په دغى ښار كې د خلكو ډېر ازدحام وو او د تيريدلو لاره يې نه درلوده نو خلكو ته يې وويل: (اوسعوا للامير ليمر)(١۴:٢٣۵).

ژباړه: خپل والي ته لاره پريږدئ چې تېر شي.

٢- علي (رضى الله عنه) د خپل خلافت دوره كې يوه ورځ په ښار كې د خپل كور لپاره غوښه واخستله او هغه يې په كځوړه كې واچوله او وړله يې، په دې حال كې يو تن ورته وړاندى شو او ورته يې وويل: چې اى اميرالمؤمنينه ! غوښه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماته راکړه چې زه يې درسره يوسم، هغه ورته وفرمايل:(ابو العيال احق ان يحمل) (۱۴:۲۳۵).

ژباړه: د اولادونو پلار تر نورو خلکو ډېر وړ دی چې خپلو اولادونو ته خپل پيتی پخپله يوسي.

## ۹- صبر:

### د صبر لغوي تعريف:

صبر په لغت کې بنديدو ته وايي(۲۲:۴۱۴).

د صبر اصطلاحي تعريف: علماو د صبر تعريف په بېلابېلو الفاظو کړی دی چې د ټولو معنی يوه ده مونږ دلته دصبر ځېنې تعريفونه په لاندې ډول رانقلوو:

د ضوابط السلوک کتاب کې د صبر تعريف په دې الفاظو سره شوي دي

((خپل فکر، خپلې خبرې او خپل اندامونه د اسلامي شريعت له مخالفت کولو څخه بندول صبر بلل کېږي)) ۳۴:۵۴).

او د منهاج المسلم په کتاب کې د صبر تعريف داسې شويدی:

(( د قرآن کريم او نبوي احاديثو په احکامو ولاړ پاتي کيدلو په لار کې خپل ځان د مرورتيا او ناکراری څخه ساتلو او خپله ژبه د شکايت څخه منع کولو ته صبر وايې.))

د صبر کولو شرعي حکم:

په ګڼو قرآني ايتونو کې او نبوي احاديثو کې مسلمانان صبر کولو ته هڅول شويدي تنها په قرآنکريم کې تقريباً نوي ځايه په بيلا بيلو طريقو د مسلمانانو څخه صبر غوښتل شوی دی چې د ذکر شوو دلايلو پر اساس علماؤ په دی اتفاق کړی دی چې په هر مسلمان صبر کول فرض دي مونږ دلته د صبر د فرضيت ځېنې قراني د لايل په لاندې ډول ذکر کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



١- (❑◆✂☞⏲⇕⊚✍❸←❑▤✂☎☎🗐⦾☒♌❑✂☞✎⅄
✍♦➚◱ ✂☞⊚✆⏲◯⏲⊚✍❸☒⇦▫✂ ⇗♌✍⊗⇦ ) (١: د الانفال سورت، آیت۴۶ ).

تاسې صبر وکړئ بیشکه الله جل جلاله صبر کوونکو سره دی.

٣:(☒☼✵☺◱☞ ⑦✹✖◆❑↖③

✂☞⊚✆⏲◯⏲⊚✍❸←❑♌♦ 📖❑♉⇕❷♦♎➔☠
☞☒⇔♦❷⬀❸☒ ◯♌◯✽☞⊛ ⇗✍⇘⇦ ) (١: د الزمر سورت، آیت۱۰).

بیشکه چې صبر کوونکو ته بې حسابه اجر ورکول کیږي.

## صبرکولو ته د انسانانو اړتیا:

دا چې اسلامي شریعت په هر مسلمان فرض کړي دی چې صبر کوونکي اوسي ګڼ علتونه لري چې ځینو ته یې په لاندې ډول ځغلنده اشاره کوو:

١: دنیا د ابتلا او امتحان ځای دی، هر انسان په خپل ژوندکې ضرور غمجنوونکي حالت سره مخامخ کیږي چې په دغسې حالاتو کې دغه تن ته پرته د صبر کولو بله لاره نشته ځکه ټول کارونه د الله تعالی په اراده کې دی انسان نه شي کولی چې د الله تعالی ارادی ته تغیر ورکړي او کار په هغه طریقه سرته ورسوي چې زړه یې غواړي (۵۵:۳۴ ).

دې موضوع ته رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) داسې اشاره کوي:

: (عبدي انت ترید و انا ارید و لا یکون الا ما ارید فاذا رضیت عما ارید کفیتک ما ترید و ان لم ترض بما ارید اتعبتک فیما ترید و لایکون الا ما ارید )(۵۵:۳۴ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



زما بنده ته هم د يوه کار سرته رسيدل غواړې او زه يې هم غواړم خو کار به حتماً په هغه طريقه سرته رسيږي چې زه يې غواړم که چېرې ته راضي شوي د کار په هغه طريقه چې ما سرته ورسولو نو په ذکر شوي کارکې به ستا غوښتنه هم پوره کړم خو که چېرې ته پرې راضي نه شوي نو تا به نوموړي کار کې ستړي ستومانه کړم او کار به په هغه بڼه سر ته رسېدلې وي چې ما غوښتی وي.

۲-د مسلمانانو دا عقيده ده چې د الله تعالی ټولې پريکړې په عدالت ولاړې دي.انساني عقل نيمګړی دی آن تر دي چې په خپل خير او شر نه پوهيږي.يو کار په خپله ګټه ګڼي خو هغې کې به ورته شر وي او کله يو کار ورته شر ښکاري خو هغې کې به ورته ګټه وي نو که چېرې په ژوند کې د غم او خفګان سره مخامخ کيږي بايد صبر وکړي ممکن په همدې تکليف او کړاو کې الله تعالی ورته خير اېښی وي (۱۹۶:۱۴).

۳- کله چې يو مسلمان باندي خفه کوونکې حالت راشي نو که چېرې د صبر او استقامت څخه کار واخلي دا سړی به په خپل دنياوي ژوند کې ځکه بريالی وي چې بد حوادث ددی په تګ لارې کې لوی خنډ نه شي ،ولی که چېرې دا سړی د بدو حوادثو په مقابل کې مقاومت ونه کړي اود صبر څخه کار وانه خلې ځکه به ناکام وي چې د ژوند کړاوونه به حتماً دا شخص خپل هدف ته د رسيدلو څخه منع کوي د لالهاندۍ او سرګردانۍ په سمندر کې به يې لاهو کړي وي.

## د صبر ډولونه:

صبر عموما په درې ډوله دی

۱- دالله تعالی په اطاعت باندې صبر کول.

۲-له ګناهونو څخه صبر کول.

۳- پرمصيبتونواوکړاوونوصبرکول.

## ۱- د الله تعالی په اطاعت صبر کول:

(c) ketabton.com: The Digital Library



ډېرو شرعي نصوصو کې مسلمانانو باندي ټينګار شويدی چې د الله تعالی په اطاعت صبر وکړي الله تعالی فرمايي:

(...▫⬧▫⬧⬧↖⇳⌨⬅⑨⇳■⬅ ❐◆✂⬧⏲⇳➲⬧⏲⬧✍❸⬀

⏲⬧⬧➔⬧⌛⧫◷⑨⊡✍⬧❍⬧◴ ... ⬀⬧⬧⬧⎄ )(١: د مريم سورت، آيت ٦٥).

پس د الله تعالی عبادت وکړه او په عبادت کې د صبر څخه کار واخله.

د الله تعالی په عبادت باندي د صبر کولو له ګټو څخه يوه ګټه داده چې ذکر شوي عبادت سره دمسلمان مينه او محبت زياتيږي نوموړي عبادت ورته اسانيږي او زيات لذت ورڅخه اخلي همدا وجه ده چې کله د عمررضي الله عنه څخه پوښتنه کيږي چې په عباداتو کې ستا کوم عبادت ډير خوښ دی؟ هغه ورته ځواب ورکوي چې (ضرب بالسيف و صوم بالصيف )(٣۴:٥٥ ).

په توره ګوزار اوپه اوړي کې روژه.

مطلب داچې داسې حالت مې خوښ دی چې توره مې په لاس اوپه جهاد کې پرکافرانو ګزارونه کوم اوبل مې داخوښيږي چې په اوړي کې روژه اوسم.دالله تعالی اوامر منل او په خپل ژوند کې دالله تعالی احکام پلي کول له انسان څخه زيات صبر غواړي چې دغه صبر په دوه ډوله دی

## ١- بدني صبر:

دالله تعالی داوامرو پرځاي کول کله کله پر بدن مشقتونه او تکاليف راولي،ځکه ځيني عبادات لکه لمونځ ، روژه ،حج ،جهاد فی سبيل الله ،اوداسې نور پر بدن اداء کيږی اوله انسان څخه زيات صبر غواړي.

## ٢- نفساني صبر:

دطبيعيت او نفسي غوښتنو په وړاندې صبر کول دي، چې دصبر په دې ډول کې دانسان زيات شمېر خصلتونه شامليږي چې دغوره اخلاقو بېلګې ګڼل کيږي مثلا:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱-که صبر دفرج او خېټې له غوښتنو څخه وي دې ته عفت ويل کېږي.
۲-که دجنګ په مېدان کې څوک صابره وي دې ته شجاعت ويل کېږي.
۳-که دغوسې زغملو په صورت کې صبر وي دې ته حلم ويل کېږي.
۴-که صبردتعصب نه دځان ساتنې په حالت کې وي دې ته سينه پراخي ويل کېږي.
۵-که د چا خبره پټه وساتله شي په دې برخه کې صبر وشي ، دې ته دراز ساتل ويل کېږي.
۶-که له فضولي او بې هدفه چارو اوخبرو څخه ځان وژغورل شي دې ته زهد ويل کېږي.
۷-که دژوند په چارو په خپله برخه صبر وشي دې ته قناعت ويل کېږي.
۸-که دخلکو په لاس کې مالونو اوشتمنيو څخه صبر وشي دې ته استغناء ويل کېږي.
۹-له غټو او وړو ګناهونو څخه که صبر وشي دې ته تقوا ويل کېږي.
۱۰-پر مصيبتونو صبر خو دصبر په نامه شهرت مېندلی دی.
نو له پورته ذکر شووټکو معلومه شوه چې دايمان زيات شمېر اخلاقي معيارونه اومواصفات دصبر په صفت کې داخل دي که څه هم دارتباط له مخې يې نومونه جلا جلا دي.(۲۹:۲۹۹-۲۹۶)

صبر ته دانسان اړتيا:

انسان دژوند په ټولو حالاتو کې صبر ته اړتيا لري،ځکه چې انسان په خپله زندګۍ کې له دوو حالاتو څخه خالي نه دی:
۱-هغه چارې چې دهغه دنفسي غوښتنو موافق دي،يعنې دانسان طبعيت يېغواړي،لکه:صحت،امنيت،مال،منصب اوچوکۍ،دکورنۍ ستروالی،دنيايي عزت، لذتونه اوخوندونه،او داسې نورهغه څه چې دانسان نفس يې غوښتنه کوي،په دغوټولو کې انسان صبر ته اړتيا لري،ترڅو ددغو

(c) ketabton.com: The Digital Library



شیانو په محبت کې ډوب نه شي، دالله او دالله تعالی دبنده ګانو حق په کې اداء کړي، ځکه چې د سهولتونو او شتمنۍ دموجودیت پرمهال له ګناهونو صبر ډېر سخت دی په نسبت سره دفقر او نېستۍ حالت ته ،مثلا ،یو وږي انسان په لوږه باندې د خوراک دنه موجودیت په صورت کې ښه صبر کولای شي، په نسبت سره هغه شخص ته چې کله یو خوندورطعام موجود شي او بیا ورڅخه صبر وکړي،.دعبدالرحمن بن عوف (رضي الله تعالی عنه) وینا ددې خبرې ښه وضاحت کوي:(( ابْتُلِينَا مَعَ رَسُولِ اللّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ بِالضّرّاءِ فَصَبَرْنَا ثُمّ ابْتُلِينَا بِالسّرّاءِ بَعْدَهُ فَلَمْ نَصْبِرْ )).سنن الترمذي، ٩ټوک، ۴ص.

موږ درسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) په ژوند کې په په ضررونو امتحان شو صبر مو وکړ، خو کله چې په په پراختیا سره امتحان شولو نو صبر مو ونشو کړای.

۲- هغه حالات چې دانسان له نفسي غوښتنو مخالف دي پر هغې صبر کول چې دغه حالات په لاندې ډول دي:

الف:طاعات،انسان په دې کې صبر ته زیاته اړتیا لري،ځکه نفس طبیعتا له عبادت څخه تښتي،یا دتنبلۍ له کبله لکه لمونځ نه کول،یا دبخل له کبله وي لکه زکات نه ورکول،یادبخل،تبلۍ او بې زړه توب له امله وي لکه حج او جهاد نه کول.

نو انسان داطاعت په برخه کې په درې حالاتو کې صبر ته اړتیا لري:

۱- له عبادت نه مخکې،چې دنیت تصحیح ،اخلاص او له ریا څخه ځان ساتل دي.

۲- دعبادت پرمهال الله تعالی لوري ته توجه، زړه له دنیاوي فکرونو ،سوچونو څخه فارغول او په دې حالت باندې صبر کول.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- دعبادت نه له فراغت وروسته،دهغې نه ښکاره کول،دغه راز اونیاز الله تعالی سره پټ ساتل ترڅو د ریا او ځان ښودنې په ذریعه باطل ونه ګرځول شی.

**۲: له ګناه څخه په ځان ساتلو صبر کول:**

ځیني ګناهونه داسې دي چې په ډېره اسانۍ ترسره کېږي خو عذاب او وعید یې ډېر لوی دی لکه دژبې ګناهونه ،چې له غیبت ، درواغو ،نمامت ..اوداسې نورو څخه عبارت دي، له دې نه ځان ساتل غټ صبر غواړي،مثلا که یو څوک یوه ښکاره ګناه کوي لکه دورېښمو لباس اغوستل دا به ډېره بده ګڼي خو ټوله ورځ به غیبت کوي دا به بده نه ګڼي نو په دغسې حالاتو کې دژبې ساتنه لوی صبر غواړي.

مسلمان باید دهغو نفسیاتي غوښتنو سره چې ګناه کولو ته یې هڅوي په کلکه مقابله وکړي،البته دا مقابله او صبر کول دانسان اندامونو په ذریعه صورت نیسي چې یا به:

۱- د سترګو په وسیله ترسره کیږي د بېلګې په توګه پردیوښځو ته د کتلو په دې هکله نبی کریم صلی الله علیه وسلم داسې فرمایي: ((: إِنّ النّظْرَةَ سَهْمٌ مِنْ سِهَامِ إِبْلِيسَ مَسْمُومٌ، مَنْ تَرَكَهَا مَخَافَتِي أَبْدَلْتُهُ إِيمَانًا يَجِدُ حَلاوَتَهُ فِي قَلْبِهِ)).(۱۷:۵۸).

پردیو ښځوته کتل د شیطان د غشو څخه په زهرو لړل شوی غشی دی چا چې د الله تعالی د رضا په خاطر پردیو ته کتل پرېښودل الله تعالی به ددې په بدل کې داسې نور ور په برخه کړي چې خوږوالی به یې په خپل زړه کې احساسوي.

۲- صبر د ژبې په وسیله ترسره کیږي هغه داسې چې سړی خپله ژبه په ناروا خبرو استعماله نه کړي لکه څنګه چې معاذرضي الله تعالی عنه د نبی علیه الصلاة و السلام څخه پوښتنه کوي چې ایا د قیامت په ورځ مونږ سره زمونږ د خبرو حساب او کتاب هم کیږي؟ نو نبي صلي الله علیه وسلم داسې ځواب ورکړ

(c) ketabton.com: The Digital Library



: «وَهَلْ يَكُبُّ النّاسَ عَلَى مَنَاخِرِهِمْ فِي النّارِ إِلّا حَصَائِدُ أَلْسِنَتِهِمْ؟» (۵۹: ۲۸۳).

ژباړه: ایا په دوزخ کې پر مخې غورځیدونکي خلک د ژبو څخه د هلاک شوو خلکو څخه پرته نور څوک دي؟

۳- صبر د خوراک او څښاک پوسیله کیږي هغه په دې ترتیب چې مسلمان د حرام خوراک او څښاک څخه ډډه وکړي لکه رسول الله (صلي الله علیه وسلم) چې سعد بن بن ابي وقاص (رضي الله تعالی عنه) ته ددې خبرې په ځواب کې چې یا رسول الله (صَلّی اللهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) ما ته دعا وکړه چې زه مستجاب الدعوات جوړ شم وفرمایل :داسې مهرباني کړې ده: «يَا سَعْدُ أَطِبْ مَطْعَمَكَ تَكُنْ مُسْتَجَابَ الدّعْوَةِ، وَالّذِي نَفْسُ مُحَمّد بِيَدِه، إِنّ الْعَبْدَ لَيَقْذِفُ اللُّقْمَةَ الْحَرَامَ فِي جَوْفِه مَا يُتَقَبّلُ مِنْهُ عَمَلَ أَرْبَعِينَ يَوْمًا، وَأَيُّمَا عَبْدٍ نَبَتَ لَحْمُهُ مِنَ السُّحْتِ وَالرِّبَا فَالنّارُ أَوْلَى بِهِ» (۵۹:۳۱۰).

یا سعده روزي دې پاکه کړه ،(حرام مه خوره) ته به مستجاب الدعوات شې(دعا به دې قبلیږي) پر هغه ذات سوګند چې د محمد ساه د هغه په لاس کې ده که څوک یوه مړۍ حرام خواړه وخوري څلویښت ورځو لپاره یې نېک اعمال نه قبلیږي، هر هغه بنده چې غوښه یې له حرامو او دسود له ګټې جوړه شي اور ددغسې غوښې لپاره ډېر مناسب دی.

ج- صبرکول په داسې مصیبتونو چې دانسان په واک کې نه وي لکه دنږدې خپلوانو او دوستانو مرګ، دمالونو هلاکېدل، دسترګو ړندېدل، رنځوري او داسې نور د صبر له سترو اولوړو درجو څخه ګڼل کېږي، ځکه دغه صبر کلک یقین غواړي، همدې ډول کې هغه صبرهم شامل دی چې دخلکو لخوا په

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسېدونکو ضررونو صبر وشي چې په خولې سره وي يا عمل سره، پر دغو تکاليفو دصبر معنا داده چې انسان د ضرر په مقابل کې له غچ اخستنی صبر وکړي، دغه ډول صبر ته الله تعالی په قرانکريم کې اشاره کړې ده او دهغې اجر او بدله يې هم ذکر کړې ده:

**لَتُبْلَوُنَّ فِي أَمْوَالِكُمْ وَأَنفُسِكُمْ وَلَتَسْمَعُنَّ مِنَ الَّذِينَ أُوتُواْ الْكِتَابَ مِن قَبْلِكُمْ وَمِنَ الَّذِينَ أَشْرَكُواْ أَذًى كَثِيرًا وَإِن تَصْبِرُواْ وَتَتَّقُواْ فَإِنَّ ذَلِكَ مِنْ عَزْمِ الأُمُورِ)العمران ۱۸۶**

ای مسلمانانو تاسې به دمال او سر دواړو په ازموينه کې واچول شئ او تاسې به له اهل کتابو او مشرکانو څخه ډېرې ځورونکې خبرې واورئ که تاسې په دې ټولو حالاتو کې دزغم او له الله تعالی دوېرې په چلن ثابت اوسئ نو دا دسترې حوصلې کار دی

## ۳- پر مصيبتونو باندې صبر کول:

ګڼ شمير شرعي دلايل مسلمان د مصيبت په وخت کې صبر کولو ته هڅوي چې د هغو له جملې څخه د قرآنکريم دا آيت دی (... ❐◆✂︎〰✂︎⌚⇳◉〰✂︎❸⇦ ◆⇖... ⇖◆✍■❼🗐✌︎◆〰✂︎✏︎🕮❐⌚✽〰✂︎✉︎◆⌨︎⌂ .... ⇨⇨✐⇨ ) (۱: د لقمان سورت، آيت۱۷).

ژباړه: کله چې مصيبت در رسيږي صبر پرې کوه.

## د رسول الله صلی الله عليه وسلم د صبر ځينې بيلګې:

رسول عليه الصلاة والسلام ته د اسلامي شريعت د احکامو د خپرولو په موده کې د کفارو له لوري ډېر تکليفونه رسيدلي دي چې ټول يې په بشپړ صبر سره زغملي دي مونږ دلته د رسول عليه الصلاة و السلام د صبر کولو ځينې پيښې د بيلګې په توګه ذکر کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



د حج په موسم کې به چې رسول الله صلی الله علیه و سلم حج ته راغلو خلکو ته د اسلام د منلو دعوت ورکولو نو ابولهب به ورپسې روان ؤ، خلکو ته به یې ویل: محمد بې اندازې زیات دروغجن دی ساحر دی او د خپل مور او پلار دین یې پرېښی دی بیا به یې په تیږو دومره وویشتلو چې د مبارکو پښو څخه به یې وینې څڅیدلې(۱۳:۲۵).

## د صحابو کرامو دصبرځینې بیلګې:

د رسول الله صلی الله علیه و سلم صحابه کرام د اسلام د سپیڅلي دین په لاره کې د بې شمیره کړاوونو سره لاس په ګریوان شویدي چې د ټولو مشقتونو په مقابل کې یې د بشپړ صبر څخه کار اخیستې دې مونږ دلته د رسول الله صلی الله علیه و سلم د صحابو کرامو په استازیتوب د ام سلمة رضي الله تعالی عنها او د هغې د خاوند د صبرځینې بېلګې په لاندې ډول ذکر کوو:

د ام سلمة رضي الله تعالی عنها نوم هنده او کنیه یې ام سلمة ده چې پلار یې د مخزوم قبیلې د مشرانو څخه ؤ البته په ټولو عربو کې د ګوتو په شمیر سخیانو په سر کې یې قرار درلود، تر دې اندازې چې عربود (زادالراکب) یعنې ((د مسافرو توښه)) لقب ورکړای وو، په دې معنې چې کله به مسافر د هغه سیمې ته تلل نو د لارې توښې ته یې اړتیا نه درلودله او د سفر ټول ضروریات به هغه ورته ورکول. د ام سلمه رضي الله تعالی عنها میړه عبدالله بن عبدالاسد د اولنیو لسو تنو له جملې څخه و چې رسول الله صلی الله علیه و سلم باندې یې ایمان راوړی ؤ ښځه او خاوند دواړه د اسلام قبلولو له لمړنیو ورځو څخه د کافرانو د ځورولو هدف وګرځیدل رنګارنګ تکلیفونه یې ولیدل کله چې رسول الله صلی الله علیه و سلم صحابه کرامو ته حبشې ته د هجرت کولو اجازه ورکړه نو ام سلمه او خاوند یې هم په مکه مکرمه کې خپل قیمتي کور، مالونه او نور شته پریښودل او حبشې ته یې هجرت وکړ کله چې حبشې ته خبر ورسید چې په مکه مکرمه کې د مسلمانانو د شمیر د زیاتیدلو له امله مسلمانانو

(c) ketabton.com: The Digital Library



باندي دکافرانو ظلمونه پای ته رسيدلې دي څېنې صحابه کرام مکې ته ستانه شول چې په دوي کې ام سلمه او خاوند يې هم وو ، خو کله چې مکې ته راغلل ورته معلومه شوه چې په مکه کې دپخوا په څېر مسلمانان د کافرانو له خوا ځورول کيږي چې په دي ترتيب ام سلمه او خاوند يې يو ځل بيا د کافرانو د تکليف ورکولو هدف وګرځېدل له اوږدي مودې څخه وروسته کله چې نبي صلی الله عليه و سلم صحابه کرامو ته اجازه وکړله چې مدينې ته هجرت وکړي نو ام سلمة او خاوند يې هم د هغو اولنيو کسانو له جملي څخه ول چې مدينې منورې ته يې د هجرت کولو اراده وکړله،ام سلمه وايې چې کله مونږ مدينې په طرف حرکت وکړ نو زه په اوښ سپره وم او زما په غيږ کې زما ماشوم سلمه هم ؤ خاوند مې د اوښ جلب نيولې روان ؤ له مکې څخه لاوتلي نه وو چې زما د قبيلې يعنې د مخزوم خلکو زما مېړه د هجرت کولو څخه منع کړ او ورته يې ويل: که ته مدينې ته ځې ستا ښځه ام سلمه زمونږ د قبيلې ښځه ده دا راڅخه نه شې وړلی چې په دی ترتيب زما د قبيلې خلکو د خپل مېړه څخه په زوره د خپل ماشوم سره راستنه کړلم کله چې زما د مېړه د قبيلي خلکو دا حال وليد زما د قبيلې خلکو ته يې وويل: چې که ښځه ستا د قبيلې دی ماشوم زمونږ د قبيلې ده ماشوم راڅخه نه شې وړلې ! چې په دي ترتيب زما د ماشوم په سر د دواړو قبيلو تر منځ سوک او څپيړه پيل شوه چې په دي کش و ګير کې زما د ماشوم لاس مات شو ، بالاخره ميړه مې يوازي مدينې ته روان شو زه خپلې قبيلې يوړم او ماشوم مې د مېړه د قبيلې خلکو له ځان سره بوتلو ، تقريباً يو کال نه د مېړه او نه د ماشوم له حاله خبريدم هره ورځ به سهار همدې ځاي ته راتلم، او نوموړي صحنه به مې تر سترګو کيدله او ټوله ورځ به مې ژړل او کله چې به شپه شوه نو بيرته به خپلې قبيلې ته راستنه شوم.

يوه ورځ زما د تره زوي زما په حال زړه وسوځيده زما د قبيلې خلکو ته يې وويل چې تر کومه به دغه مسکينه په دغسې خراب حالت کې وي دي ته اجازه ورکړئ

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مدينې ته د خپل خاوند خواته لاړه شي بالاخره زما قبيلې ماته اجازه راکړه چې مدينې ته لاړه شم خو داکار مې ځکه نه شو کولاې چې د خپل ماشوم له حاله تراوسه خبره نه وم زما د قبيلې ځينو خلکو ډيرې هلې ځلې وکړلې چې د ماشوم په اړه زماد خفګان له امله زما د ميړه د قبيلې خلکو ته قناعت ورکړي چې هغوی زما ماشوم بيرته راکړي بالاخره هغوي زما په حالت زړه وسوځيده او ماشوم يې بيرته ماته وسپارلو زه له دي ويرې چې د مسلمانانو او کافرانو تر منځ بيا څه پيښ نه شي چې ددې په نتيجه کې به مدينې ته زما د هجرت مخه ونيول شي يا به ماته په مکه کې نور هم تکليفونه راکړل شي نو دا تصميم مې ونيولو چې مدينې ته زر تر زره بايد هجرت وکړم اود داسې تن د موندلو په فکر کې شوم چې مدينې ته ورسره هجرت وکړم خو هيڅوک مې پيدا نه کړای شو بالاخره مي خپله اوښه تياره کړه، په اوښه سپره شوم ماشوم مې غيږ کې ونيو او د الله تعالی په هيله د مدينې په طرف روانه شوم د تنعيم سيمې( د مکې څخه پنځه ميله لرې واقع ده ) ته چې ورسيدم عثمان بن طلحه (د کعبې شريفې خادم و چې د کعبې د خونې کنجې ګانې هم ورسره وې) و ليدلم زما څخه يې پوښتنه وکړله چې د (زاد الراکب) لورې چېرته ځې؟ ما ورته وويل: چې مدينې ته ځم ځما څخه يې پوښتنه وکړه چې د لارې ملګری لرې او که نه؟ ما ورته په ځواب کې وويل: چې الله تعالی مې ملګری دی.

هغه وويل: چې قسم په الله تعالی چې حتماً به دي مدينې منورې ته رسوم. زما سره يې حرکت وکړ، قسم په الله چې په عربو کې داسې شريف او عزتمند سړی مانه ؤ ليدلی، کله به چې ددمې وخت راغې زما اوښه به يې ګونډه کړله خپله به لرې لاړه، کله به چې د اوښ څخه ښکته شوم او د يوې ونې سيورې ته به کښيناستم هغه به اوښ ته راغی، د اوښ څخه به يې بار ښکته کړ اوښه به يې وتړله بيا به يې زما څخه ډير لرې دبلې ونې لاندې دمه کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



څو ورځې او شپې په همدې طريقې تېرې شوی تر څو چې مدينې ته نژدی شووکله چې د مدينې منورې د قباء کلی له لرې څخه ښکاره شو ماته يې وويل چې ستا خاوند په هغه کلي کې دی هلته ورشه او خپله بيرته مکې مکرمې ته ستون شو کلي ته د رسيدلو سره سم د ام سلمه رضی الله عنها د خاوند ټول غمونه ختم شول رسول الله صلی الله عليه و سلم او صحابه کرام د هغه په راتګ ډير خوښ شول شپې او ورځې تيريدلې تر څو چې د احد غزوه واقع شوه د احد په غزوه کې د ام سلمه رضی الله عنها خاوند ټپي شو او وروسته له څه وخت څخه وفات شو په مدينه منوره کې ټول مسلمانان د ام سلمه رضی الله عنها د خاوند په وفات ډير زيات خفه شول ځکه چې د ام سلمه رضی الله عنها د صغيرو ماشومانو پرته د ام سلمه رضی الله عنه او د هغه د خاوند هيڅ اقارب په مدينه منوره کې نه اوسيدل په همدې لامل مسلمانانو ام سلمه رضی الله عنها ته د (ايم العرب )يعنې د عربو د کونډې لقب ورکړ.

وروسته له څه وخت رسول الله صلی الله عليه و سلم ورسره نکاح کولولپاره مرکه وليږله هغې عرض وکړ چې زه درې ستونزې لرم، ددې ستونزو په وجه ستا د نکاح وړ نه يم:

لمړی: زه ډېره غيرتي ښځه يم، داسې نه چې ستا په مخ کې زما څخه بې ادبي وشي بالاخره په دنيا او اخرت کې د الله تعالی په غضب اخته شم.

دوهم: زه زړه شوې يم د واده وخت مې تير شوې دی.

دريم:ماته زما د کوچنيو بچېانو سرپرستي را په غاړه ده.

رسول الله صلی الله عليه و سلم ورته مهرباني وکړه چې: د غيرت په هکله د الله تعالی څخه سوال کوم چې په غير مناسبو وختونو کې دا صفت در نه لرې کړي،

دوهم دا چې ته زړه شوې يې زه هم زوړ شوی يم.

دريم : ستا کوچني بچېان زما دي زه يې سرپرستي کوم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هماغه وو چې ام سلمه رضی الله عنه د رسول الله صلی الله علیه و سلم سره د نکاح کولو بلنه قبوله کړه او د نبي کریم صلی الله علیه و سلم کړه شوه چې په دي ترتیب د اسلام په لاره کې د صبر کولو له برکته ام سلمه تنها د سلمه مور نه بلکې د ټولې نړۍ د مسلمانانو مور وګرځیدله (۲:۵۸۸-۵۸۹).

## ۱۰- عفوه او بخښنه:

په انساني ټولنو کې داسې حتما پېښیږي چې یوڅوک په ناحقه چاته ضرر ورسوي او تېر ی پرې وکړي که ځینو تېري کوونکو سره ځینو وختونو کې سخت انتقامي چلن وشي د دواړو لپاره ډیر ناوړه عواقب منځته راوړي خو که د هغه د تېري په مقابل کې دهغه سره د نرم سلوک او د عفوي او بخښني څخه کار واخستل شي د دواړو لپاره ډیر ګټور نتایج تشکېلوی په ځانګړې توګه د تیري کوونکې شخص د اصلاح کېدلو لامل ګرځي او په راتلونکې کې بیا دغسي تیري او تجاوز ته زړه نه ښه کوي همدا لامل دي چې اسلامي شریعت مسلمانان په دغسي حالت کې عفوي او بخښني ته هڅوي، تر څو له دې لارې په انساني ټولنو کې د ډیرو ګډوډیو د پیښیدلو مخه ونیول شي په قرآنکریم کې الله تعالی د جنتیانو د خویونو څخه یو هم عفوه او بخښنه بولي او فرمایې:(...❒◆✂☜☞✏☜☞⌛⊠⌚➔☌☺☌✓✗◆

◆✗✓☌▫☞☜⌂➔☜☞✏✂◆❒ ⊠↑☜⓿◆⇔☜☞✏☜✂
⇱ⅡⅡ◆✂☜☞✏✡❒☜☞❒⇲... ⇳⇴▩✐⇳⇴) (۱: د آل عمران سورت، آیت۱۳۳).

د جنتیانو له خویونو څخه یو دادي چې خپل قهر زغمي او خلکو ته دهغوي د تیري ځواب په ضرر رسولو سره نه ورکوي بلکه عفوه او بخښنه ورته کوي

د قرآنکریم په بل ایت کې الله تعالی مسلمانان په دي الفاظو سره عفوي او بخښني ته هڅوي:(❒◆•• ✍■○⇔✌◆❒⇳❽

➔❒❒✡❁○❒◆☜✏☜✂ ••◆❒
➔❒⌂◎✐♒⑩○○☜☞✂ ⇳➚•▫⬃⑩☜✂

(c) ketabton.com: The Digital Library



←♊✿○⇳○❐🕮 “❻♎♎ ♐✍☹⅄♑◉♋♋♐✉
⌧⌨◆☪⬀❹⧫✉ ❽♎🔔⅄✏♋✂ ✂⧫❶♐⌧⧫▫
∢❐◆❒🕓⌧⑨⧫⬉ 🕛←○◆☪⬀❹⧫✉◆❐
⬖⌘♐⬀ ♐⚐⑩♎☺⌧○ ▭❼♐🖫◆❐ 🕛←○✵☼❐☎⌧✍
⬩⧫♐◑ ✏♋⌧♑♑◉⦿◑■⬛⬉③ ♋⧫✌◆❐
♋⧫✌◆❐ ☎✂❐←❸⌧♑✿🕓 ⧫✗⇦♎🔔⅄✏♋✂
✇♏↑⌧○ ❐➔❶ ⬩⧫♐◑ ✏♋⌧♑🖰⦿◑■⬛⬉③
⬖⌘♐⬀ ⍐⚐⑩♎➔⧫⬉ )(۱: د حم سجده سورت، آیت۳۴-۳۵).

نیکي او بدي سره برابره نده بدي په نیکۍ سره له منځه یوسه، په داسې کولو سره به هغه کس چې ستا سره دښمن دی په خوږ دوست بدل شي داسې چلن هغه څوک کولای شي چې په دنیا او اخرت کې د لوی برخي څښتن وي

## د عفوي او بخښني په اړه نبوي احادیث:

ګڼ شمیر نبوي احادیث مسلمانان عفوې او بخښنې ته هڅوي چې ځینې یې د بېلګې په توګه په لاندې ډول ذکر کوو:

۱ـرسول الله صلی الله علیه وسلم مهرباني کړې ده: (( مَنْ كَظَمَ غَيْظًا وَهُوَ يَسْتَطِيعُ أَنْ يُنَفِّذَهُ دَعَاهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ عَلَى رُءُوسِ الْخَلَائِقِ حَتَّى يُخَيِّرَهُ فِي أَيِّ الْحُورِ شَاءَ )) (۷:۳۱۱).

څوک چې داسې حال کې خپل قهر او غصه وزغمي او بخښنه وکړي چې خپل قهر عملي او تطبیق کولي شي د قیامت په ورځ به الله تعالی د خلکو په مخ کې دغه سړی ته دا اختیار ورکړي چې هره حوره د خوښې د ځان لپاره یې واخله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲ـ جبريل عليه السلام يوه ورځ رسول الله (عليه الصلاة والسلام ) ته راغی او داسې مهرباني يې ورته وکړله:(( صِلْ مَنْ قَطَعَکَ وَأَعْطِ مَنْ حَرَمَکَ وَاعْفُ عَمّنْ ظَلَمَکَ ) )(۵۵، ۲۰۲ ).

(الله تعالی تاته امر کړي )چې څوک تاسره خپلوی قطع کوي ته ورسره خپلوی پاله، څوک چې تا باندي مصرف نه کوي تهورباندي مصرف کوه او څوک چې درباندي ظلم کوي ته ورته عفوه کوه.

## د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابو کرامو د عفوې ځينې بېلګې

د رسول الله صلی الله علیه وسلم او صحابو کرامو د عفوي ځينې بېلګې په لاندې ډول ذکر کوو:

۱ـ عايشه رضي الله تعالی عنها فرمايې: مَا خُيِّرَ النّبِيُّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ بَيْنَ أَمْرَيْنِ إِلا اخْتَارَ أَيْسَرَهُمَا مَا لَمْ يَأْثَمْ فَإِذَا كَانَ الْإِثْمُ كَانَ أَبْعَدَهُمَا مِنْهُ وَاللّهِ مَا انْتَقَمَ لِنَفْسِهِ فِي شَيْءٍ يُؤْتَى إِلَيْهِ قَطُّ حَتّى تُنْتَهَكَ حُرُمَاتُ اللّهِ فَيَنْتَقِمُ لِلّهِ(۴۷:۳۱ )

رسول الله (صلى الله عليه واله وسلم) ته به چې کله هم ددوو شيانو ترمنځ اختيار ورکړل شو هغه به اسان ترې خوښاوه خو چې دګنا کار به نه ؤ ،که دګنا کار به ؤ نو رسول الله (صلى الله عليه واله وسلم) به ترټولو ترې لرې ؤ ، په الله تعالی سوګند چې رسول الله (صلى الله عليه واله وسلم) دخپل ځان لپاره له چا څخه انتقام نه اخېسته ، خو که دحرام شو وشيانو بې احترامي به کېده نو دالله (ج) لپاره به يې انتقام اخېسته.

۲ـ د احد په غزوه کې چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم غابښ شهيد شو نو صحابه کرام پرې ډېر زيات خفه شول ځينو صحابه کرامو رسول الله صلی الله

(c) ketabton.com: The Digital Library



علیه وسلم ته عرض وکړ چې دغه خلکو ته چې په تا باندي یې حمله کړي او ته یې دې حالت ته راوستې یې خبرې وکړه لاکن نبي علیه السلام دوی ته ځواب ورکړ (إِنِّي لَمْ أُبْعَثْ لَعَّانًا وَإِنَّمَا بُعِثْتُ داعیا ورَحْمَةً اللهم اهد قومي فانهم لا یعلمون)(۳۱:۴۷).

ژباړه: زه ددی په خاطر نه یم لیږل شوی چې خلکو ته خبرې وکړم زه ددی لپاره مبعوث شوي یم چې خلک د الله تعالی دین ته راوبلم او د خلکو لپاره رحمت واوسم اي الله تعالی دې زما قوم ته هدایت وکړي دوي نه پوهیږي.

۳. انس رضي الله تعالی عنه وایې: زه د رسول الله صلی الله علیه وسلم سره په لاره روان وم چې ناڅاپه یو اعرابي (د غرو او دښتو اوسیدونکې) مخې ته راغی، د نبي علیه السلام په اوږو باندي نجراني څادر پروت ؤ چې پیڅکې یې ډبلي اوبدلي شوي وي، اعرابي رسول الله صلی الله علیه وسلم له څادره ونیوه او دومره یې په زوره کش کړ چې د رسول الله صلی الله علیه وسلم مبارکه غاړه په څادر و ګریدله بیا یې وویل: اي محمده! د خداي دهغه مال څخه ماته راکړه چې تاسره موجود دی رسول الله صلی الله علیه وسلم ورته وکتل او ویې خندل بیا یې امر وکړ چې مال ورکړی (۱۱:۲۳).

۴. په یو مجلس کې رسول الله صلی الله علیه وسلم او ابو بکر رضي الله عنه تشریف درلود چې ناڅاپه یو تن راغی او ابوبکر ته یې سپکې او سپورې ویل پیل کړل ابو بکر رضي الله عنه چپ ناست ؤ او ځواب یې نه ورکولو نبي علیه السلام په تعجب سره تبسم وکړ کله چې د سړی سپکې سپورې له اندازې زیاتي شوي ابوبکر رضي الله عنه د سړی د ځینو سپکو سپورو د ځواب په ورکولو باندي پیل وکړ په دې وخت کې نبي علیه السلام په قهر شو او له مجلس څخه لاړ ابو بکر رضي الله عنه ورغې او د مجلس د پاڅیدلو د علت پوښتنه یې ور څخه وکړله، نبي علیه السلام و فرمایل: کله چې سړی تاته

(c) ketabton.com: The Digital Library



سپکې سپورې کولې او ته چپ ناست وې دلته يوه ملکه موجوده وه چې ستا څخه يې دفاع کوله او د سپکو سپورو ځواب به يې ورکوه خو کله چې تا هغه سړی ته سپکې سپورې شروع کړې هغه ملکه لاړه او د هغه په ځاي شيطان مجلس ته راغی(۴۵:۳ ).

**۵**.يو ځل عبدالله بن مسعود بازار ته د کور د سودا د اخستلو لپاره لاړو کله چې سودا يې له دوکان څخه واخستله غوښتل يې چې د سودا پيسې دوکاندار ته ورکړي ګوري چې پيسي ورڅخه چا غلا کړې دي په دوکان کې ناستو خلکو چې دا حالت وليده غله ته يې په خيرو کولو پېل وکړ خو ابن مسعود غله ته په دي الفاظو دعاء پېل کړه: ( **اللهم ان كان حمله علي اخذها حاجة فبارک له فيها وان كان حمله علي اخذها جرأةً علي الذنب فاجعله آخر ذنوبه**)(**۸۴:۳۴** ).

ژباړه : اي الله تعالی که چېرې دي غله ددي په خاطر غلا کړې وي چې زما مال ته يې اړتيا درلودله ته زما په غلا شوي مال کې ورته برکت واچوه چې د غله اړتيا پوره کړي خو که چېرې غله زما مال ته اړتيا نه درلودله او ګناه کول يې عادت وي ته دا زما مال غلا کول ورته اخري ګناه وګرځوی او په راتلونکې کې يې د ګناه څخه وساتي

**۶**.عايشي رضی الله عنها مهرباني کړې ده:( يوه ډله يهودان رسول الله ته راغلل د (السلام عليکم ) له عوضه يې رسول الله صلى الله عليه وسلم ته وويل: (السام عليکم ) ژباړه: هلاک شئ

عايشي رضی الله عنها وايې ما ذکر شوي ډلې ته وويل چې ( وعليکم السام واللعنة ) يعني تاسې هلاک شئ او په تاسو دي لعنت وي په دي وخت کې نبي عليه السلام داسې مهرباني وکړله:( **يَا عَائِشَةُ إِنَّ اللّهَ يُحِبُّ الرِّفْقَ فِي**

(c) ketabton.com: The Digital Library



الْأَمْرِ كُلِّه فَقُلْتُ يَا رَسُولَ اللَّه أَوَلَمْ تَسْمَعْ مَا قَالُوا قَالَ رَسُولُ اللَّه صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَدْ قُلْتُ وَعَلَيْكُمْ) (۱۱:۲۱۴).

ژباړه : اي عايشي حوصله کوه يقينا الله تعالى په ټولو کارونو کې نرمي خوښوي، ما ورته وويل چې ايا تا دهغوي خبره وانه وربده وې فرمايل، ،هو ما ځواب ورکړ ، چې وعليکم(پرتاسې دې هم وي)

۷.يو ځل عبد الله بن عباس رضي الله عنه ته يو چا کنځلې وکړلې کله چې کنځل کوونکې له کنځل کولو چپ شولو نو عبدالله بن عباس خپل نوکر ته وويل: چې د دغې کنځل کوونکې څخه پوښتنه وکړه چې:که مرستې کولو ته اړتيا لري چې اړتيا يې پوره کړو کله چې سړى د عبدالله بن عباس هغه سره دا چلن وليده په خپلو کړو ډير زيات پښيمانه شو (۲۲:۲۰).

## ۱۱- سخاوت:

اسلامي شريعت د سخاوت په ستنو ولاړ دى چې د سخاوت نشتوالى او د بخل موجوديت يې لړزوي همدا وجه ده چې مسلمانانو ته په ټينګه توصيه کوي چې د تل لپاره سخاوت څخه کار واخلئ او د بخل هلاک کوونکې مرض څخه ځان وساتي (۲۴:۲۲۱).

### دقراني ايتونو او نبوى احاديثو پ رڼا کې د سخا ارزښت:

ګڼ قرآني آيتونه او نبوي احاديث مسلمانان سخاوت ته هڅوي چې ځينې يې د بيلګې په توګه په لاندې ډول ذکر کوو.

۱- الله تعالى فرمايي: (✂︎♋︎✍︎⅄🕭♑︎⇦▫︎♓︎ ③⬉✡︎⊞♑︎◑→❑♍︎♓︎
🕮❒︎👌︎⬂❑◆🕓︎♐︎⬧︎♑︎←🏳︎ 🖃♐︎♋︎♋︎♐︎⅄⑩⬂✍︎⬀
❒◆✂︎♋︎♐︎☪︎❑♑︎⌂♋︎❻♐︎ ♌︎⬁❷❖✂︎
❒◆⬉◆☒•☼♑︎⑩◆❒☪︎ ▫︎⬧︎🖫■♑︎←🏳︎⬄ 🕮❒♉︎⇳❷⬉♎︎➔☠︎⬀
⬉♑︎✡︎⑨⌂ ❻◆🖃■♐︎♑︎♐︎☠︎⬀ ❒◆⬧︎• ⌘⌂❒⬀❼🢃

(c) ketabton.com: The Digital Library



⬂♦■■⓿⬂♑⬁⊠⚐⬄ ◻◆•• ♎➔☠⬀ ③♦•⬄❽♦☼⬅❑♍☙
⬀⊠⌘⌘⬀ )(۱: د البقرې سورت، آیت۲۷۴).

ژباړه : کوم خلک چې شپه او ورځ پټه او ښکاره د الله تعالی لاره کې خپل مالونه مصرفوي د الله تعالی سره د هغوی اجر دې، هغوی باندې به نه ویره وي او نه به خفه کیږي.

۲- بل ځاي کې داسې فرمايي: (♎◻⏲✷🕯◻☼☞⬅⚐⬄
♎◻⏲✷♦➔♦✋⬈⌘ ✍➔⑨⇳⬉♦❑⬀♍☙
♏⌘☜⬅☾◼⌘◑➔❑✂☎ ✖⊠❼ ♒◻⌛⊠⓿✍⬀ ✂✂✍★
◘☺⌘⚝⌛➔☠ ✌❑♊ ☎ ◻♦✌♦♊ ③♦⌨⬀②◻✍⬉
③♦⌛⬀②◻✍⬀ ◘✉⊠☼✷☺◻✂ ③♦⌨⬀②◻✍⬉ ⬉♦♊
☼✷◼⬂○⬁○⌘⓪🕐 ◻◆✂✂✏✦ ✂✂♒⬂⬄♦♉⊘⊘❺
◻◆◻🕮◻☼☞⬅⚐❶ ✂✂♒⬂◼➔◑♦❷♦✂✏⬈⬇ ...

⬀⌘⊠⬀ )(۱: د محمد سورت، ایت۳۸).

ژباړه خبر اوسئ ای خلکو ! چې تاسې ته ددې په خاطر بلنه درکول کیږي چې د الله تعالی لاره کې مال مصرف کړئ ځینې ستاسې څخه بخل کوي ځوک چې بخل کوي په حقیقت کې هغه په خپل ځان بخل کړې دې الله تعالی بې نیازه دې او تاسې اړ یاست.

۳-بل ځاي فرمايي (... ◻◆🕮◻☼◼⌘◑➔❑✂☎ ⌘⊠❷⬀❸☪✂
✿✠☼◼➔○⬁⌛➔☠⬀ ▤ ◻◆✌♦♊ ③⬉❑✉♦ ⅄⬈⊠❍
☼♦◼⬂○⬁○⌘🕐 ▫♦🕯⬆◻🕯♒♦⏲✷⟐⊘⌨⊠ ♎➔☠⬉
✂✂➔▫☼⬅◼⬂◼⌘♦⬅❑♌♦ ⬀⌘⬁⬀ ) (۱: د التغابن سورت، آیت۱۲).

ژباړه : د خپلو ځانونو ګټې په خاطر د الله تعالی په لاره کې مالونه مصرف کړئ کوم خلک چې د نفس له بخل څخه وساتل شول همدغه ډله خلک بریالي دي.

۴- په یو بل ځاي کې داسې فرمايي : (... ◻◆✌♦✂✏
🕮◻☼◼⊠◑⬂☞⬅⚐ ✌♓⌘♊ ★⊠⊘⬄⬈🕮 ▫♦♑⬅❑◆
⑥⬈③⬂◼⌘◼➔○⬅❶ ☎ ◻◆♎➔❑◆ ⌘⊠❷⬀❸⬅

(c) ketabton.com: The Digital Library



) (۱: د السباء سورت،
آیت۳۹ ).

ژباړه: هر هغه مال چې تاسی د الله تعالی په لاره کې لګوئ پس الله تعالی د هغه عوض درکوي او الله تعالی غوره د روزي ورکوونکو دی.

رسول کریم (صَلَّی اللّٰهُ عَلَیْهِ وَسَلَّم) دخپلو ارشاداتو په ترخ کې سخاوت لوري خپل امتیان داسې متوجه کوي:

۱- رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایي، چې الله تعالی فرمایلي دي :(وَأَنْفِقْ يُنْفَقْ عَلَيْکَ )(۲۰،۳۳۲ ).

ای د ادم ځویه ! د الله تعالی په لاره کې مال ولګوه نو الله تعالی به په تا مال ولګوي.

۲- نبی کریم صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي : مَا مِنْ يَوْمٍ يُصْبِحُ فِيهِ الْعِبَادُ إِلَّا وَمَلَكَانِ يَنْزِلَانِ فَيَقُولُ أَحَدُهُمَا اللَّهُمَّ أَعْطِ مُنْفِقًا خَلَفًا وَيَقُولُ الْآخَرُ اللَّهُمَّ أَعْطِ مُمْسِكًا تَلَفًا ) )(۴۲، ۸۸ ).

هره شپه چې سبا کیږي دوه ملائکې له اسمانه را ښکته کیږي یوه ملائکه داسې دعاء کوي: چې الله تعالی هغه چاته ښه بدله ورکړي چې خپل مال ستا په لاره کې لګوي او بله ملائکه داسې خبرا کوي، چې الله تعالی د هغه چا مال تلف کړي چې د بخیلۍ په لامل خپل مال ستا په لاره کې نه مصرفوي.

۳- رسول الله صلی الله علیه و سلم بل ځای داسې فرمایلي دي: «حَصِّنُوا أَمْوَالَكُمْ بِالزَّكَاةِ، وَدَاوُوا مَرْضَاكُمْ بِالصَّدَقَةِ، وَأَعِدُّوا لِلْبَلَاءِ الدُّعَاءَ»(۵۸، ۲۷۴ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



د خپلو مالونو ساتنه د زکات پو سیله وکړئ او خپل مرضونه د خیرات ورکولو په ذریعه تداوي کړئ او د کړاوونو څپې په دعاګانو او الله تعالی ته په زاریو کولو رفعه کړئ.

۴- نبی کریم صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي:(( الصَّدَقَةُ تُطْفِئُ غَضَبَ الرب و تدفع میتَة السوء ". ) )(۱۲:۱۱۲ ).

ژباړه: په پټه خیرات ورکول د الله تعالی غصه سړوي او دناوړه مرګ مخنیوی کوي

د الله تعالی رسول(صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّم ) فرمایي:«الْجَنّةدَارُالْأَسْخِيَاءِ»(۳۸، ۱۸۵ ).

جنت د سخیانو کور دی.

۲- رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فرمایلي دي: « السّخِيُّ قَرِيبٌ مِنْ اللهِ قَرِيبٌ مِنْ الْجَنّةِ قَرِيبٌ مِنْ النّاسِ بَعِيدٌ مِنْ النّارِ وَالْبَخِيلُ بَعِيدٌ مِنْ اللهِ بَعِيدٌ مِنْ الْجَنّةِ بَعِيدٌ مِنْ النّاسِ قَرِيبٌ مِنْ النّارِ وَلَجَاهِلٌ سَخِيٌّ أَحَبُّ إِلَى اللهِ عَزّ وَجَلّ مِنْ عَالِمٍ بَخِيلٍ ) ).(۴۸، ۲۲۲ ).

سخي الله تعالی ته نږدی دی، جنت ته نږدی دی، او خلکو ته نږدی دی، بخیل له الله تعالی نه لری دی، جنت نه لری دی، او خلکو نه لری دی، سخي که څه هم جاهل وي، الله تعالی ته له بخیل عالم نه ډېر خوښ دی.

## د رسول الله صلی الله علیه و سلم د سخاوت ځینې بېلګې

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- جابر بن عبدالله رضی الله عنه فرمایلي دي: «مَا سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ سُئِلَ شَيْئًا قَطُّ، فَقَالَ لَا ) )(۷۰، ۱۴۷).
هېڅکله دا سې نه دی شوی چې کوم سړي د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د مال سوال کړی وي هغه ورته ،نه، ویلی وي.
۲- عائشه رضی الله عنها وايې : يوه ورځ مونږ پسه حلال کړ او غوښه مو په غريبانو وويشله او تنها د پسه يو لاس مو خپل ځانته پريښود ، رسول الله صلی الله علیه وسلم زما څخه پوښتنه وکړله چې ايا د حلال شوی پسه غوښی څخه څه مونږ سره پاتې ده ؟ ماورته وويل: چې يوازې يو لاس يې پاتې دی نو نبی صلی الله علیه و سلم مهرباني وکړله:
(بقی کلها غير کتفها ) (۱۳:۲۵)
په حقيقت کې د ذکر شوی پسه له لاس څخه پرته ټول پسه موږ ته پاتی دی.

## د صحابو کرامو د سخاوت ځينې بيلګې:

د صحابو کرامو د سخاوت ځينې بيلګې په لاندې ډول ذکر کوو:
۱- معاويه رضی الله عنه عائشی رضی الله عنها ته د يو سلو اتيا زرو درهمو په اندازه مال بخشش په توګه ورکړ، عائشی رضی الله عنها ذکر شوې ټول مال مسکينانو باندې وويشلو کله چې ماښام شو نو خپلی خادمی ته يې وويل:چې روژه ماتی راوړه ! هغې ورته وچه ډوډۍ د تيلو سره راوړله او ورته يې وويل: چې نن دی دومره زيات مال په غريبانو وويشلو د يو درهم به دې غوښه اخيستی وه چې نن ماښام مو روژه ماتی کې خوړلې وای، عائشی رضی الله عنها ورته وفرمايل (لوذکرتني لفعلت ) (۱۴:۲۳۰).
که چيرې دا خبره تا هماغه وخت کې کړای وای نو دا کار به مې هرو مرو کړای ؤ.
۲- عبدالله بن عامررضی الله عنه د خالد بن عقبه بن ابی معيط رضی الله عنه څخه د مکې مکرمی ښار کې د هغه کور په اويازرو درهمو په بيع واخست کله

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې مابنام شو عبدالله بن عامر رضی الله عنهد خالد رضی الله عنه د کورنۍ ژړا واوریدله، د ژړا د علت پوښتنه یې وکړله، ورته وویل شل: چې هغه کور پسې ژاړي چې تا ورځخه نن په بیع واخست نو د خالد بن عقبه کورنۍ ته یې یو تن ولیږه چې ورته ووایه چې ما ذکر شوی کور او پیسی تا سی ته د الله تعالی په خاطر دروبخښلی (۲۳:۱۴).

۳- د رومیانو سره د جګړې لپاره رسول الله صلی الله علیه و سلم د صحابو کرامو ځخه چنده وغوښتله چې البته دا غزوه داسې وخت کې پیښه شوه چې مسلمانان له ګڼو ستونزو سره لاس او ګریوان ول ځکه دغه غزا د (جیش العسره) یعنی د ستونزو لښکر نومول شوی دی ، عثمان بن عفان رضی الله عنه دغی غزا لپاره لس زره دیناره،درې سوه اوښان د خپلو ضروریاتو سره او پنځوس آسونه په چنده کې ورکړل (۱۳۱:۱۴).

## ۱۲-شجاعت او زړه ورتیا

د ستونزو په مقابل کې زړه ورتیا او مقاومت د ډیرو ښو صفاتو له جملې ځخه دی او په ستونزو باندې د برلاسی لامل ګرځي او د مشکلاتو په مقابل کې جبن او بی زړه توب د ګڼو بدبختیو عامل دی همدا وجه ده چې عربو کې مشهور متل دې چې وایي:( الشجاعة و قاية و الجبن مقتلة )

ژباړه: د ستونزو په مقابل کې مقاومت د نوموړو ستونزو ځخه د خلاصیدلو غوره وسیله ده او د ستونزو په مقابل کې بې زړه توب مرګ دی چې سړی د هلاکت کندی ته غورځوي.

نو ځکه ابوبکر رضی الله عنه خالد بن ولید رضی الله عنه ته داسې نصیحت کوي( **احرص علی الموت توهب لک الحیاة** ) (**۵۲۲:۵**).

ژباړه: مرګ و غواړه چې ژوند درکړل شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دی اساس اسلامي شريعت د مسلمانانو څخه په ټينګه غوښتی چې بايد د ستونزو مقابل کې زړه ورتيا او شجاعت ولري، مونږ دلته ځينې شرعي دلائل د بيلګې په توګه په لاندې ډول ذکر کوو.

۱- الله تعالی د قرآنکريم په راتلونکي آيت شريف کې مسلمان دی ته هڅوي چې د کافرانو مقابلې او سيالۍ لپاره دژوند په ټولو برخو کې ځانونه تيار او اماده کړي او په بشپړې زړه ورتيا او شجاعت سره د هغوي په مقابل کې ودريږي فرمايي:(❑◆🕮❑⬉♋⑨⑥❑✂☎ ♎⧫♑⬅☠ ✋❑✍
✂✍♐♌⇔✌⧫➲⬧➔⬀☞⬅🏱 ♓⚖♊♋
🔔➔❑▪❑✍.... ♋♐♋⚖ )(۱: د الانفال سورت، آيت۲۰).

ژباړه : تاسې د کافرانو د مقابلې او سيالۍ لپاره څومره مو چې وسع کيږي قوت تيار کړئ.

۲- رسول الله صلی الله عليه و سلم به هر سهار او بيګاه د بی زړه توب څخه د خلاصون لپاره داسې دعاء کوله (**اللّهُمّ إِنِّي أَعُوذُ بِکَ مِنْ الْجُبْنِ**) (۱۱:۸۷)

ژباړه: ای الله تعالی !د بی زړه توب څخه په تا پناه غواړم.

د رسول الله صلی الله عليه و سلم د شجاعت او زړه ورتيا ځينې بيلګې

د رسول الله صلی الله عليه و سلم د شجاعت او زړه ورتيا ځينې بيلګې په لاندې ډول ذکر کوو:

۱- انس بن مالک رضی الله عنه وايي: رسول الله صلی الله عليه و سلم د ټولو خلکو په نسبت ښکلې ؤ، د ټولو خلکو په نسبت سخي ؤ، د ټولو خلکو په نسبت زړه ور ؤ،يوه شپه د مدينی منوری خلک د يوه آواز د اوريدلو له امله وويريدل ،نو يو شمېر خلکو د آواز د ځای په لور حرکت وکړ تر څو د آواز لامل معلوم کړي په لاره کې په داسې حال کې رسول الله صلی الله عليه و سلم سره مخامخ شول چې د ابو طلحه په بی ځينه آس سپور ؤ، غاړه کې يې توره پرته وه

(c) ketabton.com: The Digital Library



د آواز له ځای څخه ستون شوی ؤ او خلکو ته یې ویل: ( لم تراعوا ، لم تراعوا ) (۲۵۲:۳۱).

ژباړه :مه ډاریږئ، مه ډاریږئ.

۲- براء رضی الله عنه وایي: کله به چې غزاګانو کې جنګ ډیر تود شو مونږ به رسول الله صلی الله علیه و سلم شاته پناه وړله، په مونږ کې به هغه تن ډیر زیات زړه ور او شجاع ؤ چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم سره یو صف کې د کافرانو په مقابل کې جنګیده (۲۵:۱۱).

۳- د براء رضی الله عنه څخه پوښتنه وشوه چې ایا تاسی د حنین غزوه کې د رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه تښتیدلي وی ؟

هغه ځواب ورکړ هو ! خو رسول الله صلی الله علیه و سلم تر آخره کفارو سره ډیر سخت وجنګیده او ونه تښتیده (متفق علیه).

## د صحابو کرامو د شجاعت ځینې بیلګې

که چیرې د رسول الله صلی الله علیه و سلم د صحابو کرامو څخه د هر یوه صحابي ژوند و څیړو دې تنیجی ته به ورسیږو چې د هغه ژوند د شجاعت او زړه ورتیا له کیسو څخه ډک دی ، دلته مونږ د وخت د کمښت له امله د نبی صلی الله علیه و سلم فقط د یوه صحابی براء بن مالک انصاري رضی الله عنه یوه کیسه د بیلګې په توګه ګرانو محصلینو ته ذکر کوو.

د رسول الله صلی الله علیه و سلم د وفات سره جوخت د عربو ګڼ شمېر قبیلې د اسلام څخه وګرځیدلې او مرتد شول چې په دی قبیلو کې تر ټولو غښتلې قبیله د مسیلمة الکذاب قبیله بنی حنیفه وه چې په خپله مسیلمة الکذاب چې د پیغمبرۍ دعوی یې کړی وه څلویښت زره تنه تکړه جنګیالي یې درلودل، کله چې ابو بکر رضی الله عنه خلیفه شو نو د مرتدینو سره یې مقابله پیل شوه چې په دی لړ کې د اسلام د لښکرو او مسیلمة الکذاب د لښکرو ترمنځ جنګ ونښتلو د مسیلمة الکذاب د لښکرو سره د جګړی لپاره د مسلمانانو د لښکرو

(c) ketabton.com: The Digital Library



مشر عکرمه بن ابی جهل (رضی الله عنه) ماتې وخوړله او مسلمانان په شا وتمبول شول ابو بکر رضی الله عنه بل لښکر د خالد بن ولید رضی الله عنه په مشرۍ ور ولیږلو دواړه لښکری د یمامه د نجد په سیمه کې مخامخ شوی مسلمانانو ته یې ډیر تلفات واړول او د خالد رضی الله عنه د قوماندانۍ خیمه یې ونړوله نژدې ؤ چې د خالد رضی الله عنه میرمن پکې ووژل شي ، دواړه ډلې ډیرې سختې جنګیدلې ، ثابت بن قیس رضی الله عنه چې د انصارو بیرغ یې لاس کې ؤ، د ځان لپاره قبر وویست کفن یې واغوست تر هغې پورې یې د اسلام له بیرغ څخه دفاع وکړله چې شهید شو ، د عمر رضی الله عنه ورور زید بن الخطاب رضی الله عنه مسلمانانو ته غږ کړ چې د اسلام دښمنانو سره ټینګه مقابله وکړئ مخ په وړاندې ورځئ قسم په الله تعالی تر هغه زه بله خبره نه کوم تر څو مسیلمة الکذاب ماتې وخوري یا زه د الله تعالی سره ملاقي شم هماغه ؤ چې د کفارو په لښکرو یې حمله وکړله تر هغه وجنګیده چې شهید شو ، په دی وخت کې براء رضی الله عنه انصارو ته مخ واړوه چې ای انصارو ! داسې فکر مه کوئ چې تاسی به مدینی منورې ته لاړشئ که چېرې دلته د مسیلمة الکذاب لښکرې ماتې نه شي مدینه منوره کې به هم ورڅخه خلاص نه شۍ ، په دی وخت کې د اسلام لښکرو یو ځل بیا د دښمن په ضد سخت جنګ پېل کړ چې په نتیجه کې د مسیلمة الکذاب په لښکرو کې درځ وغورځیده مسیلمة الکذاب د خپلو زړګونو عسکرو سره یو لوی باغ ته پناه یوړله چې ډیر پنډ او لوړ دیوالونه یې درلودل او د باغ دروازه یې وتړله د باغ له دیوالونو څخه یې د اسلام په لښکرو ګوزارونه کول چې مسلمانانو ته یې درانه زیانونه واړول بالاخره مسلمانان د نوموړي باغ له فتح کیدلو څخه پاتې راغلل په دی وخت کې براء بن مالک رضی الله عنه خپلو ملګرو ته وویل: ما په سپر کښینوی او سپر په نیزو پورته او د باغ منځ کې د باغ دروازی ته مې نژدې وغورځوئ یا به زه هلته شهید شم او یا به د اسلام مجاهدینو ته د باغ دروازه خلاصه کړم

(c) ketabton.com: The Digital Library



صحابو کرامو همداسې وکړل براء بن مالک رضی الله عنه يې په سپر کښينوه سپر يې په نيزو پورته او د زرګونو عسکرو منځ کې يې وغورځولو د باغ په منځ کې د براء بن مالک رضی الله عنه او مسيلمة الکذاب د عسکرو تر منځ جګړه پېل شوه د کفارو څخه يې لس تنه ووژل بې شمېره يې ټپيان کړل بالاخره يې د باغ دروازه د اسلام د سپاهيانو لپاره خلاصه کړله د اسلام لښکرو د دروازی د خلاصيدو سره جوخت په باغ حمله پېل کړله چې د دواړو لښکرو ترمنځ د باغ په منځ کې ډير سخته نښته پېل شوه چې په نتېجه کې د مسيلمة الکذاب په شمول د هغه شل زره جنګيالي ووژل شول له دغی ورځې وروسته دغه باغ (حديقة الموت ) يعنی د مرګ باغ ونومول شو د يادونې وړ ده چې په دغه جګړه کې د براء بن مالک رضی الله عنه بدن څه د پاسه اتيا ټپونه خوړلي ول چې الله تعالی ورته د ټولو ټپونو څخه روغ صحت ورکړ بيا يې په ډيرو جګړو کې ګډون وکړ بالاخره د فارسي امپراطورۍ په ضد جهاد کې شهيد شو (۴:۴۴۱ ).
په پورتنۍ پيښه کې براء بن مالک رضی الله عنه وشو کولای چې د شجاعت په لرلو سره د ځمکې په سر د لوی طاغوتي عربی قوت جرړلې له بيخه و باسي او د اسلام ډيوه چې د عربی جزيرې په زړه کې د مړه کيدو حالت کې وه د ابد لپاره له مړه کيدو څخه وژغوري

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۲- د اسلام د دين په رڼا کې ځينې غوره ټولنيز اخلاق

له غوره ټولنيزو اخلاقو څخه مراد هغه اخلاق دي چې دټولنې دافرادو ترمنځ دمحبت ، نزدېکت ،او يووالي سبب ګرځي، اوددغو اخلاقو بنياد په دې ولاړ دی چې دټولنې دافرادو سره داسې رويه وشي ، کومه چې انسان دخپل ځان لپاره غواړي ، انسان غواړي چې کله ورڅخه خطاء يا ګناوشي چې عفو ورته وشي، نو په کار ده چې پخپله هم نورو ته عفوه وکړي، انسان غواړي چې درواغ ورته ونه ويل شي ، او درواغ ورپور ونه تړل شي ، دغسې پخپله هم نه چا ته درواغ ووايي او نه چاپورې درواغ وتړي ، انسان غواړي چې ناموس ته يې څوک په سپکه سترګه ونه ګوري، نوپه کار داده چې په خپله هم دچاناموس ته په سپکه سترګه ونه ګوري ،دې ته ورته بې شمېره چارې داسې دي چې انسان يې نه غواړي چې په ټولنه کې ورته ورسيږي، نو اسلام له دغه انسان څخه غواړي چې په ټولنه کې دنورو انسانانو هم دغسې خيال وساتي ، دغې لورې ته زموږ ستر لارښود موږ داسې متوجه کوي ،(( الْمُسْلِمُ مَنْ سَلِمَ الْمُسْلِمُونَ مِنْ لِسَانِه وَيَدِه ) ).(۱۵:۳۴).

کامل مسلمان هغه څوک دی چې نور مسلمانان دهغه دژبې او لاس له ضرر څخه په امن وي.

همدارنګه اسلام زموږ څخه غواړي چې څه دخپل ځان لپاره خوښوي، هغه بايد بل مسلمان لپاره خوښ کړئ، او دغه غوښتنه يې موږ څخه دايمان په تقاضا کړې ده ، رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) فرمايلي دي :(( لَا يُؤْمِنُ أَحَدُكُمْ حَتّى يُحِبّ لِأَخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ ) )(۳۴، ۲۱ ).

له تاسې څخه يو څوک تر هغې مؤمن کېدې نشي ترڅو چې کوم څه دځان پاره خوښوئ دبل مسلمان لپاره يې خوښ نه کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام زموږ ټخه غواړي چې دبدۍ ځواب په بدۍ ورنه کړو ، په دې اړه الله تعالی فرمايي:(( وَلَا تَسْتَوِي الْحَسَنَةُ وَلَا السَّيِّئَةُ ادْفَعْ بِالَّتِي هِيَ أَحْسَنُ فَإِذَا الَّذِي بَيْنَكَ وَبَيْنَهُ عَدَاوَةٌ كَأَنَّهُ وَلِيٌّ حَمِيمٌ (فصلت34)

او ای پيغمبره ! نيکي او بدي يو شانته نه دي ته دبدۀ مخنيوی په هغيګ نيکۀ سره وکؤه چيګ هغه أيګره شګه وي ته به وګګوريګ چيګ له تا سره چيګ د چادشګمني لويګدليګ وه هغه ديګ لکه صميمي دوست ګګرحګيګدلی دی.

له دغوټولنيزو اخلاقو ټخه ځيني دنمونې په توګه ذکرکوو :

## ١- خپل منځي مرسته او همکاري:

دخپل منځي مرستې او همکارۍ ټخه مطلب دادی چې دټولنې افراد دنيکۍ په چارو يوبل سره مرسته او همکاري وکړي لکه په قرانکريم کې چې الله تعالی فرمايي:( وَتَعَاوَنُوا عَلَى الْبِرِّ وَالتَّقْوَى وَلَا تَعَاوَنُوا عَلَى الْإِثْمِ وَالْعُدْوَانِ وَاتَّقُوا اللَّهَ إِنَّ اللَّهَ شَدِيدُ الْعِقَابِ (المائدة2)

کوم کارونه چيګ د نيکۀ او خدای پالنيګ دي په هغو کشګيګ له تګولو سره مرسته وکؤئ او کوم کارونه چيګ د ګګناه او تيري وي په هغوکشګيګ د هيګچا ملاتړ مه کوئ. له الله نه وويګريګاېئ، د الله عذاب أيګر سخت دی.

ايت کريمه خپل منځي مرسته او همکاري ديو اصل په ټېر چې ټولو ټولنيزو مسائلو ته شامليږي بيانوي،ددې ايت کريمه غوښتنه داده چې کله پر يو مسلمان کوم يا مصيبت راځي دټولنې نور افراد په هغې کې خپل ځان سهيم وګڼي ، داسې پرې ودردېږي ګويا چې په خپله ده ته دغه درد رسېدلی دی ، رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم) دغه حالت ديو حديث په ترڅ کې ډېر ښه روښانه کړی دی لکه چې فرمايي:((مَثَلُ الْمُؤْمِنِينَ فِي تَوَادِّهِمْ

(c) ketabton.com: The Digital Library



وَتَرَاحُمِهِمْ وَتَعَاطُفِهِمْ مَثَلُ الْجَسَدِ إِذَا اشْتَكَى مِنْهُ عُضْوٌ تَدَاعَى لَهُ سَائِرُ الْجَسَدِ بِالسَّهَرِ وَالْحُمَّى ))(۴۲۸:۴۴ ).

دمؤمنانو مثال په خپل منځي محبت،ترحم،اومهربانۍ کې دیوجسد په څېر دی کله چې په جسد کې پر یوغړي کوم تکلیف راځي نو ټول اندامونه په بې خوبۍ او تبه کې ورسره شریک وي.

اسلام دیوې مسلمانې ټولنې له افرادو غواړي چې په خپل منځ کې داسې عاطفه او مهرباني ولري چې که له کوم یو څخه سهوه یا خطاوشي مقابل لورى باید دانتقام اخستنې اراده ونه کړي بلکې دعفوې او بخښنې احساس ورسره وي،دامام شافعي (رح) په اړه نقل شوي دي چې هغه ډېر حليم انسان ؤ، خلکوشرط ایښی ؤ که چا امام په قهر کړ جائزه به ورکول کېږي،همدې موخې ته درسېدا په تکل یو خیاط ته چې کله امام دلباس دګنډلو لپاره رخت وروړ په خپل زړه کې وویل چې دجایزې دګټلو چانس په لاس ورغلی دی،نو رخت یې ورته خراب کړ یو لستونی یې لوی او بل یې ورته تنګ وګنډلو ، کله چې امام خپل لباس ولید نو سمدستي یې دخیاط شکریه اداء کړه وې ویل :الله تعالی دې خیاط ته خېر ورپه برخه کړي چې ډېرې ښې جامې یې راته ګنډلي دي ، یو لستونی یې راته پراخه ګنډلی دی چې کتابونه پکې ږدم، او بل یې راته تنګ کړی تر څو په ژمي کې یخه هوا زما بدن ته داخله نه شي، په دې اساس خلک دهغه له قهرولو عاجز پاتې شول.

امام به په هر حالت کې هغه یو کار مثبت ارزیابي کاوه تر څوپه دې وسیله خپل نفس له قهر او غضب څخه وساتي.

دایقیني ده که یو څوک دچا بد مثبت ارزیابي نه کړي حتما دمقابل لوري ګنا یقیني کېږي (۷۱،۴۴-۴۲ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمان له عفوې بخښنې ، تېرېدنې اوصبر څخه کار اخلي،او دغه صفات دمسلمان له لوړو اخلاقو څخه شمېرل کېږي.

الله تعالی په قرانکریم دمسلمان صفت داسې بیانوي ((وَالْكَاظِمِينَ الْغَيْظَ وَالْعَافِينَ عَنْ النَّاسِ وَاللَّهُ يُحِبُّ الْمُحْسِنِينَ (آل عمران134)

غوسه خوري او د نورو لنأ پاری بگشگي داسیگ نیکان خلک د خدای أیگر خوشگ دي

هر هغه مسلمان چې په ټولنیز ژوند کې له ښواخلاقو کارنه اخلي، که څه هم لمونځ کوي،روژې نیسي،صدقې ورکوي،اوداسې نورې نېکې چارې ترسره کوي دقیامت په ورځ به ددغونېکواعمالوهیڅ ګټه ونه رسیږي ،رسول الله (صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم) ددغې شخص انظو په داسې شکل وړاندې کړی دی:

" أَتَدْرُونَ مَا الْمُفْلِسُ قَالُوا الْمُفْلِسُ فِينَا مَنْ لَا دِرْهَمَ لَهُ وَلَا مَتَاعَ فَقَالَ إِنَّ الْمُفْلِسَ مِنْ أُمَّتِي يَأْتِي يَوْمَ الْقِيَامَةِ بِصَلَاةٍ وَصِيَامٍ وَزَكَاةٍ وَيَأْتِي قَدْ شَتَمَ هَذَا وَقَذَفَ هَذَا وَأَكَلَ مَالَ هَذَا وَسَفَكَ دَمَ هَذَا وَضَرَبَ هَذَا فَيُعْطَى هَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ وَهَذَا مِنْ حَسَنَاتِهِ فَإِنْ فَنِيَتْ حَسَنَاتُهُ قَبْلَ أَنْ يُقْضَى مَا عَلَيْهِ أُخِذَ مِنْ خَطَايَاهُمْ فَطُرِحَتْ عَلَيْهِ ثُمَّ طُرِحَ فِي النَّارِ " (۱۲، ۴۵۹).

تاسې پوهېږۍ چې مفلس څوک دی دوي ځواب ورکړ،هو په موږ کې مفلس هغه څوک وي چې نه درهم ولري نه مال،رسول الله (صلی الله علیه واله وسلم) وفرمایل زما دامت حقیقي مفلس هغه څوک دی چې دقیامت په ورځ به له ډېرو نېکیو سره راشي لمونځونه،روژې به یې ډېر اداء کړي وي،زکاتونه او صدقې

(c) ketabton.com: The Digital Library



به ډېرې ورکړې وي خو چاته به يې ښکنځلې کړي وي،په چا پورې به يې تور تړلی وي دچا مال به يې (ناروا طريقه ) خوړلی وي دچا وينه به يې تويه کړې وي، څوک به يې وهلی وي، نو دهغه نېکي به يو بل ته به ورکړل شي نو مخکې له دې چې جرمونه يې ختم شي نېکۍ يې ختمې شي ، بيا به دمظلومينو ګناهونه راواخېستل شي او پر هغه به واچول شي بالاخره اور ته به وغورزول شي.

## ۲- دمور او پلار حقوق پرځاي کول:

الله تعالی دمور او پلار سره احسان په ټولو مسلمانانو لازم کړی دی ، او دزيات ارزښت لپاره يې دخپل عبادت سره سم دهغې غوښتنه کړې ده ، الله تعالی فرمايي : وَقَضَى رَبُّكَ أَلَّا تَعْبُدُوا إِلَّا إِيَّاهُ وَبِالْوَالِدَيْنِ إِحْسَانًا إِمَّا يَبْلُغَنَّ عِنْدَكَ الْكِبَرَ أَحَدُهُمَا أَوْ كِلَاهُمَا فَلَا تَقُلْ لَهُمَا أُفٍّ وَلَا تَنْهَرْهُمَا وَقُلْ لَهُمَا قَوْلًا كَرِيمًا (الإسراء23) وَاخْفِضْ لَهُمَا جَنَاحَ الذُّلِّ مِنَ الرَّحْمَةِ وَقُلْ رَبِّ ارْحَمْهُمَا كَمَا رَبَّيَانِي صَغِيرًا (الإسراء24).

په ذکر شوی ايت کريمه کې الله تعالی دمور او پلار سره داحسان غوښتنه کړې ده ، نه دعدل کولو ،ځکه دعدل درجه له احسان څخه کمه ده ، عدل دې ته ويل کېږي چې يو څوک له يو چا سره مثلي او متقابل تعامل وکړي ، البته احسان دې ته ويل کېږي چې يو چاسره دورکړې متقابل تعامل ونه کړي،بلکې له اخستلو څخه ورکړه زياته وي اوداحسان په مقابل کې څه ونه غواړي.

ففيهما فجاهد:

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول کریم (صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) ته یو سړی راغی او دجهاد کولو اجازه یې ترې غوښته ، هغه (صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) ورځخه وپوښتل چې مور اوپلار دې ژوندي دي ؟هغه ورته وویل چې هو ، وې فرمایل چې (ففیهما فجاهد ) ، یعنې دمور اوپلار په خدمت کې دجهاد اجر او ثواب ترلاسه کړه.

## مور او پلار دې خوشحاله کړه:

په یو حدیث کې رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) یو سړی دهجرت پر ځای دمور او پلار خوشحالولو ته هڅوي:**عَنْ عَبْدِ اللّهِ بْنِ عَمْرٍو قَالَ جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ فَقَالَ جِئْتُ أُبَايِعُكَ عَلَى الْهِجْرَةِ وَتَرَكْتُ أَبَوَيَّ يَبْكِيَانِ فَقَالَ ارْجِعْ عَلَيْهِمَا فَأَضْحِكْهُمَا كَمَا أَبْكَيْتَهُمَا(۷۲،۵۷ ).**

عبدالله بن عمرو روایت کوي چې رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) ته یوسړی راغی وې ویل چې زه راغلی یم چې په هجرت کولو تا سره بیعت وکړم ،او مور او پلار مې په ژړا پریښودل ، رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) ورته وفرمایل چې ولاړشه هغوي چې دې څنګه په ژړا پریښې دي دغسې هغوي وخندوه )

عبدالله بن عمر (رضي الله تعالی عنه) یو سړی ولیده چې مور یې په شا کړې او دبیت الله طواف ورکوي ، ابن عمر (رضي الله تعالی عنه) ته یې مخ ورواړاوه وې ویل ته خو ما ګورې چې دمور حق مې اداء کړ؟هغه (رضي الله تعالی عنه) ورته وویل:هېڅکله نه ،........ ته به هغې په شا ګرځولې او ستا دژوند امېد یې درلود ،خو که ته یې په شا ګرځوې دمرګ شېبې یې شمېرې. ۲۲:۴۲

(c) ketabton.com: The Digital Library



## دپخوانیوصالحینو په ژوند کې دمور اوپلار سره داحسان ځینې بېلګې:

له عبدالله بن مسعود (رضي الله تعالی عنه) څخه دهغه مور یوه شپه اوبه وغوښتې ، اوبه یې چې ورته راوړې ګوري چې مور یې ویده ده ، ترسحره دهغې سر ته ولاړ ؤ چې ترڅو پخپله راویښه شي او زما په راویښولو سره په تکلیف نه شي،اوکه ورڅخه ولاړ شي او بیا راویښه شي اوبه به وغواړي زه به نه اوسم.

ابن حسن تمیمي (رح)لړم ولیده غوښتل یې چې وې وژني ، خو سوري ته ننووت ، ګوتو سره یې دسوري مخه بنده کړه، لړم وچیچه ،چا ورته وویل چې ولې دې په خپل لاس دسوري مخه بندوله ؟وې ویل وېرېدم که لړم راووځي مور به مې وچیچي.(۶۲:۴۴ )

## دپلار په نسبت دمور حق زیات دی:

حدیث شریف کې راغلي دي: ((جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللّهِ صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللّهِ مَنْ أَحَقُّ النَّاسِ بِحُسْنِ صَحَابَتِي قَالَ أُمُّکَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أُمُّکَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أُمُّکَ قَالَ ثُمَّ مَنْ قَالَ ثُمَّ أَبُوکَ ))(۳۷ ، ۳۲۳ ).

رسول الله (صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم) ته یو صحابي راغی وې ویل :یا رسول الله (صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم) په خلکو کې په ما باندې دزیات احسان حقدار څوک دی؟وې فرمایل :ستا مور،بیایې پوښتنه وکړه ، ورپسې څوک زیات حقدار دی؟بیا یې وفرمایل :ستا مور،هغه سړي په دریم ځل بیا وپوښتل چې بیا څوک ؟په دریم ځل بیا هم رسول الله (صَلَّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّم) وفرمایل ستا

(c) ketabton.com: The Digital Library



مور،چې په څلورم ځل يې پوښتنه وکړه رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) وفرمايل:ستا پلار.

مور ځکه درې حقه لري چې خپل اولاد سره په دريو مواردو کې زيات زحمت اوتکليف وباسي ،چې دقرانکريم په دې کريمه کې ورته اشاره شوې ده:((وَوَصَّيْنَا الْإِنسَانَ بِوَالِدَيْهِ حَمَلَتْهُ أُمُّهُ وَهْنًا عَلَى وَهْنٍ وَفِصَالُهُ فِي عَامَيْنِ أَنْ اشْكُرْ لِي وَلِوَالِدَيْكَ إِلَيَّ الْمَصِيرُ (لقمان14 )

۱- په خېټه دګرځولو تکليف.

۲- دتولد پر مهال تکليف.

۳- دشېدو رکولو تکليف.

پلار يواځې دتربيت په برخه کې داولاد سره تکليف اوباسي نوځکه خود مور حق د پلار په نسبت پر اولادونو درې چنده دی.

تا سره لويه سرمايه ده مه يې ضايع کوه:

رسول الله (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) فرمايلي دي: ((رَغِمَ أَنْفُ ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُ ثُمَّ رَغِمَ أَنْفُ قِيلَ مَنْ يَا رَسُولَ اللّه قَالَ مَنْ أَدْرَكَ أَبَوَيْهِ عِنْدَ الْكِبَرِ أَحَدَهُمَا أَوْ كِلَيْهِمَا فَلَمْ يَدْخُلْ الْجَنَّةَ ) ).(۳۹۵،۴۴ ).

وقد أوصى رسول الله لمعاذ بن جبل .....وقال وَلَا تَعُقَّنَّ وَالِدَيْكَ وَإِنْ أَمَرَاكَ أَنْ تَخْرُجَ مِنْ أَهْلِكَ وَمَالِكَ ) ).(۵۳،۷۳ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله(صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) معاذ بن جبل (رضي الله تعالی عنه) ته وويل دمور او پلار نافرماني مه کوه که څه هم هغوي تاته امر وکړي چې له کور وځه او مال دي پرېږده.

دپورتنيو نصوصو په رڼا کې دمور او پلار حقوق په لاندې څو شمېرو کې خلاصه کوو:

۱- له ګنا څخه بغېر په ټولو چارو کې دمور او پلار خبره منه.

۲- دمور او پلار حترام او خدمت کوه.

۳- دهغوي له خوښۍ پرته په سفر مه ځه.

۴- کله چې مور او پلا رکور ته ننوځي دهغوي په احترام ودرېږه.

۵- له هغوي څخه مخکې په لاره مه ځه.

۶- په تروش تندي هغوي ته مه ګوره ، که څه هم تاته دهغوي لخوا تکليف رسېدلی وي.

۷- که هغوي تا ځان لوري ته غواړي بې له ځنډه هغوي ته حاضرېږه.

۸- په عاجزۍ او نرمۍ هغوي سره خبرې کوه

۹- دهغوي په مخکې دهغوي له اجازې څخه بغېر خبرې مه کوه.

۱۰- دهغوي په مخکې زياتې خبرې مه کوه.

۱۱- هغوي په نامه مه رابوله.

۱۲- دهغوي خبرې مه قطع کوه

۱۳-هغوي ته دامر او نهي فرمانونه مه صادروه.(چې داکوه ،او دامه کوه)

۱۴- هغوي څخه شکايتونه مه کوه.

۱۵- پر هغوي باندې دزړه له کومي ترحم کوه.

۱۶- دزړه له کومي هغوي سره مينه او دوستي کوه ، دهغوي په خوښۍ خوښېږه او په خفګان يې خفه کېږه.

۱۷- دهغوي په ناوړه خبرو دخفګان احساس مه کوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۸- که څه هم د مور او پلار احترام ساتې بیا هم د هغوي له ازاره وېرېږه.
۱۹- په خپل مال کې هغوي له ځان سره شریک وګڼه.
۲۰- د هغوي دوستان خپل دوستان او د هغوي دښمنان خپل دښمنان ګڼه.
۲۱- د زیاتو مصروفیاتو سره سره د مور او پلار د ملاقات او صحبت لپاره وخت وټاکه.
۲۲- کور څخه د تلو پر مهال له هغوي څخه اجازه او دعا غواړه.
۲۳- سحار او ماښام د هغوي لاسونه مچې کوه.
۲۴- د هغوي د ابرو او عزت ساتنه کوه.
۲۵- څه چې د ر څخه غواړي ورته حاضروه یې.
۲۶- د ژوند په چارو کې هغوي سره مشوره کوه.
۲۷- د هغوي په مخکې بې مورده خندا څخه ځان ساته.
۲۸- د الله تعالی په دربار کې تل د هغوي لپاره بخښنه غواړه.
۳۰- که هغوي ویده وي مزاحمت یې مه کوه.
۳۱- ښځې او اولادونو ته پر هغوي ترجیح مه ورکوه.
۳۲- له هغوي څخه مخکې په خوراک او څښاک پېل مه کوه.
۳۳- د هغوي په مخکې پښې مه غزوه مګر د هغوي په اجازه.
۳۴- له مرګ څخه وروسته د هغوي لپاره د مغفرت دعاګانې غواړه، او د هغوي لطرفه صدقه ورکوه.
۳۵- له مرګ څخه وروسته د هغوي د قبر زیارت ته ورځه،او د هغوي دوستان پاله. (۱۸-۱۵، ۲۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳- خپلولي پالل:

## تعریف:

د خپلولۍ پاللو (صلة الرحم) تعریف علماؤ دارنګه کړی دی:
د نسب او خسرګنۍ له طرفه خپلو خپلوانو سره نیکي کول هغوی باندې شفقت او رحم کول او د هغوی له حالاتو څخه ځان خبرول، صلة الرحم (خپلولۍ پالل) بلل کېږي. (۱۳۱:۲۷).

دخپلولۍ په پاللو اسلامي شریعت زیات تاکید کړی دی ،دمؤمن دایمان دکمال لپاره یو شرط ګرځول شوی دی، ګڼ شرعي نصوص مسلمانان د خپلولۍ پاللو ته هڅوي ،نو ددې په خاطر چې دخپلوۍ پاللو پر ارزښت پوه شو نو رسول الله (ص) لارښوونې دخپل ژوند لپاره دلارې مشال ګرځوو چې په دې اړه په لاندې توګه له ځینو احادیثو څخه یادونه کوو:

۱- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ عَنْ النَّبِيِّ صَلّى اللّهُ عَلَيْه وَسَلّمَ قَالَ مَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّه وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ ضَيْفَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيَقُلْ خَيْرًا أَوْ لِيَصْمُتْ.(۳۷، ۴۳۷).

له ابي هرېره نه روایت دی، چې نبي صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: څوک چې پر الله او اخرت ایمان لري خپل مېلمه دې وپالي او څوک چې پر الله او اخرت ایمان لري له خپلوانو سره دې خپلوي ټینګه کړي او څوک چې پر الله او اخرت ایمان لري، یا دې دخیر خبره وکړي، یا دې چوپ وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- عَنْ أَنَسِ بْنِ مَالک رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ قَالَ سَمعْتُ رَسُولَ اللّه صَلّى اللّهُ عَلَيْه وَسَلّمَ يَقُولُ مَنْ سَرّهُ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِه أَوْ يُنْسَأَ لَهُ فِي أَثَرِه فَلْيَصِلْ رَحِمَهُ ))(۳۶، ۲۲۸).

له انس(رضي الله تعالى عنه) نه روايت دى چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: څوک چې په دې خشحاليږي چې رزق يې زيات او عمر يې اوږد شي، نو خپلوانو سره دې خپلوي ټينګه کړي.

۳- عَنْ سمَاک بن حَرْب قَالَ: رَسُولُ اللهِ صَلى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلمَ: خَيْرُ النّاسِ أَتْقَاهُمْ، وَآمَرُهُمْ بِالْمَعْرُوفِ، وَأَنْهَاهُمْ عَنِ الْمُنْكَرِ، وَأَوْصَلُهُمْ لِلرّحِمِ.

له سماک بن حرب (رضي الله تعالى عنه) نه روايت دى، چې رسول الله صلى الله عليه وسلم فرمايلي دي: غوره په خلکو کې له نارواوو نه ځان ژغورونکي، په نېکو امر کوونکي، له بديو منع کوونکي او د خپلوئ ټينګوونکي دي.

۴- عَنْ أَبِي ذَرّ قَالَ أَمَرَنِي خَلِيلِي صَلّى اللّهُ عَلَيْه وَسَلّمَ بِسَبْعٍ أَمَرَنِي بِحُبّ الْمَسَاكِينِ وَالدّنُوّ مِنْهُمْ وَأَمَرَنِي أَنْ أَنْظُرَ إِلَى مَنْ هُوَ دُونِي وَلَا أَنْظُرَ إِلَى مَنْ هُوَ فَوْقِي وَأَمَرَنِي أَنْ أَصِلَ الرّحِمَ وَإِنْ أَدْبَرَتْ وَأَمَرَنِي أَنْ لَا أَسْأَلَ أَحَدًا شَيْئًا وَأَمَرَنِي أَنْ أَقُولَ بِالْحَقّ وَإِنْ كَانَ مُرًّا وَأَمَرَنِي أَنْ لَا أَخَافَ فِي اللّهِ لَوْمَةَ لَائِمٍ وَأَمَرَنِي أَنْ أُكْثِرَ مِنْ قَوْلِ لَا حَوْلَ وَلَا قُوّةَ إِلّا بِاللّهِ فَإِنّهُنّ مِنْ كَنْزٍ تَحْتَ الْعَرْشِ ))(۵۵، ۴۱۳).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو ذر رضی الله تعالی عنه وايي زما دوست (صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) راته په اوو شيانو وصيت کړی، ۱- چې مسکينانو سره مينه وساتم اوځان ورسره نږدې کړم،۲- او هغه چا ته نظر وکړم چې تر ما ټيټ دي.۳- او هغه چا ته ونه ګورم چې ترما پورته دي ،۴- چې خپلوانو سره خپلوي و پالم که څه هم جفا يې راسره وکړي ،۵- او له هيچا هيڅ شی ونه غواړم. ۶- او حقه خبره وکړم که څه هم ډېره ترخه وي و دا چې (دلاحول ولاقوة الابالله) ذکر زيات تر سره کړم ، او د الله لپاره د هېڅ ملامت کوونکي له ملامتيا ونه ډار شم

**۵- عَنْ عُقْبَةَ بن عَامِر، قَالَ: لَقِيتُ رَسُولَ اللّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَوْمًا فَبَدَرْتُهُ فَأَخَذْتُ بِيَدِه، أَوْ بَدَرَنِي فَأَخَذَ بِيَدِي، فَقَالَ: "يَا عُقْبَةُ، أَلا أُخْبِرُكَ بِأَفْضَلِ أَخْلاقِ أَهْلِ الدُّنْيَا، وَأَهْلِ الآخِرَةِ؟ تَصِلُ مَنْ قَطَعَكَ، وَتُعْطِي مَنْ حَرَمَكَ، وَتَعْفُو عَمَّنْ ظَلَمَكَ، الّذِي أَرَادَ أَنْ يُبْسَطَ لَهُ فِي رِزْقِهِ وَيُمَدّ لَهُ فِي عُمُرِهِ فَلْيَتّقِ اللّهَ، وَلْيَصِلْ ذَا رَحِمِهِ "(۲۰، ۲۳۳).**

له عقبه بن عامر نه روايت دی، يوه ورځ زه له نبي صلی الله عليه وسلم سره مخامخ شوم، ما د هغه لاس راونيو او يا هغه (صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) بېړه وکړه او زما لاس يې ونيو، راته يې وويل: ای عقبه ايا زه تا د دنيا او اخرت د خاوندانو په خورا ښو اخلاقو خبر نه کړم؟ بيا يې وفرمايل: له هغه چا سره د خپلوۍ پالل، چې هغوی يې پرېکوي او هغه چا ته ورکړه کول چې له تا يې منع کوي. هغه چا ته عفوه کول چې له تا سره ظلم کوي ،هغه کس چې غواړي په رزق کې يې پراخي راشي او عمر يې زيات شي، نو له الله (جل جلاله) څخه دې په رښتينې توګه ووېرېږي او خپلوي دې وپالي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۷- رسول الله صلی الله علیه و سلم مهرباني کړې ده:( لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَاطِعٌ قَالَ سُفْيَانُ يَعْنِي قَاطِعَ رَحِمٍ ) (۴۴ ، ۴۰۸ ).

ژباړه: د خپلولۍ قطع کوونکې جنت ته نه شي داخلیدلی، سفیان وویل له قاطع نه مراد دخپلولي غوڅوونکی دی.

۸- نبی علیه السلام فرمايلي دي: (الرَّحِمُ مُعَلَّقَةٌ بِالْعَرْشِ تَقُولُ مَنْ وَصَلَنِي وَصَلَهُ اللَّهُ وَمَنْ قَطَعَنِي قَطَعَهُ اللَّهُ ).(۴۴ ، ۴۰۷ ).

د قیامت په ورځ به خپلوی عرش پورې نښتې وي او داسې به وايي چا چې دنيا کې زه پاللم الله دې نن پرې رحم وکړي او چا چې دنیا کې نه پاللم الله تعالی دی له خپل رحم څخه پرې کړي.

۱۰- جَاءَ رَجُلٌ إِلَى رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ فَقَالَ يَا رَسُولَ اللَّهِ إِنَّ لِي ذَوِي أَرْحَامٍ أَصِلُ وَيَقْطَعُونِي وَأَعْفُو وَيَظْلِمُونَ وَأُحْسِنُ وَيُسِيئُونَ أَفَأُكَافِئُهُمْ قَالَ لَا إِذًا تُتْرَكُونَ جَمِيعًا وَلَكِنْ خُذْ بِالْفَضْلِ وَصِلْهُمْ فَإِنَّهُ لَنْ يَزَالَ مَعَكَ ظَهِيرٌ مِنْ اللَّهِ عَزَّ وَجَلَّ مَا كُنْتَ عَلَى ذَلِكَ ) ).(۵۱ ، ۴۵۱ ).

یو سړی رسول الله صلی الله علیه و سلم ته راغی او عرض یې ورته وکړ چې زما خپلوان دی زه ورسره خپلو پالم خو هغوی راسره خپلوی نه پالي زه هغوی ته عفوه کوم خو هغوی رابانديې ظلم کوي ، زه هغوي سره ښه کوم خو هغوی راسره بد کوي ایا زه هم د هغوی سره د هغوی په څېر چلند وکړم؟ نو رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته وفرمایل: (( نه ته د هغوی سره د هغوی په څېر چلند مه کوه چې په دی صورت کې به ټول ګناه کې شریک شئ ته غوره کارونه کوه او ددوی سره خپلوی پاله تر هغی پورې چې ته داسې کوی الهي مرسته به تا سره وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



**۱۲- قال رسول الله صَلی الله عَلَیه وسَلّم : إنّ الرّحْمَةَ لَا تَنْزِلُ عَلَى قَوْمٍ فِيهِمْ قَاطِعُ رَحِمٍ{۲۵، ۵۹ ).**

رسول الله (صلى الله عليه واله وسلم) فرمايلي دي: په يقيني توګه پر هغه قوم باندې رحم نه راځي چې په هغوي کې خپلولي پرېکوونکی وي.

**۱۳- عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ سَمِعْتُ رَسُولَ اللَّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ إِنّ أَعْمَالَ بَنِي آدَمَ تُعْرَضُ كُلّ خَمِيسٍ لَيْلَةَ الْجُمُعَةِ فَلَا يُقْبَلُ عَمَلُ قَاطِعِ رَحِمٍ ) ).(۵۴، ۴۲۷ ).**

ابوهرېرة (رضي الله تعالی عنه) روايت کوي چې رسول الله(صلى الله عليه واله وسلم) څخه مې اورېدلي دي ((دانسانانو اعمال هره پنج شنبه دجمعې په شپه الله تعالى ته وړاندې کېږي په دې الله تعالى دهغه چا عملونه نه قبلوي چې دخپلوانو سره خپلولي پرېکوي))

## ۴- شفقت او ترحم:

د شفقت او ترحم تعريف علماؤ دارنګه کړی دی:

شفقت او رحم داسې لوړعزتمند خلق (عادت) ته وايې چې خلک د اړو او محتاجو خلکو مرستی، مدد او فرياد رسۍ ته هڅوي اړو خلکو ته ګټه رسوي او ضرر ورڅخه دفع کوي. (۳۴:۱۳۷).

اسلامي شريعت داسې بشري ټولنه جوړول غواړي چې هلته د ټولنې هر غړی بايد د شفقت او رحم په لباس پوښل شوی وی د غريب د غربت علاج پکې نيول شوی وی هېڅ انسان ته د بل انسان له لورې ويره متوجه نه وي.

البته اسلام د شفقت او رحم لپاره ځانګړی اصول او مقررات وضع کړي دي په دی اساس که چېرې شفقت او رحم په خپل ځای کې استعمال نشي ګنې ستونزې زيږوی د بيلګې په توګه د هر مجرم بخښل په دې منظور چې دا پرې

(c) ketabton.com: The Digital Library



شفقت او رحم دې په ټولنه کې جرمونه زياتوي په ټولنی شفقت او رحم دادې چې مجرمانو ته د شرعي سزا ورکولو په وسيله د جرائمو مخه ونيول شي (۱۳۷:۳۴).

له همدی امله چې الله تعالی په قرآنکريم کې فرمايلي دي: (❒◆♋⬧▤⬈☠⬀
⬀❍⬧◆ⓞ⬜◆⬜▤⬜⋖ ✂♌♏⬂☾♐⏲✾♌♐⬁ ✗⬂❼
⬀☠→⌛✵■⬜→⬧♋ ♐■⏲◆⌛⬂♋☞✿♌✂ ❼✗▢♁⬜↑♁✵⏲◆③
✍⬧✌◆✵☽→⬜♌◆ ♐✍✍⬂⬃ ) (۱: د البقرې سورت، آيت ۱۷۹).

ای د عقلونو خاوندانو ! تاسې لره په قصاص کې ژوند دی.

که چېری په يوه انساني ټولنه کې د ټولنې د غړو ترمنځ شفقت او ترحم نه وي دغه ټولنه په حقيقت کې د وحشي حيواناتو په ځنګل بدلېږي هغه په دی معنی چې زورور به کمزوري خوري او ځوروي به ئې د کمزورو حقوق به تالا وي هر سړی به يوازې او يوازې د خپلی خيټې په فکر کې وي او د ټولنې د نورو غړو به ورسره غم نه وي (۱۳۸:۳۴).

البته اوسني وخت کې د شفقت او رحم د نشتوالي له امله زمونږ د ټولنې همدا حال ګرځيدلي دی يو زوړ سړي ماته خپله قصه په ژړغوني اواز داسې وکړله: (زما ښځه او زما او لادونه ټول زما په ضد يو شوي دي ماته وايې چې زوړ شوی يې اعصابو د کار پريښي دي د کور هر غړی سپکې او سپورې راته وايې راباندې شرمېږي زما په ټولو شتو يې قبضه کړېده ماباندې يې خپل کور سور اور ګرځولي دی) ګڼ شمېر شرعي د لائل د مسلمانانو څخه په ټينګه غوښتنه کوي چې بايد هر مسلمان د شفقت او رحم په لباس پوښل شوی وي چې مونږ د ذکر شوو د لائلو څخه ځېنې د بېلګې په توګه په لاندې ډول ذکر کوو:

**۱- رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي دي:( مَنْ لَا يَرْحَمْ النّاسَ لَا يَرْحَمْهُ اللّهُ عَزّ وَجَلّ (۲۵:۱۱).**

څوک چې خلکو باندې رحم نه کوي د اسې تن باندې الله تعالی رحم نه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- نبی کریم صلی الله علیه و سلم مهرباني کړې ده: الرَّاحِمُونَ يَرْحَمُهُمْ الرَّحْمَنُ ارْحَمُوا أَهْلَ الْأَرْضِ يَرْحَمْكُمْ مَنْ فِي السَّمَاءِ )(۱۴:۱۳).

ژباړه: تاسې په هغه چا رحم وکړئ چې ځمکې کې دي نو په تاسې به رحم وکړي هغه ذات چې آسمان کې دی.

اسلامي شريعت مسلمانان تنها په دې نه دی مکلف کړي چې په انسانانو شفقت او رحم وکړي بلکې په حيواناتو شفقت کول يې هم د مسلمانانو اهمه دنده ګرځولې ده چې په لاندې ډول ځينې شرعي د لائل د بيلګې په توګه ذکر کوو:

۱- رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمايلي دي: (يو سړی په يوې دښتې کې روان ؤ ډير تندی نيولی په دې وخت کې يې يو کوهي پيدا کړ کوهي ته ښکته شو اوبه يې وڅښلې کله چې له کوهي پورته شو يو سپی ګوري چې له ډېرې تندې لمده خاوره خوري له ځان سره يې وويل چې داسپی هم زما په څېر زيات تږی شوی دی بيرته کوهي کې ښکته شو خپله موزه يې له اوبو ډکه کړله خپله خوله کې يې ونيوله او له کوهي پورته شو او سپي ته يې اوبه ورکړلې الله تعالی له دې سړي څخه خوښ شو او بخښنه يې ورته وکړله، صحابو کرامو عرض وکړ چې ای د الله تعالی رسوله ! مونږ ته د ځارويو سره د ښه کولو په لامل اجر او ثواب راکول کيږي ؟

رسول الله صلی الله علیه و سلم و فرمايل: هر ژوندی موجود سره د احسان کولو په وجه اجر درکول کيږي. (۲۳۷:۳۱).

۲- نبی کریم صلی الله علیه و سلم مهرباني کړې ده:( عُذِّبَتْ امْرَأَةٌ فِي هِرَّةٍ لَمْ تُطْعِمْهَا وَلَمْ تَسْقِهَا وَلَمْ تَتْرُكْهَا تَأْكُلُ مِنْ خَشَاشِ الْأَرْضِ) (۲۳۶:۳۱).

ژباړه: يوه ښځه له دې امله دوزخ کې واچول شوه چې پيشکه يې زنداني کړې وه نه يې ورته خواړه ورکول او نه يې پرېښودله چې د ځمکې حشرات او خځندې وخوري ترڅو چې همدې حال کې پيشو مړه شوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- د حیواناتو وژل د لوبو او عبثیاتو په منظور حرام دی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي (مَنْ قَتَلَ عُصْفُورًا عَبَثًا عَجّ إِلَى اللّٰهِ عَزّ وَجَلّ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يَقُولُ يَا رَبّ إِنّ فُلَانًا قَتَلَنِي عَبَثًا وَلَمْ يَقْتُلْنِي لِمَنْفَعَةٍ ) (۳۸:۳۰).

ژباړه: چنچېه به دقیامت په ورځ الله تعالی ته شکایت وکړي چې فلانی تن زه بې ځایه او عبث ووژلم او دګټې اخستو په خاطر یې حلال کړی نه یم.

۴ – حیوان د نښې ویشتلو لپاره حرام دی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم لعنت کړی هغه چا باندې چې ژوندی موجود د نښې په توګه استعمالوي (۳۲۱:۷).

په یو انسان کې رحم څنګه پیدا کېږي؟

په یو انسان کې رحم نشته ( زړه یې سخت دی ) هغه ته په کار دي چې دیتیمانو په سر لاس راکاږي او مسکینانو ته ډوډۍ ورکړي ، دغه مقصد ته په یو حدیث کې داسې اشاره شویده.

(عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنّ رَجُلًا شَكَا إِلَى رَسُولِ اللّٰهِ صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَسْوَةَ قَلْبِهِ فَقَالَ لَهُ إِنْ أَرَدْتَ تَلْيِينَ قَلْبِكَ فَأَطْعِمْ الْمِسْكِينَ وَامْسَحْ رَأْسَ الْيَتِيمِ ) )(۵۲، ۳۰۱ ).

یو سړي رسول الله (صَلّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) ته دخپل زړه دسختوالي شکایت وکړ رسول الله(صلی الله علیه واله وسلم) ورته په ځواب کې وفرمایل:که ته غواړې چې زړه دې نرم شي مسکین ته طعام(خوراک ) ورکړه ،اودیتیم په سر لاس راکاږه )

## ۵- د ګاونډیو سره ښه سلوک کول:

اسلامي شریعت مسلمانانو باندې لازم کړي دي چې ټولو هغو خلکو سره ښه تعلقات او سلوک ولرئ چې په کور او کلي، کارو بار او سفر کې در سره شریک او نږدې وي ،ځکه اسلام تل دټولنې دافرادو ترمنځ په عامه توګه ،اودیوې کورنۍ دغړو ،همسایګانو دکار اوعمل دملګروترمنځ په خاصه توګه دښو

تعلقاتو غوښتنه کوي،ترخوټولنه دمينې او محبت په فضا منوره، يو بل څخه شر دفع کړي. (۲۳:۲۷۱).

په نبوي احاديثو کې ځينې احاديث دګاونډي حقوقو او اکرام ته ځانګړي شوي دي ، چې له ګاونډي او همسايه څخه دهر ډول شر او ضرر ممانعت کوي ،په دغو احايثو کې دګاونډي اکرام دايمان نښه او هغه ته ضرر رسول دبې ديني سره مرادف ګڼل شوي دی،رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) فرمايي:

مَا زَالَ يُوصِينِي جِبْرِيلُ بِالْجَارِ حَتّى ظَنَنْتُ أَنّهُ سَيُوَرِّثُهُ (۳۷، ۴۳۰).

جبرابيل امين په ما باندی دګاونډي دحقوقو په اړه دومره تاکيد کاوه چې زما يقين شو چې ګويا ګاونډي به په ميراث کې شريک شي

په ګڼو قرآني آيتونو اونبوي احاديثو کې مسلمان ښه ګاونډيتوب ته هڅول شوې دی چې ځينی يې دبېلګې په توکه په لاندې ډول ذکر کوو.

۱- الله تعالی قرآن کريم کې فرمائلي:(... ❑◆✂✍🖳⬂♍❑✍❻✗ ❶♌❽ ✂✍◉♒⬂◑➔❷⬀🗁■❼🗐 ❑◆✂✍◉♒⬂➚✗➔✡⬉🖬🖅 ❑◆✂✍♒⏲○✍○♌🖬🖅 ✍🖃♋✍✍◉♒⬂➚✗⌂☾✍🖬🖅 ... ✍♌⌘✍ ) (۱: د النساء سورت، ايت۳۶).

اونيکي کوئ له هغو ګاونډيو سره چې قريب وی اوله هغو ګاونديو سره چې بعيدوي اوخپل د سفر ملګرو سره نيکي کوئ.

دپورتني آيت شريف په اړه مفسرين وايي ( ❑◆✂✍🖳⬂♍❑✍❻✗ ❶♌❽ ✂✍◉♒⬂◑➔❷⬀🗁■❼🗐 ) څخه مراد هغه ګاونډې دی چې کور يې ستاله کور سره ديوال شريک وي او د ( ❑◆✂✍🖳⬂♍❑✍❻✗ ✂✍◉♒⬂➚✗➔✡⬉🖬🖅 ) څخه مقصد هغه ګاونډی دی چې ستاديوال شريک نه وي،علي رضی الله عنه ويلې دي:

(ټول هغه ګاونډيان چې ستا دکورڅخه ستا اواز اوري

د(❑◆⊹ ⊹⁓⁓⌨⬂♍❑⁓⓺☠ ⊹⁓⁓◉♒⬂✗➔✡⬉◘✍)کې شامل دي) (۲۷۱:۲۳).

۲- رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي دي:.. وَمَنْ كَانَ يُؤْمِنُ بِاللّهِ وَالْيَوْمِ الْآخِرِ فَلْيُكْرِمْ جَارَهُ).(۴۹:۴۵۷)

ژباړه: اوڅوک چې الله تعالى اود اخرت په ورځ ايمان لري د خپل ګاونډي عزت دې وکړي....

۳- عَنْ أَبِي شُرَيْحٍ أَنّ النّبِيّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ وَاللّهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللّهِ لَا يُؤْمِنُ وَاللّهِ لَا يُؤْمِنُ قِيلَ وَمَنْ يَا رَسُولَ اللّهِ قَالَ الّذِي لَا يَأْمَنُ جَارُهُ بَوَايِقَهُ (۳۷، ۴۳۳).

نبي صلى الله عليه و سلم فرمايلى دى قسم په الله تعالى چې مؤمن نه دى قسم په الله تعالى چې مؤمن نه دى قسم په الله تعالى چې مؤمن نه دى نو درسول الله صلى الله عليه و سلم څخه پوښتنه وشوه چې څوک مؤمن نه دى ؟ نبي صلى الله عليه و سلم وفرمايل هغه څوک چې ګاونډى يې دضررڅخه په امن کې نه وى.

۴ – که يو څوک زيات لمونځونه تر سره کوي زياتې روژې نيسي خو په ژبه خپلو ګاونډيانو ته ضرر رسوي په دغه لمونځ او روژه نجات نه شي ميندلى په حديث کې راغلې دي: عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ قَالَ قَالَ رَجُلٌ يَا رَسُولَ اللّهِ إِنّ فُلَانَةَ يُذْكَرُ مِنْ كَثْرَةِ صَلَاتِهَا وَصِيَامِهَا وَصَدَقَتِهَا غَيْرَ أَنّهَا تُؤْذِي جِيرَانَهَا بِلِسَانِهَا قَالَ هِيَ فِي النّارِ قَالَ يَا رَسُولَ اللّهِ فَإِنّ فُلَانَةَ يُذْكَرُ مِنْ قِلّةِ صِيَامِهَا وَصَدَقَتِهَا وَصَلَاتِهَا وَإِنّهَا تَصَدّقُ بِالْأَثْوَارِ مِنْ الْأَقِطِ وَلَا تُؤْذِي جِيرَانَهَا بِلِسَانِهَا قَالَ هِيَ فِي الْجَنّةِ ) )مسند احمد ، ۱۹ج، ۳۴۱ص.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ابو هريرة (رضي الله تعالى عنه) روايت كوي چې يو سړي نبی صلی الله عليه و سلم ته عرض وكړ چې فلانۍ ښځه د ورځې روژه وي او ټوله شپه په عبادت تيروي خو ګاونډيو سره ښه سلوک نلري رسول الله ددی ښځی په هکله وفرمايل: نوموړې ښځه دوزخۍ ده ،ديوې بلې ښځې په هکله ورته وويل شو چې روژې صدقې او لمونځونه يې کم دي لږ څه کوچ په صدقه کې وركوي البته ګاونډيانو ته په ژبه ضرر نه رسوي وې فرمايل :دغه ښځه به جنت کې وي . (۳۵:۳)

۵- مؤمن ته په كار دي چې دخپل ځان لپاره څه خوښوي دخپل ګاونډي لپاره هم خوښ کړي ،رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) په دې اړه موږ ته داسې لارښوونه کوي: ((وَالّذِي نَفْسِي بِيَدِهِ لَا يُؤْمِنُ عَبْدٌ حَتّى يُحِبّ لِجَارِهِ أوْ قَالَ لِأخِيهِ مَا يُحِبُّ لِنَفْسِهِ)).(۴۱، ۱۵۹).

زما دې پر هغه ذات قسم وي چې زما روح دهغه په قبضه كې دی يو بنده تر هغه كامل مؤمن كېدی نشي تر څو چې كوم شی دخپل ځان لپاره خوښوي دخپل ګاونډي يا ورور لپاره يې خوښ نه کړي.

۶- ګاونډي ته ضرر رسوونكی، الله تعالی ته ضرر رسوونكی دی او ګاونډي سره جنګ كوونكی الله تعالی سره جنګ كوونكی دی،زموږ ستر لارښود په دې اړه داسې فرمايي

(( من آذى جاره فقد آذاني ومن آذاني فقد آذى الله، ومن حارب جاره فقد حاربني ومن حاربني فقد حارب الله))(۲۲، ۲۴۳).

چاچې خپل ګاونډي ته ضرر ورساوه هغه ما ته ضرر ورساوه او چاچې ماته ضرر ورساه هغه يقينا الله تعالی ته ضرر ورساه، او چاچې خپل ګاونډي سره

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنګ وکړ هغه ما سره جنګ وکړاو چاچې ما سره جنګ وکړهغه يقينا الله تعالی سره جنګ وکړ.

۷- رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) ګاونډي ته ضرر رسوونکی په خپل مجلس کې نه پريږدي راتلونکی حديث ددغې مو ضوع ښه روښانه کوونکی دی:

**عَنْ عَبْدِ اللّهِ بن عُمَرَ ، قَالَ: خَرَجَ رَسُولُ اللّه صَلّی اللّهُ عَلَيْه وَسَلّمَ فِي غزَاة ، فَقَالَ: لا يَصْحَبْنَا الْيَوْمَ مَنْ آذَى جَارَهُ ، فَقَالَ رَجُلٌ مِنَ الْقَوْمِ: أَنَا بُلْتُ فِي أَصْلِ حَائِطِ جَارِي ؟ فَقَالَ: لا تَصْحَبْنَا الْيَوْمَ)). (۲۲، ۲۴۳).**

عبدالله بن عمر (رضي الله تعالی عنه) څخه روايت دی چې يوه ورځ رسول الله (صلی الله عليه واله وسلم) په يوه غزا کې ووت ،وې ويل:نن ورځ دې هغه څوک زموږ سره ملګرتيا نه کوي چې خپل ګاونډي ته يې ضرر رسولی وي، يو سړي وويل ، ما دخپل ګاونډي ددېوال بېخ ته متيازې کړې وې، وې فرمايل:نو نن موږ سره ملګرتيا مه کوه.

۸- هغه مؤمن چې په خپله په مړه خېټه وېده کېږي او ګاونډي يې وږی وي کامل مؤمن نه دی رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) په دې اړه داسې فرمايي:((**لَيْسَ الْمُؤْمِنُ بِالّذِي يَشْبَعُ وَجَارُهُ جَائِعٌ**)).(**۵۸، ۳۰۰**).

هغه مؤمن نه دی چې په خپله په مړه خېټه ويده کېږي او ګاونډي يې وږی وي.

## د ګاونډيانو حقوق کوم دي ؟

لاندې حديث دغو حقوق په داسې توګه ذکر کوي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



عَنْ بَهْزِ بن حَكِيمٍ، عَنْ أَبِيهِ، عَنْ جَدِّهِ، قَالَ: قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللَّه، مَا حَقُّ جَارِي عَلَيَّ؟، قَالَ: "إِنْ مَرِضَ عُدْتَهُ، وَإِنْ مَاتَ شَيَّعْتَهُ، وَإِنِ اسْتَقْرَضَكَ أَقْرَضْتَهُ، وَإِنْ أَعْوَرَ سَتَرْتَهُ، وَإِنْ أَصَابَهُ خَيْرٌ هَنَّأْتَهُ، وَإِنْ أَصَابَتْهُ مُصِيبَةٌ عَزَّيْتَهُ، وَلا تَرْفَعْ بناءَكَ فَوْقَ بنائِهِ فَتَسُدَّ عَلَيْهِ الرِّيحَ، وَلا تُؤْذِهِ بِرِيحِ قِدْرِكَ إِلا أَنْ تَغْرِفَ لَهُ مِنْهَا ". (۲۲، ۲۴۳).

بهز بن حکیم له خپل پلار او هغه له خپل نیکه نه روایت کوي چې ما له رسول الله (صلی الله علیه واله وسلم) څخه پوښتنه وکړه چې ګاونډي پر ما څه حق لري؟وې فرمایل:چې رنځور شي پوښتنې ته ورشې،او که وفات شي جنازه یې وکړې او بیا یې تر قبره ورسوې او که پور درڅخه وغواړي پور ورکړې،اوکه دهغه عورت لوڅ شي(کوم عیب پکې وګورې)ته یې پټ کړې،او که کوم خبر ورته ورسیږي پرې خوشحاله شې او مبارکۍ ته ورشې،او که غم ورته ورسیږي پوښتنې ته ورشې، خپله ابادي دهغه له ابادۍ مه پورته کوه،چې باد پر هغه بند کړې، دخپلې کټوې په بوي باندې هغه ته زیان مه رسوه مګردا چې دهغه برخه پکې وکړې.

## دګاونډیانو ډولونه:

ګاونډیان په دریو ډولونو ویشل شوي دي ځینې یې یو حق لري ، ځینې یې دوه حقونه لري او ځینې یې درې حقونه لري هغه چې یو حق لري هغه کافر ګاونډی دی چې یواځې د ګاونډیتوب حق لري هغه چې دوه حقونه لري هغه مسلمان ګاونډی دی چې یو د مسلمانۍ حق او بل د ګاونډیتوب حق لري او هغه چې درې حقونه لري هغه مسلمان ګاونډي دي چې سړی ورسره د خپلولۍ رشته لري یو د مسلمانۍ حق دوهم د ګاونډیتوب حق او دریم د خپلولۍ حق (۳۵:۱۲۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



يعنې ښه ګاونډيتوب يوازې د مسلمان ګاونډي حق نه دی بلکې کافر ګاونډی سره ښه ګاونډيتوب د اسلامي شريعت غوښتنه ده لکه چې روايت شوې دی چې ابن عمر رضی الله عنه به کله خپل کور کې پسه حلال کړ نو له خپلې کورنۍ څخه به يې پوښتنه کوله چې ايا زما يهودي ګاوندي ته مو غوښه ليږلی اوکنه ؟ (۷۴:۱۲)

## ۷- د مسلمان دعزت او ابرو ساتنه:

مسلمانان په خپلو کې ورونه دي،بايد پر خوښۍ يې خوښ او پر خفګان يې خفه شي له همدې لامله اسلام هغه چارې حرامې ګرځولي دي چې دمسلمانانو ترمنځ دلرې والي او خفګان لامل ګرځي او پر هغو چارو يې تاکيد کړی دی چې دمسلمانانو ترمنځ دمينې محبت او نږدېوالي لامل ګرځي،نو کله چې له يو مسلمان څخه داسې يوه ګنا صادرېږي چې زيان يې نورې ټولنې ته خپرېږي،او دهغه شخصي ګنا وي داسلام غوښتنه داده چې پر دغه شخص باندې پرده واچول شي،په پټه توګه پوه کړای شي او دهغه له رسوا کولو څخه ډډه وشي، ددوو جهانو سردار محمد مصطفی (صلی الله عليه واله وسلم) په دې هکله خپل امت ته داسې لارښوونې کوي:«وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللَّهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ»(۳۶، ۳۰۹).

او چاچې پر يو مسلمان باندې پرده واچوله په دنيا او اخرت کې به الله تعالی پر هغه باندې پردې واچوي.

او په يو بل مورد کې داسې فرمايي:«لَا يَرَى امْرُؤٌ مِنْ أَخِيهِ عَوْرَةً، فَيَسْتُرُهَا عَلَيْهِ؛ إِلَّا دَخَلَ الْجَنَّةَ»(۵۷، ۲۵۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



که مؤمن په خپل مسلمان ورور کې یو عیب ګوري او بیا پر هغه پرده واچوي(په خلکو کې یې رسوا نه کړي) الله تعالی به هغه جنت ته داخل کړي.
دمسلمان ورور رسوا کول(شرمول) دخپل ځان رسوا کول دي، په دې هکله رسول الله (صلی الله علیه واله وسلم) داسې لارښوونه کوي:
((يَا مَعْشَرَ مَنْ آمَنَ بِلِسَانِهِ وَلَمْ يَدْخُلْ الْإِيمَانُ قَلْبَهُ لَا تَغْتَابُوا الْمُسْلِمِينَ وَلَا تَتَّبِعُوا عَوْرَاتِهِمْ فَإِنَّهُ مَنْ اتَّبَعَ عَوْرَاتِهِمْ يَتَّبِعُ اللَّهُ عَوْرَتَهُ وَمَنْ يَتَّبِعْ اللَّهُ عَوْرَتَهُ يَفْضَحْهُ فِي بَيْتِهِ))(۴۶، ۲۳).
ای هغو خلکو چې په ژبه دایمان نعرې وهئ او زړونو ته مو ایمان نه دی ننوتلی، دمسلمانانو غیبت مه کوئ،او مه دهغوی پټ عیبونه راسپړئ،یقینا څوک چې دمسلمان پټو عیبونو پسې ددې لپاره ګرځي چې هغه وشرموي،په خپل کور کې به یې الله تعالی رسوا کړي.
دا او دې ته ورته بې شمېره احادیث په دې هکله راغلي دي ترڅو مسلمان ددغو لارښوونو په رڼا کې دداسې اخلاقو څښتن وګرځي چې دنورو دسپکاوي لامل نه شي.

## ۸- مېلمه پالنه:

د اسلامي شریعت ګڼ احکام په دې ولاړ دي چې د مسلمانانو ترمنځ مینه او محبت رامنځته کړي او د هغوی ترمینځ د انشقاق او بې اتفاقۍ مخه ونیسي، چې په دې لړ کې مېلمه پالنه اسلامي شریعت په مسلمانانو کې سنت مؤکد ګرځولې او هر مسلمان یې دې ته هڅولې چې د خپل مېلمه اکرام او عزت وکړي

(c) ketabton.com: The Digital Library



ترڅو په دې ترتيب د مسلمانانو ترمنځ اتفاق او وحدت رامينځته شوې وي (۲۸۸:۲۳).

البته ګڼو شرعي نصوصو کې د مسلمانانو څخه د مېلمه پالنې غوښتنه شوې چې ځينې يې د بېلګې په توګه په لاندې ډول ذکر کوو:

۱- الله تعالی قرآنکريم کې اسلامي امت ته چې ابراهيمي امت دې د ابراهيم عليه السلام د مېلمه پالنې پېښه چې ملائکې ورته د انسانانو په بڼه راغلې وي په دې الفاظو سره بيانوي. (♎☒✍⬀ 🕮❑✍♦◉♑⌨☒ ❍☒⑨♑③✵←
♦☹➚♑♎◷♦❷⬀✉♐◗ ✐✂⬂⑩✿➬
⬂❶♐◗ ⬖✗✗⬀ ✎▫✓♑✌♦❷⬁▤←☺⬂♑◉✍✂
☎✂❑➚♑◉✍♦◗♦▫ ♑❍⬂⓿■◘♦⬉ ☎✂❑➔◘☒⌘☒⑩
⮘✐⬀❑♦♫ ☒☠◷■◘☒♒ ♦✌✍♦♫ ☎ ✍✞☺◷■◘☒♒
✂❼■🖫♐◗ ♦⬂✂♦❷♦▫ ⬖✗♐⬀ ♦♌❑⬉❷♦▤✡⑩✌
♑✍⇳✗♑➔♐✉ ♦➚✏✍☒✈♦▫ ◷♑🕮♐✂⬃♎❑🕮
▦◷←❍♦✉▪❷♦◗♦▫ ⬖✗♑⬀ 🕮✗✓♑☺☒♒
✎♍❑➔◘➚✉▫🕯♦✍ ♦♦❑🕮 ♦✌✍♦♫ ⬀☠✗✗⬀❸♦♑◉♐◗
⬖✗✗⬀ )( د الذاريات سورت، آيت۲۴-۲۷ ).

ژباړه: آيا تا ته د ابراهيم د عزتمندو ميلمنو خبره رسيدلی کله چې دا ميلمانه ابراهيم ته راغلل هغه ته يې سلام واچوه، ابراهيم ورته وويل: نااشنا خلکو په تاسې دی سلام وي بيا ابراهيم خپل کور ته ورغی ميلمنو ته يې وريت شوي سخئ (سخکی) د خوړلو لپاره راوړه او ميلمنو ته يې وويل: چې تاسې ولی خواړه نه خورئ؟

۲- رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي دي. ( من كان يؤمن بالله واليوم الاخر فليكرم ضيفه ) (متفق عليه ).

ژباړه: څوک چې الله تعالی او د اخرت په ورځی ايمان لري نو د خپل مېلمه عزت دی وکړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د دریم فصل د مراجعو فهرست


۱-قرانکریم

۲-ابن الاثیر ، کال ۱۹۰۸م، اسد الغابة في معرفة الصحابه ، پنځم ټوک،طبعه: داراحیاء التراث العربي- بیروت-لبنان.

۳-ابن حنبل: احمد ، مسند احمد ،څلورم ټوک،طبعه:دارالفکر-بیروت-لبنان

۴-ابن سعد: محمد ،الطبقات الکبری، دریم ټوک،طبعه: دارالتحریر للطباعة والنشر الالریاض-السعودیه.

۵-ابن القیم : شمس الدین ابي عبدالله، کال: ۱۴۳۰ هـ - ۲۰۰۹ م، المجموع القیم من کلام ابن القیم،لومړی ټوک، طبعه: دارطیب للنشر والتوزیع-الالریاض- السعودیة.

۶-ابن کثیر: اسمعیل بن عمر. تفسیر القرآن العظیم.څلورم ټوک. طبعه: دارالسلام - الالریاض - السعودیه.

۷-ابو داود: سلیمان بن اشعث. سنن ابی داود ، کال: ۱۳۱۲هـ ق ،دویم ټوک طبعه: خیبر ګروپ آف کمپنیز- پېښور-پاکستان.

۸-اصفهاني: الراغب ابو القاسم الحسین بن محمد، المفردات في غریب القرآن، طبعه:دارالمعرفه.

۹-اصفهاني:الراغب ابو القاسم الحسین بن محمد ،الذریعة الی مکارم الاخلاق، طبعه: دارالمعرفة.

۱۰-اصلاحي : محمد یوسف، کال: ۱۴۲۹هـ ق، په اسلام کې د ژوندانه آداب،طبعه پیغام خپروندوی مرکز-پېښور- پاکستان.

۱۱-البخاري: محمد بن اسمعیل، کال: ۱۳۵۷هـ ش، صحیح البخاري،لومړی ټوک، طبعه: نعماني کتب خانه.پېښور- پاکستان.

۱۲-البیهقی : ابو بکر، کال ۱۴۲۲هـ ق، السنن الکبری، پنځم ټوک، طبعه مکتبه الرشد للنشر والتوزیع-الریاض- السعودیه.

۱۳-الترمذي : محمد بن عیسی، سنن الترمذي، لومړی ټوک طبعه: مکتبة حقانیة پېښور-پاکستان.

۱۴-الجزائري: ابو بکر جابر، کال: ۱۴۱۰هـ ق- ۱۹۹۰م، منهاج المسلم، طبعه: دارالشروق للنشر و التوزیع والطباعة- جده- السعودیه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۵-الحاکم: محمد بن عبدالله ابو عبدالله ،المستدرک علی الصحیحین، څلورم ټوک، طبعه: دارالکتب العلمیه-بیروت-لبنان.
۱۶-سمرقندي: ابو اللیث نصربن محمدبن احمد ،تنبیه الغافلین،طبعه: مکتبة الکتاب والسنة_ پیښور-پاکستان.
۱۷-سمرقندي: ابو اللیث نصربن محمدبن ابراهیم، بستان العارفین طبعه: مکتبة الکتاب والسنة.
۱۸-الصنعاني: محمد بن اسمعیل، کال:۱۴۰۷ هـ ق- ۱۹۸۷م، سبل السلام، څلورم ټوک،طبعه: دارالکتاب العربي-بیروت-لبنان.
۱۹-الطبراني: ابو القاسم سلیمان بن احمد ، کال **۱۴۱۵**ق، المعجم الاوسط،دویم ټوک طبعه: دارالحرمین-قاهره.
۲۰-الطبري:تفسیر الطبري، نهم ټوک، طبعه: دارالفکر - بیرت-لبنان.
۲۱-الطحان: مصطفی محمد ، کال: **۱۹۹۵**م، شخصیة المسلم المعاصر، طبعه: المرکز العالمي للکتاب الاسلامي-الکویت.
۲۲-العنبري: خالد بن علي بن محمد ،الاخلاق الضایعة،طبعه: مرکز ترجمة التراث الاسلامي- پېښور- پاکستان.
۲۳-العبید: عبدالرحمن بن عبدالکریم، کال : **۱۴۰۵** هـ- **۱۹۸۴**م ،اصول المنهج الاسلامي،طبعه: مطابع الفرزدق التجاریه-الریاض-السعودیه.
۲۴-الغزالي : محمد بن محمد بن احمد ، کال **۱۳۸۵**هـ ش خلق المسلم.طبعه:مکتبة حقانیه- پېښور- پاکستان.
۲۵-الغزالي: محمد بن محمد بن احمد ، احیاء علوم الدین،طبعه: دارالفکر- بیروت-لبنان.
۲۶-لویس: معلوف، المنجد ،طبعه دارالفکر-بیروت-لبنان.
ملا علی قاري،مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح، نهم ټوک طبعه:مکتبه رشیدیه - بلوچستان-پاکستان.
۲۷-المنذري: زکي الدین عبدالعظیم بن عبدالقوي،الترغیب والترهیب. دریم ټوک،طبعه:داراحیاء التراث العربي - بیروت-لبنان.
۲۸-مودودي: ابو الاعلی، کال **۱۴۰۵** هـ ق- **۱۹۸۵**م، تفهیم القرآن،شپږم ټوک،طبعه: ادارة احیاء العلوم- پېښور، پاکستان.
۲۹-النسائي: احمد بن شعیب،سنن النسائي،دویم ټوک،طبعه: خیبر ګروپ آف کمپنیز- پیښور-پاکستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰-النيساپوري: مسلم بن حجاج ابوالحسين، کال: ۱۳۴۹هـ ش، الجامع الصحيح مسلم ،دويم ټوک طبعه:خيبر ګروپ اف کمپنيز پېښور پاکستان.
النووي: يحيى بن شرف،کال ۱۴۱۸ هـ - ۱۹۹۸ م،الرياض الصالحين، طبعه:المکتبة الاسلامي –بيروت- لبنان.
۳۱-النووي: يحيى بن شرف، شرح الاربعين للنووي،طبعه: دارالکتاب العربي.
۳۲-هاشم محمد ،کال ۱۴۱۴هـ ق- ۱۹۹۳م، ضوابط السلوک والمنجيات، طبعه: مکتبة دارالسالم للنشر والتوزيع -السعوديه،.
۳۳-الهيثمي : نورالدين على بن ابى بکر، مجمع الزوائدومنبع الفوائد، اتم ټوک، طبعه:دارالفکر-بيروت لبنان.
۳۴- البخاري ، محمد بن اسماعيل صحيح البخارى بن مغيره،۱ټوک ،طبعه بيروت دار بن کثير اليمامة
۳۵- البخاري ، محمد بن اسماعيل صحيح البخارى بن مغيره،۷ټوک ،طبعه بيروت دار بن کثير اليمامة
۳۶- البخاري ، محمد بن اسماعيل صحيح البخارى بن مغيره،۸ټوک ،طبعه بيروت دار بن کثير اليمامة
۳۷- البخاري ، محمد بن اسماعيل صحيح البخارى بن مغيره ،۱۸ټوک ،طبعه بيروت دار بن کثير اليمامة
۳۸- البخاري ، محمد بن اسماعيل صحيح البخارى بن مغيره ،۱۹ټوک ،طبعه بيروت دار بن کثير اليمامة
۳۹- البخاري ، محمد بن اسماعيل صحيح البخارى بن مغيره،۲۰ټوک ،طبعه بيروت دار بن کثير اليمامة
۴۰- البخاري ، محمد بن اسماعيل صحيح البخارى بن مغيره،۲۲ټوک ،طبعه بيروت دار بن کثير اليمامة
۴۱- النيسابوري ، أبو الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري ، صحيح مسلم ،۱ ټوک، دار الجيل بيروت
۴۲- النيسابوري ، أبو الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري ، صحيح مسلم ،۲ ټوک، دار الجيل بيروت
۴۳- النيسابوري ، أبو الحسين مسلم بن الحجاج بن مسلم القشيري ، صحيح مسلم ،۹ټوک، دار الجيل بيروت

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۴- النیسابوري ، أبو الحسین مسلم بن الحجاج بن مسلم القشیري ، صحیح مسلم ،۱۲ ټوک، دار الجیل بیروت
۴۵- النیسابوري ، أبو الحسین مسلم بن الحجاج بن مسلم القشیري ، صحیح مسلم ،۱۴ټوک، دار الجیل بیروت
۴۶- السجستاني ، سلیمان بن الأشعث أبو داود الأزدي، سنن أبي داود ،۱۳ټوک ،طبعه،دار الفکر
۴۷- الترمذي، محمد بن عیسی أبو عیسی السلمي ،الجامع الصحیح سنن الترمذي ۲ټوک ،طبعه:دار إحیاء التراث العربي – بیروت
۴۸- الترمذي، محمد بن عیسی أبو عیسی السلمي ،الجامع الصحیح سنن الترمذي ۷ټوک ،طبعه:دار إحیاء التراث العربي – بیروت
۴۹- ابو عبدالله: مالک بن انس ،الموطاء،۵ ټوک.طبعه دار احیاء التراث العربي – مصر.
۵۰- ابو عبدالله: مالک بن انس ،الموطاء،۳ ټوک.طبعه دار احیاء التراث العربي – مصر.
۵۱- ابن حنبل: احمد ، مسند احمد ۱۳، ټوک.طبعه:دار الفکر-بیروت-لبنان.
۵۲- ابن حنبل: احمد ، مسند احمد ،۱۵ ټوک.طبعه:دار الفکر-بیروت-لبنان.
۵۳- ابن حنبل: احمد ، مسند احمد ،۱۹ ټوک.طبعه:دار الفکر-بیروت-لبنان.
۵۴- ابن حنبل: احمد ، مسند احمد ،۲۰ ټوک.طبعه:دار الفکر-بیروت-لبنان.
۵۵- ابن حنبل: احمد ، مسند احمد ،۴۳ ټوک.طبعه:دار الفکر-بیروت-لبنان.
۵۶- ابن حنبل: احمد ، مسند احمد ،۴۶ ټوک.طبعه:دار الفکر-بیروت-لبنان.
۵۷- الطبراني ،ابوالقاسم سلیمان بن احمد بن ایوب ،المعجم الکبیر،۴ټوک ،طبعه القاهرة دارالحرمین.
۵۸- الطبراني ،ابوالقاسم سلیمان بن احمد بن ایوب ،المعجم الکبیر،۱۰ټوک ،طبعه القاهرة دارالحرمین.
۵۹- الطبراني ،ابوالقاسم سلیمان بن احمد بن ایوب ،المعجم الکبیر،۱۱ټوک ،طبعه القاهرة دارالحرمین.
۶۰- الطبراني ،ابوالقاسم سلیمان بن احمد بن ایوب ،المعجم الکبیر،۱۲ټوک ،طبعه القاهرة دارالحرمین.
۶۱- الطبراني ،ابوالقاسم سلیمان بن احمد بن ایوب ،المعجم الکبیر،۱۹ټوک ،طبعه القاهرة دارالحرمین.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶۲- القادري، علاء الدين علي بن حسام الدين ابن قاضي خان، كنز العمال في سنن الأقوال والأفعال،۲ټوک طبعه: مؤسسة الرسالة.

۶۳- البيهقي، أبو بكر أحمد بن الحسين، شعب الإيمان ۱ټوک،طبعه: المكتب الإسلامي, دار عمار - بيروت, عمان

۶۴- البيهقي، أبو بكر أحمد بن الحسين، شعب الإيمان ۱۲ټوک،طبعه: المكتب الإسلامي, دار عمار - بيروت, عمان

۶۵- الصنعاني: محمد بن اسمعيل، كال:۱۴۰۷ هـ ق- ۱۹۸۷م، سبل السلام، ۷ ټوک،طبعه: دارالكتاب العربي – بيروت – لبنان.

۶۶- عرفة ،منير، وبالوالدين احسانا ،المكتبة الشاملة

۶۷- ابن أبي شيبة، أبو بكر عبد الله بن محمد الكوفي، المصنف في الأحاديث والآثار ۸ټوک،مكتبة الرشد - الرياض

۶۸- القزويني: ابن ماجه محمد بن يزيد ،سنن ابن ماجه،دولسم ټوک، مطبعه: مكتبة العلميه- بيروت-لبنان.

۶۹- المقدسي، الامام احمد بن محمد ، مختصر منهاج القاصدين، طبعه،المكتب الاسلامي بيروت.

۷۰- الباني: محمد ناصرالدين بن نوح، صحيح الادب المفرد ،طبعه: دار الصدق.

۷۱- الصيدلي ،د/ ،جمال محمد الزكى، (انما بعثت لاتمم مكارم الاخلاق.

۷۲- السجستاني ، سليمان بن الأشعث أبو داود الأزدي، سنن أبي داود ،۷ټوک ،طبعه،دار الفكر

۷۳- ابن حنبل: احمد ، مسند احمد ،۴۵ ټوک.طبعه:دار الفكر-بيروت-لبنان.

# څلورم فصل

# ۲- ناوړه (بد ) اخلاق

(c) ketabton.com: The Digital Library



## د اسلام د دين په رڼا کې د ځينو ناوړه (بدو) اخلاقو بېلګې

۱-غيبت
۲-دروغ ويل
۳-نمامت
۴-رياء کاري
۵- کبر
۶- د نازاو نخرو تګ
۷- حسد
۸- غصه
۹- تجسس
۱۰- بدګماني

## ناوړه (بد) اخلاق

ناوړه اخلاق بې شمېره دنيوي او اخروي بدبختۍ زېږوي همدا لامل دی چې اسلامي شريعت په بېلا بېلو طريقو په ډېر تاکيد سره مسلمانان د پته هڅولي

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې ځانونه له ناوړو اخلاقو څخه لرې وساتي په دغه فصل کې د اسلامي شریعت له نظره ځینې ناوړه اخلاق په لاندې ډول ذکر کېږي:

## ۱-غیبت:

### الف: دغیبت تعریف:

د غیبت تعریف په راتلونکي حدیث شریف کې داسې بیان شوی دی:

عَنْ أَبِي هُرَيْرَةَ أَنّ رَسُولَ اللّهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ قَالَ أَتَدْرُونَ مَا الْغِيبَةُ قَالُوا اللّهُ وَرَسُولُهُ أَعْلَمُ قَالَ ذِكْرُكَ أَخَاكَ بِمَا يَكْرَهُ قِيلَ أَفَرَأَيْتَ إِنْ كَانَ فِي أَخِي مَا أَقُولُ قَالَ إِنْ كَانَ فِيهِ مَا تَقُولُ فَقَدْ اغْتَبْتَهُ وَإِنْ لَمْ يَكُنْ فِيهِ فَقَدْ بَهَتّهُ)). (۲۸، ۴۷۲).

ابوهرېره روایت کوي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم صحابو کرامو څخه وپوښتل: آیا تاسې غیبت پېژنئ ؟ صحابو کرامو عرض وکړ، چې د غیبت په تعریف الله تعالی او د هغه رسول ښه پوهیږي. نو رسول الله صلی الله علیه و سلم ورته غیبت په دی الفاظو سره تعریف کړ: د یو مسلمان ورور په غیاب کې هغه پسې داسې خبره کول چې هغه یې بده ګڼي، دې ته غیبت وایې ،یو صحابي عرض وکړ، چې یا رسول الله صلی الله علیه و سلم که چېرې د مسلمان په اړه چې څه وایم هغه پکې موجود وي نو دا هم غیبت دی؟
نبي صلی الله علیه و سلم ورته وفرمایل: که چېرې ذکر شوی عیب پکې موجود وي دې ته غیبت وایې او که چېرې پکې موجود نه وي دې ته بهتان وایې.
البته بهتان له غیبت څخه لویه ګناه ده.

### دغیبت اضرار او ناوړه پایلې:

(c) ketabton.com: The Digital Library



دا چې د یوې کورنۍ او ټولنې په غړو کې د غیبت موجودیت ګڼې تباه کوونکې ستونزې زېږوي او د انسانانو ترمنځ د ښمنیو بنسټ تشکیلوی په دی اساس اسلامي شریعت ډېرې هلې ځلې کړې دي چې مسلمانان د دې ناوړه صفت څخه وژغوري، مونږ په دې اړه ځینې شرعي دلایل د بېلګې په توګه په لاندې ډول ذکر کوو:

۱- الله تعالی په قرآنکریم کې غیبت کول داسې بد کار ګڼلی لکه څوک چې د خپل مړه ورور غوښه خوري فرمايي: (...🖬♦✌⬂⬄♦③ ••◆❒
❹🖬✎♦⬈⑥❒🕮 🗐 ✍⌑✆⬃➔♦📪 ☠⬈▤→✆⬃➔✸📪
⌘☠⬄⧫⧫⭔✇ •✍→🖹▫🕯♦③ ♌❒🕮 ⬄⚐→🖹←⑨♦■❒🕮
←■❑←☺🡐☞⬃♎⌘❷⬩▤⬩▫ ✍ॐ✌⬂⑩♦👌 ✆❍⑩⮋⌘❒🕮
🗐... ⬉⬊⌘⬀ )(۱: د الحجرات سورت، آیت ۱۲).

ژباړه: او نه دی کوي غیبت ځینې ستاسې د ځینې نورو. آیا خوښوي یو له تاسې څخه دا چې وخوري غوښې د ورور خپل په داسې حال کې چې مړ وي، پس بد ګڼئ تاسې د خپل مړه ورور غوښه خوړل.

۲- رسول الله صلی الله علیه و سلم په دوزخ کې د غیبت کونکو حال داسې بیان کړی دی:

((لَمَّا عُرِجَ بِي مَرَرْتُ بِقَوْمٍ لَهُمْ أَظْفَارٌ مِنْ نُحَاسٍ يَخْمُشُونَ وُجُوهَهُمْ وَصُدُورَهُمْ فَقُلْتُ مَنْ هَؤُلَاءِ يَا جِبْرِيلُ قَالَ هَؤُلَاءِ الَّذِينَ يَأْكُلُونَ لُحُومَ النَّاسِ وَيَقَعُونَ فِي أَعْرَاضِهِمْ)).(۲۲،۳۳)

ژباړه: کله چې زه پورته وخېژول شوم پر یو قوم تېر شوم ومې لیدل چې د هغوی نوکان له وسپنې څخه جوړ خپل مخونه سینې یې پرې څیرولې ما د جبریل علیه السلام څخه پوښتنه وکړله چې دی خلکو دنیا کې کومه ګناه کوله؟ جبریل

(c) ketabton.com: The Digital Library



عليه السلام راته وويل چې دې خلكو دنيا كې غيبت كاوه او د خلكو بى عزتي يې كوله.

۳- په يو حديث كې عايشة (رضي الله تعالى عنه) دغيبت په اړه خپله قصه په داسې الفاظو بيانوي: **قُلْتُ: يَا رَسُولَ اللهِ: إِنّ صَفِيّةَ امْرَأَةٌ، فَقَالَتْ بِيَدِهَا: أَيْ: إِنّهَا قَصِيرَةٌ، فَقَالَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ: " لَقَدْ مَزَجْتِيهَا بِكَلِمَةٍ لَوْ مَزَجْتِ بِهَا الْبَحْرَ لَمَزَجَتْهُ ")**.(**۴۴، ۱۳۴**).

ما رسول الله صلى الله عليه و سلم ته د صفيه رضى الله عنها په اړه وويل چې قد يې لنډ دى يعنې (غيبت يې وكړ) رسول الله صلى الله عليه و سلم راته وفرمايل: تا داسې خرابه خبره وكړله چې كه د بحر اوبو سره ګډه شي د بحر ټولې اوبه به خرابى كړي.

**هغه ځايونه چې غيبت كول په كې جواز لري:**

شپږو شرعي مقصدونو لپاره غيبت كول جواز لري چې په لاندې ډول ذكر كېږي (۲۰:**۵۲۵-۵۲۸**).

اول: دا چې مظلوم د ظالم له لاسه داسې چاته شكايت وكړي چې د ظلم څخه يې خلاصوي.

دوهم: دا چې يو څوك چا كې د شريعت څخه مخالف كار وګوري نو دا كار داسې سړى ته په ګوته كوي چې دا قوت او قدرت لري چې ذكر شوى بد كار څخه منع كړي.

دريم: دا چې د استفتاء لپاره وي هغه داسې چې يو چا ته ورځي. او ورته وايې چې فلاني سړى ما سره داسې چلند كړي دي، آيا هغه ما سره د داسې چلند كولو حق درلوده او كه نه؟ زه ورسره څه وكړم؟ غوره خبره دا ده چې په پورتني صورت

(c) ketabton.com: The Digital Library



کې يې نوم وانه خستل شي او دا سې وويل شي چې: که چېرې يو څوک د چا سره داسې چلند وکړي نو هغه سره بايد شرعاً څنګه معامله وشي؟

**څلورم**: دا چې يو تن کې کوم عيب موجود وي د دې په خاطر بل څوک ورباندې خبر وي چې له شر څخه يې وژغورل شي چې البته د دې ګڼ صورتونه دي چې د هغو له جملې څخه يو دا دی چې څوک غواړي د چا سره ښيښبې وکړي نو جانب مقابل د دې د کړو وړو څخه خبروي ترڅو په راتلونکي کې د دوی ترمنځ د شر مخه نيول شوي وي.

**پنځم**: دا چې يو څوک ښکاره ګناه کوي نو د داسې سړی د ښکاره ګناه يادونه جواز لري.

**شپږم**: دا چې يو عيب د چا نوم ګرځيدلی وي لکه ګوډ ، ړوند ، کوڼ او داسې نور خو که له ذکر شوي نوم پرته نوموړی شخص په بل نوم خلکو پېژنده بيا د ګوډ ، ړوند او کوڼ ويل ورته جواز نه لري البته د پورتنيو شپږو صورتونو جواز په صحيحو احاديثو سره ثابت دي.

## د غيبت کوونکي د توبې څرنګوالی:

د غيبت کوونکي د توبې په هکله علماء دوه ډلې شوي دي يوه ډله علماء وايې چې د غيبت کوونکي توبه دا ده چې په خپل کړي غيبت پښيمانه وي او راتلونکي کې د غيبت کولو څخه ځان وساتي خو بله ډله علماء وايې چې د ذکر شوو دوو نقطو ترڅنګ دريمه نقطه هم بايد په نظر کې ونيول شي هغه دا چې د چا غيبت يې کړې وي له هغه څخه د غيبت کولو بخښنه وغواړي، البته غوره نظر دا دی چې که غيبت هغه چا ته ور رسيدلې وي چې غيبت يې شوی دی نو د

(c) ketabton.com: The Digital Library



هغه څخه د بخښنه وغواړي خو که غیبت نه وي وررسیدلې بخښنه دی ورڅخه نه غواړي (۸۹:۱۳).

## ۲-دروغ ویل:

اسلامي شریعت د مسلمانانو څخه غواړي چې خپل ټول ژوند په حق او حقیقت ودروي،له حق پرته بل څه ونه وایې او له حق پرته په بل څه عمل ونه کړی چې په دې ترتیب یې حق د انساني خلقت د اساساتو څخه مهم اساس ګرځولې دی، ډېرې بدبختۍ چې انسانان ورسره نن ورځ لاس وګریوان دي اصلي علت یې دا دی چې انسانانو پورتنې مهم اسلامي اصل هیر کړی دی (۵۲:۱۲).
په دی اساس کوم ارزښت چې اسلامي شریعت حق ویلو ته ورکړې دی که کوم مسلمان ورڅخه ځان لری او درواغو ویلو ته لاس اوږد کړی داسې مسلمان د حقیقي مسلمانانو له ډلې څخه وتلې ګڼي لکه چې په دې هکله حدیث شریف کې راځي چې رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه پوښتنه وشوه. **قِيلَ لِرَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ جَبَانًا فَقَالَ نَعَمْ فَقِيلَ لَهُ أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ بَخِيلًا فَقَالَ نَعَمْ فَقِيلَ لَهُ أَيَكُونُ الْمُؤْمِنُ كَذَّابًا فَقَالَ لَا ) ) (۲۵، ۱۳۱).**
ژباړه: آیامؤمن ډارن کېدې شي؟رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل :هو، بیا پوښتنه ترې وشوه چې آیا کېدلی شي یو مؤمن بخیل وي؟ نبي صلی الله علیه و سلم وفرمایل هو، بیا ورته وویل شو چې آیا کېدلی شي یو مؤمن دروغجن وي؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم وفرمایل نه نشي کېدلی.
د پورتني حدیث شریف مطلب دا نه دی چې بخل او د کافرو سره د جنګیدلو نه ویره کوچنۍ ګناه ده بلکې مراد ترې دا دی چې کله کله د بخل او ویری لپاره

(c) ketabton.com: The Digital Library



عذر پيدا کيدای شي خو دروغ ويل په هيڅ صورت سره قابل د عذر نه دی(۵:۱۲ ).

ځنې شرعي دلايل مسلمانان دروغو ويلو څخه منع او رښتيا ويلو ته هڅوي چې ځينې د بېلګې په توګه په لاندې ډول ذکر کوو:

۱- الله تعالی په قرآنکريم کې مهرباني کړې ده: (③♦🕔❋🕯❒⑨🙵🙰❒🙵
☎✁❒⬉☪♦✌✁♦⬈ 🙵▫⇦🙵🔔⅄✏🙵✁
☎✁❒🡐☼❒⬈🙵♦❒ ⅄✏🙵✁ ☎✁❒🡒◑✸🙵✁
✌♦⬈⊡ ✁🙵⓪🕔🕔⑨🙵🔔🙵✓▫🙵 🙵🙵🙵🙵🙵 )(۱: د التوبه سورت، آيت ۱۱۹ ).

ژباړه: ای مؤمنانود الله تعالی څخه وويرېږئ او له هغو خلکو سره شئ چې رښتيا وايي (او له دروغو څخه ځان ساتي).

۲- رسول الله صلی الله عليه و سلم مهرباني کړې ده: ((إِذَا كَذَبَ الْعَبْدُ تَبَاعَدَ عَنْهُ الْمَلَكُ مِيلًا مِنْ نَتْنِ مَا جَاءَ بِهِ) )(۳۱، ۲۳۹ )

ژباړه: کله چې يو سړی دروغ ووايې ددی دروغو د بدبويۍ له امله د رحمت ملائکې د دې سړی څخه د يو ميل په فاصله لرې کېږي.

۳- نبي صلی الله عليه و سلم فرمايلي دی: ( تحروا الصدق و ان رأيتم ان الهلکة فيه فان فيه النجاة ) (۱۲:۳۰۵ ).

ژباړه: په رښتيا ويلو کې ټينګ اوسئ اګر که تاسې پرې هلاک کېږئ هم، بېشکه چې رښتيا ويلو کې ستاسې حقيقي خلاصون دی.

## هغه ځايونه چې دروغ ويل په کې جواز لري:

په راتلونکي حديث شريف کې هغه ځايونو په ګوته شوي دي چې دروغ ويل په کې جواز لري، نبي صلی الله عليه و سلم فرمايلي دي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



(( الكذب لايصلح الا فى ثلاث فى الحرب  لان الحرب خدعة والرجل يصلح به بين اثنين و حديث الرجل امرأته و حديث المرأة زوجها ) (۳۲۵:۲۲ ).

ژباړه: دروغ ویل پرته له دغو دریو ځایونو نورو ځایونو کې جواز نه لري: کافرو سره جنګ کې ځکه چې جنګ دوکه کول دي، په هغه ځای کې چې یو څوک د دوو تنو ترمنځ روغه جوړه راولي او هغه ځای کې چې میړه خپلې ښځې سره یا ښځه خپل میړه سره پرې روغه جوړه برابروي.

## ۳-شیطانت (نمیمة):

شیطانت (نمیمة) دې ته وایې چې یو څوک د دوو تنو ترمنځ ګرځي راګرځي د یوه جانب خبرې بل جانب ته رسوي ترڅو په دې وسیله د جانبینو ترمنځ شر او فتنې راپیداکړي (۱۴۸:۱۵ ).

اسلامي شریعت د فرد، کورنۍ او ټولنې لپاره اتفاق، سوکاله او ارامه ژوند جوړول غواړي خو شیطان سړی (نمام) په یوه لحظه کې د کورنۍ او ټولنې وحدت له منځه وړي او هغوی د هلاکت کندې ته غورځوي په همدې لامل دا خبره ډېره مشهور ده چې د نمام عمل د شیطان د عمل څخه ډېر خطرناک دی ځکه چې شیطان خلک د تباهۍ کندې ته په وسوسو سره غورځوي خو نمام مستقیماً سړی له لاسه نیسي او د هلاکت کنده کې یې اچوي (۹۱:۱۳ ).

ګڼ شرعي دلایل مسلمانان د شیطانت څخه منع کوي چې د هغو له جملې څخه یو حدیث شریف د بېلګې په توګه په لاندې ډول ذکر کوو:

رسول الله صلی الله علیه و سلم مهرباني کړې: ( لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ قَتَّاتٌ ) (۴۵، ۳۲۵ ).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: جنت ته نمام (شیطان شخص) نه شي داخلېدلی.

## ۴-ریاء کاري:

د ریاء تعریف علماؤ دارنګه کړی دی: (ارادة العباد بطاعة المعبود عزوجل للحصول علی الحظوة بینهم والمنزلة فی قلوبهم) (**۱۵:۲۴۳**).

ژباړه: ریاء دې ته وایې چې د الله تعالی د عبادت پر مهال بنده ګان مراد کړلای شي څو ددې پوسیله د هغوی په منځ کې ځانته مقام حاصل کړي او په زړونو کې یې ځای ونیسي.

الله تعالی یوازې او یوازې هغه عمل باندې اجر او ثواب ورکوي چې ریاء په کې ځای ونه لري تنها د ده د رضا په خاطر ترسره شوی وي په دې اړه رسول الله صلی الله علیه و سلم داسې مهرباني کړې ده: **(ان الله لا یقبل من العمل الا ما کان خالصاً و ابتغی به وجهه) (۲۸:۱۹).**

ژباړه: الله تعالی یوازې هغه عمل قبلوی چې سوچه وي او تنهاد الله تعالی د رضا په خاطر شوی وي.

نو دا چې ریاء عملونه تباه کوي په دې وجه اسلامي شریعت مسلمانان له ریاء منع کوي او دې ته یې هڅوي چې نیک عملونه یوازې او یوازې د الله تعالی د رضا په خاطر ترسره کړی مونږ دلته ځینې شرعي دلایل د بېلګې په توګه ذکر کوو:

۱- رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي چې الله تعالی داسې فرمایلي:
**(یَقُولُ اللّهُ تَعَالَی : مِنْ عَمِلَ عَمَلًا أَشْرَکَ فِیهِ غَیْرِي فَهُوَ لَهُ کُلُّهُ وَأَنَا عَنْهُ بَرِيءٌ وَأَنَا أَغْنَی اَلْأَغْنِیَاءِ عَنْ الشِّرْکِ) )(۳۸، ۱۳۳).**

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: چا چې د نیک عمل په ترسره کولو کې زما رضاء سره بل څوک شریک کړ نو دا عمل ټول د هماغه بل تن د خوښۍ لپاره شو زه د دې عمل څخه بېزاره یم.

۲- ریاء ته اسلامي شریعت کې کوچنی شرک ویل شوی دی په دې هکله رسول الله صلی الله علیه و سلم داسې مهرباني کړې ده

(إِنَّ أَخْوَفَ مَا أَخَافُ عَلَيْكُمْ الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ وَمَا الشِّرْكُ الْأَصْغَرُ قَالَ الرِّيَاءُ إِنَّ اللَّهَ تَبَارَكَ وَتَعَالَى يَقُولُ يَوْمَ تُجَازَى الْعِبَادُ بِأَعْمَالِهِمْ اذْهَبُوا إِلَى الَّذِينَ كُنْتُمْ تُرَاءُونَ بِأَعْمَالِكُمْ فِي الدُّنْيَا فَانْظُرُوا هَلْ تَجِدُونَ عِنْدَهُمْ جَزَاءً) (۱۲۸.۴۱).

ژباړه: زه په تاسې ډېر زیات ډارېږم چې تاسې به کوچنی شرک وکړئ صحابو کرامو عرض وکړ، چې یا رسول الله کوچنی شرک څه شي ته وايي؟ نبي صلی الله علیه و سلم ورته وفرمایل: کوچنی شرک ریاء ته وايي کله چې د قیامت په ورځ الله تعالی خپلو بندګانو ته د خپلو نیکو عملونو بدله ورکوي نو کومو کسانو چې نیکو عملونو کې به یې ریاء کړې وي هغوی ته به ووايي لاړ شئ د هغو خلکو څخه د خپل عمل بدله وغواړئ چې په دنیا کې دا نیک کارونه تاسې د هغوی لپاره ترسره کول اوګورئ چې ایا د هغوی سره بدله موندلای شی او کنه؟

## ۵- کبر:

د کبر تعریف رسول الله صلی الله علیه و سلم په راتلونکي حدیث شریف کې داسې کړی دی: لَا يَدْخُلُ الْجَنَّةَ مَنْ كَانَ فِي قَلْبِهِ مِثْقَالُ ذَرَّةٍ مِنْ كِبْرٍ قَالَ رَجُلٌ إِنَّ الرَّجُلَ يُحِبُّ أَنْ يَكُونَ ثَوْبُهُ حَسَنًا وَنَعْلُهُ

حَسَنَةً قَالَ إِنّ اللّهَ جَمِيلٌ يُحِبُّ الْجَمَالَ الْكِبْرُ بَطَرُ الْحَقِّ وَغَمْطُ النّاسِ ) ).(۲۷، ۲۴۷ ).

رسول الله (صلی الله علیه واله وسلم) وفرمایل جنت ته به هغه څوک لاړ نه شي چې په زړه کې دذرې په اندازه کبر وي یو صحابي رسول الله صلی الله علیه و سلم ته عرض وکړ، چې ای د الله تعالی رسوله ! یو سړی غواړي چې جامې او څپلۍ یې ښکلی وي آیا دا کبر دی؟ نبي صلی الله علیه و سلم ورته مهرباني وکړله: نه دا کبر نه دی بلکې ښکلا ده ،بېشکه الله تعالی ښکلی دی ښکلا خوښوي، کبر د حق ردولو او د خلکو ذلیل ګڼلو ته وایي.

د پورتني تعریف په اساس کبر د تواضع ضد دی چې تواضع کول د انبیاؤ او صالحینو د اخلاقو څخه دی او کبر کول د کافرانو او فرعونیانو خاصیت دی.

په دې اړه الله تعالی قرآنکریم کې داسې مهرباني کړې:
(❒◆♎⧖❷⬉❒♍♒ ❒◆❑♎◆❷⬃⬉◆❒⬃♍♒
❒◆♎⬔⧖☺⬔⧖⬀♒ ☎ ❒◆♍♑⬥◑⬥⑨⇳ ♊⬔🔔✐⬈◆♎⬌☠
✍⑩❑☞⬔✎⬜ 📨✂♐♐♍⬊⌨◆❹♓✐☪◆⧖✹💣♐
☎✂❑⬅❸⬔♍⇩⌛◆☞⬄♌♐♐⬥▫ ❼✂✗
☎✂❑⬅☼🔔⬔✍ ♐✍◆❑ ⬗✔⬀❻☞✿♐✂
) (۱:د العنکبوت سورت، آیت ۳۹ ).

او قارون ، فرعون او هامان مې هلاک کړل بېشکه چې دوی لره موسی په ښکاره معجزو سره راغلې ؤ، دوی په ځمکه کې کبر وکړ، زمونږ له عذاب څخه دوی خلاصیدونکي نه ول.

په ګڼو شرعي نصوصو کې د مسلمانانو څه په کلکه غوښتل شویدي چې ځانونه له کبر څخه وژغوري چې ځینې یې د بېلګې په توګه په لاندې ډول ذکر کیږي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- نبي صلی الله علیه و سلم مهرباني کړې ده چې الله تعالی فرمايلي دي: ((الْكِبْرِيَاءُ رِدَائِي وَالْعَظَمَةُ إِزَارِي فَمَنْ نَازَعَنِي وَاحِدًا مِنْهُمَا أَلْقَيْتُهُ فِي النَّارِ )).(۴۳ ، ۲۱۳ ).

کبر زما څادر او لویي زما پرتوګ دی یعنی (عظمت او کبر زما ځانګړې صفات دي) چې زما څخه پرته بل هیڅوک د دې وړتیا نه لري)، چا چې دغو صفاتو کې ځان راسره شریک کړ، دوزخ کې یې اچوم.

۲- رسول الله صلی الله علیه و سلم مهرباني کړې ده: ((بِحَسْبِ امْرِئٍ مِنْ الشَّرِّ أَنْ يَحْقِرَ أَخَاهُ الْمُسْلِمَ ))(۱۲، ۴۲۶ ).

د یوه تن د هلاکت او تباهۍ لپاره همدومره شر بس دی چې خپل مسلمان ورور خوار او ذلیل وګڼي.

د کبرجنو نښې نښانې:

کبر مختلف ډولونه او شکلونه لري چې نښې یې په کبرجنو کې راڅرګندېږي، چې دهغو له جملې څخه ځینې یې په لاندې ډول دي:

۱- کبر جن ځینې داسې دي چې فقیرانو او مسکینانو خلکو سره په ناسته پاسته شرمېږي، خوښېږي او ویاړي چې تل دمنصب خاوندانو او شتمنو سره اوسي.

۲- دکبرجنو بله نښه داده چې تل هڅه کوي چې په خپل لباس او موټرسره په خلکو ځان جګ وګڼي، رنګارنګ لباسونه او نوي ماډل موټرونه ددې لپاره بدلوي رابدلوي چې په نورو فخر وکړي.

۳- ځینی خلک چې ځان دعوتګران هم ګڼي چې لږ خلک وي خبره نه کوي او یا درست اهتمام ورته نه کوي خو کله چې خلک زیات وي په خبرو کې دلچسپي اخلي او موضوع ته اهتمام کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- دکبر جنو رياکارو بله نښه داده چې کله خبرې کوي،مبالغه کوي،دځان ښودنې په خاطر لغت پراني کوي،او پخوله کې به ژبه داسې اړوي رااړوي چې دبيان اثر به له منځه ويسي اوغرور يې له ورايه په خبرو کې ښکاري،رسول الله (صلی الله عليه واله وسلم) ددغو خلکو څخه په دې توګه يادونه کوي:(( إِنَّ اللّٰهَ عَزَّ وَجَلّ يُبْغِضُ الْبَلِيغَ مِنْ الرِّجَالِ الّذِي يَتَخَلّلُ بِلِسَانِه تَخَلُّلَ الْبَاقِرَةِ بِلِسَانِهَا )).(۳۲، ۱۹۳).

الله تعالی هغه مبلغ ډېر بد ايسي چې په خوله چې به ژبه داسې اړوي رااړوي لکه غوايان چې دخوراک پر مهال خوله کې ژبه اړوي رااړوي.

۵- دکبرجنو بله نښه داده چې پر خپل علم به له نورو خلکو ځان لوړ ګڼي دخپل ځان دشهرت او رياء کارئ په خاطربه دخپل ځان صفتونه کوي، تل به هڅه کوي چې په خپلو خبرو کې علماؤ ته اخطارونه او چېلنجونه ورکړي،علم يې ددې لپاره کړی وي چې علماؤ سره پرې مناظرې او مقابلې وکړي،ناپوهو خلکو سره جګړې وکړي ځان پرې لوړ وګڼي،دا هغه مذموم صفات دي چې رسول کريم (صلی الله عليه واله وسلم) ددې کار ممانعت په دې الفاظو سره کړی دی:

(( لَا تَعَلّمُوا الْعِلْمَ لِتُبَاهُوا بِهِ الْعُلَمَاءَ وَلَا لِتُمَارُوا بِهِ السُّفَهَاءَ وَلَا تَخَيّرُوا بِهِ الْمَجَالِسَ فَمَنْ فَعَلَ ذٰلِکَ فَالنّارُ النّارُ )).(۴۲، ۲۹۶).

علم ددې لپاره مه زده کوئ چې علماؤ سره پرې مقابلې وکړئ،اومه ددې لپاره علم زده کوئ چې ناپوهو سره پرې جګړې وکړئ، او مه ددې لپاره علم زده کوئ چې په مجالسو کې ځان په نورولوړ وګڼئ ، که هر چا دا کار وکړ نو اور يې ځاي دی اور يې ځاي دی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



يو بل حديث کې دې موضوع ته داسې اشاره شوې ده:(( إِنَّ مِنْ أَحَبِّكُمْ إِلَيَّ وَأَقْرَبِكُمْ مِنِّي مَجْلِسًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ أَحَاسِنَكُمْ أَخْلَاقًا وَإِنَّ أَبْغَضَكُمْ إِلَيَّ وَأَبْعَدَكُمْ مِنِّي مَجْلِسًا يَوْمَ الْقِيَامَةِ الثَّرْثَارُونَ وَالْمُتَشَدِّقُونَ وَالْمُتَفَيْهِقُونَ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ قَدْ عَلِمْنَا الثَّرْثَارُونَ وَالْمُتَشَدِّقُونَ فَمَا الْمُتَفَيْهِقُونَ قَالَ الْمُتَكَبِّرُونَ )).(۴۵، ۳۰۹).

دقيامت په ورځ به په تاسې کې ماته ډېر محبوب، او په مجلس کې ما ته ډېر نږدې به هغه ځوک وي چې دښو اخلاقو څښتن وي، او ماته تر ټولو مبغوض ترين او په مجلس کې به له ما نه لرې هغه ځوک وي چې ډېرې او تکلفي خبرې کوي(۴۳، ۲۹۲) او هغه ځوک چې غټې او په ډکه خوله فصاحت سره خبرې ددې لپاره کوي چې دخپلو خبروعظمت خلکو ته وښايي (۳۴، ۲۹۲).او هغه سړی چې په خپلو خبرو کې مبالغه کوي، اوږدوي يې ددې لپاره چې خلک دخپلو خبرودتاثيرلاندې راولي، په خلکو خپل غوره والی ثابت کړي او خلکو ته خپل ځان يوه سړی معرفي کړي. (۳۴، ۲۹۲)

## دکبر علاج:

که ځوک دکبرعلاج کول غواړي نودمسکينانو سره دې اړيکي وساتي په مجلس کې ترټولو وروسته کيني او داسې چارې ترسره کړي چې دکبرجن دشان سره نه ښايي لکه دلرګيو وړل پنډ په شا کول او داسې نور

## ۲- په لاره کې په نازو نخرو تګ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي شريعت هيڅ مسلمان ته اجازه نه ورکوي چې داسې اعمال ترسره کړي چې ورڅخه دلويې کبر او غرور بوي راځي ،په لاره کې دنازو اونخرو تګ دلويي نښنه ده نو ځکه خو اسلامي له دې کار څخه په کلکه موږ منعه کړي يو ،.
ګڼ شرعي دلايل په لاره کې په نازونخرو تګ حرام ګڼي چې ځېنې يې د بېلګې په توګه په لاندې ډول ذکر کېږي.
١- الله تعالى قرآنکريم کې فرمايلي دي چې لقمان خپل ځوى ته داسې نصيحت وکړ:(... ❒◆•• ✍•☺⇧⏲➮ ✖⍉❼ ✁☙❀☞❻⬀⊽⬖
✌◆❷◆❍⏲☙ ☎ ◑⍉♌❐ ✁☙✎⅄ •• ❻➚◆⍉◘❹
✍➚✍❐ ☝➔❸⬂☞◆☙✌▯ ▭•② ⬉❐❻◉ᕈ ⬀⍉⬂⬖ ) (١: د لقمان سورت،آيت١٨).
ژباړه: او مه کوه تګ په ځمکه کې په نازونخرو بيشکه چې الله تعالى کبر جن او فخر کوونکى نه خوښوي.
٢- رسول الله صلى الله عليه و سلم مهرباني کړې ده: (مَنْ تَعَاظَمَ فِي نَفْسِهِ ، وَاخْتَالَ فِي مِشْيَتِهِ لَقِيَ اللّهَ ، وَهُوَ عَلَيْهِ غَضْبَانُ) (٨٢:١١).
ژباړه: چا چې کبر وکړ او لاره کې يې په نازونخرو تګ وکړ د قيامت په ورځ به د الله تعالى سره د ده ملاقات داسې حال کې وشي چې الله تعالى به پرې په قهر وي.
٣- راتلونکي حديث شريف کې رسول الله صلى الله عليه وسلم د يوه سړي حالت داسې بيان کړى دى. (بينما يمشى رجل فى حلة تعجبه نفسه مرجل راسه يختال فى مشيته اذ خسف الله به فَهُوَ يَتَجَلْجَلُ فى الارض الى يوم القيامة) (متفق عليه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: يو سړی ښکلی لباس اغوستی وو خپل سر يې ږمنځ کړی ؤ او په نازو نخرو په لاره کې روان ؤ چې الله تعالی دا سړی په ځمکه ننويست تر قيامته به ځمکه کې ننوځي.

## ۷- حسد:

### د حسد تعريف:

((تمنی زوال النعمة عن صاحبها ،سواء كانت نعمة دين او دنيا ) ).(۴۸، ۳۳۲ ).

((له يو چا نه دنعمت دزوال ارزو درلودل برابره خبره ده هغه ديني نعمت وي او که دنياوي.

### حسد يوناوړه قلبي مرض:

حسد يوناوړه اوبد قلبي مرض دی چې دحسد کوونکي په بدوالي دلالت کوي ،په ټولنه کې دشر خپرېدو لامل ،او دټولنې د زوال سبب ګرځي.

حسد په حقيقت کې دنورو زيات شمېر بدو خويونو دمنځ ته راتلو مصدر ګڼل کېږي له دې لارې شېطان دانسان نفس ته داخلېږي او ډېرو ناوړو چاروته يې هڅوي.

### دحسد کولو عوامل:

حسد عموما له کبر،دښمنۍ،بغض،ځان ښودنې،په نورو باندې د رخې کولو ، دځان لوړ ګڼلواو زيات شمېر نورو ناوړه اخلاقو په سبب انسان کې پېدا کېږي .

### په اسلامي شريعت کې دحسد کولو حکم:

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلام حسد کول حرام کړي دي او په کلکو الفاظو يې مؤمنان ورڅخه منعه کړي دي،له کبيره ګناهونو څخه يې شمېري، ددنيا او اخرت دزيان لامل يې ګڼي،او ايمان پر ضد يې شمېري، لانديني احاديث دحسد دحرمت لپاره څرګند دلايل دي

۱- رسول الله (صلی الله عليه واله وسلم) په دې هکله داسې فرمايي: **لَا يَجْتَمِعَانِ فِي قَلْبِ عَبْدٍ الْإِيمَانُ وَالْحَسَدُ ))(۳۵، ۱۵۷).**

دمؤمن په زړه کې ايمان اوحسد دواړه نه يوځای کېږي.

۲- په يوبل حديث کې رسول الله (صلی الله عليه واله وسلم) له حسد څخه په دې الفاظو منعه کړې ده: ((لَا تَبَاغَضُوا وَلَا تَحَاسَدُوا وَلَا تَدَابَرُوا وَكُونُوا عِبَادَ اللَّهِ إِخْوَانًا وَلَا يَحِلُّ لِمُسْلِمٍ أَنْ يُهَاجِرَ أَخَاهُ فَوْقَ ثَلَاثِ لَيَالٍ )).(۲۴، ۳۹۵).

يو بل سره بغض مه کوئ،يو بل سره حسد مه کوئ،يوبل نه مه مروربږئ دالله تعالی بنده ګان ورونه ورونه شئ ،ديو مسلمان لپاره جايز نه دي چې دخپل مسلمان ورور سره له درې ورځو څخه زيات اړيکې پرېکړي.

**۳- ((إِيَّاكُمْ وَالْحَسَدَ فَإِنَّ الْحَسَدَ يَأْكُلُ الْحَسَنَاتِ كَمَا تَأْكُلُ النَّارُ الْحَطَبَ أَوْ قَالَ الْعُشْبَ ))(۴۳، ۵۲).**

له حسد څخه ځانونه وساتئ ،ځکه حسد نيکي داسې خوري لکه اور چې لرګي خوري.

## دحسد اضرار:

۱- حسد نه يوائې داچې لويه ګناه ده بلکې دنورو لويو ګناهونو لکه کبر،دښمني،ځان ښودنه،ظلم،قتل،عجب اوداسې نورو ناوړه اخلاقو دمنځ ته راتلو سبب ګرځي. (۴۸:۳۳۲)

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- حسد داور هغه سکروټه ده چې نه یوائې داچې په خپله حسد کوونکي ته اور لګوي، بلکې له کبله یې په ټولنه کې زیات شمېر افرادو ته ضرر رسیږي او دټولنې د هلاکت لامل ګرځي.(۴۹:۲۰۱).

۳- حسد کوونکی دالله تعالی دنعمتونو دښمن،دالله تعالی په پرېکړو ناراض،اودبنده ګانو ترمنځ دالله تعالی پر وېش اعتراض کوونکی دی، رسول الله (صلی الله علیه واله وسلم) په دې هکله داسې فرمایي:

**((الحاسد عدو نعمتي ، متسخط لقضائي ، غير راض بقسمتي التي قسمت بين عبادي)).۳۶، ۱۵۰).**

حسد کوونکی زما دنعمتونودښمن،زما په پرېکړو ناخوښ،اودبنده ګانو ترمنځ زما په تقسیم ناراضه دی.

## دحسد او بغض ترمنځ توپیر:

بغض دغصې هغه پایله ده چې انسان دښمنۍ کولو ته هڅوي ،دبغض له کبله دانسان سره حسد پېدا کېږي،بغض خاص، او حسد عام دی،حسد په هر حالت کې حرام خو بغض که دالله تعالی په خاطر وي مستحب ګڼل کېږي او انسان ته پرې اجر ورکول کېږي، رسول الله (صلی الله علیه واله وسلم) په دې هلکه فرمایي: **((مَنْ أَحَبَّ لِلَّهِ وَأَبْغَضَ لِلَّهِ وَأَعْطَى لِلَّهِ وَمَنَعَ لِلَّهِ فَقَدْ اسْتَكْمَلَ الْإِيمَانَ))(۳۲:۲۹۱).**

چاچې دالله تعالی لپاره مینه وکړه دالله لپاره یې چاسره بغض وکړ،دالله تعالی لپاره یې چا ته څه شی ورکړ، یایې منعه کړ، ایمان یې بشپړ شو.

**عَنْ مُعَاذ انَّهُ سَأَلَ النَّبِيَّ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ عَنْ أَفْضَلِ الْإِيمَانِ قَالَ:(( أَنْ تُحِبَّ لِلَّهَ وَتُبْغِضَ لِلَّهِ))(۴۱، ۱۰۲).**

(c) ketabton.com: The Digital Library



معاذ بن جبل (رض)له نبي کريم (صلی الله عليه واله وسلم)څخه پوښتنه وکړه چې غوره ايمان کوم يو دی؟وې فرمايل:چې محبت او بغض دې دالله تعالی لپاره وي.

## دحسد او غبطې ترمنځ توپير:

غبطه او حسد يو بل څخه توپير لري ، په حسد کې يوڅوک ديو چا دنعمت دزوال ارزو لري ده ته ورکول شي يا نه، خو برخلاف په غبطه کې يو څوک ديو چا دنعمت ارزو نه لري او نه غواړي چې نوموړي شخص څخه نعمت واخستل شي، بلکې ارزو يې داوي چې کوم نعمت مقابل لوري ته ورکول شوی دی هماغسې ده ته هم ورکول شي،.( ۴۸:۳۳۲ )

## دحسد علاج:

۱- الهي پريکړو ته غاړه ايښودل،له دنيا څخه بې رغبتي(زهد )او داخرت حساب کتاب مخ ته ايښودل هغه اسباب دي چې پر مټ يې له حسد څخه ځان ژغورلاي شو، ځکه په دې اسبابو سره دزړه تشفي کېږي،سکون پرې حاصليږي اودانسان داطمنان سبب ګرځي.

۲- ددې شيطاني خوي (حسد )علاج په قناعت اوپه الهي تقسيم باندې راضي کېدو سره کېږي، که څوک غواړي چې له دې بدعادت څخه نجات ومومي نود الله(جل جلاله) څخه دې بخښنه وغواړي ( استغفار ) دې وواېې اود چاسره چې حسد لري دهغه لپاره دې دخير دعا وکړي نو ډېر زربه يې له زړه څخه کينه ووځي.

## ۸-غصه:

غصه داور يوه لمبه ده چې شيطان ورڅخه جوړ شوی او انسان هغه وخت دشيطان دغه خوي اخلي چې په قهر شي، انسان چې له خاورې جوړشوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



طبیعت یې سکون او وقار دی،او داور طبیعت لمبې او ګرموالی دی نو انسان دغصې په حالت کې له خپل اصلي حالت څخه بدلون مومي او دشیطان خوي او خصلت اخلي، له همدې کبله کله چې یو صحابي له رسول الله (صلی الله علیه واله وسلم) څخه دنصیحت غوښتنه کوي نو رسول الله (صلی الله علیه واله وسلم) ورته فرمایي:

((..لَا تَغْضَبْ فَرَدَّدَ مِرَارًا قَالَ لَا تَغْضَبْ ))(۷۴:۲۲).

غصه مه کوه هغه بیا بیا غوښتنه کوله رسول الله (صلی الله علیه واله وسلم) همدغه ځواب ورکاوه چې غصه مه کوه.

که څه هم غصه دانسان یو فطري عمل دی ځان ساتل ورڅخه یو ستونزمن کار دی خو داسلامي شریعت غوښتنه داده چې مسلمان دغصې له نتایجو څخه ځان وساتي،ځان کنترول کړي او هغه کارونه تر سره نه کړي چې دغصې په نتیجه کې منځ ته راځي ، لکه تعصب، جګړه ،ظلم ،وژنې ،طلاق اوداسې نوربدعواقب، رسول الله (صَلّی اللّهُ عَلَیْهِ وَسَلّم) فرمایلي: دي ((لَیْسَ الشّدِیدُ بِالصُّرَعَةِ إِنّمَا الشّدِیدُ الّذِي یَمْلِکُ نَفْسَهُ عِنْدَ الْغَضَبِ ))(۲۴،۳۹۲).

پهلوان هغه نه دی چې بل راوپرزوي، یقیني پهلوان هغه دی چې دغصې پرمهال خپل ځان کنترول کړي.

## دغصې علاج:

که په چاکې دغه صفت موجود وي نو په حدیث کې هغې علاج داسې ښودل شوی دی:

۱- غصه کوونکی دې خپل فزیکي حالت ته بدلون ورکړي:

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله (صلى الله عليه واله وسلم) فرمايلي دي:(( إِذَا غَضِبَ أَحَدُكُمْ وَهُوَ قَائِمٌ فَلْيَجْلِسْ فَإِنْ ذَهَبَ عَنْهُ الْغَضَبُ وَإِلَّا فَلْيَضْطَجِعْ ))(۳۲:۴۰۲).

يعنې: کله چې يو له تاسې غصه شي که ولاړ وي نو کېديني که غصه ترې لاړه نو ښه تر ښه او که غصه يې ختمه نه شوه نو تکيه دي ووهي.

## ۲- غصه کوونکی دې اودس وکړي:

په دې اړه د رسول الله (صلى الله عليه واله وسلم) لارښوونه داسې ده: په يو بل حديث کي يې علاج داسې ذکر شوی ((إِنَّ الْغَضَبَ مِنْ الشَّيْطَانِ وَإِنَّ الشَّيْطَانَ خُلِقَ مِنْ النَّارِ وَإِنَّمَا تُطْفَأُ النَّارُ بِالْمَاءِ فَإِذَا غَضِبَ أَحَدُكُمْ فَلْيَتَوَضَّأْ )) (۳۲:۴۰۳).

غصه د شېطان له لوري وي او شيطان له اوره پېدا شوی دی، اور په اوبو مړ کېږي، نو کله چې يو له تاسې په غصه شي اودس دې وکړي.

يعني :کله چي يوله تاسي غصه شي نواودس دي وکړي ځکه غصه له اوره پيدا شوي او اورپه اوبو سره مړکيږي.

## ۳- اعوذ بالله دې ووايې:

داعوذ بالله په ويلو سره دانسان غصه له منځه ځي رسول الله (صلى الله عليه واله وسلم) په دې هکله داسې فرمايي:

((لو يقول أحدكم إذا غضب: أعوذ بالله من الشيطان الرجيم ذهب عنه غضبه))(۳۷:۱۵۷).

دغصې پر مهال که له تاسې څخه يو څوک((اعوذ بالله من الشيطان الرجيم))ووايي،نوغصه به تري لاړه شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په دې اړه يوه کيسه په حديث کې داسې ذکرشوې ده:

**عَنْ مُعَاذِ بْنِ جَبَلٍ رَضِيَ اللّهُ عَنْهُ قَالَ اسْتَبّ رَجُلَانِ عِنْدَ النّبِيّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ حَتّى عُرِفَ الْغَضَبُ فِي وَجْهِ أَحَدِهِمَا فَقَالَ النّبِيّ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ إِنّي لَأَعْلَمُ كَلِمَةً لَوْ قَالَهَا لَذَهَبَ غَضَبُهُ أَعُوذُ بِاللّهِ مِنْ الشّيْطَانِ الرّجِيمِ ) )۳۴۹:۴۶ ).**

معاذ بن جبل (رضي الله تعالى عنه) روايت کوي چې دنبي کريم (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) په مخکې دوو تنو يو بل ته کنځلې پيل کړې تردې چې ديو په مخکې دغصې اغېزې را څرګندې شوې نبي کريم (صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّم) وفرمايل :ما ته يوه کلمه معلومه ده که يې ووايې نو غصه به يې سړه شي هغه (أَعُوذُ بِاللّهِ مِنْ الشّيْطَانِ الرّجِيمِ) دی

## ۹- د خلکو پټ عيبونه لټول (تجسس):

### د تجسس تعريف:

علماو د تجسس تعريف داسې کړی دی (التجسس البحث عما يكتم عنك ) (۳۳۳:۱۷).

ژباړه: تجسس د هغه شي لټونې ته وايې چې ستا څخه پټ کړل شوی دی.

### د تجسس حکم:

د ګڼو مصالحو پر اساس اسلامي شريعت په مسلمانانو حرام کړې چې يو مسلمان د بل مسلمان پټو عيبونو پسې وګرځي،هغه را برسېره کړي،اومسلمان پ ټولنه کې رسوا کړي، د تجسس د حراموالي ګڼ دلايل موجود دي چې ځېنې يې د بېلګې په توګه په لاندې ډول ذکر کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱- الله تعالی په قرآنکریم کې مهرباني کړې ده:(... ••◆❒ ✍❒♍❒○○○⬆❑✃☎• ...⬀⌘⬁⬂ ) (۱: د الحجرات سورت، آیت ۱۲).

ژباړه: او مه لټوئ تاسې پټ عیبونه د مسلمانانو.

۲- په همدې توګه رسول الله (صلی الله علیه واله وسلم) په ډېرو سختو الفاظو دهغه چا غندنه کړې چې دمسلمان پټ عیوب رابرسېره کوي، او غواړي چې په دې سره مسلمان رسوا کړي، په دې هکله دهغه (صلی الله علیه واله وسلم) فرمان په دې ډول دی:

((يَا مَعْشَرَ مَنْ آمَنَ بِلِسَانِهِ وَلَمْ يَدْخُلْ الْإِيمَانُ قَلْبَهُ لَا تَغْتَابُوا الْمُسْلِمِينَ وَلَا تَتَّبِعُوا عَوْرَاتِهِمْ فَإِنَّهُ مَنْ اتَّبَعَ عَوْرَاتِهِمْ يَتَّبِعُ اللَّهُ عَوْرَتَهُ وَمَنْ يَتَّبِعْ اللَّهُ عَوْرَتَهُ يَفْضَحْهُ فِي بَيْتِهِ ))(۳۳:۳۳).

:ای هغې ډلې چې په ژبه یې ایمان راوړی او زړه ته یې ایمان ننوتی نه دی تاسې د مسلمانانو غیبت مه کوئ او د مسلمانانو پټ عیبونه مه لټوئ ځوک چې د مسلمانانو پټ عیبونه ولټوي الله تعالی به د هغه عیبونه ولټوي او د چا چې الله تعالی عیبونه ولټول الله تعالی به داسې سړی په خپل کور کې وشرموي.

**پر مسلمان پرده واچوئ:**

دالله تعالی ریښتینی استازی دهغه چا چې په مسلمان پرده اچوي مقام بیانوي او په دې بیان سره هغه څوک تشویقوي چې دمسلمان تجسس نه کوي په دې هکله دهغه لارښوونه داسې ده:

۲- رسول الله صلی الله علیه و سلم مهرباني کړې ده: ((لَا يَسْتُرُ اللَّهُ عَلَى عَبْدٍ فِي الدُّنْيَا إِلَّا سَتَرَهُ اللَّهُ يَوْمَ الْقِيَامَةِ )).(۴۷۸:۲۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



څوک چې د يوه مسلمان په عيب باندې په دنيا کې پرده واچوي الله تعالی به د دی سرې په عيب باندی د قيامت په ورځ پرده واچوي.
په يو بل حديث کې دې الفاظو ته ورته الفاظ راغلي دي خو په لږ زياتوالي چې په دې حديث کې ددنيا يادونه هم شوې ده لکه چې فرمايي: وَمَنْ سَتَرَ مُسْلِمًا سَتَرَهُ اللّٰهُ فِي الدُّنْيَا وَالْآخِرَةِ ))(۲۹،۲۱۲).
څوک چې د يومسلمان په عيب باندې پرده واچوي الله تعالی به دهغه په عيب باندی په دنيا او اخرت کې پرده واچوي.
۳- نبي صلی الله عليه و سلم مهرباني کړی: (طُوبَى لِمَنْ شَغَلَهُ عَيْبُهُ عَنْ عُيُوبِ النّاسِ))(۳۶:۴۴۳).
نېکمرغه دی هغه مسلمان چې د خپلو عيبونو اصلاح کولو دومره مشغول کړی وي چې د خلکو عيبونو ته د فکر کولو لپاره هيڅ وخت نه لري.
۵- عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه يوه شپه د اميرالمؤمنين عمربن الخطاب رضی الله عنه سره د مدينې منورې په کوڅو کې ګرځيده ترڅو د خلکو دحال احوالو څخه ځان خبر کړي په دې وخت کې د يوه کور د دروازی څخه ښکاريده چې کور کې چراغ لګيدلی او د خلکو ګڼه ګوڼه ده عمر رضی الله عنه عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه ته مهرباني وکړله چې دا کور د ربيعه بن اميه بن خلف دی دوی اوس لګيا دي. شراب څښي دوی سره څه وکړو؟ عبدالرحمن بن عوف رضی الله عنه وويل: مونږ د اوس لپاره لګيا يو تجسس کوو ،حال دا چې الله تعالی فرمايلي دي: (ولاتجسسوا ) چې په دې اساس دواړو دا خلک په خپل حال پريښودل او هيڅ يې ورته ونه ويل (۱۷:۳۳۳).
لکه څرنګه چې يو مسلمان ته لازم نه دي چې دبل مسلمان عيوبو پسې وګرځي او هغه وپلټي نودغسې خپل عيوب هم بايد پټ کړي او چا ته يې ښکاره نه

(c) ketabton.com: The Digital Library



کړي، او ځوک چې داکار کوي هماغسې دجزاء او عذاب مستحق دی لکه پردي عیوب چې لوځوي، رسول الله (صلی الله علیه واله وسلم) په دې هکله فرمايي:

((كُلُّ أُمَّتِي مُعَافًى إِلَّا الْمُجَاهِرِينَ وَإِنَّ مِنْ الْمُجَاهَرَةِ أَنْ يَعْمَلَ الرَّجُلُ بِاللَّيْلِ عَمَلًا ثُمَّ يُصْبِحَ وَقَدْ سَتَرَهُ اللَّهُ عَلَيْهِ فَيَقُولَ يَا فُلَانُ عَمِلْتُ الْبَارِحَةَ كَذَا وَكَذَا وَقَدْ بَاتَ يَسْتُرُهُ رَبُّهُ وَيُصْبِحُ يَكْشِفُ سِتْرَ اللَّهِ عَنْهُ))(۱۹:۱۵).

زما هر امتي د معافی لیاقت لري خو مجاهرين نه ،مجاهرين هغه خلک دي چې د شپې يو ناروا عمل تر سره کړي، الله تعالی هغه باندې پردې واچوي بيا سحر خلکو ته بيان کوي چې ای فلانيه بېګاه مې دغسې دغسې کارونه وکړل،شپه به يې دالله تعالی په پرده کې تېره کړې وي او سهار دالله تعالی پر ده له ځانه پورته کوي.

## ۱۰- بد ګماني:

بد ګماني هغه بد خوي او عادت دی چې دزيات شمېر ناوړه بدو پايلو دمنځ ته راتلو سبب ګرځي،نوځکه خو په قران کريم کې له دې ناوړه خوي څخه په کلکه منعه راغلې ده، الله تعالی فرمايي: ((يَاأَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا اجْتَنِبُوا كَثِيرًا مِنْ الظَّنِّ إِنَّ بَعْضَ الظَّنِّ إِثْمٌ... )) (الحجرات12 )

ای مؤمنانو ،له ډېرو ګومانونوکولونه ډډه وکړئ چې ځينې ګومانونو څخه کار اخستل ګناه وي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله (صلی الله علیه واله وسلم) هم له بد ګمانئ څخه موږ منعه کړي يو لکه چې فرمايي:((إِيَّاكُمْ وَالظَّنَّ فَإِنَّ الظَّنَّ أَكْذَبُ الْحَدِيثِ))(۲۴: ۳۹۲).له ګمان څخه ځانونه وساتئ ځکه ګمان کول ترټولو بد درواغ دي.

په قرانکريم کې الله تعالی له ځينو ګمانونو څخه منعه فرمايلې ده له دې حکم څخه جوتيږي چې په مطلق ډول له ګمان کولو څخه منع نده شوې بلکې له ډېرو زياتو ګمانونو څخه کار اخستل او دهر ډول ګمان پېروي کول منع کړای شوي دي ، کله چې ځينې ګمانونه ګنا وي نو په کار داده چې دغه حکم باندې ددرستې پوهې لپاره تجزيه او په ډولونو ووېشل شي پر دې بنا ګمانونه په لاندې ډولونو وېشو:

۱-ښه ګمان:

يو ډول ګمان هغه دی چې داخلاقو له نطره ډېر غوره او ددين له نظره مطلوب ګمان دی، دمثال په ډول په الله تعالی او دهغه په رسول ،پر مؤمنانو او پر هغو خلکو باندې نېک ګمان کول چې دمؤمانو سره ناسته پاسته لري او دهغو په باب دبد ګمانۍ کولو هيڅ دليل نه وي.

۲-غالب ګمان

لکه په محکمه کې چې قاضي دګواهانو په ګواهۍ يوه پرېکړه په غالب ګمان تر سره کوي،ځکه قاضي ته دموضوع پر حقيقت باندې په مستقيم ډول پوهېدل ګران وي.

۳-جايز بدګماني:

دا که څه هم بد ګماني ده خو په ګنا کې نه شمېرل کېږي دمثال په ډول ديو شخص يا يوې ډلې په کړو وړو کې داسې څرګندې نښې نښانې ليدل کېږي چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



دهغې پر بنسټ پر هغه بدګماني کېدی شي او دښه ګمان وړ نه وي په دغسې حالت کې دشریعت غوښتنه هیڅکله دا نه ده چې مسلمان ساده لوحي غوره کړي او ارو مرو پرې نېک ګمان ولري، خو ددغې مشروعې بد ګمانۍ حد یواځې همدومره دی چې انسان پرې دبل له شره ځان وساتي، له دې نه زیات محضې دګومان په اساس دهغه پر خلاف کوم اقدام کول صحیح کار نه دی.

۴- ناروا بد ګماني:

ځلورم ډول ګمان چې په حقیقت کې ګناه ده، هغه دادی چې انسان پر بل چا باندې بې سببه بد ګماني وکړي، یا دنورو په باب په رای ټیګولو کې تل په بد ګمانئ سره پېل وکړي، یا داسې خلکو په باب له بد ګمانۍ څخه کار واخلي چې دهغو ظاهري حالت دهغه دښه والي او شرافت نمایندګي کوي، همدارنګه دا خبره هم ګنا ده چې دیو چا په څه وینا کې دبدۍ او نېکۍ مساوي احتمال وي او موږ محضې دبد ګمانۍ نه په څه کار اخستلو سره هغه پر بدۍ باندې وشمېرو، دمثال په توګه یو ښه سړی له یوې غونډې نه پاڅیږي او دخپلو پڼو پرځاي دبل چا پڼې پښو کوي، او موږ یواځې دګان پر اساس دا فکو وکړو چې دپڼو دغلا کول لپاره یې داکار کړی دی، په داسې حال کې چې داکار په سهوې سره هم کېدی شي، او دلته دښه احتمال پر ځاي دبد احتمال په غوره کولو کې له بد ګمانۍ پرته بل هیڅ دلیل نشته.

له دې تجزیې څخه څرګنده شوه چې ګمان په خپل ذات کې کوم ممنوع شی نه دی، بلکې په ځینو حالاتو کې مستحب، په ځینو حالاتو کې ضروري ، ځینو حالاتو کې تر یو حده روا او له هغه نه زیات ناروا دی، او په ځینو حالاتو بیخي ناروا دی.

نو په کار داده یو مسلمان دبل مسلمان په اړه کومه رایه څرګندوي یا دکوم اقدام تصمیم نیسي نو له زیات تحقیق اوپلټنې وروسته یې ونیسي.(۱۱۸-۱۲۰:۴۷)

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دخلورم فصل د مراجعو فهرست

۱-قرانکریم
۲-ابن حبان: محمد بن حبان بن احمد ابو حاتم، کال ۱۹۰۲م ،صحیح ابن حبان بترتیب ابن بلبان،دولسم ټوک ،طبعه: مؤسسة الرساله.
۳-ابن حنبل: احمد ، مسند احمد ،دویم ټوک.طبعه:دارالفکر-بیروت-لبنان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴- ابو عبدالله: مالک بن انس ،الموطاء،دويم ټوک.طبعه داراحياء التراث العربي – مصر.
۵-ابو داود: سليمان بن اشعث، کال ۱۳۱۲ه ق، سنن ابی داود ،دويم ټوک طبعه: خيبر ګروپ آف کمپنيز- پيښور-پاکستان.
۶-البخاري : محمدبن اسمعيل، الادب المفرد ،طبعه: وحيدي کتب خانه-پيښور-پاکستان.
۷-البزار: ابی بکر احمد بن عمرو بن عبدالخالق،مسند البزار،دويم ټوک، طبعه: دارالفکر-بيروت–لبنان.
۸-البغوي: حسين بن مسعود، کال ۱۴۰۳ه ق، شرح السنن، دولسم ټوک،طبعه:المکتب الاسلامي–دمشق.
۹-البيهقی : ابو بکر، کال ۱۴۲۲ه ق ، السنن الکبری، دويم ټوک، طبعه: مکتبه الرشد للنشر والتوزيع- الالرياض–السعوديه.
۱۰-الترمذي : محمد بن عيسی، جامع الترمذي،دويم ټوک طبعه: مکتبة حقانية پيښور- پاکستان.
۱۱-الحاکم: محمد بن عبدالله ابو عبدالله ،المستدرک علی الصحيحين، درېيم ټوک، طبعه: دارالکتب العلميه– بيروت- لبنان.
۱۲-زين الدين: محمد ، فيض القدير شرح جامع الصغير، درېيم ټوک، طبعه:دارالفکر- بيروت-لبنان
۱۳-سمرقندي: ابو الليث نصربن محمدبن احمد ،تنبيه الغافلين، طبعه: مکتبة الکتاب والسنة_ پيښور–پاکستان.
۱۴-سمرقندي: ابو الليث نصربن محمدبن ابراهيم، بستان العارفين طبعه: مکتبة الکتاب والسنة.
۱۵-العبيد: عبدالرحمن بن عبدالکريم ، کال : ۱۴۰۵ ه- ۱۹۸۴م اصول المنهج الاسلامي، طبعه: مطابع الفرزدق التجاريه–الرياض–السعوديه.
۱۶-الغزالي : محمد بن محمد بن احمد ، کال ۱۳۸۵ه ش، خلق المسلم،طبعه: مکتبة حقانيه- پيښور- پاکستان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۷-القرطبي : ابو عبدالله محمد بن احمد ،الجامع لاحكام القرآن، شپاړسم ټوک، طبعه: دارالفکر –بیروت–لبنان.
۱۸-ملا علی قاري،مرقاة المفاتیح شرح مشکاة المصابیح، نهم ټوک طبعه:مکتبه رشیدیه–بلوچستان–پاکستان.
۱۹-النسائي: احمد بن شعیب، سنن النسائي، دویم ټوک،طبعه: خیبر ګروپ آف کمپنیز-پیښور-پاکستان.
۲۰-النووي: یحیی بن شرف، کال ۱۴۱۸ هـ - ۱۹۹۸ م ،الریاض الصالحین،طبعه:المکتبة الاسلامي–بیروت-لبنان.
۲۱-النووي: یحیی بن شرف، کال ۱۴۱۸ هـ - ۱۹۹۸ م ،شرح النووي للجامع الصحیح،دویم ټوک طبعه: المکتبة الاسلامي–بیروت-لبنان.
۲۲-النیساپوري : مسلم بن حجاج ابوالحسین، کال: ۱۳۴۹هـ ش ،الجامع الصحیح،دویم ټوک طبعه:خیبر ګروپ اف کمپنیز پېښور پاکستان.
۲۳-الهیثمي : نورالدین علی بن ابی بکر، مجمع الزوائدومنبع الفوائد، لسم ټوک،طبعه: دارالفکر-بیروت لبنان.
۲۴- ابو عبدالله: مالک بن انس ،الموطاء،۵ ټوک.طبعه داراحیاء التراث العربي – مصر.
۲۵- ابو عبدالله: مالک بن انس ،الموطاء،۲ ټوک.طبعه داراحیاء التراث العربي – مصر.
۲۶- البخاري ، محمد بن اسماعیل صحیح البخاری بن مغیره،۱۹ټوک ،طبعه بیروت دار بن کثیر الیمامة
۲۷- النیسابوري ، أبو الحسین مسلم بن الحجاج بن مسلم القشیري ، صحیح مسلم ،۱ټوک، دار الجیل بیروت
۲۸- النیسابوري ، أبو الحسین مسلم بن الحجاج بن مسلم القشیري ، صحیح مسلم ،۱۲ټوک، دار الجیل بیروت
۲۹- النیسابوري ، أبو الحسین مسلم بن الحجاج بن مسلم القشیري ، صحیح مسلم ،۱۳ټوک ، دار الجیل بیروت

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳۰- السجستاني ، سليمان بن الأشعث أبو داود الأزدي، سنن أبي داود،۲ټوک ،طبعه،دار الفكر.
۳۱- السجستاني ، سليمان بن الأشعث أبو داود الأزدي، سنن أبي داود،۷ټوک ،طبعه،دار الفكر.
۳۲- السجستاني ، سليمان بن الأشعث أبو داود الأزدي، سنن أبي داود،۱۲ټوک ،طبعه،دار الفكر.
۳۳- السجستاني ، سليمان بن الأشعث أبو داود الأزدي، سنن أبي داود،۱۳ټوک ،طبعه،دار الفكر.
۳۴- أبو الطيب، محمد شمس الحق العظيم آبادي، عون المعبود شرح سنن أبي داود۱۰ټوک،طبعه دار الكتب العلمية–بيروت
۳۵- النسائي: احمد بن شعيب،سنن النسائي،۱۰ ټوک،طبعه: خيبر ګروپ آف كمپنيز-پيښور-پاكستان.
۳۶- البيهقي، أبو بكر أحمد بن الحسين، شعب الإيمان ۴ټوک،طبعه: المكتب الإسلامي, دار عمار- بيروت, عمان
۳۷- الطبراني، سليمان بن أحمد بن أيوب أبو القاسم، المعجم الصغير ،۳ټوک،طبعه: دار الكتب العلمية- بيروت
۳۸- الطبراني، سليمان بن أحمد بن أيوب أبو القاسم المعجم الاوسط ۱ټوک،طبعه: دار الكتب العلمية- بيروت
۳۹- البيهقي، أبو بكر أحمد بن الحسين شعب الإيمان۴ټوک،طبعه: دار الكتب العلمية–بيروت
۴۰- البيهقي، أبو بكر أحمد بن الحسين شعب الإيمان۱۴ټوک،طبعه: دار الكتب العلمية–بيروت
۴۱- الشيباني، أبو عبد الله أحمد بن محمد بن حنبل بن هلال بن أسد ، مسند الإمام أحمد بن حنبل ،۴۵ټوک ،طبعه مؤسسة الرسالة بيروت.
۴۲- القزويني: ابن ماجه محمد بن يزيد ،سنن ابن ماجه،اول ټوک، مطبعه: مكتبة العلميه-بيروت-لبنان.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴۳- القزويني: ابن ماجه محمد بن يزيد ،سنن ابن ماجه،دولسم ټوک، مطبعه: مكتبة العلميه-بيروت-لبنان.
۴۴-الطحاوي: أبو جعفر، بيان مشكل الآثار،۲ټوک،مطبعه:دارالنشرللكتب.
۴۵- الترمذي، محمد بن عيسى أبو عيسى السلمي ،الجامع الصحيح سنن الترمذي ۷ټوک ،طبعه:دار إحياء التراث العربي –بيروت
۴۶ - الترمذي، محمد بن عيسى أبو عيسى السلمي ،الجامع الصحيح سنن الترمذي ۱۱ټوک ،طبعه:دار إحياء التراث العربي –بيروت
۴۷- مودودي، مولاناسيد ابوالاعلى ،تفهيم القران،۵ ټوک ،پښتو ژباړه قيام الدين كشاف.
۴۸- الزحيلي، استاددكتور وهبه ،اخلاق المسلم، ، ۱ ټوک ،طبعه دارالفكر المعاصر،بيروت لبنان.
۴۹- المقدسي، الامام احمد بن محمد، مختصر منهاج القاصدين، طبعه،المكتب الاسلامي بيروت.

# پنځم فصل

## د مسلمان د ژوند انه ځيني مهم اداب

### ۱- د مېلمه پالنې اداب

### ۲- د اجازې غوښتلو اداب

(c) ketabton.com: The Digital Library



۳- د سلام اداب
۴- د صنف او مجلس اداب
۵- د خوراک او څښاک اداب:
۶- د سفر اداب
۷- د خوب اداب

## ۱- د مېلمه پالنې اداب:

مسلمانانو ته ښایې چې دمېلمه پالنې په اړه لاندې لارښوونې نظر کې ونیسي(۱۷۲-۱۷۰:۱۴)

۱- مېلمستیا ته تقوا داره خلک راوبلي د فاسقو، فاجرو خلکو له مېلمه کولو ډډه وکړي، ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي:( لَا تُصَاحِبْ إِلَّا مُؤْمِنًا وَلَا يَأْكُلْ طَعَامَكَ إِلَّا تَقِيٌّ)(۸:۳۱۲).

ژباړه: له مؤمن پرته بل چا سره ملګرتیا مه کوه او ستا خواړه د تقوی داره شخص پرته بل څوک نه خوري.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۲- مېلمستيا تنها مالدارو خلکو پورې ځانګړې نه کړې غريب خلک هم بايد په کې موجود وي ځکه چې رسول الله صلى الله عليه و سلم فرمايلي دي (شَرُّ الطَّعَامِ طَعَامُ الْوَلِيمَةِ يُدْعَى لَهَا الْأَغْنِيَاءُ وَيُتْرَكُ الْمَسَاكِينُ وَمَنْ لَمْ يَأْتِ الدَّعْوَةَ فَقَدْ عَصَى اللَّهَ وَرَسُولَهُ)(۲:۱۲۸).

ژباړه: په خوړو کې تر ټولو بد د هغه واده خواړه دي چې غنيان (مالداران) ورته رابلل کېږي او فقيران (غريبان) ورڅخه منع کېږي، اوچاچې دعوت ونه منلو دالله تعالى او رسول نافرماني يې وکړه.

۳- مېلمستيا ته دې هغه څوک نه رابلي چې مېلمستيا ته د حاضريدلو په لامل مشقت او حرج کې لوېږي ځکه چې داسې کول مسلمان ته ضرر رسول دي چې شرعاً جواز نه لري.

۴- د مېلمستيا جوړولو څخه يې هدف يواځې او يواځې د رسول الله صلى الله عليه و سلم د سنتو په ځای کول وي نور مقاصد بايد مېلمستيا کې په نظر کې ونه نيول شي.

۵- د مېلمستيا قبلولو کې بايد د مالدار او غريب ترمينځ توپيرونه ونه شي ځکه که چېرې څوک د مالدار مېلمستيا قبلوی او د غريب مېلمستيا نه قبلوی د ايو نوع کبر دی او کبر په اسلام کې بد عمل ګڼل شوی دې، يوه ورځ حسن بن علي رضی الله عنه په لاره تيريده چې يو شمېر غريبو خلکو د سترخوان هوار کړې ؤ او ډوډی يې خوړله، هغوی ورته وويل: چې ای د رسول الله صلى الله عليه و سلم د لور ځويه ! راشه مونږ سره ډوډی وخوره، حسن رضی الله عنه ورته مهرباني وکړله: هو د الله تعالى متکبرين نه خوښيږي د خپل اس څخه ښکته شو د هغوی سره په يوه دسترخوان کښېناست او ډوډی يې ورسره وخوړله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶- د نفلي روژی نیولو په لامل باید سړی مېلمستیا کې غیر حاضر نه شي مېلمستیا ته دی ورشي هلته که کوربه د ده په ډوډۍ خوړلو خوښیده نو روژه دی ماته کړي ځکه چې د مسلمان ورور خوشحاله کول عبادت دی که روژه یې نه خوړله نو کوربه ته دې د مېلمستیا جوړولو له امله دعاء وکړي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم مهرباني کړې ده:( إِذَا دُعِيَ أَحَدُكُمْ فَلْيُجِبْ فَإِنْ كَانَ صَائِمًا فَلْيُصَلِّ وَإِنْ كَانَ مُفْطِرًا فَلْيَطْعَمْ )(۱۸:۱۸۵).

کله چې یو تن ستاسې څخه مېلمستیا ته وبلل شي نو مېلمستیا ته دی لاړ شي که چېرې روژه وي نو کوربه ته دې د مېلمستیا جوړولو له امله دعاء وکړي او که روژه نه وي د مېلمستیا خواړه دی وخوري.

په بل حدیث شریف کې راځي:( تکلف لک اخوک و تقول انی صائم )(۱۸:۱۸۵).

ژباړه: ستا مسلمان ورور تکلیف کړې او تا ته یې مېلمستیا تیاره کړې او ته ورته وایې چې زه روژه یم.

۷- د دعوت قبلولو لامل یواځې او یواځې د خپل مسلمان ورور اکرام کول وګرځوي چې په دې ترتیب مېلمستیا ته ورتګ عبادت ګرځي ځکه چې د مسلمان ورور عزت او اکرام کول د اسلامي شریعت امر دی.

۸- کوربه باید د مېلمه لپاره دومره خواړه تیار کړي چې د مېلمه د مړښت لپاره کفایت وکړي، ځکه چې که چېرې خواړه له دې څخه لږ وي د کوربه شخصیت ته ضرر رسوي او که له دې څخه زیات وي اسراف کې داخلیږي، چې دواړه اسلامي شریعت بد ګڼلي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۹- مېلمه باید کوربه کره د زیات وخت لپاره پاتې نه شي مګر په هغه صورت کې دی پاتې شي چې کوربه د پاتې کېدلو زیات اصرار پرې وکړي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم مهرباني کړې. (**وَلَا يَحِلُّ لِرَجُلٍ مُسْلِمٍ أَنْ يُقِيمَ عِنْدَ أَخِيهِ حَتَّى يُؤْثِمَهُ قَالُوا يَا رَسُولَ اللَّهِ وَكَيْفَ يُؤْثِمُهُ قَالَ يُقِيمُ عِنْدَهُ وَلَا شَيْءَ لَهُ يَقْرِيهِ بِهِ ۱۸:۱۸۱**).

ژباړه: مسلمان ته نه ښايي چې خپل مسلمان ورور کره دومره وخت لپاره مېلمه شي چې هغه ګناهګار کړي خلکو پوښتنه وکړله چې ای د الله تعالی رسوله! څنګه يې ګناهګار وی؟ نبي صلی الله علیه و سلم وفرمايل: هغه داسې چې کوربه کره دومره وخت واوسېږي چې کوربه د هغه مېلمستيا لپاره څه ونه لري.

۱۰- کله چې مېلمه د کوربه له کوره رخصتېږي باید کوربه د خپل کور څخه ورسره بهر ووځي ځکه چې د سلفو صالحينو څخه همداسې رانقل شوی دی بله دا چې په داسې کولو سره د مېلمه عزت کېږي چې شرعاً مسلمانان پرې مکلف دي.

دذکرشوو ادابو برسېره د نړۍ نامتو عالم الشيخ ابو الليث نصر بن محمد سمرقندي د مېلمه پالنې لپاره لاندیني اداب ذکر کړی دی(**۴۶:۱۵**).

۱- مېلمه به هغه ځای کې کښېني چې کوربه يې غواړي، ځکه چې کوربه د خپل کور د عورت ساتنې په برخه کې له هرچا زیات پوهېږي.

۲- کوم خوراک چې د کوربه لخوا مېلمه ته راوړل کېږي مېلمه باید پرې بد ونه وايي بلکې صفت يې وکړي.

۳- د کوربه له اجازې پرته د مېلمه بل طرف ته نه ځي.

۴- که چېرې مېلمه سره په دسترخوان د ده څخه مشر سړی ناست وي مېلمه باید له هغه څخه وړاندې په خوراک پیل ونه کړي.

۵- کوربه باید خپلې وسعې مطابق خواړه تیار کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶- کوربه باید په مېلمه بخل ونه کړي په مېلمه بخل کول دادی چې مېلمه ته په کور کې موجوده خواړه ورنکړي بلکې د موجوده خوړو څخه خراب خواړه ورته تیار کړي.
۷- که چېرې میلمانه لږ وي کوربه کولی شي چې په یوه دسترخوان میلمنو سره ډوډۍ خوړلو ته کښېني او د میلمنو خدمت وکړي خو که میلمانه زیات وي د میلمنو خدمت د وکړي او په دسترخوان ورسره ډوډۍ خوړلو ته ناسته ښه نه ده.
۸- ښه دا ده چې کوربه کله کله د ډوډۍ مینځ کې مېلمه ته اواز کوي چې خوراک زړور کوه خو ډېر ټینګار د پرې نه کوي.
۹- د ډوډۍ خوړلو وخت کې ډېره چپتیا غوره کار نه دی.
۱۰- کوربه باید د ډوډۍ خوړلو وخت کې د میلمنو څخه لری بل ځای ته لاړ نه شي.
۱۱- کوربه باید مېلمه سره د ډوډۍ خوړلو په وخت کې داسې ځوک کښېننوي چې مېلمه باندې د هغه ناسته درنده تمامیږي.
۱۲- کله چې میلمنو ډوډۍ وخوړله او د کوربه څخه یې د تګ اجازه غوښتله باید کوربه ورته په پاتې کېدلو کې ډېر ټینګ نه شي.
۱۳- د ډوډۍ خوړلو وخت کې باید یو تن د بل تن د خوړو مړۍ ته ونه ګوري او نه دی مېلمه هغه لوری ته ګوري چې د هغه لوری خواړه دسترخوان ته راوړل کېږي.
۱۴- د خوړو څخه وړاندې د لاس وینځلو پیل په اړه علماء دوه ډلی شوي دي. یوه ډله علماء وایې چې لاس وینځل به د مشر مېلمه څخه پیل شي او د مشر مېلمه ښي طرف ناستو خلکو لاسونه به یو بل پسې مینځل کېږي بله ډله علماء وایې چې لاس وینځل په میلمنو کې د کشر مېلمه څخه پیل کېږي او د کشر مېلمه ښي طرف ته به ځي او د خلکو لاسونه په یو بل پسې مینځي چې البته

(c) ketabton.com: The Digital Library



دواړه ډلی علماء ځانته دلایل لري په دې اساس که هر قول باندې عمل وشي جواز لري.

۱۵- له ډوډۍ وړاندې د لاس وینځلو څخه وروسته د لاس په دستپاک پاکولو په هکله علماؤ ویلې دي چې غوره کار دا دی چې لاس په دستپاک پاک نه شي خو که چا لاس پاک کړ پروا نه لري.

۱۶- په خوراک او څښاک کې باید د خپل ناست ملګري خیال وساتل شي هغه داسې چې هڅه ونه کړي ترڅو د خپل ملګري څخه زیات خوراک او څښاک وکړي.

۱۷- مېلمه باید له خوراک او څښاک وروسته کوربه ته دعاء وکړي ځکه چې جابر بن عبدالله رضي الله عنه ویلې دي: یو ځل ابو هیثم بن تیهان رسول الله صلی الله علیه وسلم او یو شمېر صحابه کرامو ته مېلمستیا تیاره کړله کله چې نبی علیه السلام او صحابو کرامو خوراک او څښاک وکړ نو نبی علیه السلام صحابو کرامو ته مهرباني وکړله چې تاسې ابو هیثم ته ددی مېلمستیا بدله او عوض ورکړئ صحابو کرامو رسول الله صلی الله علیه وسلم ته عرض وکړ چې بدله یې څنګه ورکړو؟ نبی علیه السلام ورته مهرباني وکړله (إِنَّ الرَّجُلَ إِذَا دُخِلَ بَيْتُهُ فَأُكِلَ طَعَامُهُ وَشُرِبَ شَرَابُهُ فَدَعَوْا لَهُ فَذَلِكَ إِثَابَتُهُ) (۸:۱۸۲).

کله چې یو تن خپل مسلمان ورور کره مېلمه شي او هلته خوراک او څښاک وکړي بیا دغه مېلمه کوربه ته د خیر او برکت دعا وکړي دا د کوربه لپاره د مېلمه بدله ده.

البته رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه د مېلمه څخه کوربه ته د دعاء کولو بیلابیل الفاظ را نقل شوي دي چې د هغو له جملې څخه دوه دعاګانې د بیلګې په توګه ذکر کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف: یو ځل رسول الله صلی الله علیه وسلم سعد بن عباده رضی الله عنه کره مېلمه شو د خوراک او څښاک څخه وروسته یې کوربه ته داسې دعاء وکړه (أَفْطَرَ عِنْدَكُمْ الصَّائِمُونَ وَأَكَلَ طَعَامَكُمْ الْأَبْرَارُ وَصَلَّتْ عَلَيْكُمْ الْمَلَائِكَةُ)(۸:۱۸۲).

تاسې کره دې روژه نیونکې روژه ماتې وکړي، نیکان خلک دی ستاسو خواړه وخوري او ملائکې دی ستاسو لپاره د مغفرت او رحمت دعاګانې وغواړي.

ب: رسول الله صلی الله علیه وسلم کوربه ته د خوراک او څښاک څخه وروسته داسې دعاء وکړله (اللَّهُمَّ بَارِكْ لَهُمْ فِي مَا رَزَقْتَهُمْ وَاغْفِرْ لَهُمْ وَارْحَمْهُمْ) (۱۸:۱۸۰).

ای الله تعالی ! تا چې دوی ته څه ورکړي دي په هغې کې ورته برکت واچوې او دوی ته بخښنه وکړې او په دوی رحم او کرم وکړې.

## ۲- داجازې غوښتلو اداب:

کله چې یو څوک د چا ځای ته ورځي اسلامي شریعت ورڅخه د ګڼو مصلحتونو پر اساس ټینګه غوښتنه کړې ده چې باید ورڅخه اجازه وغواړي چې د نوموړي مصلحتونو څخه یو دا دی چې ممکن د مېلمه سترګې د کوربه په غیر محرمی ښځې ولګیږي یا مېلمه د کوربه کور کې داسې یو شی وګوري چې کوربه یې په لیدلو خفه کیږي چې البته دغه علت ته په راتلونکي کې حدیث شریف کې داسې اشاره شوی (إِنَّمَا جُعِلَ الِاسْتِئْذَانُ مِنْ أَجْلِ النَّظَرِ)(۸:۳۵۷).

ژباړه: بېشکه اجازه غوښتل (استیذان) د سترګو لګیدلو له امله ضرور ګڼل شوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



اسلامي شریعت کې ګڼ دلایل د مسلمانانو څخه د اجازې غوښتلو تاکید کوي چې ځینې یې د بېلګې په توګه په لاندې ډول ذکر کوو:

الله تعالی قرآنکریم کې فرمایلي دي: ([illegible]) ( سورت النور، ایت (۲۷).

ای مؤمنانو مه ننوځئ تاسې پردیو کورونو ته ،تر هغه پورې چې اجازه وغواړئ او سلام واچوئ پر خاوندانو د دی کورونو داسې کول کې ستاسو لویه ګټه ده شاید چې تاسی پند واخلئ.

رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي: **( من اطلع علی قوم فی بیتهم بغیر اذنهم فقد حل لهم ان یفقؤوا عینه ) (۱۸:۲۱۲).**

که چېرې یو څوک د پردي کور د خاوند له اجازې پرته پردي کور کې څوک وګوري د دې کور خاوند ته جواز شته چې د دې لیدونکي سترګه وباسي.

**د اجازې غوښتلو (استیذان) شرعي طریقه:**

د اجازې غوښتلو شرعي طریقه په راتلونکي حدیث شریف کې داسې بیان شوی ده: رسول الله صلی الله علیه و سلم خپل کور کې تشریف درلوده یو سړی راغی او د کور څخه بهر یې رسول الله صلی الله علیه و سلم ته غږ کړ، چې ایا زه ستا کورته داخل شم؟ رسول الله صلی الله علیه و سلم خپل خادم ته مهرباني وکړله چې لاړ شه ذکر شوي تن ته د اجازې غوښتلو شرعي طریقه وښایه، ورته ووایه: اول (السلام علیکم) ووایه، بیا ووایه چې ایا زه ستا کور ته داخل شم؟ ذکر شوی سړی د نبي صلی الله علیه و سلم خبری واوریدلی او په ښودل شوی

(c) ketabton.com: The Digital Library



طريقه يې د داخليدلو اجازه وغوښتله رسول الله صلی الله عليه و سلم ورته اجازه ورکړله سړی کورته داخل شو(۸:۳۵۲).

## د اجازې غوښتلو (استيذان) اداب:

د اجازې غوښتلو (استيذان) اداب په لاندې ډول ذکر کيږي:

۱-مېلمه بايد له دريو ځلو زيات د کوربه څخه د داخليدلو اجازه ونه غواړي ځکه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي دي: (**الْاسْتِئْذَانُ ثَلَاثٌ فَإِنْ أُذِنَ لَكَ فَادْخُلْ وَإِلَّا فَارْجِعْ**)(۱۸:۲۱۰).

اجازه غوښتل درې ځلې وي که اجازه درکړل شوه ښه که نه بېرته وګرځه.

که چېرې کوربه د اجازې غوښتونکي څخه پوښتنه وکړي چې ته څوک يې چې اجازه غواړې؟ نو هغه دې خپل نوم ورته وښايې ځکه چې يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه و سلم يوه باغ کې تشريف درلوده. ابوبکر رضی الله عنه ورڅخه اجازه وغوښتله رسول الله صلی الله عليه و سلم ترې پوښتنه وکړله چې ته څوک يې چې اجازه غواړې هغه ځواب ورکړ، ابوبکر يم. بيا عمر رضی الله عنه راغی هغه هم په همدې طريقې اجازه وغوښتله او اجازه ورکړل شوه، وروسته له دې عثمان رضی الله عنه ته په ذکر شوی طريقې اجازه ورکړل شوه(۲:۴۴).

کله چې کوربه اجازه غوښتونکي څخه پوښتنه وکړي چې ته څوک يې؟ هغه به ځواب کې دا نه وايې زه يم، ځکه جابر رضی الله عنه وايې: ما د رسول الله صلی الله عليه و سلم دروازه وټکوله هغه صلی الله عليه و سلم راڅخه پوښتنه وکړله څوک يې؟ ما ورته وويل زه يم. نبي صلی الله عليه و سلم داسې ويل بد وګڼل ويې فرمايل. (انا انا)(۱۸:۲۱۱).

ژباړه: زه يم زه يم.

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ۳- د سلام اداب:

اسلامي شریعت مسلمانانو څخه غوښتي چې کله یو د بل سره مخامخ کېږي سلام واچوي، چې البته د (السلام علیکم) ویل د سلامتۍ او عافیت هر اړخیزه جامع دعاء او هغه ته د خیر غوښتنې وعده ده، په دې معنا چې الله تعالی دې تا په بشپړې سلامتۍ سره ونازوي ستا ځان او مال دې خوندي وساتي، ته او ستا اولاده خپل خپلوان او دوستان د روغ رمټ ولري ستا دین او دنیا د سلامتۍ جامه کې وپوخي، ستا دین او دنیا د دهر قسم ضرر څخه په امن کې وساتي، زما په زړه کې ستا لپاره د خېر غوښتنې، د مینې او اخلاص او د سلامتۍ او عافیت ژوری ولولې دي زما له لاسه به تا ته هیڅکله درد او تکلیف ونه رسیږي. ته زما له لوری هیڅ اندېښنه مه لره(۲۱۱:۱۳ ).

په ګڼو شرعي نصوصو کې مسلمانان سلام اچولو ته هڅول شوي چې ځینې یې د بېلګې په توګه په لاندې ډول ذکر کوو:

الله تعالی قرآنکریم کې فرمایلي دي: (❒◆◗♑❶⬩✁ ❍⬉⬇⑩♐⯑⓿⬁❍ ⌨❒❒⑩⬁⬩◆☞♑✍ ☎✁❑♋⑩⌧⬩⬩◽ ⬃❒❒🕮 ✏☞❒☯⬃❁♑✌ ⌘♊✺❍⇧❍❒♁♑✍ ❻⬇⑩♋❒♎⌧☞✏... ⬀♑♑⬁ )(۱: سورت النساء، ایت ۸۶).

کله چې تاسې ته سلام واچول شي نو د هغه څخه په ښو الفاظو سره ځواب ورکړئ یا په همغه الفاظو سره ځواب ورکړئ.

رسول الله مهرباني کړې: کله چې الله تعالی ادم علیه السلام پیدا کړه نو الله تعالی ورته امر وکړ، چې د ملایکو هغې ناستې ډلې ته ورشه او سلام ورته واچوه هغوی چې څرنګه ځواب درکړ هغه ښه واوره چې همداسې ویل ستا او ستا د اولادې سلام اچول دي کله چې ادم علیه السلام د ملایکو ټولګې ته ورسیده نو هغوی ته یې په دې الفاظو سره سلام واچوه چې (السلام علیکم) ملایکو ورته وویل: (السلام علیک ورحمة الله)(متفق علیه).

(c) ketabton.com: The Digital Library



نبي صلى الله عليه و سلم مهرباني کړې ده: (لَا تَدْخُلُونَ الْجَنَّةَ حَتَّى تُؤْمِنُوا وَلَا تُؤْمِنُوا حَتَّى تَحَابُّوا أَوَلَا أَدُلُّكُمْ عَلَى شَيْءٍ إِذَا فَعَلْتُمُوهُ تَحَابَبْتُمْ أَفْشُوا السَّلَامَ بَيْنَكُمْ) ).(۴: ۱۸۳)

تر هغې جنت ته داخليدلی نه شئ ترڅو چې ايمان رانه وړئ. تر هغې پورې به تاسی د کامل ايمان څښتنان نه شئ ترڅو چې يو بل سره مينه او محبت ونه لرئ. آيا زه تاسی ته داسې يو کار ونښايم چې که هغه کار مو سرته ورسوه يو بل سره مو مينه او محبت پيدا کېږي هغه کار دا دی چې تاسی خپلو مينځونو کې يو بل ته سلام اچوئ.

## د سلام اچولو اداب:

اسلامي شريعت د سلام اچولو لپاره ځانګړی اداب وضع کړي دي، چې په لاندی ډول ذکر کيږي:

مستحبه طريقه دا ده چې څوک چا ته سلام اچوي (السلام عليكم) دی ورته ووايې يعنې چاته چې سلام اچوي يو تن وي، دوه تنه وي يا ډېر وي د ټولو لپاره د جمعی صيغه يعنی (عليكم) کليمه دی ورته استعمال کړي ځواب ورکوونکی بايد ورته (وعليكم السلام) ووايې،يعنی د سلام د ځواب سر کې واو چې د عطدرف لپاره دی او د (عليكم) کلمه استعمال کړي(۱۹:۳۴۲).

په حديث شريف کې راغلي چې سپور به پياده باندی سلام اچوي ولاړ په ناست باندی سلام اچوي، لږ خلک په ډېرو خلکو باندی سلام اچوي او کشر په مشر باندی سلام اچوي(۲۱۲:۱۸).

په حديث شريف کې بيان شوي چې کله د دوو تنو ترمينځ ملاقات وشو او دوی يو پر بل سلام واچوه بيا د دوی ترمنځ ونه، تيږه يا ديوال راغی او دوی يو د بل څخه جدا شول کله چې بيا يو د بل سره مخ کيږي بايد سلام واچوي(۸:۳۲۰).

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې يو تن خپل کور ته ننوزي بايد سلام واچوي ځکه چې انس رضی الله عنه ويلې دي چې ماته رسول الله صلی الله عليه و سلم داسې وفرمايل: ((يَا بُنَيّ إِذَا دَخَلْتَ عَلَى أَهْلِكَ فَسَلِّمْ يَكُنْ بَرَكَةً عَلَيْكَ وَعَلَى أَهْلِ بَيْتِكَ ))(۱۲: ۹۹).

ای بچونيه! کله چې خپل کورته داخليږې سلام اچوه چې دا سلام په تا او ستا کورنۍ کې برکت واچوي.

په ماشومانو سلام اچول غوره کار دی ځکه چې انس رضی الله عنه يو ځل په ماشومانو تېريده په هغوی يې سلام واچوه بيا يې وويل: چې رسول الله صلی الله عليه و سلم همداسې کول(۱۸:۲۱۴).

که د فتنې خطر نه وي نارينه خپلو او پرديو ښځو او ښځې خپلو او پرديو نارينو ته سلام اچولی شي ځکه چې اسماء بنت يزيد رضی الله عنها ويلې دي چې مونږ د ښځو يوه ډله ناست وو رسول الله صلی الله عليه و سلم تيريده پر مونږ يې سلام واچوه (۸:۳۶۰).

همدارنګه ام هانئ رضی الله عنها ويلې دي چې: زه د رسول الله صلی الله عليه و سلم کورته لاړم نبي صلی الله عليه و سلم باندې مې سلام واچوه (۱۸:۲۱۳).

د سلام الفاظ چې څومره زيات وي ثواب او اجر يې زياتيږي ځکه چې حديث شريف کې راځي چې يوه ورځ رسول الله صلی الله عليه و سلم مجلس کې تشريف درلوده يو صحابي راغې په دې الفاظو سره يې سلام واچوه (السلام عليکم) نبي صلی الله عليه و سلم د سلام ځواب ورکړ، بيا يې وفرمايل: د دې سړی لپاره لس نيکۍ ورکړل شوې، بل سړی راغی په دې الفاظو سره يې سلام واچوه،(السلام عليکم ورحمة الله) نبي صلی الله عليه و سلم ځواب ورکړه بيا يې وفرمايل د دې سړي لپاره شل نيکۍ ورکړل شوې، دريم سړی راغی او په دې الفاظو سره يې سلام واچوه (السلام عليکم ورحمة الله وبرکاته) نبي صلی

(c) ketabton.com: The Digital Library



الله علیه و سلم د سلام ځواب ورکړ بیا یې وفرمایل دی سړی لپاره دیرش نیکۍ ورکړل شوی (۸:۳۶۰).

مسلمان به کافر ته اول سلام نه اچوي کله چې کافر وربانډی سلام واچوي نو په ځواب کې به تنها دومره ووايي (وعلیکم) ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم مهرباني کړی. (لَا تَبْدَءُوا الْيَهُودَ وَلَا النَّصَارَى بِالسَّلَامِ)(۱۸:۲۱۴).

تاسی یهودو او انصارو باندی اول سلام مه اچوئ.

په بل حدیث شریف کې راغلی دی (اذا سلم علیکم اهل الکتاب فقولوا و علیکم)(۱۸:۲۱۳).

کله چې تاسی ته اهل کتابو سلام واچوه نو ووایې. (وعلیکم)

که چېرې یو مجلس کې مسلمانان او کافران ګډ ناست وي داسې مجلس باندی سلام اچول جواز لري ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم همداسې مجلس باندی سلام اچولی دی (متفق علیه).

کله چې ځوک د چا څخه رخصتیږي باید سلام ورته واچوي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي ((إِذَا انْتَهَى أَحَدُكُمْ إِلَى الْمَجْلِسِ فَلْيُسَلِّمْ فَإِذَا أَرَادَ أَنْ يَقُومَ فَلْيُسَلِّمْ فَلَيْسَتْ الْأُولَى بِأَحَقَّ مِنَ الْآخِرَةِ))) (۱۱: ۴۱۸).

کله چې ستاسې څخه یو تن مجلس ته راځي نو سلام دی واچوي او کله چې د مجلس څخه بېرته ځي سلام دی واچوي ځکه چې راتګ د تګ څخه زیات د سلام اچولو مستحق نه دی.

إِذَا لَقِيَ أَحَدُكُمْ أَخَاهُ فَلْيُسَلِّمْ عَلَيْهِ فَإِنْ حَالَتْ بَيْنَهُمَا شَجَرَةٌ أَوْ جِدَارٌ أَوْ حَجَرٌ ثُمَّ لَقِيَهُ فَلْيُسَلِّمْ عَلَيْهِ أَيْضًا ))(۱۱: ۴۱۸).

(c) ketabton.com: The Digital Library



کله چې ستاسې يو تن دخپل مسلمان ورور سره مخامخ کېږي،نو پر هغه دې سلام واچوي،که ونه ،دېوال او يا تيګه ددواړو ترمنځ پرده شي او بيا سره مخامخ شي نو بيا دې سلام پرې واچوي.

## ۴- د صنف او مجلس اداب:

د هر مسلمان ټول ژوند بايد د اسلامي شريعت په اصولو ولاړ وي چې په دی لړ کې د صنف او مجلس مهم شرعي اداب په لاندی ډول ذکر کېږي(۱۲:۱۴).

۱-کله چې څوک صنف يا مجلس ته راشي نو سلام دی واچوي او د مجلس هغې برخې کې د کښېني چې دی ته نژدې وي او ناست خلک ورته رسيدلی دی داسې دی نه کوي چې بل تن د مجلس څخه پاڅوي خپله د هغه ځای کې کښيني او نه د دوو تنو په مينځ کې د هغوی له اجازې پرته کښيني ځکه چې رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي دي: (**لا يقيمن احد کم رجلاً من مجلسه ثم يجلس فيه و لکن توسعوا** )( **متفق عليه** ).

ستاسی څخه دی يو تن داسې نه کوي چې بل تن د مجلس څخه پاڅوي او خپله د هغه ځای کې کښېني،خلک دی وخوځېږي ترڅو راغلي تن ته د ناستي ځای پيدا شي.

د ابن عمر رضی الله عنه دا عادت ؤ چې چا به ورته مجلس کې خپل ځای پرېښوده هلته به نه کېناسته. جابر بن سمرة رضی الله عنه وايې چې: کله به مونږ د رسول الله صلی الله عليه و سلم مجلس ته راغلو نو کوم ځای کې به چې د مجلس وروستني خلک ناست ول، د هغوی ترڅنګ به کېناستلو.

رسول الله صلی الله عليه و سلم مهرباني کړې ده: (**لا يحل للرجل ان يفرق بين اثنين الا باذنهما** )(۸:۳۱۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library



جواز نه لري چې يو څوک په مجلس کې د دوو تنو ترمنځ د هغوی له اجازې پرته کښېني.

۲-څوک چې په صنف يا مجلس کې د کوم ضرورت په اساس د خپل ځای څخه پاڅېږه او بهرته ووت هرکله چې مجلس ته راشي حق يې دا دی چې خپل اولني ځای کې کښېني ځکه رسول الله صلی الله عليه و سلم فرمايلي دي: (إِذَا قَامَ الرَّجُلُ مِنْ مَجْلِسٍ ثُمَّ رَجَعَ إِلَيْهِ فَهُوَ أَحَقُّ بِهِ)(۱۸:۲۱۷).

کله چې يو تن ستاسې څخه د مجلس څخه ووځي بيا بېرته مجلس ته راشي حق يې دا دی چې خپل اولني ځای کې کښېني.

۳-که چېرې صنف يا مجلس د حلقې په بڼه جوړ شوی وي نو د حلقې په منځ کې ناسته جواز نه لري ځکه چې حذيفه رضی الله عنه ويلي دي (لَعَنَ رَسُولُ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ مَنْ قَعَدَ فِي وَسْطِ الْحَلْقَةِ)(۸:۳۱۲).

رسول الله صلی الله عليه و سلم لعنت کړی هغه چا باندی چې د حلقې منځ کې کښېني.

۴-په صنف او مجلس کې مسلمان بايد په ډېر وقار او سنګينۍ سره ناست وي په خپلی ږيرۍ يا بل شي دې لوبې نه کوي. خپلو غاښونو او پوزی کې دی ګوتې نه وهي، نه دی لاړې توکوي او نه دی پوزه سونړوي او نه دی قصداً ټوخې کوي. د خبرو نوبت دی مراعات کړي، ډېرې خبری دی نه کوي د بې ځايه ټوکو او رياء کارۍ څخه دی ځان وساتي. لاپې دی نه وهي که بل چا خبرې کولې د هغه خبرو ته دې غوږ کېږدي د بل چا خبره دې نه قطع کوي چې البته ذکر شوي کارونه په دوو وجو جواز نه لري يو دا چې په دی کارونو سره د مجلس او صنف ګډونوالو ته ضرر رسوي چې داسې کول شرعاً حرام کار دې بل دا چې د نوموړو کارونو په

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه کولو سره د مجلس د ګډونوالو مینه او محبت ځانته راجلبوي چې دې کار باندې هر مسلمان شرعاً مکلف دی.

**۵**-کله چې یو څوک مجلس ته راځي بل شخص به د سترې مشي او احترام له امله ورته درېږي او که نه؟

دی موضوع کې د علماؤ تر منځ اختلاف دی یو شمېر علماء وایې چې د بل چا سترې مشي او احترام لپاره هېڅ ته دریدل جواز نلري د دغې ډلې علماؤ ځېنې دلائل په لاندې ډول ذکر کوو:

الف-ابو امامه رضی الله عنه وایې چې یو ځل رسول الله صلی الله علیه و سلم زمونږ مجلس ته راغی مونږ ورته ودریدو نو نبی علیه السلام مونږ ته مهرباني وکړله (لَا تَقُومُوا كَمَا تَقُومُ الْأَعَاجِمُ يُعَظِّمُ بَعْضُهَا بَعْضًا )(۸:۳۳۲).

ژباړه: لکه څنګه چې غیر عرب خلک یو د بل احترام لپاره درېږي تاسی مه درېږئ.

ب- انس رضی الله عنه وایې (لَمْ يَكُنْ شَخْصٌ أَحَبَّ إِلَيْهِمْ مِنْ رَسُولِ اللَّهِ صَلَّى اللَّهُ عَلَيْهِ وَسَلَّمَ قَالَ وَكَانُوا إِذَا رَأَوْهُ لَمْ يَقُومُوا لِمَا يَعْلَمُونَ مِنْ كَرَاهِيَتِهِ لِذَلِكَ )(۱۲:۱۰۴).

صحابو کرامو ته د رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه بل هېڅوک زیات ګران نه ؤ خو سره له دی چې کله به رسول الله صلی الله علیه و سلم د دوی مجلس ته راغی نو دوی به ورته نه دریدل دا ځکه چې صحابه کرام پدې پوهیدل چې نبی علیه السلام د دوی په دریدلو خفه کیږي.

خو یو شمېر نور علماء وایې چې د بل چا د سترې مشي او احترام لپاره دریدل جواز لري، د دغی ډلې علماؤ ځېنې دلائل په لاندې ډول ذکر کؤ:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف: يو ځل سعد بن معاذ رضی الله عنه مجلس ته راغی نو نبی علیه السلام صحابو کرامو ته وفرمایل: ( قُومُوا إِلَى سَيِّدِكُمْ )(۳:۴۸۴ ) خپل مشر ته ودریږئ.

ب: عائشه رضی الله عنها وایي: چې زید بن حارثه رضی الله عنه مدینه ته را ورسید کله چې زمونږ کور ته راغی نبی علیه السلام ورته پاڅیده، غاړه یې ورته ورکړله او مچی یې کړه(۱۲:۱۰۲ ).

ج: عائشه رضی الله عنها وایي: چې کله به د نبی علیه السلام لور بي بي فاطمه رضی الله عنها راغلله نو نبی علیه السلام به ورته پاڅیده مچی به یې کړله او په هغه ځای کې به یې کښینوله چې نبی علیه السلام به ناست ؤ او کله به چې نبی علیه السلام فاطمې رضی الله عنها کره لاړ هغه به ورته پاڅیدله لاس به یې مچی کړله او په هغه ځای کې به یې کښینوه چې فاطمه رضی الله عنهه به ناسته وه(۸:۳۶۲ ).

علماؤ د پورتنیو دوو ډلو د دلائلو تطبیق پدې ډول کړی چې کوم دلیل کې د احترام له امله دریدل منع شوي دا هغه دریدل دي چې سړی یې د تکبر له امله پخپله د خلکو څخه غواړي یا که چاته دریدل هغه کې تکبر پیدا کوي بیا ورته دریدل جواز نلري خو که ناست شخص راتلونکی شخص ته د هغه د غوښتنې پرته د هغه د احترام او اکرام لپاره ودریږي او دریدل په هغه کې تکبر نه پیداکوي بیا داسې دریدل شرعاً جواز لري (۱۷:۱۱۰ ).

۲-د مجلس په پای کې باید دغه دعاء ولولي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم همداسې امر کړی دی **سبحانک اللهم و بحمدک اشهدان لا الهٰ الا انت استغفرک و اتوب الیک** )(۸:۳۱۹ ).

ای الله ! تا لره پاکي ده او ثناء تا لره ده ګواهي ورکوم چې پرته له تا څخه بل د عبادت وړ نشته ستا څخه بخښنه غواړم او تا ته رجوع کوم (توبه وباسم).

(c) ketabton.com: The Digital Library



## ۵- د خوراک او څښاک اداب:

اسلامي شريعت مسلمانانو ته لارښونه کړې ده چې د خوراک او څښاک په وخت کې لاندیني اداب باید په نظر کې ونیسي

۱-هر مسلمان باید د خوراک او څښاک څخه وړاندې دا نیت ولري چې دا خوراک او څښاک د دې په خاطر کوم چې بدن مې قوي شي ترڅو د الله تعالی عبادت پرې وکړم چې په دې نیت سره یې خوراک او څښاک عبادت ګرځي کوم چې مسلمانان پرې مکلف دي.

۲- مسلمان د داسې شیانو څخه خوراک او څښاک وکړي چې حلال وي ځکه چې الله تعالی په قرآنکریم کې فرمایلي دي: ③◆✵🕔✵🕯□③⑩♑□✍
☎✂□➔◘→🗎 ☎✂□↖☪◆✌✂◆↗ ✍□⇦✌🔔⅄✏✍✂
…↗☠↗▤🕔□✡⬂🔔□∞◆❻ ✍◆✌✌💣🕔◆⌛✍♒⑩•⊂ ♊✌✌
✍✗✗✍✍ )(۱: د البقرې سوېت، آیت۱۷۲).

ژباړه: ای مؤمنانو حلال خواړه چې ما تاسی ته درکړي دي وخورئ.

۳-له خوراک وړاندې او وروسته باید خپل لاسونه ښه ووینځي، ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم مهرباني کړې: **بَرَکَةُ الطَّعَامِ الْوُضُوءُ قَبْلَهُ وَالْوُضُوءُ بَعْدَهُ**))( ۱۰، ۲۰۹).

ژباړه: له خوړلو وړاندې او وروسته لاس وینځلو کې برکت دی.

۴-د خوراک او څښاک پیل کې باید (بسم الله الرحمن الرحیم) ووایې ځکه رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي: ((**إِذَا أَکَلَ أَحَدُکُمْ فَلْیَذْکُرْ اسْمَ اللَّه تَعَالَی فَإِنْ نَسِيَ أَنْ یَذْکُرَ اسْمَ اللَّهِ تَعَالَی فِي أَوَّلِهِ فَلْیَقُلْ بِسْمِ اللَّهِ أَوَّلَهُ وَآخِرَهُ**)). (۱۰:۲۱۹).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: کله چې ستاسی څخه یو تن خوراک کوي نو د الله نوم دی یاد کړي که چېرې دا ورڅخه د خوړلو پېل کې هېر شوکله چې وریاد شو ودی وایې: (بسم الله اوله و اخره).

که څوک هرې مړۍ کې (بسم الله) ووایې د قیامت په ورځ د دی مړۍ حساب وکتاب ورسره نه کېږي په دې هکله حدیث شریف کې داسې راغلي دي: **(من قال عند کل لقمة بسم الله لا یحاسبُ یوم القیامة فی اکلها )**(۴۴:۱۵).

ژباړه: څوک چې د خوراک هرې مړۍ کې (بسم الله) ووایې د قیامت په ورځ ورسره د دغی مړۍ حساب و کتاب نه کېږي.

ښه دا ده چې د خوراک په پېل کې (بسم الله) په لوړ اواز وویل شي ترڅو په دسترخوان ناست خلک یې واوري، هغوی یې هم ووایې.

**۵**-خوراک او څښاک به په ښي لاس سره کوي او د کاسې له هغې څنډې څخه به خواړه اخلي چې ده ته نژدې وي د کاسې له مینځ څخه دې خواړه نه اوچتوي ځکه رسول الله صلی الله علیه و سلم عمربن سلمه رضی الله عنه ته داسې مهرباني کړې: **یَا غُلَامُ سَمِّ اللّهَ وَکُلْ بِیَمِینِکَ وَکُلْ مِمّا یَلِیکَ** )(۱۸:۱۷۲).

ژباړه: خوراک په ښي لاس سره کوه او د کاسې د هغې څنډې څخه خوراک کوه چې تا ته نژدې ده.

په بل حدیث شریف کې راځي: **(الْبَرَکَةُ تَنْزِلُ وَسَطَ الطَّعَامِ فَکُلُوا مِنْ حَافَتَیْهِ وَلَا تَأْکُلُوا مِنْ وَسَطِه**)( سنن الترمذی، ۲ټوک ،۴۲۶مخ).

ژباړه: برکت د خوړو منځنۍ برخه کې نازلیږي نو تاسې د خوړو د څنډو څخه خوراک کوئ د خوړو د منځنۍ برخې څخه خواړه مه اخلئ.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۶-ډېر تاوده خوړل او څښل باید ونه شي او نه دخوراک او څښاک شیان بوی کړل شي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي. ( "أَبْرِدُوا بِالطَّعَامِ، فَإِنَّ الطَّعَامَ الْحَارَّ غَيْرُ ذِي بَرَكَةٍ". و لاتشم الطعام فان ذلک عمل البهائم )(۴۳:۱۵ ).

ژباړه: خواړه ساړه کړئ، ځکه د تاوده خوړو خوړولو کې برکت نه شته او خواړه دی نه بویول کېږي ځکه چې دا عمل د څارویو عمل دی.

۷-د خوراک او څښاک څیزونو کې باید تنفس ونه شي او نه د خوراک او څښاک پو کړل شي ځکه چې ابن عباس رضی الله عنه ویلې دي: (ان النبی صلی الله علیه و سلم نهی ان یتنفس فی الاناء او ینفخ فیه )(۳۳:۱۳ ).

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه و سلم له دې څخه منع کړې ده چې د خوراک او څښاک څیزونو کې تنفس وکړل شي یا په کې پوکې وکړل شي.

۸-په حدیث شریف کې راغلې دي چې:خوراک او څښاک باید لومړی په دسترخوان ناست تر ټولو د عمر له لحاظه مشر ته کېښودل شي(۱۲۷:۱۴ ).

بیا دی د مشر تن د ښي څنګ سړي څخه پېل کړي او په ترتیب سره دی ټولو ته خوراک او څښاک کېږدي ( متفق علیه ).

۹-د خوراک او څښاک وخت کې دی نه داسې کار او نه داسې خبره وکړي چې عادتاً د سړی کرکه راولي د بېلګې په توګه له هرې مړې، کولو وروسته د وریجو غوري کې لاس څنډل یا د خوراک څښاک وخت کې د چټلو شیانو یادول البته ذکر شوي شیان ځکه جواز نلري چې پدې سره خوراک او څښاک ته ناستو خلکو لپاره داسې ضرر رسیږي چې شریعت حرام ګڼلي دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۰- له خوراک وروسته له لاس وینځلو وړاندی باید خپلی ګوتی وڅټي او کاسه ښه پاکه کړي ځکه چې جابر رضی الله عنه ته نبي صلی الله علیه و سلم همداسې امر کړی دی او فرمایلي دي: (انکم لاتدرون فی ای طعامکم البرکة) (۳۱:۱۷۵).

ژباړه: تاسی په دی نه پوهیږئ چې د خوړو په کومی برخې کې برکت دی.

۱۱-په خوراک او څښاک سره باید سړی خپله خیټه ډېره ډکه نه کړي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي: (ما ملأ ابن ادم وعاء شراً من بطنه بحسب ابن ادم لقیمات یقمن صلبه فان کان لامحاله فثلث لطعامه و ثلث لشرابه و ثلث لنفسه) (۳۰:۳).

ژباړه: بنی ادم د خپلی خیټی څخه بد بل لوښی نه دی ډک کړی د هغه لپاره په کار ده چې څو مړی خواړه وخوري چې بدن یې پری استوار وي که چېرې یو څوک ضروراً خواړه خوړل غواړي نو خپله خیټه دی په دریو برخو وویشي یوه برخه دی خواړه وخوري، دوهمه برخه دی اوبه وڅښي او دریمه برخه دی هوا ته خالي پریږدي.

۱۲-په څښاک کې مستحبه طریقه دا ده چې څښاک په دریو تنفسونو سره وشي ځکه انس رضی الله عنه ویلې دي: (ان النبی صلی الله علیه و سلم کان یتنفس فی الشراب ثلاثاً) (۱۸:۱۷۴).

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه و سلم څښاک په دریو تنفسونو څښه.

۱۳-د خوراک په وخت کې که کومه مړۍ د لاسه په دسترخوان ولوی ږې هغه دی پاکه کړي او ودی خوري ځکه چې رسول الله فرمایلي دي: (اذا سقط لقمة

(c) ketabton.com: The Digital Library



**احدكم فليأخذها فليُمِط عنها الاذى وليا كلها و لايتركها للشيطان )** (۸:۱۸۱).

ژباړه: کله چې خوراک وخت کې ستاسی څخه د یوه تن له لاسه د خوړو مړۍ په دسترخوان ولویږي هغه دی پورته کړي پاکه دی کړي او ودی خوري شیطان ته دې دا مړۍ نه پریږدي.

۱۴-په اجتماعي بڼه خوراک او څښاک کول غوره کار دی ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي: **(اجتمعوا على طعامكم يبارك الله لكم فيه )(۸:۱۷۲ ).**

ژباړه: خپل خواړه په اجتماعي بڼه خورئ الله تعالی په کې برکت اچوي.

۱۵-خواړه باید په دریو ګوتو وخوړل شي ځکه چې کعب بن مالک رضی الله عنه ویلې دي: **((كَانَ رَسُولُ اللهِ صَلّى اللّهُ عَلَيْهِ وَسَلّمَ يَأْكُلُ بِثَلَاثِ أَصَابِعَ وَيَلْعَقُ يَدَهُ قَبْلَ أَنْ يَمْسَحَهَا ) )(۱۸:۱۷۵ ).**

ژباړه: رسول الله صلی الله علیه و سلم به په دریو ګوتو سره یې خوراک کاوه ، او له وچولو مخکې به یې خپلې ګوتې څټلې.

۱۶-مستحبه طریقه دا ده چې د خوراک وخت کې تیار شوو خوړو باندې بد ونه ویل شي بلکې صفت یې وشي(۱۸:۳۱۲ ).

۱۷-خوراک او څښاک په ولاړه جواز لري ځکه ابن عمر رضی الله عنه ویلې دي: **(كنا على عهد رسول الله صلى الله عليه و سلم نأكل و نحن نمشى و نشرب و نحن قيام ) (۱۰:۱۲ ).**

ژباړه: د رسول الله صلی الله علیه و سلم وخت کې به مونږ په روانه خوراک کاوه او په ولاړه به مو څښاک کاوه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



خو غوره او افضل کار دا دی چې خوراک او څښاک په ناسته وشي ځکه چې انس رضی الله عنه د نبي صلی الله علیه و سلم څخه نقل کړې دی چې رسول الله صلی الله علیه و سلم په ولاړی د اوبو څښلو څخه خلک منع کړي دي. قتادة رضی الله عنه ویلې دي چې مونږ د انس رضی الله عنه څخه پوښتنه وکړله چې خوراک کول په ولاړی څنګه دی؟

هغه ځواب راکړ، چې په ولاړه خوراک کول د ولاړی څښاک کولو څخه ډېر بد دی(۱۸:۱۷۳).

د پورتنیو حدیثونو او نورو دلایلو په اساس علماؤ داسې فتوی ورکړې ده چې خوړل او څښل په ولاړی جواز لري خو غوره او افضل په ناستی خوراک او څښاک کول دي(۱۸:۳۲۴) (۱۲:۳۰۵).

۱۸-له خوراک او څښاک وروسته دا دعاء دی ولولي: ( **الحمد لله الذی اطعمنا و سقانا و جعلنا من المسلمین** )(۸:۴۳۲).

۱۹-له خوراک وروسته د خپله خوله وو ینځي(۱۴:۱۲۹).

## ۲- د سفر اداب:

د سفر لپاره اسلامي شریعت ځانګړې اداب ایښي دي، چې ځینې یې په لاندې ډول ذکر کېږي:

۱-مسافر به خپلې کورنۍ او ملګرو سره خدای پاماني کوي هغوی به الله تعالی باندې سپاري، رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي

(( **ان الله تعالیٰ اذا استودع شیئًا حفظه** ))(۴:۲۸).

لقمان صاحب ویلې دي، چې کله الله تعالی باندی څوک وسپارل شو الله تعالی یې ساتنه کوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



او مسافر ته به خپله کورنۍ او ملګري راتلونکو الفاظو سره دعاء کوي کومه چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه رانقل شوی: (استودع الله دینک و امانتک و خواتیم عملک)(۸:۳۵۷).

ژباړه: ستا دین، امانت او د عمل پایلې الله تعالی ته سپارم.

۲-مسافر باید سفر ته یواځی لاړ نه شي دری یا زیات ملګري باید ولري ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم مهرباني کړی (الراکب شیطان والراکبان شیطانان والثلاثة رکب)(۸:۳۵۷).

ژباړه: کوم تن چې سفر ته یواځې ځي دا داسې عمل دی چې یوه شیطان د دی عمل سرته رسولو لپاره هڅولې دي که دوه تنه یواځې سفر ته روان وي دا داسې عمل دی چې دوو شیطانانو د دی عمل سرته رسولو لپاره هڅولی دی کله چې دری تنه سفر ته یوځای روان شي دا ډله ده چې د الله جل جلاله مرسته ورسره ملګری ده.

په بل حدیث شریف کې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي: (لوان الناس یعلمون من الوحدة ما اعلم ما سار راکب بلیل وحده)(۲:۲۳).

ژباړه: که چېرې د یواځې سفر په هغو عواقبو چې زه پرې پوهیږم نور خلک پوهیدلی یو تن به هم د یوی شپې لپاره یواځې سفر ته ونه وځي.

۳-د سفر ملګري باید په خپلو کې د مشورو په اساس یو تن د سفر امیر وټاکي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي: (اذا خرج ثلاثة فی سفر فلیأمروا احدهم)(۸:۳۵۸).

ژباړه: کله چې دری تنه سفر ته ځي نو یو تن دی خپل امیر وټاکي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



۴-سفر ته له وتلو وړاندی باید مسافر استخاره وکړي(۱:۲۳).
**۵**-مسافر باید په سفر کې ډېرې دعاګانې وکړي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي: **(ثلاث دعوات مستجابات لاشک فیهن دعوة المظلوم و دعوة المسافر و دعوة الوالد علی ولده)(۲۷:۱۲).**
ژباړه: بېشکه چې د دریو ډلو خلکو دعاګانې قبلیږي. د مظلوم دعاء، د مسافر دعاء او د پلار دعاء خپل اولاد ته.
۶-مستحب دا دی چې مسافر د پنجشنبی په ورځ سفر ته ووځي ځکه چې کعب بن مالک رضی الله عنه ویلي دي: **(کان الرسول صلی الله علیه و سلم یحب ان یخرج یوم الخمیس)(متفق علیه).**
ژباړه: رسول الله صلی الله علیه و سلم دا خوښه وه چې د پنجشنبی په ورځی سفر ته ووځي.
۷-مستحبه طریقه دا ده چې مسافر سهار وختي سفر ته ووځي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم فرمایلي دي: **(اللهم بارک لامتی فی بُکورها)(۸:۳۵۸).**
ژباړه: ای الله تعالی ځما په هغو امتیانو برکتونه رانازل کړه چې سهار وختي سفر کوي.
۸-کله چې مسافر نقلیه واسطی ته خیژي (بسم الله) دی ووایې ځکه چې د علي رضی الله عنه څخه همدا سې رانقل شوي دي(۸:۳۵۷).
۹-کله چې مسافر نقلیه وسیله کې کښېناسته او نقلیه وسیلی حرکت وکړ درې ځلي به الله اکبر ووایې، وروسته له دی به راتلونکې دعاء ولولي ځکه چې

(c) ketabton.com: The Digital Library



رسول الله صلی الله علیه و سلم همدا سې کول: { سُبْحَانَ الّذِي سَخّرَ لَنَا هَذَا وَمَا كُنّا لَهُ مُقْرِنِينَ وَإِنّا إِلَى رَبّنَا لَمُنْقَلِبُونَ }
اللّهُمّ إِنّا نَسْأَلُكَ فِي سَفَرِنَا هَذَا الْبِرّ وَالتّقْوَى وَمِنْ الْعَمَلِ مَا تَرْضَى اللّهُمّ هَوّنْ عَلَيْنَا سَفَرَنَا هَذَا وَاطْوِ عَنّا بُعْدَهُ اللّهُمّ أَنْتَ الصّاحِبُ فِي السّفَرِ وَالْخَلِيفَةُ فِي الْأَهْلِ اللّهُمّ إِنّي أَعُوذُ بِكَ مِنْ وَعْثَاءِ السّفَرِ وَكَآبَةِ الْمَنْظَرِ وَسُوءِ الْمُنْقَلَبِ فِي الْمَالِ وَالْأَهْلِ وَإِذَا رَجَعَ قَالَهُنّ وَزَادَ فِيهِنّ آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبّنَا حَامِدُونَ ۸:۳۵۷ ).

پاکي ده هغه الله لره چې دا (د سپرلۍ وسیله) يې مونږ ته تابع کړې حال دا چې مونږ ددی د تابع کولو قدرت نه لره، بیشکه چې مونږ د الله لورې ته ورتلونکی یو، ای الله! مونږ په دی سفر کې ستا څخه نیکي او تقوی غواړو او مونږ ته پدې سفر د داسې عملونو سرته رسولو توفیق راکړی چې ته پرې خوښیږې، ای الله! زمونږ دا سفر اسانه کړې او ورږده لاره يې لنډه کړې، ای الله! ته مو پدې سفر کې ملګری شی او ته مو په کورونو کې خلیفه او ساتونکی شی، ای الله! ته مو ددی سفر له تکلیفونو وساتئ او د ناوړو پیښو له لیدلو مو خوندي کړی او خپل مال، خپل کور او خپلو بچیو ته د بد ستنیدلو څخه خلاصون را په برخه کړی

کله چې مسافر له سفر څخه بېرته خپل کور ته راګرځي د ذکر شوی دعاء سره به راتلونکي الفاظ ورزیات کړي: (آيِبُونَ تَائِبُونَ عَابِدُونَ لِرَبّنَا حَامِدُونَ)(۸:۳۵۷).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: مونږ خپل رب ته رجوع کوونکی، توبه ویستونکی، عبادت کوونکی او ثناء ویوونکی یو.

۱۰-د سفر په اوږدو کې کله چې نقلیه وسیله په لوړه خیژي مسافر به (الله اکبر) وایي او کله چې په ژوره کوزیږي (سبحان الله) به وایي ځکه چې له رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه همداسې وینا رانقل شوی ده(۸:۳۵۷).

۱۱-د سفر په بهیر کې که چېرې مسافر په کوم ځای کې له خلکو ویریده راتلونکې دعاء دی لولي: (اللهم انا نجعلک فی نحورهم و نعوذبک من شرورهم)(۸:۳۵۸).

ژباړه: ای الله! مونږ تا ددوی مخې ته ګرځوو او د دوی له شر څخه په تا پناه غواړو.

۱۲-د سفر په اوږدو کې کله چې مسافر کوم ځای کې دمه کوي راتلونکې دعاء دی ولولي ځکه چې رسول الله صلی الله علیه و سلم مهرباني کړی چې که چېرې دغه حالت کې راتلونکې دعاء ولوستل شي هیڅ شی ورته ضرر نه شي رسولی: (اعوذ بکلمات الله التامات من شر ما خلق)(۱۸:۲۵).

ژباړه: د الله په کاملو کلماتو د الله د مخلوقاتو د شر څخه پناه غواړم.

۱۳-کله چې مسافر له سفر څخه را ستون شي او د لومړي ځل لپاره یې په خپلې سیمې سترګې ولګیږي راتلونکې دعاء دی ولولي ترهغه پورې دی دا دعاء لولي چې خپل کور ته ورسیږي ځکه چې انس رضی الله عنه ویلې دي چې کله مونږ د نبي صلی الله علیه و سلم سره د خیبر غزوې څخه را ستانه شولو او مدینه منوره مونږ ته له لری ښکاره شوه رسول الله صلی الله علیه و سلم دا دعاء ولوستله او ترهغې یې تکراروله چې مدینې منورې ته ورسیدو (ایبون تائبون عابدون لربنا حامدون)(۱۸:۲۴).

(c) ketabton.com: The Digital Library



ژباړه: مونږ خپل رب ته رجوع کوونکی، توبه ویستونکی، عبادت کوونکی او ثناء ویوونکی یو.

۱۴- کله چې مسافر له سفر څخه خپلې سیمې ته ستون شي نو د خپل کور نژدی مسجد کې دی دوه رکعته لمونځ وکړي وروسته دی خپل کورته داخل شي ځکه چې د رسول الله صلی الله علیه و سلم څخه همداسې کول رانقل شوي دي( متفق علیه).

## ۷- د خوب آداب:

په انسانانو باندي د الله تعالی له سترو نعمتونو څخه یو هم خوب کول دي چې د انسانانو د ژوند دبقاء لپاره ډیر مهم عنصر ګڼل کېږي الله تعالی د قرآنکریم په ګڼو ایتونو کې خوب کول په انسانانو باندي خپل لوی نعمت بولي او د احسان په توګه یې یادوي چې د نوموړو ایتونو له جملې څخه راتلونکې ایت شریف دبېلګې په توګه ذکر کوو:(❐◆♉⍓➔⍓▣▫☪◆♐ ☼◆❐⍐♌◆▤➚📫⇗ ♏←⌨◆♐✍✡♐ ⬀♋⬁)(۱:د النباء سورت، آیت ۹ ).

ژباړه: ستاسي خوب مي ستاسو لپاره ارامتیا او راحت ګرځولې دی.

نو ددي لپاره چې مسلمانانو د الله تعالی ددي ستر نعمت څه نا څه شکر اداء کړې وي باید د خوب په اړه د اسلامي شریعت لاندیني اخلاق او اداب حتما مراعات کړئ:

هر مسسلمان باید له ضرورت پرته د ماسخوتن له لمانځه څخه وروسته خوب کول ونه ځنډوي ځکه ابو برزهرضی الله عنهویلې دي چې(ان النبیعلیه السلام کان یکره النوم قبل صلاة العشاء والحدیث بعدها ) (متفق علیه).

ژباړه : نبي علیه الصلاة والسلام د ماسخوتن له لمانځه څخه وړاندې خوب کول او دماسخوتن لمانځه څخه وروسته خبرې اترې کول بد ګڼلې دي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



مسلمان باید ډېره هڅه وکړي چې په اودس سره ویده شي لومړی باید په ښي ډډه پریوځي او ښي لاس باید د خپل سر لاندې کېږدي وروسته له څه وخته که بلې ډډې ته واوړي شرعا کومه پروا نلري ځکه چې رسول الله صلی الله علیه وسلم براء بن عازب ته داسې فرمایلي ؤ: ((إِذَا أَتَيْتَ مَضْجَعَكَ فَتَوَضَّأْ وُضُوءَكَ لِلصَّلَاةِ ثُمَّ اضْطَجِعْ عَلَى شِقِّكَ الْأَيْمَنِ))۲:۴۱۲)

کله چې ویده کېږي نو د لمانځه د اودس په څیر اودس وکړه بیا په ښي ډډه پریوزه.

او بل حدیث شریف کې له همدې براء بن عازب (رض) څخه روایت دی چې ماته رسول الله (ص) وفرمایل :((إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ وَأَنْتَ طَاهِرٌ فَتَوَسَّدْ يَمِينَكَ))سنن ابي داود:۱۳ټوک ، ۲۴۳مخ.

او چې کله ویده کېږې په اوداسه ویده کېږه ،او ښي لاس سر لاندې کښېږده

مسلمان باید پر مخې په خیټې پرې نه وځي ځکه چې دداسې خوب په اړه رسول الله صلی الله علیه وسلم داسې مهرباني کړي:((إِنَّمَا هَذِهِ ضِجْعَةُ أَهْلِ النَّارِ)) او په بل حدیث شریف کې داسې راغلي دي ((إِنَّ هَذِهِ ضِجْعَةٌ لَا يُحِبُّهَا اللَّهُ))سنن ابن ماجه:۱۱ټوک، ۱۴۱مخ،مسند احمد ،۱۲ټوک، ۲۳۹مخ.

ژباړه : پر مخې پریوتل د دوزخیانو پریوتل دي .پر مخې پرېوتل داسې عمل دی چې الله جل جلاله یې نه خوښوي

د رسول الله صلی الله علیه وسلم څخه ګڼ شمېر دعا ګاني رانقل شوي دي چې د خوب په وخت کې ویل کېږي چې ځېنې یې په لاندې ډول ذکر کوو:

(c) ketabton.com: The Digital Library



الف ـ دري ديرش ځلې (سبحان الله ) دري ديرش ځلي (الحمد لله ) او څلور ديرش ځلي ( الله اکبر ) ووايې ځکه چې يو ځل علي رضي الله عنه او فاطمي رضي الله عنها د رسول الله څخه يو خادم وغوښت چې د کور په کارونو کې مرسته ورسره وکړي نو نبي عليه السلام ورته داسې وفرمايل: ((أَلَا أَدُلُّكُمَا عَلَى خَيْرٍ مِمَّا سَأَلْتُمَا إِذَا أَخَذْتُمَا مَضَاجِعَكُمَا أَوْ أَوَيْتُمَا إِلَى فِرَاشِكُمَا فَسَبِّحَا ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَاحْمَدَا ثَلَاثًا وَثَلَاثِينَ وَكَبِّرَا أَرْبَعًا وَثَلَاثِينَ فَهُوَ خَيْرٌ لَكُمَا مِنْ خَادِمٍ ) ) (۳۴۲:۱۸ ).

ژباړه : ايا زه تاسي ته داسې څه ونه ښايم چې له هغه څه څخه ډير غوره دی چې تاسي زما څخه وغوښت؟ هغه داچې کله تاسي ويده کېږي دري ديرش ځلي(سبحان الله ) دري ديرش ځلي (الحمد لله ) او څلور ديرش ځلي ( الله اکبر ) ووايې دا ستاسي لپاره د خادم څخه ډير ګټور دی.

ب ـ ايت کرسي دي ووايې ځکه چې رسول الله صلی الله عليه وسلم يو صحابي ته داسې فرمايلي دي:( إِذَا أَوَيْتَ إِلَى فِرَاشِكَ فَاقْرَأْ آيَةَ الْكُرْسِيِّ مِنْ أَوَّلِهَا حَتَّى تَخْتِمَ الْآيَةَ{ اللَّهُ لَا إِلَهَ إِلَّا هُوَ الْحَيُّ الْقَيُّومُ }وَقَالَ لِي لَنْ يَزَالَ عَلَيْكَ مِنْ اللَّهِ حَافِظٌ وَلَا يَقْرَبُكَ شَيْطَانٌ حَتَّى تُصْبِحَ )(۸۳:۱ ).

ژباړه : کله چې ويده کېږي ايت کرسي ترپايه ولوله تر سهاره پورې به د الله تعالی له طرفه په تا باندي ساتندوي مقرر وي او شيطان به تاته نشي نژدي کيدلای

البته د قرانکريم راتلونکی آيت شريف د آيت الکرسي په نوم نومول شوی دی: (

◆❑➔♎ ⬧⧫◆ ◆⬧⬧⬧ ⧫ ⧫

◆◆ 🗐 ⬉⧫❑⬧⬧◆◆ ⬧⬧◆⬧

[illegible] )(د البقری سورت ، آیت۲۵۵ ).

ج - همدارنگه له مسلمانانو څخه غوښتل شوي دي چې سورت فاتحه او د سورت بقري اولني ایتونه تر ( اولئک هم المفلحون ) او د بقري د سورت اخرني ایتونه یعني (لله ما في السموات وما في الارض ) د سورت تر اخره پورې ولولي (۱۴:۱۸۸ ).

له دي بر سیره د راتلونکې دعا لوستل هم د نبي علیه السلام څخه نقل شوي دي (بِاسْمِکَ أَمُوتُ وَأَحْیَا ) (۳:۳۷۴ )

ژباړه: ای الله ! ستا په نوم باندې مړ کیږم او ستا په نوم ژوندی کیږم.

که چیرې کوم مسلمان په خپل خوب کې لالهانده او ستړی وي دا دعاء دی ولولي (أَعُوذُ بِکَلِمَاتِ اللّٰهِ التَّامَّاتِ مِنْ غَضَبِهِ وَعِقَابِهِ وَشَرِّ عِبَادِهِ وَمِنْ هَمَزَاتِ الشَّیَاطِینِ وَأَنْ یَحْضُرُونِ) (۱۲:۱۷۴ ).

ژباړه: پناه غواړم د الله تعالی په کاملو کلماتو د الله تعالی له غضب، عذاب، د بنده ګانو له شر او شیطانانو له وسوسو څخه او له دی څخه چې شیطانان ماته حاضر شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



که چېرې کوم مسلمان ښه خوب وګوري هغه دی وکړي چې چاته يې ونه وايې خو که چاته يې وايې داسې چاته دي ووايې چې ده سره محبت لري او د خوب ښه تعبير ورته کوي خو که چېرې کوم مسلمان بد خوب وګوري درې ځلې دی چپ لورې ته لاړې توکړي بيا دی درې ځلې له الله تعالی څخه ددی خوب له شر څخه پنا وغواړي او هيچاته دی ذکر شوی خوب نه وايې په کومه ډډه يې چې نوموړي خوب ليدلای وي له هغې ډډې څخه دی بلې ډډې ته واوړي او که چېرې يې خوښه وي نو پورته دی شي او لمونځ دی وکړي: (١٨:٣٤٥).

کله چې د خوب په دوران کې وينبېرې دا الفاظ دی ولولي:

((لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ)).

وروسته لدې څخه دی له الله تعالی څخه د خپلې اړتيا د پوره کېدو غوښتنه وکړي ځکه چې رسول الله فرمايلي دي: (مَنْ تَعَارَّ مِنْ اللَّيْلِ فَقَالَ حِينَ يَسْتَيْقِظُ لَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَحْدَهُ لَا شَرِيكَ لَهُ لَهُ الْمُلْكُ وَلَهُ الْحَمْدُ وَهُوَ عَلَى كُلِّ شَيْءٍ قَدِيرٌ سُبْحَانَ اللهِ وَالْحَمْدُ لِلهِ وَلَا إِلَهَ إِلَّا اللَّهُ وَاللَّهُ أَكْبَرُ وَلَا حَوْلَ وَلَا قُوَّةَ إِلَّا بِاللَّهِ ثُمَّ دَعَا رَبِّ اغْفِرْ لِي قَالَ الْوَلِيدُ أَوْ قَالَ دَعَا اسْتُجِيبَ لَهُ فَإِنْ قَامَ فَتَوَضَّأَ ثُمَّ صَلَّى قُبِلَتْ صَلَاتُهُ) (٨:٣٤٢).

ژباړه: څوک چې د خوب دوران کې وينښ شي پدې وخت کې دا الفاظ (لا اله الا الله وحده لاشريک له له الملک و له الحمد وهو علي کل شي قدير سبحان الله والحمد لله ولا اله الا الله والله اکبر ولا حول ولا قوة الا بالله) د ووايي وروسته

(c) ketabton.com: The Digital Library



له دی الفاظو ویلو څخه له الله تعالی څخه سوال وکړي الله تعالی يې سوال قبلوي او که لمونځ وکړي الله تعالی به يې قبول کړي.

کله چې له خوب څخه پاڅيده دغه دعا دي ولولي (**الْحَمْدُ لِلّهِ الّذِي أَحْيَانَا بَعْدَ مَا أَمَاتَنَا وَإِلَيْهِ النُّشُورُ**) (۱۸:۳۴۶).

ژباړه: ثناء هغه الله لره ده چې له مرګ وروسته يې را ژوندي کړلو او د هغه لورې ته ورتګ دی.

تمت بالخير

الحمد لله الذي بنعمته تتم الصالحات

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د پنځم فصل د مراجعو فهرست

١- القران الکریم
٢- البخاري: محمد بن اسمعیل، کال: ١٣٥٧هـ ش، صحیح البخاري،لومړی ټوک، طبعه: نعماني کتب خانه.پېښور- پاکستان.
٣- البخاري: محمد بن اسمعیل، کال: ١٣٥٧هـ ش، صحیح البخاري،٨ ټوک، طبعه: نعماني کتب خانه.پېښور- پاکستان.
٤- النیسابوري ، أبو الحسین مسلم بن الحجاج بن مسلم القشیري ، صحیح مسلم ،١ټوک ، دار الجیل بیروت
٥- النیسابوري ، أبو الحسین مسلم بن الحجاج بن مسلم القشیري ، صحیح مسلم ،٢ټوک ، دار الجیل بیروت
٦- النیساپوري : مسلم بن حجاج ابوالحسین، کال: ١٣٤٩هـ ش، الجامع الصحیح مسلم ،دویم ټوک طبعه:خیبر ګروپ اف کمپنیز پېښور پاکستان.
٧- ابن حنبل: احمد ، مسند احمد ،څلورم ټوک،طبعه:دارالفکر-بیروت-لبنان
٨- السجستاني: سلیمان بن اشعث. سنن ابی داود دویم ټوک ، کال: ١٣١٢هـ ق ، طبعه: خیبر ګروپ آف کمپنیز- پیښور-پاکستان.
٩- السجستاني ، سلیمان بن الأشعث أبو داود الأزدي، سنن أبي داود ،٩ټوک ،طبعه،دار الفکر
١٠- السجستاني ، سلیمان بن الأشعث أبو داود الأزدي، سنن أبي داود ،١٠ټوک ،طبعه،دار الفکر
١١- السجستاني ، سلیمان بن الأشعث أبو داود الأزدي، سنن أبي داود ،١٣ټوک ،طبعه،دار الفکر
١٢- الترمذي : محمد بن عیسی، جامع الترمذي، لومړی ټوک طبعه: مکتبة حقانیة پېښور- پاکستان

(c) ketabton.com: The Digital Library



۱۳-اصلاحي : محمد یوسف، کال: ۱۴۲۹هـ ق، په اسلام کې د ژوندانه آداب، طبعه پیغام خپروندوی مرکز- پیښور- پاکستان.
۱۴- الجزائري: ابو بکر جابر، کال: ۱۴۱۰هـ ق- ۱۹۹۰م، منهاج المسلم، طبعه: دارالشروق للنشر و التوزیع والطباعة- جده- السعودیه.
۱۵- سمرقندي: ابو اللیث نصربن محمدبن ابراهیم، بستان العارفین طبعه: مکتبة الکتاب والسنة.
۱۶- الصنعاني: محمد بن اسمعیل، کال:۱۴۰۷ هـ ق- ۱۹۸۷م، سبل السلام، څلورم ټوک، طبعه: دارالکتاب العربي -بیروت- لبنان.
۱۷- الطحان: مصطفی محمد ، کال: ۱۹۹۵م، شخصیة المسلم المعاصر، طبعه: المرکز العالمي للکتاب الاسلامي-الکویت.
۱۸- النووي: یحیی بن شرف، شرح الاربعین للنووي، طبعه: دارالکتاب العربي.

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**